فَإِنَّ فَقِيهًا وَاحِدًا مُتَوَرِّعًا أَشَدُّ عَلَى الشَّيْطَانِ مِنْ أَلْفِ عَابِدٍ

مَخْزَنُ الحَقَائِق

پښتو شرح د

كَنْزُ الدَّقَائِق

١



- شفعه

مصنف

حضرت مولانا محمد حنیف گنگوهی

استاد جامعه دار العلوم دیوبند

جدید مکتبه رشیدیه

جاده میوند سرچوک کابل | محله جنگی قصه خوانی پشاور

0782690850 | 091-2580074

كتاب الشفعة

هي تملّك البقعة جبرًا على المشتري بما قام عليه.

ترجمه: په زبردستی سره د ځمکې د څه حصې مالک کېدل دي په مشتري باندې د هغه قیمت په بدل کې چې په مشتري باندې لوېدلې ده.

تشريح الفقهِ: **قوله هي تملّك الخ**: په شفعه او غصب دواړو کې امر مشترک د مالک د رضا څخه بغیر مالک کېدل دي، ددې وجې مصنّف رَحِمَهُ اللهُ د غصب څخه وروسته د شفعې بیان وکړو، شفعةٌ د فُعلَةٌ په وزن ده او په معنی د مفعولٌ سره ده چې د كَانَ هٰذَا الشَّيء وترًا فشفعه څخه ماخوذ دی، امام مطرزي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي: د لفظ شفعة څخه فعل نه دی اوراېدل شوی، البته فقهاء وايي: (بَاعَ الشَّفِيعُ الدَّارَ الَّتِي يشفعُ بها أي تؤخذُ بالشفعَة) شفعه په لغت کې ضم (پیوست) کولو ته ویل کیږي او شفعه د وتر (جفت) ضد دی، د همدې څخه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شفاعت هم دی، ځکه چې د شفاعت په وجه ګنهګاره خلک د کامیابو خلکو سره په جنت کې یو ځای کیږي، شفیع ماخوذ بالشفعة لره د خپل ملکیت سره یو ځای کوي، ددې وجې یې نوم شفعه کېښودلو.

قوله هيَ تملّكُ الخ: د شريعت په اصطلاح کې د شفعې تعریف داسې دی: "**هي تملّك البقعة جبرًا على المشتري بما قام عليه**" یعنې په مشتري باندې زور وکړی شي او د مالک د رویو په عوض باندې د ځمکې مالک ځان جوړ کړی شي، لفظ د "**تملّك**" په منزله د جنس دی، کوم چې د عین او منافعو دواړو تملک ته شامل دی او لفظ "**البقعة**" فعل دی، ددې له وجې د منافعو د تملک څخه احتراز راغلو او د "**جبرًا**" په قید سره بیع خارج شوه، ځکه چې بیع د متعاقدینو په رضا سره منعقد کیږي، د "**المشتري**" په قید سره د ملک بلاعوض څخه احتراز راغلو، لکه: هبه، (چې د عوض څخه بغیر وي) د میراث صدقې او هغه ملکیت څخه احتراز راغلو چې په عوض سره وي؛ خو غیر عین وي، لکه: مهر، اجاره، خلع، صلح عن دم العمد، ځکه چې په دې ټولو صورتونو کې شفعه نه کیږي، "**وعرّفها الأتقاني بقوله: الشفعة عبارة عن حق التمليكِ في العقارِ لدفعِ ضرر الجوارِ قيلَ وهو أولى وأظهرُ**".

فايده: د شفعې حق په ګڼو حدیثونو سره ثابت دی، د هغو روایتونو څخه یې څلور دلته ذکر کوو: (۱) رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: شفعه په هر هغه ځمکه او کور کې صحیح کیږي چې جایداد پکې تقسیم شوی نه وي، (۲) رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: د کور ګاونډی د کور او ځمکې زیات حقدار دی، (۳) رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: ګاونډی د خپلې شفعې زیات حقدار دی د ګاونډي د شفعې

څخه، د هغه په باره کې به انتظار کولی شي، اګر چې هغه غائب وي، په هغه صورت کې چې د دوی دواړو لاره يوه وي. ۴) رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: ګاونډی د خپل سقب زيات حقدار دی.

وتجب للخليط في نفس المبيع ثمّ للخليط في حقّ المبيع كالشّرب والطّريق إن كان خاصًّا ثمّ للجار الملاصق وواضع الجذوع على الحائط والشّريك في خشبةٍ على الحائط: جارٌ.

ترجمه: د هغه چا لپاره ثابتيږي چې په نفس مبيعه کې شريک وي، بيا د هغه چا لپاره ثابته ده چې د مبيعې په حق کې شريک وي، لکه: د اوبو وياله او لاره، که چېرته خاص وي، بيا شفعه ثابته ده د هغه ګاونډي لپاره چې متصل وي، په دېوال باندې کړې اېښودونکی او په دېوال باندې يوه کړې اېښودونکی سړی به ګاونډی وي.

تشريح الفقهِ قوله وتجب للخليط الخ: دلته د وجوب څخه مراد ثبوت دی، يعنې د شفعې حق لومړی د هغه کس لپاره ثابتيږي چې په نفس مبيعه کې شريک وي، که هغه يې غوښتنه نه کوي، نو بيا به د هغه کس لپاره د شفعې حق ثابت وي چې د مبيعې په حق کې شريک وي، که هغه يې هم غوښتنه نه کوي، نو بيا به د نژدې ګاونډي (**جار ملاصق**) لپاره کوم چې د مشفوعه مکان سره نښتی وي، د هغه لپاره به حق د شفعې ثابت وي، که هغه يې هم نه اخلي، نو ددې مکان حق د شفعې به ساقط وي او که ددې کور په حقوقو کې ځينې کسان شريکان وي، مثلا: په دې کور کې مخکې يو ځل تقسيم شوی وي او ټولو خپلې برخې جدا کړي وي، خو په لاره يا د اوبو په نمبر کې ټول شريکان وي او د نفس مبيعې شريک حق د شفعې پرېښودلی وي، نو بيا به حق د شفعې په حق د مبيعه کې شريک کس ته ملاويږي، که هغه هم شفعه پرېږدي؛ نو بيا به حق شفعه ګاونډي ته ملاويږي، حاصل د خبرې دا شو چې د مبيعې په ذات کې شريک، په منفعت کې شريک او ګاونډي ټولو ته به د شفعې کولو حق حاصل وي، خو مذکوره ترتيب به پکې مراعت کيږي، د امام ابوحنيفه، شريح، شعبي، ابن سيرين، حکم، حماد، حسن، طاووس، ثوري، ابن ابي ليلی او ابن شبرمه ټولو دا مذهب دی، په شرح الوجيز شافعيه کې دي چې زموږ د مذهب ځينې علماوو په دې باندې فتوی ورکړې ده او همدا مختار قول دی، د شفعې په نفس حق باندې د ثبوت لپاره دليل موږ وړاندې ذکر کړي دي، د مذکوره ترتيب لپاره دليل دا حديث دی: (**عن الشّعبيّ قال قال رسولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الشّفيعُ أولى من الجارِ والجارُ أولى من الجنبِ**) دلته لفظ د شفيع د عين او منافعو دواړو شريک ته شامل دی، دا حديث هشام بن مغيره د شعبي څخه روايت دی او ابن معين د هشام بن مغيره توثيق کړی دی، ابوحاتم فرمايي چې د هشام په حديث کې هيڅ خبره نشته، نو دا حديث مرسل صحيح دی، مرسل حديث د زياتره علماوو په نزد

مقبول دی. دغه راز د شريح رَحِمَهُ اللهُ څخه منقول دي : "قالَ : الخليطُ أحقّ منَ الشفيعِ والشّفيعُ أحقّ منَ الجارِ وَالجارُ ممّنْ سواهُ" د ابراهيم نخعي رَحِمَهُ اللهُ څخه روايت دی : (قالَ: الشريكُ أحقّ بِالشفعةِ فإنْ لَمْ يَكُنْ شريكٌ فَالجارُ وَالخليطُ أحقّ منَ الشفيعِ والشفيعُ أحقّ ممّنْ سِواهُ) حاصل دا شو چې مرسل حديث د مذكوره آثارو سره يو ځای حجت وګرځېدلو، يعني د درې وارو شفيعانو ترمنځ ترتيب موجود دی او د قياس تقاضا همدا ده، ځكه چې تولو ته حق د شفعې د اتصال ملک له وجې حاصل دی، برابره خبره ده چې اتصال د شركت له وجې وي يا د ګاونډيتوب له وجې وي، دغه راز د شفعې په ثبوت کې حکمت دا دی چې د پردي سړي د تكليف او شر څخه انسان خپل ځان وساتي او دا حكمت په درې وارو شفيعانو کې موجود دی، البته په عين ملكيت کې د شركت سبب تر تولو زيات قوي دی، لهذا هغه تر تولو وړاندې دی، بيا د مبيعې په حقوقو کې اتصال او اشتراک قوي دی، ځكه چې دا هم د شركت يو قسم دی، ددې څخه وروسته چې د ګاونډيتوب له وجې كوم حق شفعه ثابت دی د هغې درجه دريمه ده.

قوله كَالشِّربِ الخ: د مبيعې په حق کې د شريک لپاره شفعه ثابته ده، خو دا په هغه صورت کې چې په خاص لاره يا خاص د اوبو وياله (شرب) کې شريک وي، شرب خاص څخه مراد هغه وياله ده چې كشتۍ پکې نه ځي، بلکې د ځمكو د اوبو لپاره جوړه شوې وي، د كومو خلكو ځمكې چې ددې ويالې څخه اوبه كيږي، هغوی په دې وياله کې شريكان دي او په كوم نهر کې چې كشتۍ مزل كوي، هغه ته شرب عام ويل كيږي او د كومو خلكو ځمكې چې ددې نهر څخه اوبه كيږي، دغه شركت ته شركت عامه ويل كيږي، لهذا په دوی کې به يو كس ته هم شركت حاصل نه وي، د شرب خاص او عام دا تعريف د طرفينو په نزد دی، د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد شرب خاص هغه نهر دی چې زيات نه زيات دوه يا درې باغونه ورباندې اوبه كيږي او كه څلور يا ددې څخه زيات باغونه ورباندې اوبه كېدل، نو دې ته شرب عام ويل كيږي.

قوله ثُمَّ لِلجارِ الخ: په دريمه درجه کې جار ملاصق دی، يعني هغه ګاونډی چې د مشفوعه مكان سره نژدې وي، ددې تحقيق پورته ذكر شو، د ائمه ثلاثه، اوزاعي او ابوثور رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد د جوار (ګاونډيتوب) له وجې حق د شفعې نه ثابتيږي، ځكه چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه د شفعې ثبوت د هر هغه ځمكې باره کې شوی دی چې تقسيم شوې نه وي، هر كله چې حدود معلوم شول او لارې تقسيم كړل شوې، نو شفعه به نه وي، دغه راز حق شفعه خلاف القياس دی، ځكه چې په دې کې په پردي مال باندې د هغه د رضا څخه بغير ملكيت حاصليږي او خلاف القياس يو شی د خپل مورد سره خاص او محدود وي، دلته شرعي مورد غير منتقله ځمكه ده، كومه چې تر اوسه پورې تقسيم شوې نه ده، لهذا جوار به په دې باندې نه شي قياس كېدلی، زموږ دليل هغه ګڼ احاديث دي چې په هغې کې د

جوار شفعې ته هیڅ اشاره نه ده شوې، بلکې صراحت موجود دی، مثلاً: "اَلْجَارُ أَحَقُّ بِسَقَبِهِ" پاتې شو د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او نورو امامانو مستدل په هغې کې علی الاطلاق د جوار شفعې نفي نه ده شوې، بلکې د هغې مطلب دا دی چې د تقسیم څخه وروسته د شرکت شفعه نشته، دویمه خبره دا چې په هغې کې د شفعې نفي د دوه شیانو د وجود څخه وروسته شوې ده، یو صرف لارې (طرق) او دویم تحدید (حدود او څلور طرفونه ټاکل) په دې کې دې خبرې ته اشاره شوې ده چې یواځې د لارو د تعین څخه وراندې شفعه ده او دا معنی د جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حدیث: (اَلشَّفِيعُ أَحَقُّ بِشُفْعَةِ جَارِهِ يَنْتَظِرُ بِهَا، وَإِنْ كَانَ غَائِبًا إِذَا كَانَتْ طَرِيقُهُمَا وَاحِدَةً" المصنف لابن أبي شيبة) سره بیخي موافق ده او په کوم روایت کې چې "إِنَّمَا الشفعةُ آهـ" راغي، په هغې کې د ماعدا نفي مقصود نه ده، بلکې مطلب دا دی چې اعلی شفعه په همدې کې منحصره ده چې شفیع ته شرکت عین حاصل وي، دده څخه وروسته د منافعو شریک دی، بیا د شریک جوار، لکه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته چې نسبت شوی دی، "إِنَّمَا أَنْتَ مُنْذِرٌ" ته یوازې وېرونکی یې! حال دا چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ زېرې ورکوونکی هم دی، بهر حال زموږ په استنباط کې احادیث په خپل تصریح او عموم باندې دي او هیڅوک د یو بل په خلاف نه دي، بیا شفعې ته خلاف القیاس ویل هم صحیح نه دي، ځکه چې په غیر تقسیم شوې ځمکه کې د شفعې حق شفیع ته د ملاوېدو حکم ځکه دی چې د تل لپاره حد یو ځای کېدو سره تاوان (نقصان) نه وي او دا د قیاس عین مطابق دی او دا د جوار په صورت کې هم امکان لري، یعنې کله چې د ګاونډي سره ملکیت نژدې وي، نو ګاونډي ته به خامخا نقصان رسیږي، اوس د نقصان لیرې کولو دوه صورتونه دي: یو دا چې مشتري څنګه د ګاونډي کور یا ځمکه اخیستې وي، په هغه قیمت به د بل (شفیع) ګاونډي کور هم ترې واخلي، دویم دا چې ګاونډي ته دا حق حاصل دی چې اخیستل شوې حصه واخلي، خو ګاونډی اصیل دی او مشتري دخیل دی، په شریعت کې اصیل ته ترجیح حاصله ده په دخیل باندې، لهذا اصیل ته به دا حق ورکولی شي چې هغه ځان د نقصان څخه وساتي، که مشتري ته د ګاونډي د کور یا ځمکې اخیستلو حق ورکول شي، نو دا به د ګاونډي په حق کې نقصان او ظلم وي، ځکه چې هغه یې د خپل پلار او نیکه د ځمکې څخه وویستلو او دا سراسر ظلم دی، د همدې وجې شریعت ګاونډي ته اختیار ورکړی دی چې هغه دي خرڅه شوې ځمکه یا کور د حق شفعې له وجې واخلي، ددې لپاره چې د ګاونډي یو د نقصان څخه ځان وساتي.

قوله وواضع الجذوع على الحائط الخ: په دېوال باندې کړې اېښودونکی یا د کور په دېوال باندې کړې اېښودونکی د شرکت شفیع نه جوړیږي، بلکې د جوار شفیع به وي، ځکه چې د شرکت شفعه په غیر

منقول کې کيږي او کړۍ د منقولي شيانو څخه دي، د کړۍ ايښودلو له وجې په کور کې شرکت نه راځي، ددې وجې به هغه ته د شرکت شفعه حاصله نه وي، که څوک په کور کې د لارې شريک وي او د بل سړي کړۍ يې په دېوال باندې ايښې وي، نو د لارې شريک به د کړۍ ايښودونکي کس څخه مقدم (مخکې) وي.

على عدد الرّءوس بالبيع وتستقرّ بالإشهاد وتملك بالأخذ بالتّراضي أو قضاء القاضي.

ترجمه: د شفعه کوونکو د سرونو د شمار په اندازه او د شاهد په قائمولو سره مستحکم کيږي او مبيعه په ملکيت کې راځي په رضا سره يا د قاضي په قضاء سره.

تشريح الفقه: **قوله على عدد الرّءوس الخ**: دا عبارت د (للخليط) سره متعلق دی، مطلب دا دی: که د هر شفع کوونکي د يوې درجې خلک جمع شي، نو ددې ټولو ترمنځ به شفع د افرادو په شمار سره ورکول کيږي، د املاکو د اختلاف اعتبار به نه وي، د امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد د املاکو د مقدار په اندازه به يې حصه وي، مثلاً: يو کور د درې کسانو ترمنځ داسې شريکي وي چې د يو کس نيمايي برخه وي، د دويم کس دريمه برخه ده او د دريم کس شپږمه برخه ده، د نيمايي کور څښتن خپله برخه خرڅه کړه، د امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد به مبيعه کې د اثلاث حکم د املاکو په اندازه کولی شي، يعنې دوه حصې دريمې (يعنې دوه ځله دريمه برخه) به ثلث والاته ورکول کيږي او يوه حصه به سدس والاته ورکول کيږي، که د شپږمې برخې څښتن خپله برخه خرڅه کړه، نو د اخماس حکم به کولی شي، يعنې درې برخې به نصف والاته ورکول کيږي او دوه برخې به ثلث والاته ورکول کيږي، که د ثلث څښتن خپله برخه خرڅه کړه، نو د ارباع حکم به کولی شي، يعنې درې به نصف والاته ورکول کيږي او يوه حصه به سدس والاته ورکول کيږي، زموږ په نزد به دواړو شريکانو ته برابر نيمايي نيمايي ورکول کيږي، د ملکيت د کمې او زياتې اعتبار به نه وي، امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي: د شفعې فايده دا ده چې د ملکيت فايدې مکمل وي، لهذا حق شفعه به د ملکيث په اندازه وي. موږ وايو: د شفعې د ملکيت سبب د مبيعې سره يو ځای کېدل دي، برابره خبره ده چې لږ ملکيت متصل وي او که کثير وي، نو د شفعې حقداري خلک برابره خبره ده چې د عين شريکان وي که په حق کې شريکان وي او که د جوار شفيع وي، دوی ټول په يو جهت سره د شفعې حقداري دي، نو په استحقاق د شفعې کې ټول برابر دي.

قوله بالبيع الخ: "ب" جاره د "تجب" سره متعلق ده، مطلب دا دی چې د شفعې ثبوت د بيعې څخه وروسته کيږي، دا مطلب نه دی چې شفعه په بيع سره ثابتيږي، ځکه چې د حق شفعې لپاره سبب عقد بيع نه دی، بلکې اتصال ملک دی، پاتې شو دا سوال چې د عقد بيعې څخه وړاندې سبب شفعه يعنې د اتصال پاتې کېدو باوجود ولې حق شفعه نه حاصليږي؟ ددې ځواب دا دی چې د حق شفعې د وجوب

لپاره سبب اتصال ملک دی، خو ددې حق د اخیستلو لپاره سبب عقد بیع دی، ددې لپاره نظیر لمونځ، زکوة او داسې نور دي، یعنې ددې وجوب د الله تعالی په امر سره دي، خو د وجوب اداء لپاره سبب وخت او حولان حول دی، د عقد بیعې څخه وروسته د شفعې د ثبوت لپاره حکمت دا دی چې وجوب شفعه هغه وخت وي چې مالک د خپل ملکیت څخه بې رغبته او بې پروا شي او د بل کس په ملکیت کې داخلېدو سره غم، فکر، اندېښنه، فتنه او فساد جوړېږي او د مالک په بې رغبتی باندې ظاهرا هیڅ دلیل نشته، بغیر له دې چې د هغه خپل فعل دی کوم چې خرڅول دي او همدا به د بې رغبتی دلیل وي، ځکه چې څنګه چې مالک بیع وکړي، نو شفیع ته حق د شفعې حاصل شي.

قوله وتستقرّ الخ: د شفعې ثبوت د بیعې څخه وروسته وي، خو په دې کې استقرار او استحکام په هغه وخت کې وي چې په بیع باندې خبرېدو سره سمدستي د ځنډ څخه بغیر شفیع د شفعې په طلب باندې خلک شاهدان کړي چې اې خلکو! تاسو دي شاهدان یاست چې ما په دې کور/ ځمکه باندې شفعه وکه، که په همغه مجلس کې د شفعې طلب ونه کړي، نو وروسته به یې شفعه باطله وي، ځکه چې کله د مالک له طرفه په خرڅولو باندې د هغه بې رغبتي ظاهره شوه، نو هغه ته پکار ده چې سمدستي خپل رغبت او میلان ښکاره کړي او دا رغبت به د شفعې په طلب باندې شاهدانو جوړولو سره ښکاره شي، دغه راز شاهد جوړول ددې لپاره هم ضروري دي چې کېدی شي کوم وخت د قاضي په وړاندې د شفعې په طلب باندې ثبوت ترې وغواړي؛ نو هغه به د طلب په ثبوت کې شاهدان وړاندې کړي.

باب طلب الشّفعة والخصومة فیها

فإن علم الشّفیع بالبیع أشهد فی مجلسه علی الطّلب ثمّ علی البائع لو فی یده أو علی المشتری، أو عند العقار ثمّ لا تسقط بالتّأخیر فإن طلب عند القاضی سأل المدّعی علیه فإن أقرّ بملك ما یشفع به أو نکل أو برهن الشّفیع سأله عن الشّراء فإن أقرّ به أو نکل أو برهن الشّفیع قضی بها.

ترجمه: که شفیع په خرڅلاو باندې خبر شي؛ نو په همغه مجلس کې دي په طلب باندې شاهد جوړ کړي، بیا دي په بائع باندې (دعوه وکړي) که چېرته د هغه په قبضه کې وي یا په مشتري باندې او یا په ځمکه باندې، بیا به ددې څخه وروسته په تاخیر باندې نه ساقطیږي، که د قاضي په وړاندې یې مطالبه وکړه، نو قاضي به د مدعی علیه څخه پوښتنه کوي: که هغه د ځمکې په ملکیت باندې اقرار وکړي، د کوم له وجې چې شفیع شفعه غواړي یا هغه انکار وکړي یا هم شفیع شاهدان قائم کړي؛ نو قاضي به د اخیستلو په اړه پوښتنه وکړي: که هغه اقرار وکړي یا انکار وکړي یا شفیع شاهدان قائم کړي؛ نو قاضي به د هغه په اړه حکم کوي.

د شفعې غوښتلو او د خصومت بيان

تشريح الفقه: قوله بابٌ الخ: د شفعې ثبوت په طلب باندې موقوف دى، ددې وجې د طلب كيفيت او تقسيم بيانوي: د شفعې په باب كې د شفيع لپاره درې قسمه طلب ضروري دى: اول دا چې په بيع باندې د خبرېدو سره سمدستي بايد د شفعې طلب وكړي، دې طلب ته طلب مواثبه ويل كيږي، دويم دا چې د طلب مواثبه څخه وروسته به په بائع باندې شاهدان قائم كړي، كه چېرته ځمكه د هغه په قبضه كې كوي، يا به په مشتري باندې شاهدان قائم كړي يا به د ځمكې په سر د شاهدانو په وړاندې د شفعې دعوه وكړي، دې طلب ته طلب اشهاد وايي، طلب تقرير او طلب استحقاق هم ورته ويل كيږي، ددې طريقه دا ده چې شفيع ووايي: دا كور فلاني سړي اخيستى دى او زه ددې كور شفيع يم او د خبرېدو په مجلس كې مې هم ددې غوښتنه كړې وه، اوس يې هم زه غوښتونكى يم، تاسو ټول خلک په دې باندې شاهدان شئ؛ دريم دا چې ددې دواړو طلبونو څخه وروسته دې د قاضي په وړاندې مطالبه وكړي، دې طلب ته طلب تمليک يا طلب خصومت ويل كيږي، ددې طريقه دا ده چې شفيع ووايي: فلاني سړي كور اخيستى دى او زه يې په فلاني سبب سره شفعه كوونكى يم، لهذا اوس يې ته ماته د راكولو فيصله وكړه.

قوله ثمّ لا تسقطُ الخ: كه په دريم طلب كې تاخير وشي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد به شفعه باطله نه وي، دغه شان يو روايت د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللَّهُ څخه هم نقل دى، د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللَّهُ څخه دويم روايت داسې دى: كه د قاضي په يو مجلس كې هم د عذر پرته طلب تملک پرېږدي، نو شفعه به باطله شي. وجه دا ده چې د تاخير په صورت كې به د مشتري نقصان لازم شي، داسې نه چې هغه په دې انتظار باندې ناست وي چې شفيع به كله دعوه كوي، هغه به د هر ډول تصرف كولو څخه منعوي، ددې وجې به طلب شفعه د يوې مياشتې څخه تر كمې اندازې پورې محدوده ساتلى شي، ځكه چې د يوې مياشتې څخه كمه موده مدت قليله او د يوې مياشتې څخه زياته موده مدت كثيره دى، (كما مرّ في الأيمان) امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي چې د شفيع حق طلب مواثبه او طلب اشهاد څخه وروسته په پوره توګه ثابت شو او د حق ثابتېدو وروسته د حقدار د ساقط كولو څخه بغير نه ساقطيږي، لهذا تر كومه پورې چې يې شفعه كوونكى په خپله ژبه ساقط نه كړي، نو تر هغه وخته پورې به نه ساقطيږي.

ولا يلزم الشّفيع إحضار الثّمن وقت الدّعوى بل بعد القضاء وخاصم البائع لو في يده ولا يسمع البيّنة حتّى يحضر المشترى فيفسخ البيع بمشهده والعهدة على البائع والوكيل بالشراء خصمٌ للشّفيع ما لم يسلّم إلى الموكّل وللشّفيع خيار الرّؤية والعيب، وإن شرط المشترى البراءة منه وإن اختلف الشّفيع والمشترى في

الثّمن فالقول للمشتري وإن برهنا فللشّفيع وإن ادّعى المشتري ثمنًا وادّعى بائعه أقلّ منه، ولم يقبض الثّمن أخذها الشّفيع بما قال البائع وإن قبض أخذها بما قال المشتري وحطّ البعض يظهر في حقّ الشّفيع لا حطّ الكلّ والزّيادة وإن اشترى دارًا بعرضٍ أو عقارٍ أخذها الشّفيع بقيمته وبمثله لو مثليًّا وبحالٍّ لو مؤجّلًا أو يصبر حتّى يمضي الأجل فيأخذها.

ترجمه: په شفعه کوونکي باندې لازم نه دي چې د دعوې په وخت کې ثمن حاضر کړي، بلکې د قضاء څخه وروسته به يې حاضروي او د بائع سره به مخاصمه (دعوه) کوي، که چېرته د هغه سره مبيعه موجوده وي، قاضي به تر هغه پورې د شاهدانو وينا نه اوري چې مشتري حاضر شوی نه وي، د هغه په موجودګۍ کې به بيع فسخ کړي او ذمه واري به په بائع باندې وي، د اخيستلو وکيل به د شفعه کوونکي مدعى عليه وي، تر هغه پورې چې مبيعه مؤکل ته ونه سپاري، د شفعه کوونکي لپاره به خيار رؤيت او خيار عيب ثابت وي، اګر چې مشتري د هغې څخه براءت (بېزاري) اعلان کړې وي، که د شفيع او مشتري تر منځ په ثمن کې اختلاف پيدا شي، نو د مشتري قول به معتبر وي، که دواړه شاهدان حاضر کړي، نو د شفيع شاهدان به مقبول وي، که مشتري يو څه ثمن بيان کړي او بائع د هغې څخه د کم دعوه وکړي او تر اوسه پورې يې په ثمن باندې قبضه نه وي کړې، نو شفيع به يې په هغه قيمت باندې اخلي چې بائع ښودلی دی، که په ثمن باندې يې قبضه کړې وي، نو په هغه قيمت باندې به يې اخلي چې مشتري ښودلی وي، که څينې ثمن کم وښودل شي؛ نو د شفيع په حق کې به هم کمولی شي؛ خو ټول ثمن به نه شي کمېدلی او نه زيادت، که کور يې په سامان يا په ځمکه باندې اخيستی وي، نو شفيع به يې د هغې د قيمت په بدل کې اخلي يا به د هغه په شان يو شي په بدل کې، که هغه مثلي وي، که هغه نېټې والاوي، نو شفيع به سمدستي ثمن ادا کوي او يا به صبر کوي، تر هغه پورې چې نېټه تېره شي، د هغې څخه وروسته دې واخلي.

تشريح الفقه: **قوله ولا يلزم الشّفيع الخ**: د ظاهر الرواية مطابق د شفعې د دعوې کولو سره سره ثمن ورکول ضروري نه دي، البته د قاضي د فيصلې څخه وروسته ورکول لازم دي، د امام محمد رَحِمَهُ اللّٰهُ څخه روايت دی: تر کومه پورې چې شفيع ثمن حاضر نه کړي، تر هغه وخته پورې به قاضي د شفعې حکم نه کوي، همداسې يو روايت د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ څخه د حسن بن زياد په حواله ذکر دی، ځکه چې دا امکان شته چې شفيع غريب وي، په دې صورت کې به قاضي تر هغه پورې خپله فيصله موقوفه ساتي چې شفيع ثمن حاضر کړي نه وي، د ظاهر الرواية وجه دا ده چې د قاضي د فيصلې څخه واندې په شفيع باندې هيڅ شی واجب نه دی، لکه څنګه چې د ثمن ادا کول ضروري نه دي، دغه شان د قاضي په عدالت کې د ثمن راوړل هم ضروري نه دي.

قوله وادّعٰی الخ: د بائع او مشتري ترمنځ په ثمن کې اختلاف پيدا شو، مشتري زيات قيمت يادوي او بائع کم قيمت يادوي، نو د شفيع په حق کې به د بائع قول معتبر وي، ځکه چې که په حقيقت کې د بائع قول معتبر وي، نو ظاهره خبره ده چې د هغه د وينا سره سم بيع منعقده شوې ده، که د مشتري قول حق وي، نو داسې به ګڼل کيږي چې بائع د خپل طرفه قيمت کم کړی دی او ددې کمي اصلي حقدار مشتري و، خو کله چې د مشتري څخه شفعه کوونکي ته دا حق حاصل شو، نو قيمت به د هغه لپاره کمولی شي. بهر حال د حکم دارومدار به د بائع په قول باندې وي، که بائع په ثمن باندې قبضه کړې وي، بيا د ثمن په مقدار کې اختلاف پيدا شي، که اوس د شفيع سره شاهد وي، نو د بائع قول به معتبر وي، کنه نو د مشتري څخه به قسم اخيستلی شي او فيصله به ورباندې کولی شي، په دې صورت کې به د بائع قول ته هيڅ اعتبار نه ورکول کيږي، برابره خبره ده چې ثمن زيات وي او که کم وي، ځکه چې کله بائع ثمن وصول کړه، نو بيع مکمل شوه او مشتري د مبيعې مالک شو او بائع د پردي په شان شو، لهذا اختلاف يوازې د شفيع او مشتري ترمنځ واقع شو، (**وعندَ الأئمّة الثلاثة يأخذها بقولِ المشتري فيهما**).

قوله وحطّ البعض الخ: د مشفوعه کور کوم بدل چې په شفيع باندې لازم دی، که د بيع تماميدو وروسته بائع د مشتري له ذمې څخه څه قمت کم کړي، نو شفيع ته به هم دا حق حاصل وي چې هغه په دې کم قيمت باندې کور واخلي، خو که بائع پوره قيمت معاف کړي، نو دا به د شفيع په حق کې نه ساقطيږي. وجه دا ده چې د ټول ثمن ساقط کول د اصلي عقد سره لاحق کيږي، کنه نو شفعه به له سره باطله وي، ځکه چې د ټول ثمن ساقط کول د دوه حالاتو څخه خالي نه دي: يا به عقد بيع عقد هبه جوړيږي يا به عقد بلا ثمن وي، (کوم چې فاسد دی) په هبه او بيع فاسد دواړو کې حق شفعه نه وي، دغه راز که مشتري په ثمن کې اضافه کړې وي، نو په شفيع باندې به لازم نه وي، ځکه چې د شفيع لپاره په هغه ثمن باندې اخيستل ضروري دي کوم چې په لومړي عقد کې واقع شوی دی، نو وروسته چې د مشتري وغيره په فعل سره کومه زيادت راغلی دی، هغه به په مشتري باندې لازم نه وي.

قوله وإن اشترٰی دَارًا الخ: که مشفوعه کور د سامان يا ځمکې په بدل کې خرڅ کړی شي، نو شفيع د هغه قيمت ورکولی شي، ځکه چې دا شيان د ذوات القيم څخه دي، که د مثلي شيانو يعنې کيلي يا وزني شيانو په بدل کې يې اخيستی وي، نو شفيع هغه ته مثل ورکولی شي او کور خپله ترلاسه کولی شي، که کور يې په نېټه باندې اخيستی وي، نو شفيع ته به د دوه خبرو اختيار ورکول کيږي: برابره خبره ده چې سمدستي ثمن ورکوي او کور اخلي او که تر مودې پورې انتظار کوي، د مودې تېرېدو وروسته يې اخلي، خو په قرض باندې يې نه شي اخيستلی، خو د امام زفر، امام احمد او امام مالک رَحِمَهُمُ اللّٰهُ په نزد به ددې شيانو اختيار هم ورته حاصل وي، د امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ قديم قول هم همداسې

دی، فرمايي: لکه څنګه چې د ثمن کوته کېدل يو وصف دی، دغه راز په نېټه باندې ادا کول هم د ثمن لپاره يو وصف دی، لهذا ثمن چې په کوم وصف باندې مقرر شوي وي، په همغه وصف سره يې ادا کول لازم دي.

مورږ وايو: په نېټه باندې ادا کول هيڅ وصف نه دی، بلکې د ثمن ادا کولو يوه طريقه ده: وجه دا ده چې د نېټې ثبوت د شرط څخه بغير نه وي او د شفيع سره د بائع يا مشتري هيڅ شرط نشته، لهذا د شفيع په حق کې به د نېټې او قرض هيڅ ګنجايش نه وي.

وبمثل الخمر، وقيمة الخنزير إن كان الشّفيع ذمّيًا وبقيمتهما لو مسلمًا وبالثّمن وقيمة البناء والغرس لو بنى المشترى أو غرس أو كلّف المشترى قلعهما وإن فعلهما الشّفيع فاستحقّت رجع بالثّمن فقط وبكلّ الثّمن إن خربت الدّار أو جفّ الشّجر وبحصّة العرصة إن نقض المشترى البناء والنّقض له وبثمرها إن ابتاع أرضًا ونخلًا وثمرًا أو أثمر فى يده وإن جذّه المشترى سقط حصّته من الثّمن.

ترجمه: د مثال په توګه د شرابو يا د خنزير د قيمت په بدل کې يې واخلي په هغه صورت کې چې شفعه کوونکی ذمي وي، يا يې ددې دوارو د قيمت په بدل کې واخلي، په هغه صورت کې چې شفعه کوونکی مسلمان وي، د ثمن، ابادی او ونې قيمت ورکړي او (کور واخلي) که مشتري ابادي جوړه کړې وي يا يې ونې لګولي وي يا مشتري مجبور کړي د هغې په ويستلو باندې، که دا دواړه کارونه (ابادي يا يې ونې کرلي وي) شفيع وکړي، بيا د ځمکې بل حقدار پيدا شي، نو يوازې ثمن به واپس اخلي او ټول ثمن به ورکوي، که کور خراب شوی وي يا ونې وچې شوي وي، د ميدان قيمت دې ورکړي او هغه دې واخلي، په هغه صورت کې چې مشتري ابادي ماته کړې وي، ملبه (ماته شوې خښتې او اوسپنې) به د مشتري لپاره وي او د مېوې سره به يې اخلي، که ځمکه يې خرڅه کړې وي، ونې د مېوو سره يا مېوې د مشتري سره لګېدلي وي، که دا شيان مشتري مات کړي، نو د ثمن همدومره حصه به ساقطه وي.

تشريح الفقه: **قوله وبمثل الخمر الخ**: يو ذمي د بل ذمي څخه کور يا ځمکه د شراب يا خنزير په بدل کې واخيسته، اتفاقي خبره دا پېښه شوه چې د هغوی شفيع هم ذمي و، نو هغه د شرابو يا خنزير مثلي قيمت ورکولی شي او خپل مشفوعه کور اخيستی شي، ځکه چې شراب مثلي دي او خنزير د ذوات القيم څخه دی، که بائع او مشتري ذمي وي؛ خو شفعه کوونکی مسلمان وي، نو هغه د شرابو او خنزير قيمت په ورکولو سره مشفوعه ځمکه اخيستی شي، ځکه چې د مسلمان لپاره د شرابو تمليک او تملک دواړه ممنوع دي.

سوال: د خنزير قيمت د هغه د ذات قائم مقام ګرځي، د مسلمان په حق کې د خنزير د قيمت تمليک هم حرام دی، ځکه چې دا شرعي مسئله ده : څوک چې د خپل تجارتي خنزير سره د ښار په عشر ټولوونکي باندې تېر شي، نو عاشر د هغه خنزير د قيمت عشر نه شي اخيستلی، ځکه چې د خنزير قيمت هم د خنزير په حکم کې دی؟

ځواب: په مسلمان باندې د خنزير د قيمت اخيستل او ورکول په هغه صورت کې حرام دي کله چې د خنزير عوض بلاواسطه وي، که بالواسطه وي، نو بيا به حرام نه وي او دلته عوض بالواسطه دی، بلا واسطه نه دی، ځکه چې دلته د خنزير قيمت د هغه کور په بدل کې دی چې کوم کور په خنزير باندې اخيستل شوی و، نو خنزير براه راست د کوم شي عوض نه شو.

قوله وبِالثَّمنِ الخ: که مشتري په اخيستل شوې ځمکه باندې ابادي جوړه کړه يا يې باغ وغيره جوړ کړو، ددې څخه وروسته حق د شفعې ثابت شو، نو د طرفينو په نزد به شفيع ته دوه اختياره ورکول کيږي : د ځمکې خپل ثمن او د ابادي قيمت دواړه به ورکوي يا به د شفعې څخه تيريږي، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد ددې دواړو اختياراتو سره دريم اختيار دا دی چې مشتري ته به ووېل شي چې د ځمکې څخه خپله ابادي او ونې ختمې کړه، هغه ته چې کوم تاوان ورسيږي، هغه به د شفيع څخه اخيستل کيږي، امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ فرمايي : د مشتري تصرف په خپل ځای صحيح دي، ځکه چې هغه په اخيستل شوي شي کې مشروع تصرف کړی دی، لهذا هغه ته به د عمارت يا ونو چپه کولو حکم يو قسم ظلم وي، ددې وجې به د ويستلو حکم نه شي کولی، صرف به دومره کولی شي چې شفيع ته به ووېل شي : ددې شيانو قيمت ادا کړه او ابادي د ونو سره ستا شوه يا د شفعې څخه واوړه او ابادي د ونو سره مشتري ته پرېږده! د طرفينو دليل دا دی : دا صحيح خبره ده چې مشتري په خپل اخيستل شوې مبيعه کې تصرف کړی دی، خو د هغه سره د شفيع حق يوازې متصل شوی نه دی، بلکې مضبوط شوی دی، ددې وجې به د هغه تصرفات ختمولی شي او شفعه کوونکي ته به پورته اختيارات ورکول کيږي.

قوله وإِنْ فعلهمَا الخ: د شفيع په حق کې د کومې ځمکې فيصله وشوه، هغه په ځمکه کې ابادي جوړه کړه يا يې باغ جوړ کړو، بيا کوم مدعي دعوه وکړه چې د بائع او مشتري بيع باطله ده او د شفيع څخه يې ځمکه واخيسته او جوړه شوې ابادي يې ونړول، نو شفيع ته به يوازې د ځمکې ثمن واپس اخيستلو اختيار وي، د ابادی وغيره شيانو قيمت نه شي غوښتلی، نه يې د بائع څخه اخيستلی شي او نه يې د مشتري څخه، د پورتنی او دې مذکوره مسئلې ترمنځ وجه د فرق دا ده چې پورته بيان شوې مسئله کې

مشتري د بائع له طرفه دوکه شوی و او دلته د مشتري له طرفه شفیع ته هیڅ دوکه موجوده نه ده، ځکه چې مشتري په دې باندې مجبوره دی چې مشفوعه مال شفیع ته حواله کړي.

قوله وبكلّ الثمن الخ: که په مشفوعه ځمکه باندې کوم اسماني آفت راشي، مثلاً: مشفوعه ځای کور وي او هغه ونړول شي یا باغ وي، هغه خپله وچ شي، نو په دې صورت کې به شفیع ته اختیار ورکول کیږي چې ټول ثمن ورکوي او مشفوع اخلي او که بالکل یې پرېږدي، ځکه چې ونې او ابادي ټول د ځمکې تابع دي، ددې وجې به ددې شیانو په مقابل کې د ثمن کوم مقدار نه وي، بلکې ټول ثمن به د اصلي ځمکې ګڼل کیږي، که مشتري د مشفوعه ځمکې څه حصه ماته کړې وي، نو د شفیع څخه به همدومره اندازه قیمت ساقط وي، ځکه چې دا اتلاف د مشتري په فعل سره شوی دی، ددې وجې به اوس د ابادی په بدل کې د ثمن خصه راځي.

قوله وبثمرها الخ: که مشتري ځمکه او په هغې کې ونې او باغونه واخیستل، یعنې ددې شیانو د اخیستلو شرط یې ولګولو یا په ونو کې مېوې داسې وخت ولګېدلې چې مشتري ته ملاو شوه، نو د قیاس په رڼا کې مېوې شفیع ته حواله کول پکار نه دي، ځکه چې مېوې د ځمکې تابع نه دي، خو استحسانا به شفیع ته ځمکه د مېوو سره سپارل کیږي، وجه دا ده چې مېوې خلقةً د اتصال له وجې من وجهٍ تابع ګڼل کیږي، که مېوې مشتري پرې (قطع) کړې وي، نو شفیع به همدومره قیمت کموي، ځکه چې مېوه دلته په بیع کې داخل شوه او مقصود وګرځېده، نو ددې په بدل کې به قیمت خامخا وي.

باب ما تجب فيه الشّفعة وما لا تجب

إنّما تجب الشّفعة في عقارٍ ملك بعوضٍ هو مالٌ لا في عرضٍ وفلكٍ وبناءٍ ونخلٍ بيعًا بلا عرصةٍ ودارٍ جعلت مهرًا أو أجرةً، أو بدل خلعٍ أو بدل صلحٍ عن دم عمدٍ، أو عوض عتقٍ أو وهبت بلا عوضٍ مشروطٍ أو بيعت بخيارٍ للبائع أو بيعت فاسدًا ما لم يسقط الفسخ بالبناء أو قسمت بين الشّركاء أو سلّمت شفعته ثمّ ردّت بخيار رؤيةٍ أو شرطٍ، أو عيبٍ بقضاءٍ وتجب لو ردّت بلا قضاءٍ أو تقايلا.

ترجمه: په تحقیق سره شفعه هغه وخت په ځمکه کې ثابتیږي چې د مالک په بدل کې مملوک شوې وي، نه دا چې په اسبابو، کشتۍ، ابادی او ونې کې، کوم چې خرڅ شي د ځمکې څخه بغیر او په هغه کور کې چې مهر، مزدوري یا بدل خلع یا د دم عمد په سوله کې مقرر شوی وي یا د ازادی عوض وي یا د عوض مشروط څخه بغیر هبه کړی شوې وي یا د بائع د خیار سره خرڅه شوې وي په طریقې د بیعې فاسدې سره، تر هغه پورې چې د فسخ حق ساقط شوی نه وي، په عمارت جوړولو سره یا دا چې د شریکانو ترمنځ تقسیم شوی وي یا دا چې د هغه شفعه پرېښودل شوې وي، بیا واپس شوی وي په خیار

رؤيت يا خيار شرط سره يا خيار عيب سره د قضاء په ذريعه او واجب به وي كه چېرته واپس شوی وي د قضاء يا د دوارو ترمنځ د اقالې څخه بغير.

په كوموشيانوكې شفعه ثابته ده او په كوموكې نه ده ثابته

تشريح الفقه : قوله بَابٌ الخ: د شفعې د اجمالي ثبوت څخه د فراغت وروسته په تفصيلي توګه د شفعې بيان كوي، څكه چې تفصيل د اجمال څخه وروسته ذكر كيږي، زموږ په نزد بالقصد او اراده يوازې په هغه ځمكه كې شفعه ثابتيږي چې بعض مال مملوك وي، برابره خبره ده چې قابل د تقسيم وي او كه نه وي، لكه: ژرنده، حمام، كوهی، نهر او وړوكی كور (په كوم كې چې هيڅ تقسيم نه كيږي) د امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد هغو شيانو كې شفعه نشته چې تقسيم پكې نه راځي. څكه چې د هغه په نزد د شفعې سبب د تقسيم وغيره تكليفونو څخه ځان ساتل دي، نو هغه شيان چې قابل د تقسيم نه وي، په هغوی كې د سبب نه موجودېدو له وجې شفعه نه پاتې كيږي، د امام مالك رَحِمَهُ اللَّهُ څخه هم يو روايت داسې نقل شوی دی او يو روايت د امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ په موافقت كې ترې نقل شوی دی، زموږ دليل دا دی چې د شفعې نصوص مطلق راغلي دي، مثلاً : (الشريكُ شفيعٌ والشفعةُ في كلّ شيءٍ) همدا راز (قضى رسولُ اللّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بالشفعةِ فِيْ كُلّ شيءٍ) موږ د بالقصد قيد ددې وجې ولګولو چې كله كله شفعه غير قصدي توګه د ځمكې څخه بغير په نورو شيانو كې هم كيږي، لكه: په ونه كې شفعه كيږي د كور سره، په نهر كې شفعه كيږي د ځمكې سره، د عوض په قيد سره هغه هبه خارجه شوه چې د عوض څخه بغير وي او د مال په قيد سره مهر ترې خارج شو.

قوله فِي عرضٍ الخ: په اسبابو او كشتيو كې شفعه نه وي، څكه چې په حديث كې راځي: (لا شفعةَ إلّافِي ربعٍ أوحائطٍ) د ربع څخه مراد كور، حوېلی او منزل دی، د حائط څخه مراد باغ دی، دا حديث په امام مالك رَحِمَهُ اللَّهُ باندې حجت دی، څكه چې د هغه په نزد په كشتيو كې هم شفعه ثابته ده، كه ابادي او باغ د ځمكې څخه بغير خرڅ شي، نو په دې كې به هم شفعه نه وي، څكه چې يوازې عمارت او ونې لره قرار ثابت نه وي، نو دا هم د منقولاتو د قبيلې څخه وګرځېدل.

قوله ودارٍ جعلت الخ: د كوم كور په بدل كې چې د ښځې سره نكاح وكړي يا يو كور بدل خلع وګرځوي يا د يو كور په بدل كې بل كور په كرايه باندې ونيسي يا يو كور د قتل عمد په سوله كې بدل وګرځوي يا يو غلام د كور په بدل كې ازاد كړي، نو په دې كورونو كې به شفعه نه وي، څكه چې شفعه مبادلة المال بالمال كې وي او مذكوره شيان د مالونو عوضونه نه دي، نو په دې شيانو كې شفعه ثابتول خلاف مشروع او قلب موضوع ده، د ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللَّهُ په نزد دا عوضونه قيمتي مالونه دي، لهذا

ددې شيانو د قيمتونو په بدل کې کورونه اخيستلى شي، ځواب دا دى چې د نکاح په صورت کې د ښځې د بضعې منافع متقوم کېدل او د نورو شيانو په طريقې د اجارې سره متقوم کېدل د ضرورت په خاطر دي، نو د شفعې په حق کې به دا تقوم ظاهر نه وي، دغه شان د وينزې او غلام ازادي هم متقوم نه وي، ځکه چې قيمت د هغه شي نوم دى چې په خاص معنى مقصوده کې د دويم شي قائم مقام وي او دا دواړه خبرې په دې کې شيانو کې موجودې نه دي، لهذا دوى ته متقوم ويل هم صحيح نه شو.

قوله أووهبتُ الخ: يو سړي کوم کور هبه کړو او په بدل کې يې کوم شى اخيستل شرط نه کړو، نو په دې کې به شفعه نه وي، ځکه چې شفعه يوازې په مالي معاوضو کې کيږي او هبه د عوض څخه بغير تبرع او احسان وي. که بائع په خيار شرط سره مکان خرڅ کړي، نو د خيار تر ساقطېدو پورې به شفعه نه وي، ځکه چې د بائع خيال د ملک د زائله کېدو څخه مانع وي، دغه شان که د کور بيع فاسده وي، نو تر کومه پورې چې حق د فسخې ساقط نه وي، تر هغه وخته پورې به شفعه ثابته نه وي، ځکه چې بيع فاسده د قبضې څخه وړاندې د مشتري لپاره مفيد د ملکيت نه وي، بلکې په دې مبيعه کې به د بائع ملکيت باقي پاتې وي، دغه شان که مکان د شريکانو ترمنځ تقسيم کړى شي، نو د تقسيم له وجې به شفعه واجبه نه وي، ځکه چې شفعه د مبادلة المال بالمال له وجې وي او تقسيم له سره مبادله نه ده.

قوله أوسلمت الخ: يو سړي خپل کور خرڅ کړو او شفعه کوونکي حق د شفعې پرېښودلو، ددې څخه وروسته هغه کور د خيار شرط، خيار رؤيت يا خيار عيب له وجې واپس کړى شو او دا واپسي د قاضي په فيصلې سره وشوه، نو په دې کور کې به شفعه نه وي، ځکه چې شفعه د بيعې څخه وروسته وي، نه دا چې د بيع د فسخ کولو څخه وروسته، که د خيار عيب له وجې د قاضي د فيصلې څخه بغير واپسي وشي يا د دواړو ترمنځ په خوښى باندې اقاله وشي، نو شفعه به ثابته وي، ځکه چې د عيب له وجې واپس کول د قاضي د فيصلې څخه داسې ده لکه ابتداءً چې بيع وشي او اقاله هم د دريم کس په حق کې بيع ده.

باب ما تبطل به الشّفعة

وتبطل بترك المواثبة أو التّقرير وبالصّلح عن الشّفعة على عوضٍ وعليه ردّه وبموت الشّفيع لا المشترى وببيع ما يشفع به قبل القضاء بالشّفعة ولا شفعة لمن باع أو بيع له أو ضمن الدّرك عن البائع ومن ابتاع، أو ابتيع له فله الشّفعة، وإن قيل للشّفيع إنّها بيعت بألفٍ فسلّم ثمّ علم أنّها بيعت بأقلّ، أو ببرٍّ أو شعيرٍ قيمته ألفٌ أو أكثر فله الشّفعة، ولو بان أنّها بيعت بدنانير قيمتها ألفٌ فلا شفعة وإن قيل له إنّ المشترى فلانٌ فسلّم فبان أنّه غيره فله الشّفعة.

ترجمه: د مواثبة او طلب تقرير په پرېښودلو سره شفعه باطليږي، دغه راز که د شفعې څخه په عوض باندې سوله وکړي، (نو هم شفعه باطليږي) په شفيع باندې عوض واپس کول واجب دي، د شفيع په مرگ سره (باطليږي) نه د مشتري په مرگ سره، د هغه شي په خرڅولو سره د کوم شي په وجه چې شفعه کولی شي، د شفعې د فيصلې څخه وړاندې او شفعه نشته د هغه چا لپاره چې څوک يې خرڅ کړي يا خرڅ شي د هغه لپاره يا ضامن شي د درک لپاره د بائع څخه، څوک چې يې واخلي او د چا لپاره واخيستل شي؛ نو د هغه لپاره به شفعه وي، که شفيع ته وويل شو چې کور په زر روپۍ باندې خرڅ شوی دی، هغه خپله شفعه پرېښوده، بيا وروسته معلومه شوه چې په کم قيمت باندې خرڅ شوی دی يا په غنمو يا په وربشو باندې خرڅ شوی دی چې قيمت يې زر روپۍ يا زيات جوړېده، نو هغه بېرته شفعه کولی شي، که چېرته خبره ښکاره شوه چې هغه په اشرفيو باندې د زرو روپو په اندازه خرڅ شوی دی، نو شفعه نشته او که شفيع ته وويل شي چې کور فلاني سړي واخيستلو، هغه شفعه پرېښوده، بيا وروسته هغه ته معلومات وشو چې مشتري بل کس دی، نو هغه کولی شي چې شفعه وکړي.

په کوموشيا نوسره چې شفعه باطليږي

تشريح الفقه: قوله وتبطل بترك المواثبة الخ: که چېرته شفيع طلب مواثبه او طلب تقرير پرېږدي، نو د شفعې حق به باطل وي، ځکه چې دا د اعراض دليل دی، که چېرته شفيع د مشتري څخه د شفعې په بدل کې د سولې په ډول يو شی واخيستلو، نو د شفعې حق به يې باطل وي او هغه اخيستل شوی شی به واپس مشتري ته ورکوي، ځکه چې شفعه د مليت څخه بغير د تملک حق ته ويل کيږي، ددې عوض اخيستل صحيح نه دي، که شفيع د شفعې اخيستلو څخه وړاندې مړ شي، نو شفعه به باطله شي، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد نه باطليږي، بلکې دا به ميراث گرځي، موږ وايو: چې شفعه يوازې د تملک حق دی او دا د حقدار سړي د مړينې وروسته په ميراث باندې نه پاتې کيږي، خو د مشتري په مړينې سره شفعه نه باطليږي، ځکه چې د شفعې حقدار شفيع دی، ددې وجې د هغه بقاء به معتبره وي، د کومې ځمکې يا کوم کور له وجې چې شفعه کوونکی د شفعې حقدار و، که هغه يې د شفعې د حکم ثابتولو څخه وړاندې خرڅ کړي، نو شفعه به باطله شي، ځکه چې د تملک څخه وړاندې د استحقاق سبب يعني اتصال بالملک زائل شو.

قوله ولاشفعة الخ: يو کور د درې کسانو ترمنځ شريکي وو، په هغوی درې کسانو کې يو کس د خپلې برخې خرڅولو لپاره يو کس وکيل جوړ کړو، وکيل هغه کور خرڅ کړو، په نفس مبيعه کې به د شرکت حق شفعه نه د وکيل لپاره وي او نه به د مؤکل لپاره وي، بلکې د دريم شريک لپاره به وي، ځکه چې

دلته لومړی کس بائع دی او دویم کس مبیع له دی او بائع د شفعې له وجې مکان اخلي او خپل هغه عقد ماتول غواړي کوم چې خپله هغه ترسره کړی دی، ځکه چې هغه د شفعې په ذریعه د اخیستلو ځخه وروسته مشتري جوړیږي، خو بائع نه جوړیږي، حال دا چې هغه بائع و. دغه راز څوک چې د بائع له لورې د درک ضامن شي، د هغه لپاره به هم حق د شفعې ثابت نه وي، (لأنّ المبيعَ تَمّ بضمانه حيثُ لَمْ يَرضَ المشتريُ إلّا بضمانه).

قوله ومن ابتاعَ الخ: یو کور د درې کسانو ترمنځ شریکي وي، په هغوی درې کسانو کې یو کس خپل دویم ملګری د دریم کس د برخې اخیستلو لپاره وکیل وټاکلو، په دې صورت کې به د وکیل او مؤکل دواړو لپاره حق د شفعې ثابت وي، د مبیعې په حق کې شریک ملګری به یې د جار ملاصق ځخه وړاندې وي، ځکه چې شفعه د اعراض په ښکاره کولو سره باطلیږي، مګر د رغبت په ظاهرولو سره نه باطلیږي، د شراء په صورت کې اظهار د رغبت وي او اظهار د اعراض نه وي. (وفي المبيعِ عَكسُ ذَالكَ)

قوله وإنْ قِيلَ الخ: کوم کس شفیع ته خبر ورکړو چې کور په زر روپۍ باندې خرڅ شوی دی، شفیع د مشتري له طرفه په اخیستلو باندې خوښ و او د شفعې غوښتنه یې ونه کړه، وروسته معلومه شوه چې کور ددې روپو ځخه په کمه اندازه یا په غنمو یا په وریشو باندې خرڅ شوی دی چې د هغې قیمت زر روپۍ یا د هغې ځخه زیات جوړیږي، په دې صورت کې به د شفعه کوونکي لپاره حق د شفعې ثابت وي، که وروسته داسې معلومه شي چې د دومره اشرفیو په بدل کې ورکول شوی دی چې قیمت یې زرو دراهمو ته رسیږي، نو د امام ابویوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد به حق د شفعې ثابت نه وي، خو استحسان دا دی چې دلته هم حق د شفعې ثابت شي؛ د امام زفر رَحِمَهُ اللهُ قول د استحسان دی، ځکه چې په دې صورت کې حقیقتا او حکما جنس مختلف دی. (حتّى جازَ التفاضلُ بينهمَا فِي مبيعٍ)

د دواړو مسئلو ترمنځ وجه د فرق دا ده چې په لومړي صورت کې شفیع د شفعې کولو ځخه ځکه وروسته شو چې د هغه سره دومره اندازه روپۍ نه وې یا هم مذکوره اجناس (غنم او وریشې) پیدا کول متعذر و، خو وروسته معلومه شوه چې قیمت یې لږ و، نو هغه به د شفعې حقدار ګڼل کیږي، ځکه چې د ثمن د اختلاف په وجه په رغبت کې اختلاف پیدا کیږي، په دویم صورت کې د دینارو او دراهمو اختلاف موجود دی او هغې ته هیڅ اعتبار نه ورکول کیږي، ځکه چې دواړه جنسونه په ثمنیت کې متحد وي.

قوله وإن قيلَ الخ: یو کس شفعه کوونکي ته خبر ورکړو چې فلاني سړي کور واخیستلو، شفیع ومنل چې دا بیع دې صحیح شي او د شفعې ځخه وروسته شو، خو وروسته بل کس خبر ورکړو چې هغه کور

بل كس اخيستى دى، نو شفيع ته به د شفعې حق حاصل وي، ځكه چې د اخلاقو او عادتونو په اعتبار سره انسانانو كې ډېر فرق وي، د ځينو خلكو ګاونډيتوب انسان ته خوښ وي او د ځينو څخه انسان تښتي، لهذا د يو كس په بيع باندې خوشحاله كېدل د بل كس په بيع باندې خوشحاله كېدو لره مستلزم نه دى.

وإن باعها إلّا ذراعًا في جانب الشّفيع فلا شفعة له وإن ابتاع منها سهمًا بثمنٍ ثمّ ابتاع بقيّتها فالشّفعة للجار في السّهم الأوّل فقط وإن ابتاعها بثمنٍ ثمّ دفع ثوبًا عنه فالشّفعة بالثّمن لا بالثّوب ولا تكره الحيلة لإسقاط الشّفعة والزّكاة وأخذ حظّ البعض يتعدّد بتعدّد المشتري لا بتعدّد البائع وإن اشترى نصف دارٍ غير مقسومٍ أخذ الشّفيع حظّ المشتري بقسمته وللعبد المديون الأخذ بالشّفعة من سيّده كعكسه وصحّ تسليم الشّفعة من الأب والوصيّ والوكيل.

ترجمه: كه يو سړي كور خرڅ كړو چې د شفعه كوونكي په خوا كې يې يو ګز پرېښودلو، نو په دې كې به شفعه نه وي، كه د كور څه برخه يې د لږ ثمن په بدل كې واخيسته بيا يې باقي كور هم واخيستلو، نو د ګاونډي لپاره به د شفعې حق په مخكينى برخه كې وي، كه يو سړي د ثمن په بدل كې كور واخيستلو، بيا يې په بدل كې كپړه وركړه، نو شفعه به په ثمن سره وي، په كپړې سره به نه وي، د شفعې او زكات ساقط كولو لپاره حيله كراهت نه لري او د بعضو برخه اخيستل د مشتري په تعدد سره نه د بائع په تعدد سره، كه غير تقسيم شوى نيمايي كور يې واخيستلو، نو شفيع به د مشتري برخه د هغه د تقسيم سره اخلي او د عبد ماذون مديون لپاره حق حاصل دى چې د شفعې په ذريعه د خپل سردار څخه واخلي، لكه ددې عكس چې صحيح دى، صحيح ده په شا كېدل د پلار، وصي او وكيل د شفعې څخه.

د حق شفعې د ساقطېدو طريقې

تشريح الفقه: **قوله وإن باعها إلّا ذراعًا الخ**: هغه څوك چې خپل كور يا ځمكه خرڅه كړي او د ګاونډي سره نژدې كور يا ځمكه څخه يو ګز اخوا كور او ځمكه خرڅه كړي، نو ګاونډى نه شي كولى چې په مشتري باندې شفعه وكړي، خو په دې شرط چې دا يو ګز د شفيع ټول كور سره نژدې لګېدلې حصه وي، ځكه چې د شفعې سبب دا دى چې د شفيع ملكيت به متصل وي او دلته د شفيع د ملكيت اتصال ختم شو.

قوله وإن ابتاع الخ: اول ځل مشتري د كور څه برخه په معين قيمت باندې واخيسته، د هغې څخه وروسته يې پاتې كور هم واخيستلو، د ګاونډي د شفعې حق به يوازې په مخكينى برخه كې وي او

وروستنی برخه به د مشتري لپاره وي، ځکه چې مشتري په لومړي ځل اخيستو سره د بائع سره شريک شوی دی او په حق مبيعه کې شريک د ګاونډي څخه د شفعې زيات حقدار وي.

قوله وإن ابتاعها الخ: د يو کور قيمت سل روپۍ وي، مشتري يې په زر روپۍ باندې واخلي، بيا د ثمن په بدل کې بائع ته د کپړې تان ورکړي، که شفيع يې غواړي؛ نو زر روپۍ به ورکوي، ځکه چې د کور عوض هم زر روپۍ دی او د زرو روپو په بدل کې د کپړې تان ورکول دويم عقد ګڼل کيږي.

قوله ولا يكره الخ: داسې حيله جوړول چې شفيع مشفوعه مال وانخلي، نو داسې شفعې په دوه قسمه دي: يو هغه حيله ده چې شفعه پرې ساقطه شي او دويم هغه حيله ده چې شفعه ورباندې ثابته نه شي، د شفعې د ثبوت څخه وروسته د هغې د ساقطولو لپاره حيله جوړول د صاحبينو په نزد مکروه ده، مثلا: مشتري يو کور واخيستلو، شفيع ته يې وويل چې ته دا کور زما څخه واخله! دا يې ددې لپاره ورته وويل: که هغه د اخيستلو اراده وکړي، نو شفعه به يې باطله شي، ځکه چې د اخيستلو لپاره تيارى ښودل د شفعې څخه اعراض او مخ اړول دي، د شفعې د ساقطولو لپاره داسې حيله په اتفاق سره مکروه ده، دويم ډول: داسې حيله کول چې په هغې سره مکمل ډول شفعه ختميږي، د امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد داسې حيله کول هم مکروه ده، د امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ قول هم همداسې دی، د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد داسې حيله مکروه نه ده، د شفعې په باب کې فتوى د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللَّهُ په قول باندې ده، په سراجيه کې دي چې حيله په هغه صورت کې جائز ده چې ګاونډي ته يې ضرورت نه وي، (واستحسنه محشي الأشباه) په شرح الوقايه کې دي چې د شفعې مشروعيت د ګاونډي د ضرر څخه ځان ساتلو لپاره دي، که ګاونډی داسې کس وي چې د هغه څخه ګاونډيانو ته ضرر وي، نو د شفعې د اسقاط حيله کول حلال نه ده، که مشتري ښک انسان وي او شفيع سخت سړی وي، بيا حيله کول جائز ده، د زکات د منع کولو لپاره د حيلې صورت دا دی: په کوم مال کې چې زکات واجب وي، د کال پوره کېدو څخه وړاندې دي ماشوم بچي ته هبه کړي يا دي دومره مقدار مال ماشوم بچي ته هبه کړي چې پوره نصاب پاتې نه شي، د امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد دا حيله مکروه ده، د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد مکروه نه ده، فتوى د امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ په قول باندې ده، په شرح الوقايه کې دي: دا حيله ډېره قبيحه ده، ځکه چې په دې سره انسان کې بخيلي پيدا کيږي او د غريبانانو رزق ختميږي او د عدم انفاق تر وعيد او زورنې لاندې راځي.

قوله وأخذ حط البعض الخ: ددې مسئلې صورت دا دی: څو کسانو په شريکه يوه ځمکه واخيسته، خرڅوونکی (بائع) يو کس دی، نو د اخيستونکو د شمار موافق به شفعه ثابته وي، د شفيع لپاره به جائز وي چې د يو اخيستونکي برخه واخلي او پاتې نورې برخې پرېږدي، که اخيستونکی (مشتري) يو

کس وي او خرڅوونکي (بائع) ډېر وي، نو د شفعې اخيستل به متعدد نه وي، بلکې شفيع به يا توله ځمکه اخلي يا به پوره پرېږدي، وجه د فرق دا ده چې دلته په اخيستونکي باندې د عقد تفريق لازميږي، په خلاف د لومړي صورت ځکه چې هلته شفيع د يو مشتري قائم مقام و.

قوله وإن اشترٰى الخ: يو سړي د غير تقسيم شوي کور نيمايي برخه واخيسته بيا يې په بائع باندې تقسيم کړه، نو شفيع د دويم خلي تقسيم حقدار نه دی، بلکې د مشتري څخه به هغه حصه اخلي چې هغه ته په تقسيم کې رسېدلې ده، برابره خبره ده چې تقسيم په رضا سره شوی وي او که په قضا (فيصلې) سره شوی وي، دغه راز هغه برخه که د شفيع په طرف وي او که نه وي، البته د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ څخه دا يو روايت موجود دی : شفيع به هغه برخه اخلي کومه چې هغه ته نږدې ده، خو لومړی روايت يې اصح دی.

كتاب القسمة

هي جمع نصيبٍ شائعٍ في معيّنٍ.

ترجمه: په معين شي کې د خپرې شوي برخو يو ځای کول دي.

تشريح الفقه : قوله كتاب الخ: قسمت او شفعه دواړه د شايع له حصو څخه دي، ځکه چې د شفعې قوي سبب شرکت دی، د دواړو شريکانو څخه به هر يو د ملکيت باقي پاتې کېدو څخه بغير د يو بل څخه جدا کيږي، شريک به خپله برخه خرڅوي، بيا به په دې سبب سره شفعه ثابتيږي يا به خپل ملکيت د باقي پاتې کېدو په حالت کې د يو بل څخه جدا کيږي، نو هغه د خرڅولو څخه بغير خپله برخه اخلي، په دې وخت کې تقسيم ته ضرورت پېښ شي، د همدې مناسبت له وجې يې د شفعې څخه وروسته د تقسيم بحث ذکر کړو، د شفعې بحث يې په تقسيم باندې وړاندې ذکر کړو، ددې لپاره وجه دا ده چې (لأنّ بقاءَ ما كانَ على ما كانَ أصلٌ).

قوله هي جمع الخ: لفظ د قسمة د "قاف" په کسرې سره د اقتسام څخه اخيستل شوی دی، لکه څنګه چې د مغرب ليکوال ويلي دي او د قاموس مصنّف ليکوال وايي چې د تقسيم څخه اسم دی، لکه څنګه چې قدوة د اقتداء څخه اسم دی، په لغت کې تقسيم ته ويل کيږي او د شريعت په اصطلاح کې د يو کس شايع حصه په معينه حصه کې جمع کولو ته ويل کيږي، مثلًا : يو کور د درې کسانو ترمنځ شريکي وي، د هر سړي حصه د تعين څخه بغير ددې کور په هر جزء کې شايع ده او کله چې د تقسيم له وجې کور په درې برخو باندې ووېشل شو، د هر سړي برخه د کور په خاصه خاصه برخه کې جمع ده، د شايع شوي حق متعين کولو نوم قسمت دی.

وتشتمل على الإفراز والمبادلة وهو الظاهر في المثلىّ فيأخذ حظّه حال غيبة صاحبه وهي في غيره فلا يأخذ ويجبر في متّحد الجنس عند طلب أحد الشركاء لا في غيره وندب نصب قاسم - رزقه في بيت المال - ليقسم بلا أجر وإلّا فينصب قاسمٌ يقسم بأجر بعد د الرّءوس ويجب أن يكون عدلًا أمينًا عالمًا بالقسمة ولا يتعيّن قاسمٌ واحدٌ ولا يشترك القسّام ولا يقسم العقار بين الورثة بإقرارهم حتّى يبرهنوا على الموت وعدد الورثة ويقسم في المنقول والعقار المشتري ودعوى الملك ولو برهنا أنّ العقار في أيديهما لم يقسم حتّى يبرهنا أنّه لهما.

ترجمه: د برخې په جدا کېدو او مبادله باندې مشتمل وي، افراز په مثلي شيانو کې ښکاره کيږي، د خپل ملګري په غياب کې خپله برخه اخلي او مبادله په غير مثلي شيانو کې غالبه وي، نو نه شي به اخيستلی، په متحد الجنس شيانو کې به د يو شريک په طلب باندې زور کولی شي، نه په غير متحد الجنس کې، مستحب دا ده چې د تقسيم کوونکي روزانه مزدوري د بيت المال څخه وټاکل شي، ددې لپاره چې د اجرت څخه بغير تقسيم وکړي، کنه نو داسې تقسيم کوونکی به ټاکل کيږي چې د شريکانو د شمار موافق په اجرت باندې تقسيم وکړي، دا ضروري ده چې تقسيم کوونکی به عادل، امانت دار او په تقسيم باندې خبر وي، يو تقسيم کوونکی به متعين نه وي، تقسيم کوونکي به شريکان نه وي او ځمکه به د وارثانو ترمنځ د هغوی په اقرار سره نه تقسيموي، تردې پورې چې هغوی په مرګ او د وارثانو په شمار باندې ثبوت وړاندې کړي، تقسيم کولی به شي منقول مال او اخيستل شوې ځمکه او د ملک مطلق په دعوه کې، که دوه شريکان دعوه وکړي چې ځمکه زموږ په تصرف کې ده، نو د دوی ترمنځ به تقسيم نه شي کولی تر هغه پورې چې دوی دا ثابته نه کړي چې ځمکه د دوی ملکيت دی.

د تقسيم د احکاماتو تفصيل

تشريح الفقه: **قوله وتشتمل الخ:** د قسمة لفظ په عامه توګه (مثلي او قيمتي دواړو کې) په افراز او مبادله باندې مشتمل وي، ځکه چې د شريکانو څخه هر يو کومه حصه اخلي، د هغې په اجزاوو کې هر جزء دواړو نيمايي (نصفين) ته شامل وي، اوس په دې کې يو نيمايي د هغه شريک دی چې حاصلول يې افراز دی، يعنې هغه بعينه خپله برخه واخيسته او دويم نصف د هغه د شريک دی، د هغه اخيستل د هغه حصې عوض شو چې د هغه له حصې څخه د دويم شريک په قبضه کې دی، نو دا مبادله په مثلي (مکيلي، موزوني او عددي متقارب) کې شوه، د افراز معنی غالبه ده او غير مثلي (يعنې قيمتي) شيان چې په حيوانات او اسباب وغيره کې د مبادله معنی غالبه ده، ددې وجه دا ده چې د مثلي شيانو په افرادو او ابعاضو کې تفاوت نشته، ځکه چې د غنمو او جوارو څخه چې کوم يو شريک اخلي، هغه د ظاهر او باطن دواړو په اعتبار سره د هغې مثل وي چې دويم شريک اخيستي وي، په

خلاف د غير مثلي شيانو چې د هغې په افرادو کې زيات تفاوت وي، څکه چې يوه غوا کله په ۱۰۰۰ روپۍ وي؛ نو بله غوا په ۲۰۰۰ روپۍ وي، يو اس په ۵۰۰۰ روپۍ وي او بل اس په ۱۰۰۰۰ روپۍ وي، دلته يوه حصه د يو کس لپاره عين حق گرځول صحيح نه دي.

قوله فيأخذ الخ: په مثلياتو کې معنی د افراز غالبه وي او په غير افراز کې د مبادله معنی غالبه وي، په مثلياتو کې هر شريک د خپل شريک په عدم موجودگۍ کې خپله حصه اخيستی شي، څکه چې د مثلياتو په افرادو کې هيڅ تفاوت نه وي، په خلاف د غير مثليات (جامې، ځمکه، حيوان وغيره) کې چې ددې څخه يو شريک خپله حصه د خپل شريک په عدم موجودگۍ کې نه شي اخيستلی، څکه چې په افرادو کې يې ډېر تفاوت زيات دی.

قوله ويجبر الخ: ددې ځای څخه د يو اعتراض ځواب وايي، اعتراض دا دی چې ستاسو په وينا: په غير مثليات کې د مبادلې معنی غالبه وي، ددې سره سره په متحد الجنس غير مثلي شيانو کې په تقسيم باندې جبر کيږي، حال دا چې په مبادلاتو کې جبر نه کيږي، بيا ددې څه وجه ده؟ د اعتراض څخه لنډ ځواب دا دی چې په تقسيم باندې جبر او زورنه کول د افراز له وجې دی، څکه چې په دې کې د منفعت تکميل دی او په متحد الجنس کې مقاصد متقارب وي، ددې وجې جبر ورباندې جائز دی، ددې لپاره چې ضرر ختم شي، څکه چې د تقسيم غوښتونکی هم دا وايي چې زما گټه دې زما د حصې (برخې) سره خاص وي او زما په ملکيت کې بايد د بل کس تصرف نه وي.

قوله ولا يقسم العقار الخ: ځينو خلکو د ځمکې په باره کې دعوه وکړه چې موږ ته د زيد له لورې په ميراث کې پاتې شوې ده، هغو خلکو وغوښتل چې دا ځمکه تقسيم کړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد يوازې د هغوی په دعوه باندې نه شي تقسيمېدلی، تر هغه پورې چې هغوی يې د شاهدانو په ذريعه ثابته نه کړي چې زيد وفات شوی دی او موږ دومره کسان د هغه وارثان پاتې يو، د صاحبينو او امام شافعي رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد د وارثانو د اقرار وروسته د ځمکې تقسيمول جائز دي، د امام احمد رَحِمَهُ اللهُ قول هم همداسې دی، دوی فرمايي: که وارثان د منقولي مال د وراثت يا ملک مطلق يا د اخيستلو دعوه وکړي، نو لکه څرنگه چې په دې صورتونو کې د شاهدانو د بيان څخه بغير تقسيم جائز دی، دغه شان د غير منقولي ځمکې د دعوې په صورت کې هم د شاهدانو په ذريعه تحقيق او ثبوت ته ضرورت نشته، امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې تقسيم کول قضاء على الميت ده او اقرار حجت قاصره دی، يعنې ددې حجيت تر اقرار کوونکي پورې محدود دی، د غير مقر په حق کې اقرار حجت نه دی، لهذا د شاهدانو وجود ضروري دی، ددې لپاره چې د دوی انکار د مړي په خلاف باندې حجت جوړ شي، دغه شان ځمکه خپله محفوظه ده، ددې وجې د ځمکې تقسيم ته ضرورت نشته، په خلاف د منقولي

شیانو، ځکه چې هغه په معرض د تلف کېدو کې ده، نو ددې په تقسیمولو کې ددې حفاظت دی او حقدار ته خپل حق رسول مقصد دي، بیا قبضه د ملکیت دلیل دی او اقرار د صدق دلیل دی او دویم منازع موجود نه دی، دا منقولي مال به نه شي تقسیمولی، تر هغه پورې چې د شاهدانو په ذریعه د خپل ځان وراثت ثابت نه کړي.

ولو برهنا على الموت وعدد الورثة، والدّار في أيديهم ومعهم وارثٌ غائبٌ، أو صبيٌّ قسم ونصب وكيلٌ أو وصيٌّ يقبض نصيبه ولو كانوا مشترين وغاب أحدهم، أو كان العقار في يد الوارث الغائب أو حضر وارثٌ واحدٌ لم يقسم وقسم بطلب أحدهم لو انتفع كلٌّ بنصيبه وإن تضرّر الكلّ لم يقسم إلّا برضاهم وإن انتفع البعض وتضرّر البعض لقلّة حظّه قسم بطلب ذي الكثير فقط ويقسم العروض من جنسٍ واحدٍ ولا يقسم جنسان والجواهر والرّقيق والحمّام والبئر والرّحا إلّا برضاهم دورٌ مشتركةٌ، أو دارٌ وضيعةٌ، أو دارٌ وحانوتٌ قسم كلّ واحدٍ على حدةٍ.

ترجمه: که دوه شریکان په مرګ او د وارثانو په عدد باندې شاهدان راولي او کور د هغه په قبضه کې وي، د هغوی سره داسې وارث وي چې غائب وي یا ماشوم وي، نو د دوی په غوښتنه باندې به تقسیم کولی شي، وکیل یا وصي به مقرر کولی شي چې د هغوی حصه قبضه کړي، که دوی اخیستونکي وي او د دوی څخه یو کس غائب وي، یا ځمکه د غائب وارث یا ماشوم په ولکه کې وي یا صرف یو وارث حاضر وي، نو بیا به تقسیم نه شي کېدلی، د یو کس په غوښتنه به تقسیم کولی شي، په هغه صورت کې چې هغه د خپلې برخې څخه ګټه اخیستلی شي او که د ټولو تاوان وي، بیا به تقسیم نه شي کېدلی، مګر په هغه صورت کې چې د ټولو خوښه وي، که د ځینو ګټه وي او د ځینو تاوان وي، د هغوی د برخې د کمېدو له وجې، نو د زیاتي برخې کسانو په غوښتنه به تقسیم کېدلی شي او هغه اسباب به هم تقسیمېدلی شي چې د یو جنس څخه وي او هغه أسباب به نه شي تقسیمېدلی چې د دوه جنسونو څخه وي، دغه راز جواهر دي، غلام، حمام، کوهی او ژرنده هم ده، مګر د ټولو په خوښه بیا تقسیمېدلی شي، څو شریکي کورونه وي، یا کور او ځمکه وي، یا کور او دوکان وي، نو د هر یو به جدا جدا تقسیمولی شي.

توضیح اللغة : (حظ) برخه، (عروض) سامان، (رقیق) خالص غلام، (حمّام) د ګرمو اوبو غسل خانه. (بئر) کوهی، (رحٰی) ژرنده، (دُوَرٌ) د (دَارٌ) جمع ده او کور ته ویل کیږي، (ضیعة) ځمکه، (حانوت) دوکان

تشریح الفقه : **قوله ولو برهنا على الموت الخ:** که دوه شریکانو د مورث په مرګ او د وارثانو په تعد باندې شاهدان قائم کړه، ځمکه د هغوی دواړو په ولکه کې وي، په وارثانو کې وړوکی ماشوم ما وي یا یو مشر وارث غائب وي او حاضرو وارثانو د تقسیم غوښتنه وکړه، نو د هغوی ترمنځ به ځ

تقسیمولی شي او د غائب وارث او ماشوم لپاره به یو وکیل یا وصي وټاکل شي، هغه به د دوی په حصه باندې قبضه وکړي، ددې لپاره چې د غائب او ماشوم حق ضایع نه شي، دلته هم په اصلي میراث باندې د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد شهادت ضروري دی او په دې سره به ثابته شي چې څمکه هغه ته د پلار له لوري په میراث کې پاتې شوې ده، د صاحبینو په نزد د شاهدانو حضور ضروري نه دی.

که شریکان اخیستونکي وي، یعنې د هغوی شراکت د میراث په توګه نه وي، بلکې ټول په اخیستلو کې شریکان وي، په دوی کې یو شریک غائب وي، (یا مذکوره د میراث صورت وي؛ خو) څمکه د ماشوم وارث یا غائب وارث په قبضه کې وي، یا په وارثانو کې صرف یو وارث حاضر وي، نو په دې درې واړو صورتونو کې به تقسیم نه کیږي، په لومړي صورت کې ددې وجې تقسیم صحیح نه دی چې کوم ملکیت د اخیستلو له وجې ثابت وي هغه جدید او نوی ملکیت دی، لهذا حاضر شریک د غائب شریک له لوري خصم نه شي جوړېدلی، په دویم صورت کې به ددې وجې تقسیم نه کیږي چې په دې صورت کې قضاء علی الغائب ده او دا جائز نه ده، په دریم صورت کې ددې وجې صحیح نه دی چې یو کس مخاصِم او مخاصَم نه شي جوړېدلی، نو دغه شان مقاسِم او مقاسَم هم نه شي جوړېدلی او په دې صورت کې صرف یو وارث حاضر دی.

په کومو صورتونو کې چې تقسیم کیږي او په کومو کې نه کیږي

قوله وقسم بطلب أحدهم الخ: که شریکي شی داسې وي چې د تقسیم څخه وروسته هر کس د خپلې برخې څخه فایده اخیستلی شي او د شریکانو څخه کوم یو کس د تقسیم غوښتنه وکړي، نو تقسیم به کیږي، که شریکي شی داسې وي چې په تقسیم سره یې ټولو کسانو ته نقصان رسیږي، لکه: د ژرندې، کوهي، حمام او داسې نور شیان، نو تقسیم به نه کیږي، تر هغه پورې چې ټول ورباندې خوښ نه وي، ځکه چې د تقسیم مقصد دا وي چې هر سړی د خپل خاص ملکیت څخه ګټه پورته کړي او دلته د تقسیم په صورت کې دا مقصد فوت کیږي، لهذا تقسیم به نه کیږي، که د تقسیم څخه وروسته ځینو شریکانو ته ګټه وي او د ځینو شریکانو تاوان وي، نو د کوم شریک برخه چې زیاته وي، د هغه په غوښتنه به مال تقسیمیږي، دا قول د شمس الائمه سرخسي او امام خصاف رَحِمَهُمَا اللهُ دی، په عنایه، نهایه، کفایه، معراج، الدرایه او عامو متونو کې یې همدا لیکلي دي، په کافي او هدایه کې دي چې همدا اصح قول دی، په ذخیره کې دي چې په دې قول باندې فتوی ده، امام جصاص ددې بالعکس قول ذکر کړی دی، یعنې د کمې برخې والا سړي په غوښتنه به تقسیم کولی شي، نه دا چې د زیاتې برخې والا په غوښتنه، حاکم شهید رَحِمَهُ اللهُ په خپل مختصر کې ذکر کړي دي چې صاحب قلیل او صاحب کثیر دواړه برابر دي، یعنې د دواړو په غوښتنه به تقسیم کولی شي، په خانیه کې دي چې خواهرزاده

دې قول ته ترجيح وركړې ده او په دې باندې فتوى ده. (وفى المنحِ ينبغى أن يعولَ على ما جزم به عامة أصحاب المتون والشروح لأنّها هى الموضوعة لنقل المذهب)

قوله ويقسم العروض الخ: كه ځيني مشترک اسباب د يو جنس څخه وي، مثلا: كيلي وي، يا وزني وي، يا عددي متقارب وي يا سره زر او سپين زر وي، نو د يو شريک په طلب سره به قاضي دويم شريک مجبوره كوي، هغه به د شيانو په تقسيم سره ځيني مال يو كس ته وركړي او ځيني مال به دويم كس ته وركړي، ځكه چې دلته د دواړو مقصود برابر دى، نو دا تقسيم به د تميز تقسيم وي چې په دې كې به قاضي ته د جبر اختيار حاصل وي، خو كه اسباب مختلف الجنس وي، نو قاضي يې په خپله خوښه تقسيم بالجبر نه شي كولى، ځكه چې دلته د جنس د اختلاف له وجې اتحاد ختم دى، نو دا تقسيم به د تميز تقسيم نه وي، بلكې معاوضه به وي او قاضي ته به د جبر اختيار په هغه صورت كې وي چې تقسيم په معنى د تميز سره وي، ځكه چې دلته به د شريكانو په رضا باندې اعتماد وي، نه د قاضي په مجبوره كولو باندې.

قوله دورٌ مشتركةٌ الخ: د ځينو خلكو ترمنځ څو كورونه شريكي وي، يا يو كور او يوه ځمكه شريكي وي يا يو كور او يو دوكان شريكي وي، د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد به ددې شيانو څخه هر يو عليحده عليحده تقسيم كولى شي، برابره خبره ده چې متصل او نږدې وي او كه د يو ښار په دوه محلونو كې شريكان وي، د صاحبينو رَحِمَهُمَا اللّٰهُ په نزد عليحده عليحده تقسيم ضروري نه دى، بلكې داسې هم كېدى شي چې يو مكان د يو شريک لپاره شي او دويم مكان د دويم شريک لپاره شي، ځكه چې دا شيان د نوم او صورت په اعتبار سره مختلف جنسونه دي، ددې معامله به د قاضي د رايې موافق پرېښودلى شي، هغه دا چې د شريكانو په حق كې كوم صورت ګټور وي، په هغې باندې به عمل كولى شي، امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايي چې د محل او او ګاونډيانو ښه كېدو او بدېدو په اعتبار سره د جومات او اوبو څخه د ليرې كېدو او نږدې كېدو په اعتبار سره د كورونو په مقاصدو كې فرق موجود وي او په دې كې برابري ناممكن ده، ددې وجې په يو مكان كې د يو شريک حصه په خپلو كې د خوښې او رضا څخه بغير نه شي اخيستل كېدى.

ويصوّر القاسم ما يقسمه ويعدله ويذرعه ويقوّم البناء ويفرز كلّ نصيبٍ بطريقه وشربه ويلقب الأنصباء بالأوّل والثّانى والثّالث ويكتب أسماءهم ويقرع فمن خرج اسمه أوّلًا فله السّهم الأوّل ومن خرج ثانيًا فله السّهم الثّانى ولا يدخل فى القسمة الدّراهم إلّا برضاهم فإن قسم ولأحدهم مسيلٌ أو طريقٌ فى ملك الآخر لم يشترط فى القسمة صرفٌ عنه إن أمكن، وإلّا فسخت القسمة.

ترجمه: قاسم چې کوم شی تقسیموي د هغې نقشه به واخلي، حصې به برابرې کړي، اندازه به ولګوي، د ابادی قیمت به ولګوي او د هرې حصې جدايي به د لارې او د اوبو د حق سره وکړي، په حصو باندې به د اول، دوم او دریم نښې ولګوي، بیا به د شریکانو په نوم قرعه اندازي وکړي، د چا نوم چې وړاندې راووځي، د هغه لپاره به لومړی برخه وي، د چا نوم چې دویم ځل راووځي، د هغه لپاره به دویمه برخه وي، دراهم به په تقسیم کې نه شي داخلولی مګر د دوی په خوښه باندې، که کور تقسیم شي؛ خو د یو کس د اوبو بهېدو یا تګ او راتګ لاره د بل کس په ملکیت کې وي، حال دا چې د تقسیم پرمهال یې داسې شرط کړي نه و، نو د هغه طرف څخه به اړولی شي، په هغه صورت کې چې امکان ولري، کنه نو تقسیم به مات (ختم) کړی شي.

د تقسیم طریقه

تشریح الفقه: قوله ویصوّر القاسم الخ: د تقسیم طریقه دا ده چې کله څوک تقسیم کوي، نو لومړی دي د هغه مکان نقشه په کاغذ باندې جوړه کړي، برخې دي د قیمت په اندازه برابر تقسیم کړي، ددې صورت دا دی چې تر ټولو کمې برخې (کمه اندازه سهم) ته دي وکتل شي او مقسوم به په هغې باندې جاري کوي، مثلاً: که کمه برخه ثلث (دریمه) وي، نو ټول تقسیم به په اثلاث (درې برخو) باندې وکړي، که کمه برخه سدس (شپږمه) وي، نو ټول تقسیم به اسداسا وکړي، دغه شان په ګز به یې اندازه واخلي، څکه چې د مساحت اندازه په ګزونو باندې معلومېږي، که د کوم شریک په برخه کې عمارت او ابادي راغلې وي، نو د هغې قیمت به لګوي، هغه قیمت به د دویم شریک سره تقسیموي، د هر شریک حصه به د اوبو د لارې او د تلو د لارې سره جدا کوي، ددې لپاره چې د یو شریک حصه د بل شریک سره متعلق نه شي، بیا به هره حصه د ضرورت مطابق د اول، دویم، دریم، څلورم، پنځم او شپږم نومونو باندې موسوم کړي او په کاغذونو باندې به د شریکانو نومونه ولیکل شي، قرعه اندازي به وړباندې وکړي، په کومه حصه باندې چې د کوم شریک نوم راشي، نو هغه حصه به شریک ته ورکولی شي، په جوهره کې دي چې قرعه اندازي ضروري نه ده، دا یوازې د تسلی لپاره کیږي، ددې لپاره چې د کوم کس د جانبداری (یو کس ته د ترجیح ورکولو) وهم ونه شي.

قوله ولایدخل الخ: د ځمکې او کور په تقسیم کې د خپلې رضامندی څخه بغیر دراهم داخل نه دي، مثلاً یو مکان د څو شریکانو ترمنځ شریکي وي، په یو طرف کې عمارت زیات وي، شریکانو د تقسیم اراده وکړه، اوس یو شریک غواړي چې د عمارت په بدل کې دي درهم ورکړي، دویم شریک غواړي چې د عمارت په بدل کې دي ځمکه ورکړي، نو د عمارت د څښتن څخه به دراهم نه شي اخیستل

كېدى، بلكې څمكه به ترې غوښتل كيږي، مګر دا چې د څمكې وركول متعذر شي، وجه دا ده چې قسمت د ملكيت له حقوقو څخه ګڼل كيږي او د شريكانو شركت په مكان كې دى، په دراهمو كې نه دى، لهذا دراهم به په تقسيم كې داخل نه وي.

قوله فإن قسم الخ: يو شريكي مكان د شريكانو ترمنځ ووېشل شو، د يو شريک د اوبو لاره او د تللو لاره د بل شريک په ملكيت كې واقع شوه، حال دا چې د تقسيم پرمهال د اوبو د لارې او د تللو د لارې اشتراک شرط نه و، نو د هغه د اوبو لاره او د تللو راتللو لاره به د شريک د لارې څخه جدا كولى شي او بل طرف ته به اړولى شي، په دې شرط چې اړول يې امكان ولري، ددې لپاره چې اشتراک په كامله توګه ختم شي او كه دا ممكنه نه وي، نو لومړى تقسيم به ختم كړى شي او دوباره به تقسيم كيږي، ددې لپاره چې د شريكانو ترمنځ هر ډول تشويش ختم شي.

سِفْلٌ له علوٌ وسفلٌ مجرّدٌ وعلوٌ مجرّدٌ قوّم كلّ واحدٍ على حدةٍ وقسم بالقيمة وتقبل شهادة القاسمين إن اختلفوا ولو ادّعى أحدهم أنّ من نصيبه شيئًا في يد صاحبه وقد أقرّ بالاستيفاء لم يصدّق إلّا ببيّنةٍ وإن قال استوفيت وأخذت بعضه صدّق خصمه بحلفه وإن لم يقرّ بالاستيفاء وادّعى أنّ ذا حظّه ولم يسلّم إليه وكذّبه شريكه تحالفا وفسخت القسمة ولو ظهر غبنٌ فاحشٌ في القسمة تفسخ ولو استحقّ بعضٌ شائعٌ من حظّه رجع بقسطه في حظّ شريكه ولا تفسخ القسمة ولو ظهر في التركة دَينٌ رُدَّتْ.

ترجمه: په لاندیني كور باندې بالاخانه وي، يو صرف لاندينى كور وي او يو صرف بالاخانه وي، نو د هر يو قيمت به عليحده لګول كيږي او تقسيم به كيږي، د دوه تقسيم كوونكو شاهدي به قبوله وي، په هغه صورت كې چې شريكان اختلاف وكړي، كه يو شريک دا دعوه وكړي چې زما څه برخه د بل كس په قبضه كې ده، حال دا چې هغه د پوره حق وركولو اقرار كوي، نو د هغه تصديق به د شاهدانو څخه بغير نه شي كولى، كه داسې ووايي چې ما تاته پوره برخه دركړې وه، خو تا بعضې حصه واخيسته، نو تصديق به يې د قسم سره كولى شي، كه د پوره حق سپارلو اقرار يې ونه كړو، بلكې دعوه يې وكړه چې دا زما حصه ده او ماته نه ده راكړل شوې، شريک د هغه تكذيب وكړو، نو دواړه به قسم كوي او قسم به ماتولى شي، كه زيات غبن په تقسيم كې څرګند شي، نو تقسيم به ختمولى شي، كه د هغې د څينې برخې حقدار پيدا شي، نو د هغې مطابق به د شريک په حصه كې رجوع كولى شي او تقسيم به نه شي ماتولي، كه په ميراث كې قرض ښكاره شي، نو تقسيم به رد كولى شي.

د دوه منزله کور تقسیمول

تشریح الفقه: قوله سِفلٌ له علوٌّ الخ: لاندې او پورته مکان د دوه شریکانو ترمنځ شریکي وي، یا لاندینی مکان د دوه کسانو ترمنځ شریکي دی او پورته مکان د بل کس دی، یا دا چې پورتنی کور د دوه کسانو ترمنځ شریکي وي او لاندې کور د بل کس وي، د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد به د داسې شریکي کورونو تقسیم به علیحده علیحده قیمت لګولو سره کیږي، د شیخینو په نزد به تقسیم په پیمانې سره کیږي، ځکه چې اصل په تقسیم کې همدا دی، دغه راز د شریکانو شرکت په مذروع کې دی، نه په قیمت کې، بیا د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد د لاندې مکان والا یو ګز په مقابله کې به د پورته مکان والا دوه ګزه ورکول کیږي، د امام ابویوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد د یو ګز په مقابله کې به یو ګز ورکول کیږي، خو فتوی د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په قول ده، ځکه چې په لاندې مکان کې د کوهي، تهه خانې، غوجل وغیره جوړولو صلاحیت موجود دی او پورته مکان کې دا شیان نه جوړیږي، نو لهذا دواړه مکانونه په منزله د دوه جنسونو سره شوه، ددې وجې به د شریکانو په حصو کې برابري د قیمت په اعتبار سره لګول کیږي.

قوله ویقبل الخ: د تقسیم ځخه وروسته یو شریک ووایل: ماته زما پوره حق نه دی وصول شوی، دوه تقسیم کوونکو شاهدي ادا کړه چې هغه خپل حق پوره وصول کړی دی، د شیخینو په نزد به د تقسیم کوونکو شهادت قبول وي، اګر چې هغه اجرت ورکړی وي او تقسیم یې کړی وي، د امام محمد او ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد به د تقسیم کوونکو شهادت قبول نه وي، امام ابویوسف رَحِمَهُ اللهُ هم لومړی ددې قائل و، ځکه چې د هغوی شهادت په خپل فعل (عمل) باندې دی او په دې کې د تهمت امکان دی، امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ فرمایي: چې د هغوی کار تقسیم کول و او شاهدي د حق په پوره اخیستلو باندې ده او دا د بل چا عمل دی.

قوله لم یصدق الخ: یو شریک ووېل چې تقسیم غلط شوی دی او زما څه حصه د بل شریک په قبضه کې ده، په داسې حال کې چې هغه د خپلې برخې اخیستلو اقرار کوي، نو د شاهدانو د بیان ځخه بغیر به د هغه تصدیق نه شي کولی، ځکه چې هغه د تقسیم د اتمام ځخه وروسته د فسخې دعوه کوونکی دی، (فلا یصدّق إلّا ببینة).

قوله وإن لم یقرّ بالإستیفاء الخ: که حصه لرونکی د خپلې حصې اخیستلو د اقرار ځخه وړاندې ووایي: زما حصه تر فلاني ځای پورې ده او تر هغه ځای پورې ماته حصه دار نه ده راکړې او دویم حصه دار د

هغه تکذیب وکړي، نو په دې صورت کې به دواړه قسمونه کوي، تقسیم به فسخ کړی شي، ځکه چې په حاصل شوي مقدار کې د اختلاف له وجې عقد نه تام کیږي.

قوله ولو استحق الخ: یو مکان د دوه کسانو ترمنځ شریکي وي، دواړو تقسیم وکړو او په خپله خپله حصه باندې یې قبضه وکړه، ددې څخه وروسته د یو شریک څه برخه د بل مستحق وختل، نو د طرفینو په نزد به هغه ته اختیار وي: که د مستحق په اندازه د خپل شریک څخه غواړي او که پاتې شونې هم خپل شریک ته واپس ورکوي او دوباره تقسیم کوي، د امام ابویوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد به دوباره تقسیم کیږي، ځکه چې اوس دریم شریک پیدا شو او هغه ورباندې خوښ نه دی، طرفین فرمایي: د یو شریک په حصه کې د جزء شایع د مستحق پیدا کېدو سره د افراز معنی نه معدوم کیږي، ددې وجې به هغه ته اختیار وي.

قوله ولو ظهر الخ: وارثانو د خپلو حصو په اندازه د میت میراث تقسیم کړو، ددې څخه وروسته په تقسیم شوي میراث کې قرضه ښکاره شوه، په دې صورت کې به تقسیم فسخ کیږي، ځکه چې قرض په میراث باندې مخکې دی، مګر دا چې وارثان قرض ورکړي یا د قرضونو څښتنان میت ته قرضه معاف کړي، نو تقسیم به فسخ نه وي، ځکه چې کوم شی د تقسیم څخه مانع و، هغه زائل شو.

یادونه: دا وروستنی عبارت: (ولوظهر فی الترکة دَینٌ رُدَّتْ) د کنز الدقائق په معتمدو نسخو کې نشته.

ولو تهایئا فی سکنی دارٍ، أو دارین أو خدمة عبدٍ أو عبدین، أو غلّة دارٍ أو دارین صحّ وفی غلّة عبدٍ أو عبدین، أو بغلٍ أو بغلین، أو رکوب بغلٍ، أو بغلین أو ثمرة شجرةٍ، أو لَبَنِ غنمٍ لَا.

ترجمه: که د یو یا دوه کورونو په اوسېدو کې یې نمبر وټاکلو، یا یې د یو یا دوه غلامانو په خدمت کې یا د یو یا دوه کورونو په ګټه کې، نو دا صحیح ده، (نمبر ټاکل) د یو یا دوه غلامانو، یا یو یا دوه خچرو په ګټه کې یا یو یا دوه خچرو په سوارلۍ کې یا د ونې په مېوه یا د چېلۍ په شیدو کې صحیح نه دی.

د نمبر ټاکلو بیان

تشریح الفقه: **قوله ولو تهایئا الخ**: تهایؤ او مهایاة د هیئت څخه د تفاعل او مفاعلت د باب څخه دی، هیئت په لغت کې هغه ظاهري حالت ته ویل کیږي چې څوک د کوم کار لپاره تیار وي، د فقهاوو په اصطلاح کې مهایاة د منافعو تقسیم ته ویل کیږي، د قیاس له مخې دا ناجائز دی، ځکه چې په دې کې د منفعت تبادله د هم جنس سره کیږي، خو استحسانا جائز دی، دلیل یې د قران کریم دا ایت دی: (لَّهَا شِرْبٌ وَلَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ) دا د صالح عَلَیْهِ السَّلَامُ د اوښې په باره کې نازل شوی دی، یوه ورځ به هغې

اوښې اويه څښلې او دويمه ورځ به نورو څاروېو، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بدر د غزا پرمهال د هر درې صحابه کرامو په سر باندې يوه اوښه مقرر کړې وه او صحابه کرام به په نمبر نمبر باندې سوارلي کول.

قوله في سکني الخ: مهاياة به يا د زمانې په اعتبار سره وي يا به د ځای په اعتبار سره وي او دلته موضوع درې مسئلې دي: زموږ د مسئلې شپږ صورتونه دي: (۱) زيد او عمرو په يو شريکي مکان کې د اوسېدو لپاره نمبر وټاکي، يعنې تر يوې مياشتې پورې به عمرو اوسيږي او دويمه مياشت به زيد اوسيږي، (۲) په دوه شريکي کورونو کې نمبر وټاکي. چې په يو کور کې به زيد اوسيږي او په بل کور کې به عمرو اوسيږي، (۳) د يو شريکي غلام په خدمت باندې نمبر وټاکي چې يوه ورځ به د زيد خدمت کوي او بله ورځ به د عمرو خدمت کوي، (۴) د دوه شريکي غلامانو ترمنځ نمبر وټاکل شي چې دا فلانی غلام به د زيد خدمت کوي او دويم غلام به د عمرو خدمت کوي، (۵) د يو مکان په ګټه باندې نمبر مقرر کړي چې د يوې مياشتې ګټه به زيد اخلي او د دويمې مياشتې ګټه به عمرو اخلي او (۶) د دوه کورونو په ګټه باندې نمبر وټاکل شي، دا شپږ صورتونه استحسانا بالاتفاق صحيح دي.

قوله وفي غلة الخ: زيد او عمرو د يو غلام يا دوه غلامانو په اجرت کې يا د يو خچر يا دوه خچرو په کرايه کې يا د يو خچر يا دوه خچرو په سوارلی باندې يا يې د يوې ونې په مېوه يا يې د چېلی په شيدو باندې نمبر مقرر کړو، نو دا نمبر ټاکل به صحيح نه وي، په لومړي صورت کې خو بالاتفاق صحيح نه دی، ځکه چې نمبر په دوه زمانو باندې تقسيم شو، لهذا په ګټه کې د زياتوالي او کموالي احتمال موجود دی، په خلاف د غلام په خدمت کې، په هغې کې تسامح موجوده ده، په دويم صورت کې د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد صحيح نه دی، ځکه چې نمبر ټاکل د ضرورت له وجې دي او په مزدوری کې د نمبر ټاکلو ته هيڅ ضرورت نشته، ځکه چې په مزدوری کې تقسيم ممکن دی، د صاحبينو په نزد د مساوات د امکان په صورت کې جائز دی، په دريم صورت کې بالاتفاق جائز نه دی، په څلورم صورت کې بالاختلاف صحيح نه دی، په پنځم صورت کې بالاتفاق صحيح نه دی، په شپږم صورت کې بالاختلاف صحيح نه دی، په اوم او اتم صورت کې بالاتفاق صحيح نه دی، ځکه چې په مېوو او شيدو کې تقسيم راځي.

كتاب المزارعة

هی عقدٌ على الزّرع ببعض الخارج وتصحّ بشرط صلاحية الأرض للزّراعة وأهليّة العاقدين وبيان المدّة وربّ البذر وجنسه وحظّ الآخر والتّخلية بين الأرض والعامل والشّركة فی الخارج وأن تكون الأرض والبذر لواحدٍ والعمل والبقر لآخر وأن تكون الأرض لواحدٍ والباقی لآخر، أويكون العمل لواحدٍ والباقی لآخر.

ترجمه: دا عقد په كښت باندې د ځينې حاصلاتو په بدل كې او دا صحيح دی په دې شرط چې ځمكه د كښت قابله وي، عاقدين يې اهل وي. موده بيانه شوې وي. د تخم څښتن. د كښت جنس، د دويم كس برخه. ځمكه به عامل ته خالي وي، په حاصلاتو كې به شركت وي، دا به هم وي چې ځمكه او تخم به د يو كس وي، غويی (اړول. يوې. تراتور، ټېكټر) به د بل كس وي، يا به ځمكه د يو كس وي او باقي شيان به د بل كس وي او يا به كار د يو كس وي او باقي شيان به د بل كس وي.

تشريح الفقهِ: **قوله كتاب الخ**: په پټي كې چې كوم تخم او حاصلات وغيره پيدا كيږي، هغه د دهقان او ځمكې والا ترمنځ تقسيميږي، ددې وجې يې د كتاب القسمة څخه وروسته كتاب المزارعة شروع كړو، مزارعت په لغت كې د زرع څخه د مفاعلت باب دی، په معنی د غنمهدو سره، دې ته مخابره او محاقله هم ويل كيږي، عراقيان ورته قراح وايي، د شريعت په اصطلاح كې مزارعت هغه عقد ته ويل كيږي چې د پيدا كېدونكي حاصلاتو په نيمايي يا څلورمه باندې وشي، د امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد مزارعت فاسد دی، ځكه چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مزارعت څخه منع كړې ده او مخابره مزارعه ته ويل كيږي، د صاحبينو په نزد جائز ده او په دې باندې فتوی ده، ځكه چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خيبر ځمكه د هغه ځای اوسېدونكو ته په مزارعت باندې وركړه، په دې باندې د صحابه كرامو او تابعينو عمل هم و، كوم چې تر ننه پورې د مسلمانانو ترمنځ رواج دی او په داسې صورت كې خبر واحد او قياس متروک وي.

قوله بشرط الخ: د صاحبينو په نزد د مزارعت د صحت لپاره نهه شرطونه دي: (۱) ځمكه به د كښت قابله وي، رېګستان او شګلنه ځمكه به نه وي، ځكه چې د داسې ځمكې څخه د كښت مقصد نه حاصليږي، (۲) په عاقدينو (د ځمكې مالک او دهقان) كې به د عقد اهليت موجود وي، يعنې ازاد او هوښياران به وي، (۳) د مزارعت داسې موده بيانول چې د دهقانانو ترمنځ معروفه وي، مثلا: يو كال يا دوه كاله، (۴) د تخم وركوونكي كس تعين به كوي، يعنې كه تخم د ځمكې د څښتن وي، نو دهقان به مزدور وي، كه تخم د دهقان له لورې وي، نو ځمكه به په اجرت باندې وركول كيږي، د دواړو حكمونه مختلف كېدی شي، نو د تخم وركوونكي د جهالت په صورت كې معقود عليه مجهول كيږي، (۵) د

تخم جنس يعنې غنم، جوار يا وربشې به معلوم وي، (۶) د چا له لورې چې تخم نه وي، د هغه حصه بيانول، ځکه چې حصه د عمل يا ځمکې اجرت وي، نو ددې تعين ضروري دی، (۷) د ځمکې او عامل ترمنځ تخليه کول، که د ځمکې د څښتن يا دواړو د عمل شرط ولګول شي؛ نو عقد به صحيح نه وي، (۸) په حاصلاتو کې د دواړو شرکت، که غله (پيداوار) د يو کس لپاره شرط کړی شي، نو عقد به صحيح نه وي، (۹) په لاندې صورتونو کې د يو صورت وجود ضروري دی: ځمکه او تخم د يو کس وي، يوې او کار د بل کس وي، ځمکه د يو کس وي او پاتې نور شيان (تخم، يوې او کار) د بل کس وي، کار د يو کس وي او باقي شيان د بل کس وي.

ولو تهايئا فی سکنی دارٍ فإن کانت الأرض والبقر لواحدٍ والبذر والعمل لآخر أو کان البذر لأحدهما والباقی لآخر أو کان البذر والبقر لواحدٍ والباقی لآخر أو شرطا لأحدهما قفزانًا مسمّاةً أو ما علی الماذیانات والسّواقی أو أن یرفع ربّ البذر بذره، أو أن یرفع الخراج، والباقی بینهما فسدت فیکون الخارج لربّ البذر وللآخر أجر مثل عمله، أو أرضه ولم یزد علی ما شرط وإن صحّت فالخارج علی الشّرط فإن لم یخرج شیءٌ فلا شیء للعامل ومن أبی عن المضیّ أجبر إلّا ربّ البذر وتبطل بموت أحدهما فإن مضت المدّة والزّرع لم یدرك فعلی المزارع أجر مثل أرضه حتّی یدرك ونفقة الزّرع علیهما بقدر حقوقهما کأجرة الحصاد والرّفاع والدّیاس والتّذریة فإن شرطاه علی العامل فسدت.

ترجمه: که ځمکه او يوې د يو کس وي، تخم او کار د بل کس وي، يا تخم د يو کس وي او باقي شيان د بل کس وي، يا تخم او يوې د يو کس وي او باقي شيان د بل کس وي، يا د يو کس لپاره څو معينې پيمانې يا ناليو او ويالو ته نږدې پيداوار د يو کس لپاره شرط کړي يا دا چې تخم والا دې خپل تخم وصول کړي، يا دا چې ټېکس به ورکړي او په باقي حاصلاتو کې به دواړه شريکان وي، نو دا عقد به فاسد وي، لهذا پيداوار به د تخم والا لپاره وي او د نورو کسانو لپاره به د هغوی د کار مزدوري ملاوېږي يا به د ځمکې مزدوري ورکول کېږي، د هغه مقدار څخه به زياتي نه شي ورکولی په کوم باندې چې د دواړو موافقه راغلې ده، که مزارعت صحيح وي، نو پيداوار به د شرط موافق وي، که هيڅ راونه خيږي؛ نو د حامل لپاره به هيڅ شی نه وي او هغه څوک چې د شرط موافق د کار کولو څخه انکار وکړي، نو هغه به مجبوره کولی شي، مګر تخم والا (باندې به جبر نه شي کېدلی) په دوی دواړو کې د يو کس په مړينې سره به باطلېږي، که چېرته موده تېره شي او پټی پوخ شوی نه وي، نو په دهقان باندې به د ځمکې مزدوري وي، تردې پورې چې پټی تيار شي، د کښت خرچه به په دواړو باندې وي، د دوی دواړو د حقوقو په اندازه، لکه د کاټولو، پورته کولو (او درمند ته رسول) ، غوبل کولو او غله پاکولو مزدوري، که داسې شرط يې ولګولو چې خرچې به د دهقان په ذمه وي، نو مزارعت به فاسد وي.

توضيح اللُّغَةِ: (بذر) تخم، (قفزان) د قفيز جمع ده، (مأذيانات) د ماذيان جمع ده او لوی نهر ته ويل کيږي، (سواق) د ساقية جمع ده او وړوکي نهر ته ويل کيږي، (خراج) ټيکس، (أبي) انکار کول، (حصاد) د کښت کاټول، (رفاع) د کښت پورته کول او درمنا ته رسول، (دياسة) غوبل کول (په کښت باندې غوايان څېژول، ددې لپاره چې تخم لاندې پاتې شي)، (تذرية) د وښو څخه د کښت او غلې پاکول.

تشريح الفقهِ: **قوله فإن كانت الخ**: ددې ځای څخه تر (فسدت) پورې اوه صورتونه دي: (۱) ځمکه او غوا د يو کس وي، تخم او کار د بل کس وي، (۲) تخم د يو کس وي او باقي شيان د بل کس وي، (۳) تخم او غوا (يوې) د يو کس وي، ځمکه او کار د بل کس وي، (۴) په متعاقدينو کې د يو کس لپاره معينه غله مشروط کړی شي، (۵) د اوبو د ناليو او وياليو سره نژدې کښت د يو کس لپاره مشروط کړی شي، (۶) تخم والا خپل تخم واخلي او په باقي حصه کې برابر شريک شي، (۷) د پيداوار څخه ټيکس وويستل شي او په باقي کې شريکان شي، په دې اوه صورتونو کې مزارعت فاسد دی، لهذا حاصلات به ټول د تخم والا لپاره وي او کار کوونکي ته به د عادت موافق د هغه د کار مزدوري ورکول کيږي، که ځمکه هم د هغه خپله وي، نو د ځمکې کرايه به هم ورته ورکول کيږي، خو مزدور او کرايه به د هغه مقدار څخه زياته نه ورکول کيږي چې په خپلو کې يې په کوم باندې موافقه راغلې ده.

كتاب المساقاة

هي معاقدة دفع الأشجار إلى من يعمل فيها على أنّ الثّمر بينهما وهي كالمزارعة وتصحّ في الشّجر والكرم والرّطاب وأصول الباذنجان فإن دفع نخلا فيه ثمرة مساقاة والثّمرة تزيد بالعمل صحّت وإن انتهت لا كالمزارعة وإذا فسدت فللعامل أجر مثله وتبطل بالموت وتفسخ بالعذر كالمزارعة بأن يكون العامل سارقًا أومريضًا لايقدر على العمل.

ترجمه: په خپلو کې د ونو ورکولو عقد دی چې ددې پالنه وکړي، په دې شرط چې مېوه به د دواړو ترمنځ شريکي وي، باغواني د مزارعت په شان ده، په خورما کې، په مېوه لرونکو ونو کې، انګورو کې، په لندو وښو کې، د بانجانو په اصولو کې، که د خورما هغه ونې يې په باغوانی باندې ورکړې چې مېوه يې درلوده او مېوه د عمل او کار له وجې غټېده، نو صحيح ده او که د مېوې غټېدل په ځای ولاړ وي، نو دا (باغواني) به صحيح نه وي، لکه: مزارعت، که باغواني فاسده شي؛ نو د کاريګر لپاره به د کار موافق مزدوري ملاويږي، دا عقد د يو په مرګ سره باطليږي، د عذر له وجې د مزارعت په شان فسخ کيږي، لکه د عامل غل کېدل يا دومره ناروغه کېدل چې په کار کولو باندې قدرت ونه لري.

تشريح الفقهِ: قوله كتاب الخ: په مزارعت او مساقات كې مناسبت دا دى چې دواړه د ګټې حاصلولو لپاره شرعي عقدونه دي، د دواړو ترمنځ فرق دا دى چې د كښت خبر په اوبو وركولو سره معلوميږي او د باغوانى خبر د ونې په تراشلو او سمولو باندې كيږي، بيا د ترتيب حق دا پكار وچې د باغوانى بحث يې وړاندې ذكر كړى واى، ځكه چې د فقهاوو زيات شمېر د باغوانى د جواز قائل دى. په خلاف د مزارعت چې ددې په جواز باندې د فقهاوو اختلاف دى، ددې وجې امام طحاوي رَحِمَهُ اللّٰهُ په خپل مختصر كې د مساقات بحث مخكې ذكر كړى دى، خو د مزارعت د مسائلو ډېروالي له وجې يې دا بحث مخكې كړو، ځكه چې ددې حكمونو پېژندلو ته د خلك ضرورت زيات دى. ددې وجې مصنّف رَحِمَهُ اللّٰهُ مزارعت مخكې كړو.

قوله هىَ الخ: په زيلعي، عيني، مسكين، درر وغيره كتابونو كې دي چې مساقات په لغت كې د سقى څخه د مفاعلت باب دى، په معنى د اوبه وركولو سره دى، خو د نهايه وغيره كتابونو څخه معلوميږي چې د مساقات په لغوي او شرعي معنى كې هيڅ فرق نشته، ځكه چې د مدينې خلكو به مساقات ته معامله ويل، لهذا مساقات به دې ته ويلى شي چې يو كس خپل باغ بل كس ته ددې لپاره وركړي چې هغه د ونو تربيه او پالنه وكړي او په هغې كې چې كومه مېوه پيدا شي، هغه به د دواړو ترمنځ شريكې وي.

قوله وهى كالمزارعة الخ: د حكم او اختلاف په اعتبار سره مساقات د مزارعت په شان دى، د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد جائز نه دى او د صاحبينو په نزد جائز دى، دغه راز د مساقات د صحت لپاره هم شرطونه هغه دي كوم چې د مزارعت لپاره دي، فرق يوازې په څلورو شيانو كې دى: (۱) كه د متعاقدينو څخه يو كس په شا شي، نو هغه به په مساقات باندې مجبوره كولى شي، په خلاف د مزارعت چې كه په دې كې تخم والا انكار وكړي، نو په هغه باندې به جبر نه شي كولى، (۲) كه د مساقات موده تېره شي او مېوه كچه وي، نو د مزارع په شان عامل كس د مېوې تر پخېدو پورې د باغ خبر اخيستى شي، خو په دې صورت كې به نه د ځمكې كرايه وي او نه د عامل د عمل اجرت به وي، په خلاف د مزارعت چې په دې كې دا دواړه شيان واجب دي، (۳) كه په باغ كې د كوم كس استحقاق ثابت شي، نو عامل به خپل اجر مثل اخلي او د مزارعت په صورت كې به د كښت قيمت اخلي، (۴) په مساقات كې د مودې بيانول شرط نه دى او په مزارعت كې شرط دى.

قوله وتصحّ الخ: خورما، د انګورو غونچې، لاتده واښه او د بانجانو بېخونه په ويستلو باندې عقد مساقات كول صحيح دى، د امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ جديد قول دا دى چې مساقات يوازې په انګورو او

خورما کې صحيح دی، ځکه چې د خلاف قياس باوجود د مساقات جواز د خيبر په حديث باندې مبني دی او د خيبر په حديث کې د همدې دوه شيانو تذکره ده، زموږ دليل دا حديث دی: (أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عامَلَ أهلَ خيبرَ بشطر ما يخرجُ مِنْ تمرٍ أو زرعه) او دا مطلق دی، لهذا په خپل اطلاق باندې به پاتې کيږي.

قوله فإن دفع الخ: يو سړي د خورما باغ په مساقات باندې ورکړو او په هغه باغ کې کچه خورما وي چې د عامل په محنت باندې نور هم غټيږي، نو مساقات به صحيح وي او که مېوه پخه شوې وي چې ددې څخه زيات نوره نه غټيږي، نو مساقات به صحيح نه وي، وجه دا ده چې عامل د خپل عمل له وجې مستحق کيږي او هر کله چې مېوه پخه شوه، نو د هغه عمل ته به هيڅ دخل نه وي، اوس که د مېوې پخېدو وروسته هم مساقات جائز وګڼل شي، نو عامل به د عمل څخه بغير مستحق وګڼل شي. (ولمْ يردْ بهِ الشَّرعُ)

قوله وتفسخُ الخ: د مزارعت په شان عقد مساقات هم د عذر له وجې فسخ کيږي، ځکه چې دا په معنی د اجارې سره دی کوم چې د عذر له وجې فسخ کيږي، د فسخ کېدو لپاره عذرونه دا دي: عامل عاجز شو، ناروغ شو يا غلا وکړي او داسې نور ....

كتاب الذّبائح

هي جمع ذبيحةٍ وهي اسمٌ لما يذبح والذّبح قطع الأوداج.

ترجمه: دا د ذبيحة جمع ده، د هغه شي نوم دی چې ذبح کولی شي او ذبح د رګونو کاټولو ته ويل کيږي.

تشريح الفقهِ: قوله كتاب الخ: په مزارعت او ذبائح دواړو کې اتلاف اوسمهال او انتفاع (ګټه اخيستل في المآل (آينده)) وي، يعني لکه څرنګه چې دهقان خپل تخم د ځمکې څخه لاندې کوي او اينده ددې څخه ګټه اخلي. دغه راز قصاب (ذبح کوونکی) هم د څاروي په ذبح کولو سره اوسمهال خپل مال ختموي، ځکه چې د څاروي په روح وتلو سره هغه ختم شي او اينده ترې د غوښې په صورت کې ګټه اخلي. سوال دا دی چې دا مناسبت خو په کتاب المزارعة او کتاب الذبائح کې موجود دی، حال دا چې مناسبت د کتاب المساقاة سره بيانول پکار و، ځواب دا دی چې تقريبا په ټولو شرطونو او حکمونو کې د مساقات حکم د مزارعة په شان دی. لکه څنګه چې وړاندې تېره شوه. لهذا کوم مناسبت چې په مزارعة او ذبائح کې موجود دی. همغه مناسبت په مساقات او ذبائح کې هم موجود دی.

قوله هی الخ: ذبائح د ذبيحة جمع ده، ذبح په اصل كې مذبوح څاروي ته ويل كيږي، خو مجازا (يا په اعتبار د مايول اليه سره) هغه څاروي ته هم ويل كيږي چې د هر نږدې وخت كې به ذبحه شي، لهذا لفظ د ذبيحې د وصفيت څخه اسميت ته نقل شوى دى. (قهستاني) ذبح په فتحې د (ذال) سره مصدر دى، په معنى د ذبح كولو سره، په شريعت كې د څلورو مخصوصو رګونو پرې كولو (قطع كولو) ته ذبح ويل كيږي، (ددې تشريح به وړاندې راشي).

وحلّ ذبيحة مسلمٍ وكتابيّ وصبيّ وامرأةٍ وأخرس وأقلف لا مجوسيّ ووثنيّ ومرتدّ ومحرمٍ وتارك اسم الله عمدًا وحلّ لو ناسيًا وكره أن يذكر مع اسم الله غيره وأن يقول عند الذّبح اللهمّ تقبّل من فلانٍ وإن قال قبل التّسمية والإضجاع جاز.

ترجمه: د مسلمان، كتابي، ماشوم، ښځې، ګونګي او ناسنته ذبيحه حلاله ده، د اور پرست، بت پرست، مرتد، محرم، هغه څوک چې په قصده د الله تعالى نوم پرېږدي، كه په هېره ترې پاتې شي بيا حلال دى، مكروه ده چې د الله تعالى د نوم سره د بل چا نوم يو ځاى كړي، يا دا چې د ذبح كولو پرمهال ووايي: اې الله تعالى! ته يې د فلاني له لورې قبوله كړې، كه د څملولو او بسم الله څخه وړاندې يې ووايي، نو بيا حلال دى.

د چا حلاله پاكه او د چا ناپاكه ده؟

تشريح الفقه: قوله وحلّ ذبيحة مسلمٍ الخ: د مسلمان د لاس حلاله پاكه ده، برابره خبره ده چې سړي حلاله وكړي او كه ښځه، ځكه چې په ايت كې راځي: (**إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ**) دا خطاب ټولو مسلمانانو ته دى، د اهل كتابو ذبيحه هم پاكه ده، اګر چې حربي او تغلبي وي، په دې شرط چې د څاروي د حلالولو پرمهال يې د الله تعالى څخه غير د بل چا نوم نه وي اخيستى، ځكه چې په ايت كې راځي: (**وطعامُ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حِلٌّ لَكُمْ**) په دې ايت كې د طعام څخه مراد دا دى چې د نارينه وو د لاس حلال شوى څاروى وي، كنه نو په غير مذبوح طعام كې د كافر او مسلمان هيڅ تخصيص نشته. (**قَالَ البخاری: قَالَ ابنُ عبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: ذبائحُهُم**).

قوله لا مجوسیّ الخ: هغه څوک چې اور ته عبادت كوي، د هغه د لاس ذبيحه پاكه نه ده، ځكه چې په روايت كې راځي: (**غير ناكحي نسائهم ولا آكلي ذبائحهم**) د بت پرست ذبيحه پاكه نه ده، ځكه چې هغه په هيڅ دين باندې باور نه لري، دغه راز د مرتد حلاله هم پاكه نه ده، ځكه چې هغه هم هيڅ مذهب نه

لري، که محرم سرې ښکار حلال کړي، نو د هغه ذبيحه به هم حلاله نه وي، ځکه چې حلاله (ذکاة/ ذبح) مشروع فعل دی او د احرام په حالت کې د محرم فعل غير مشروع دی.

قوله وتارك التسمية الخ: هغه څوک چې د ښکار کولو په وخت د حلالې پر مهال د الله تعالی نوم په قصده وانخلي، نو د هغه ذبيحه به حلاله نه وي. که په هېره ترې د الله تعالی نوم پاتې شي، نو بيا يې حلاله پاکه ده، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد په دواړو صورتونو کې حلاله ده، د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد په دواړو صورتونو کې حرامه ده، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دليل دا دی: يو سړي د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه پوښتنه وکړه چې اې د الله تعالی رسوله! که زموږ څخه کوم کس څاروی حلال کړي او د الله تعالی نوم ترې هېر شي؟ (نو ددې حکم به څه وي؟) رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: (**إسم الله على كل مسلم**) دغه شان په حديث کې دي: د مسلمان د لاس ذبيحه حلاله ده، برابره خبره ده چې د الله تعالی نوم واخلي او که ترې پاتې شي، زموږ دليل د الله تعالی دا کلام دی: (**ولا تأكلوا مما لم يذكر اسم الله عليه وإنه لفسق**) په دې ايت کې: "**ولا تأكلوا**" نهي مطلق ده، نهي مطلق تقاضا د تحريم کوي او د فسق څخه مراد حرام دی، دغه شان د عدي بن حاتم په روايت کې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارشاد دی چې دا مه خوره! ځکه چې تا د خپل سپي لېږلو پر مهال بسم الله (د الله تعالی نوم اخيستی دی) ويلې ده، په پردي سپي دي بسم الله نه ده ويلې. د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ د استدلال څخه ځواب دا دی چې د هغه حديث په سند کې مروان بن غفاري راوي راغلی دی، د حافظ دار قطني په نزد هغه ضعيف دی، د همدې وجې ابن قطان دې روايت ته معلول ويلی دی، د ابن عدي رَحِمَهُ اللهُ څخه په خپل کتاب (الکامل) کې، د امام احمد او امام نسائي رَحِمَهُمَا اللهُ څخه هم ددې راوي تضعيف نقل شوی دی او وايي چې: (**عامة ما يرويه لا يتابعه الثقات عليه**) دغه راز په دويم حديث کې د ارسال سره سره صلت سدوسي مجهول الحال دی، د هغه څخه د همدې روايت څخه بغير بل هيڅ روايت نه دی نقل شوی، د ثوري يزيد څخه بغير د هغه څخه بل هيڅ کس روايت نه دی نقل کړی، دغه راز په قصده د الله تعالی د نوم پرېښودونکي د لاس په ذبيحه کې د عالمانو اختلاف (يعنې خلاف اجماع) دی: ځکه چې ددې په حرمت کې د هيڅ عالم څخه اختلاف نه دی نقل شوی، اختلاف يوازې په هغه صورت کې دی چې په هېره د الله تعالی نوم ترې پاتې شي او ددې په حلت کې مسئله ده، د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مذهب دا دی چې حرامه ده، د ابن عباس او علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا مذهب دا دی چې حلال دی، ددې وجې امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ او نورو مشرانو عالمانو ويلي دي چې په قصده د الله تعالی د نوم پرېښودونکي په اړه د اجتهاد هم هيڅ امکان نشته. امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په ظاهر الروايات باندې عمل کوي، (**وقد حصل الجواب عنه بما ذكرنا**).

والذّبحُ بين الحلَق واللّبّة والمذبح المرىء والحلقوم والودجان وقطع الثّلاث كافٍ ولو بظفرٍ وقرنٍ وعظمٍ وسنّ منزوعٍ وليطةٍ ومروة وما أنهر الدّم إلا سنًّا وظفرًا قائمين وندب حدّ الشّفرة وكره النّخع وقطع الرّأس والذّبح من القفا وذبح صيدٍ استأنس وجرح نعمٍ توحّش، أو تردّى فى بئرٍ وسنّ نحر الإبل وذبح البقر والغنم وكره عكسه وحلّ ولم يتذكّ جنينٌ بذكاة أمّه.

ترجمه: د ذبحې ځاى د غاړې او سينې څخه پورته هډوكي ترمنځ ده، د ذبح ځاى مرى، غاړه او دوه رګونه دي، د درې رګونو كاټول كافي دي. اګر چې د نوم، ښكر، هډوكي او غاښ په ذريعه وي، كوم چې ويستل شوي وي، تېره نل (لرګى) يا تېره كاڼى يا په داسې شي سره حلاله وشي چې وينه پرې تويه شي، مګر غاښ او نوك كوم چې لګول شوي وي، چاړه تېره كول مستحب ده، د هډوكي تر اخره پورې د ځاروي غاړه كاټول مكروه ده، سر جدا كول او د څټ له لورې حلالول، هغه ښكار به ذبح كولى شي چې ساتل شوى وي، زخم به لګوي په هغه ځاروي باندې چې وحشي شوى وي، يا په كوهي كې لوېدلى وي، د اوښ لپاره نحر سنت دى او ذبح د غوا او چېلۍ لپاره سنت ده، ددې عكس مكروه دى، مګر حلال به وي، د خېټې بچى به نه شي ذبح كولى، د هغه د مور په ذبح كولو سره.

توضيحُ اللُّغَةِ: (لبّة) د سينې څخه پورتنى هډوكى، (مرىء) د خوراك او څښاك لاره، (حلقوم) د ساه تلو او راتلو لاره، (ودجان) شاركونه (كوم چې د مرىء او حلقوم څخه په ښي او چپ طرف دي، په دې رګونو كې وينه روانه وي) (ظفر) نوك، (قرن) ښكر، (عظم) هډوكى، (سَن) غاښ، (منزوع) ويستل شوى، (ليطة) پوست (د نل يا درګي په پوستكي باندې حلالول) [1] (مروة) تېز كاڼى، (أنهرَ) بهېدل، (حدَّ) تېزول، (الشفرة) چاړه، (نخع) د غاړې هډوكى تر بېخه پورې كاټول، (قَفَا) څټ، (نعم) ځاروى (نحر) د سينې څخه پورته او د غاړې څخه لاندې نېزه وهل، (جنين) هغه بچى چې د حيوان په نس كې وي.

تشريحُ الفقهِ: **قوله والذّبحُ بين الحلق واللّبّة الخ**: ذبح په دوه قسمه ده: ذبح اختياري او ذبح اضطراري، د اضطراري ذبح لپاره هيڅ حصه متعين نه ده، صرف د حيوان زخمي كول او وينه تويول كافي دي، د بدن هره برخه چې وي، خو د بدن څخه وينه تويول ضروري دي، خو د اختياري ذبحې لپاره ځاى متعين دى، يعنې د حلق او سينې ترمنځ درمياني برخه، د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارشاد دى: (**ألا إنَّ الذَّكاةَ فى الحلقِ واللَّبَّةِ**) د ذبح كولو پرمهال چې كوم رګونه كاټولى شي، هغه څلور دي: مرى، حلقوم، ودجان،

---

[1] د ليطة څخه مراد هغه نل يا لرګى دى چې نن سبا يې خطاطان د خط ليكلو پرمهال كاروي، خينې خلك ورته درګى هم وايي، ددې پوستكى ډېر تېره وي. (نائل)

دا څلور رګونه کاټول ددې وجې ضروري دي چې چې د شاه رګ د کاټولو له وجې وینه بهیږي. د حلقوم او مری په کاټولو سره روح زر ختمیږي، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد د مری او حلقوم پرې کول هم کافي دي، زمونږ لپاره دلیل دا حدیث دی: (أفرِ الأوداجَ بما شئتَ) په دې حدیث کې اوداج جمع ذکر شوې ده، د جمع اقل عدد درې دی، لهذا دا به مری او ودجان درې وارو ته شامل وي او ددې کاټول د حلقوم څخه بغیر ناممکن دي، لهذا د حلقوم قطع کول اقتضاءً ثابت شو.

قوله وقطع الثلاث الخ: د امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد د څلورو رګونو څخه لاعلی التعیین درې رګونه کاټول د ذبیحې د حلت لپاره کافي دي، امام ابویوسف رَحِمَهُ اللهُ هم په لومړي ځل ددې قائل و. خو وروسته یې ددې قول څخه رجوع وکړه او وې فرمایل: چې د حلقوم، مری او احد الودجین قطع کول شرط دي، د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد د څلورو رګونو څخه د هر رګ اکثره برخه کاټول ضروري دي، د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ څخه هم یو روایت داسې نقل شوی دی، ځکه چې په دې څلورو رګونو کې هر رګ خپله یو اصل دی او د هر رګ د کاټولو حکم شوی دی، امام ابویوسف رَحِمَهُ اللهُ فرمایي: د ودجینو د قطع کولو مقصد د وینې بهیول دي، لهذا په ودجین کې یو رګ د بل رګ د قطع کولو قائم مقام جوړیږي، امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ فرمایي چې اکثر د کُل قائم مقام وي او د عروق اربعه څخه لا علی التعیین د درې رګونو څخه د وینې بهېدل لازمیږي، لهذا د درې رګونو کاټول کافي دي، (وفیهِ أنَّ أکثر الشيءِ یقومُ مقامَ کله لا أکثر الأشیاءِ وبهذا تبین أنَّ الأظهرَ قولُ محمدٍ).

قوله ولو بظفر الخ: که نوک یا غاښ ویستل شوی وي، نو زمونږ په نزد دې شیانو سره ذبح کول حلال دي، خو د کراهت څخه به خالي نه وي، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد دې شیانو سره مذبوحه نه حلالیږي، ځکه چې په حدیث کې ددې شیانو استثناء موجوده ده. (قالَ علیهِ الصلوةُ والسّلامُ: کلّ ما أفری الاوداج إلّا سنًّا اوظفرًا) په خینو روایتونو کې راغلي چې نوکان او غاښونه د حبشیانو چاړې دي. یعنې هغوی په عامه توګه غاښ او نوکانو سره ذبح کوي، زمونږ دلیل دا دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: (أمررِ الدّمَ بما شئتَ) او مذکوره حدیث په هغه نوک او غاښ باندې محمول دی چې ویستل شوی نه وي، د کراهت وجه دا ده چې په دې سره حیوان ته تکلیف رسیږي، لکه څنګه چې په پڅه چاړه باندې د حیوان حلالول مکروه ده.

قوله وندب الخ: د ښاروي د څملولو څخه وړاندې د چاړې تېره کول مستحب دي، ځکه چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: الله تعالی په هر شي باندې احسان کول ضروري کړي دي، کله چې تاسو قتل

کوئ؛ نو په ښه طریقې سره قتل کوئ، کله چې ذبح کوئ؛ نو په ښه طریقې سره ذبح کوئ او پکار ده چې چاړه د وړاندې څخه تېره شي او خپلې ذبیحې ته ارام ورکړئ!

قوله وكره النخع الخ: دېره ذبح کول هم مکروه ده، څکه چې رسول الله ﷺ ددې څخه هم منع کړې ده، په حدیث کې راځي: "نهى عن الذبيحة أن نفرس" ابراهيم حربي په غريب الحديث کې د فرس تفسیر په دې الفاظو سره کړی دی چې چاړه نخاع ته ورسول شي، نخاع حرام مغز ته ویل کیږي کوم چې د غاړې او څټ ترمنځ د مرۍ په شان واقع شوی دی، ابن الاثیر په نهایه کې ددې تفسیر داسې کړی دی، د څاروي د یخېدو څخه وړاندې د هغه څټ ماتول، بهر حال دا ټول کارونه مکروه دي، څکه چې په دې شیانو کې بې فایدې د حیوان تعذیب او هغه په عذاب کې اخته کول دي.

قوله ولم يتذك الخ: کوم څاروی ذبح شو او د خېټې څخه یې بچی راپیدا شو، نو د امام صاحب، امام زفر او حسن بن زیاد رحمهم الله په نزد بچی د مور تابع دی، دا بچی به حلال نه وي، بلکې علیحده به ذبح کولی شي، صاحبین او ائمه ثلاثه رحمهم الله فرمایي چې ددې خلقت پوره شوی دی، لهذا ددې ذبح کولو ته هیڅ ضرورت نشته، څکه چې د رسول الله ﷺ وینا ده: (**ذكاة الجنين ذكاة أمه**) دغه شان بچی د مور جزء وي حقیقتا او حکما، حقیقتا ددې وجې چې بچی د مور سره متصل وي، څکه چې ماشوم د مور په خوراک سره تغذیه حاصلوي، د مور په ساه اخیستلو سره ساه حاصلوي او حکما ددې وجې چې د مور په خرڅولو کې بچی هم شامل وي، د مور په ازادولو سره ماشوم هم ازادیږي، امام صاحب رحمه الله فرمایي: د ماشوم ژوند مستقل ژوند وي، څکه چې کله کله د مور د مړینې څخه وروسته هم بچی ژوندی پاتې کېدی شي، دغه شان د غره په وجوب کې هم ماشوم مستقل دی، دغه راز د ماشوم لپاره وصیت کول هم صحیح دي، هغه هم وینه لرونکی حیوان دی او د ذبح کولو څخه مقصد د وینې بهېدل دي او دا مقصد د مور د ذبح کولو څخه وروسته نه حاصلیږي، پاتې شو حدیث په تشبیه باندې محمول دی، یعنې د جنین ذکاة (حلالول) د مور د ذکاة په شان دی، وجه دا ده چې په روایت کې د ذکاة لفظ مرفوع او منصوب دواړو طریقو سره روایت دی، د نصب په صورت کې په تشبیه کېدو کې هیڅ اشکال نشته، دغه شان که مرفوع وویل شي، بیا هم په تشبیه کې هیڅ اشکال نشته، څکه چې په تشبیه کې رفع د نصب څخه قوي ده، **قال الشاعر**:

وعيناك عيناها وجيدك جيدها سوى أن عظم الساق منك دقيق

فصلٌ فيما يحلّ وما لا يحلّ

لا يؤكل ذوناب ومخلب من سبعٍ وطيرٍ وحلّ غراب الزّرع لا الأبقع الّذي يأكل الجيف والضّبع والضّبّ والزّنبور والسّلحفاة والحشرات والحمر الأهليّة والبغل والخيل وحلّ الأرنب.

ترجمه: (فصل : د کومو شیانو خوړل حلال او د کومو حرام دي:) د داړو او پنجو والاځناورو او مارغانو خوړل جائز نه دي، د کښتني کارغه خوړل حلال دي؛ نه هغه کارغه چې مرداري خوري، کوګ، سمساره، مچی، شمشتی، حشره ژوي، کورني خره، خچر او اسونه. خرګوش (سویګی/ سویه) حلال دی.

توضیح اللّغة : (ناب) داړو والا ځناور، (مخلب) پنجو والا، (سبع) ځناور، داړوونکی، (غراب) کارغه، (أبقع) چتکبری (جیف) مرداره، (ضبع) کوګ (ضب) سمساره (زنبور) مچی، (سلحفاة) شمشتی، (حمر) د حمار جمع ده او خر ته ویل کیږي، (أرنب) سویه او سویګی.

تشریح الفقه : **قوله لا يؤكل الخ**: هغه ځناور چې په غاښونو باندې ښکار کوي او هغه مارغان چې په په پنجو باندې ښکار کوي، د داسې حیواناتو خوړل جائز نه دي، ځکه چې رسول الله ﷺ د هر داړور او هغه حیواناتو د خوړلو څخه منع فرمایلې ده چې په پنجو باندې ښکار کوي، کومه کارغه چې مردار نه خوري بلکې پاک شیان خوري، د هغې خوړل هم حلال دي، ابلق چې اصلي کارغه ورته ویل کیږي او خوراک یې مرداره وي، هغه چې د ښټ رنګ یې د پښو په نسبت سپین وي، د هغې خوړل هم حرام دي، ځکه چې دا هم د خبیثو حیواناتو سره ملحق کیږي، عقعق کارغه چې مرداره او پاک شیان دواړه خوري، د امام صاحب په نزد یې خوړل صحیح دي، خو د امام ابویوسف رَحِمَهُ اللهُ څخه یې کراهت نقل دی، ځکه چې ددې کارغه اکثر خوراک د ناپاکو شیانو څخه وي.

فایده: عقعق د قنفذ په وزن باندې ابلق مرغه دی (تور او سپین دواړه رنګونو پکې دي) د اواز کولو پرمهال ترې د عین او قاف په شان اوازونه معلومیږي، (قاموس) علامه طحطاوي د حاشیه مکي څخه نقل کړي دي چې عقعق د جعفر په وزن باندې دی او د کوترې په شان یو مرغه دی، لکۍ هم لري، په تور او سپین رنګونو کې دی، دا د کارغه د اقسامو څخه دی، خلک ترې بدفالي نیسي، (پای) د امام ابویوسف رَحِمَهُ اللهُ څخه روایت دی چې د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ څخه د عقعق په اړه پوښتنه وشوه : هغه وفرمایل چې ددې په خوړلو کې هیڅ خبره نشته، ما ورته وویل : دغه حیوان مرداره خوري، هغه وفرمایل : چې د نورو شیانو سره یو ځای کېدو په حالت کې یې خوري.

قوله الضبعُ الخ: زموږ په نزد د کوګ (١) خوړل حلال نه دي، سعيد بن مسيب او امام ثوري رحمهما الله هم همداسې وايي، د ائمه ثلاثه وو رحمهم الله په نزد يې خوړل حلال دي، ځکه چې عبد الرحمن بن ابي عمار فرمايي: ما د جابر رضي الله عنه څخه د کوګ اړوند پوښتنه وکړه چې ايا هغه ښکار دی؟ وې فرمايل: هو! ما وويل: ايا موږ يې خوړلی شو؟ وې فرمايل: هو! ما ورته وويل: ايا ددې په اړه د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه څه اورېدلي دي؟ وې فرمايل: هو! زما دليل پورتنی حديث چې په هغې کې يې د داړو والاو پنجو والاځناور د خوړلو څخه منع فرمايلې ده، ضبع (کوګ) هم د داړو والاحيوان وي، دغه شان خزيمه بن جزء رضي الله عنه فرمايي: ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم د ضبع (کوګ) په اړه پوښتنه وکړه، هغه وفرمايل: ايا هوښيار سړی به کوګ وخوري؟ عبد الله بن سعدي رحمه الله وايي: ما سعيد بن مسيب رحمه الله ته وويل: زموږ د قوم ځينې خلک کوګ خوري، هغه وفرمايل: ددې خوړل حلال نه دي، د هغه سره نژدې يو سپين ږيری سړی ناست و، هغه وفرمايل: عبد الله! ما چې د کوګ په اړه د ابوالدرداء رضي الله عنه څخه څه اورېدلي دي، ايا هغه تا ته واوروم؟ ما ورته وويل: خامخا يې زاته بيان کړه! وې فرمايل: "نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم عَنْ كُلِّ ذِي خِطْفَةٍ، وَعَنْ كُلِّ نُهْبَةٍ، وَعَنْ كُلِّ مُجَثَّمَةٍ، وَعَنْ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ"، فَقَالَ سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ: صَدَقَ، پاتې شو د امام شافعي رحمه الله مستدل هغه امام ابوداؤد رحمه الله هم د اصحاب سنن په سند سره روايت کړی دی، خو په هغې کې د خوراک هيڅ يادونه نه ده شوې.

قوله والضبُّ الخ: زموږ په نزد سمساره حلاله نه ده، د ائمه ثلاثه رحمهم الله په نزد حلال دی، ځکه چې خالد بن وليد رضي الله عنه فرمايي: "زه په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې د ميمونې په وړاندې حاضر شوم، ما وليدل چې د هغه وړاندې سور کړې سمساره وه، رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه طرف ته لاس اوږد کړو، نو يوې ښځې بلې ښځې ته وويل: تا چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته کوم شی وړاندې کړو، ايا هغه دي وربانديې خبر کړی هم دی؟ ښځو ورته وويل: اې د الله تعالى رسوله! سمساره ده، رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل لاس بېرته شاته کړو، ما ورته وويل: اې د الله تعالى رسوله! ايا سمساره ناپاکه ده؟ وې فرمايل: نه! خو دا شی زموږ خلک نه خوري، نو ځکه زما هم نه خوښيږي، خالد بن وليد رضي الله عنه فرمايي چې ما وخوړل او رسول الله صلى الله عليه وسلم راته کتل، زه يې هيڅ منع نه کړم" دغه راز په حديث کې دي: ام حفيد د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کې پنير، غوړي او سمساره پېش کړه، رسول الله صلى الله عليه وسلم پنير او غوړي وخوړل او سمساره يې خوښه نه کړه، همداسې يې پرېښوده، ابن عباس

---

(١): داسې يو حيوان دی چې سترګې يې وړې دي، دغه لفظ د مذکر او مؤنث دواړو لپاره استعماليږي. (المنجد پښتو او عربي) نائل.

رضي الله عنه فرمايي چې د رسول الله ﷺ په دسترخوان باندې سمساره خوړل کېده، که حرامه واى، نو هغه به خامخا منع ترې کړې واى، زموږ دليل د ابوداؤد روايت دى: (أَنَّ رسولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهى عن أكلِ لحمِ الضبِّ) او مذکوره احاديث د اسلام په ابتدايي زمانه باندې محمول دي.

قوله والحمر الأهلية الخ: هغه خر چې په کورونو کې پالل شوي وي، د هغې خوړل حرام دي او سهرايي خر حلال دى اګر چې په کور کې پالل شوى وي. هغه خچر هم حرام دى چې د خر د نس څخه پيدا شوى وي، (که د اس څخه پيدا شوى وي، نو د امام صاحب رحمه الله په نزد يې خوړل مکروه دي، د صاحبينو په نزد حلال دي) د بشر مريسي په نزد سهرايي خر په شان د پالل شوي (کورني) خر خوړل هم حلال دي. د امام مالک رحمه الله څخه هم همداسې نقل دي، ځکه چې د غالب بن ابجر په حديث کې دي چې هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په وړاندې د قحط مودې ذکر کولو سره وويل: اې د الله تعالى رسوله! زموږ سره په کور باندې د خوراک لپاره د خر څخه بغير هيڅ شى نشته او تاسو خرونه حرام کړه، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ته په خپلې کورنۍ باندې خپل خرونه وخوره! زموږ دليل د خالد بن وليد رضي الله عنه حديث دى: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د خيبر په ورځ د کورنيو خرو او د اس له غوښې څخه منع وفرمايل، علي رضي الله عنه فرمايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم د خيبر په ورځ د متعې او کورنيو خرو د خوړلو څخه منع وفرمايل، د امام مالک رحمه الله د دليل څخه ځواب دا دى چې د هغوى د روايت په سند او متن کې سخت اضطراب دى، ددې تفصيل د معجم طبراني، مصنّف لابن ابي شيبه، مصنّف ابن عبد الرزاق، مسند بزار وغيره کتابونو څخه معلوميږي، دويم دا چې په هغه حديث کې چې کوم اجازت دى، هغه په ضرورت باندې محمول دى او د ضرورت په وخت کې حرام هم حلاليږي.

قوله والخيل الخ: د امام صاحب رحمه الله په نزد د اس غوښه خوړل مکروه تحريمي دي، د ابن عباس رضي الله عنه قول هم همدا دى، امام مالک رحمه الله هم همداسې وايي، د صاحبينو، امام شافعي او امام احمد رحمهم الله په نزد حلال دى، ځکه چې په حديث کې دي: رسول الله صلى الله عليه وسلم د خيبر په ورځ د پالل شويو (کورني) خرو د خوړلو څخه منع وفرمايل او د اس خوراک اجازه يې ورکړه، د امام صاحب رحمه الله استدلال د خالد بن وليد رضي الله عنه حديث دى کوم چې پورته ذکر شو.

يادونه: د امام صاحب رحمه الله په نزد د اس غوښه خوړل مکروه تحريمي ده، دې قول ته صاحب محيط صحيح، صاحب خلاصه او صاحب هدايه ورته اصح ويلي دي، خو صاحب درر د فخر الاسلام او ابو المعين په حواله کراهت تنزيهي ته اصح ويلي دي، په مواهب او برهان کې دي چې ظاهر الرواية همدا قول دى، د کراهت تنزيهي په صورت کې د امام صاحب او صاحبينو ترمنځ هيڅ اختلاف نه پاتې

کیږي، ځکه چې صاحبین اگر چې د حلت قائل دي، خو د هغوی په نزد مکروه تنزیهي دی او په کفایة البیهقي کې دي چې امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ د خپل مرگ څخه دريې ورځې وړاندې د حرمت څخه حلت ته رجوع کړې وه او په همدې باندې فتوی ده. (كذا في العمادية)

وذبحُ مالا يؤكل لحمه يطهّر لحمه وجلده إلا الآدميّ والخنزير ولا يؤكل مائيٌّ إلا السّمك غير طافٍ وحلّ بلاذكاةٍ كالجراد ولو ذبح شاةً فتحرّكت، أو خرج الدّم حلّ وإلا لا إن لم يدر حياته وإن علم حلّ، وإن لم يتحرّك ولم يخرج الدّمُ

ترجمه: په ذبحې سره د غیر ماکول اللحم غوښه او څرمن حلالیږي، د انسان او خنزیر څخه بغیر. دریابي ځناور نه خوړل کیږي ماسوا د ماهي څخه چې په اوبو کې به سرچپه روان نه وي. د ذبح کولو څخه بغیر به حلال وي لکه د ملخ په شان، که چېلۍ یې حلاله کړه او هغې حرکت وکړو یا یې وینه ووتل، نو حلال به وي، کنه نو حلال به نه وي، که چېرته یې د ژوند درک ونه شي، که د ژوندي پاتې کېدو درک یې وشي، نو حلاله به وي، اگر چې هیڅ حرکت ونه کړي او نه یې وینه خارجه شي.

توضيحُ اللُّغَة: (**سمك**) ماهی، (**طاف**) هغه مړ شوی ماهی چې د اوبو دپاسه روان وي، (**جراد**) ملخ.

تشريح الفقهِ: **قوله وذبحُ الخ**: کوم حیوان چې غیر ماکول اللحم وي، د هغه حیوان په ذبح کولو سره یې غوښه او څرمن پاکیږي، ددې مطلب دا دی: که د داسې حیواناتو په نرمو او بهېدونکو شیانو کې تو ی شي، نو هغه شی به نه ناپاکه کیږي، د امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد ذبح کولو سره غوښه او څرمن نه پاکیږي، فرمایي چې د ذبح اثر په اباحت د غوښه کې اصل دی، په طهارت د غوښه او څرمن کې تابع دی او تابع د اصل څخه بغیر نه وي. لهذا هر کله چې په ذبح سره د غوښې اباحت نه ثابتیږي، نو د غوښې او څرمنې طهارت به هم نه ثابتیږي، موږ وایو: لکه څرنگه چې په رنگ ورکولو سره نجس رطوبات ختمیږي، دغه شان په ذبح کولو سره هم نجس رطوبات ختمیږي، لهذا د رنگ کولو په شان ذبح کولو سره به هم دا شیان پاکیږي.

قوله ولايؤكلُ مائيُّ الخ: د دریابي ځناورو خوړل چې اوسېدل، لویېدل، مړ کېدل او ژوندی پاتې کېدل یې ټول په دریاب کې وي، ددې ټولو خوړل حرام دي ماسوا د ماهي څخه چې ددې خوراک حلال دی، د امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ او یوې ډلې عالمانو په نزد د ټولو دریابي حیواناتو خوړل علی الاطلاق حلال دي، د امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ څخه هم اطلاق مروي دی، ځینو عالمانو د دریابي خنزیر، سپي او انسان استثناء کړې ده، د امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا اللّٰهُ دلیل دا دی: (**أحلّ لكم صيدَ البحر**) او حدیث (**هُوَ الطهورُ ماؤه والحلّ ميتته**) مطلق راغلي دي، په دې ایت او حدیث کې د هیڅ حیوان تعین او تخصیص نشته،

زموږ دليل دا ايت دی: ﴿ويحرم عليهم الخبائث﴾ د ماهي څخه بغير د نورو حيواناتو خوړل د سليم الطبع انسان په دماغو باندې بد لګيږي او ددې شيانو څخه ځان ساتي، دغه شان د ډېرو دريابي حيواناتو د خوړلو څخه منع په حديثونو کې راغلې ده، لکه د عبد الرحمن بن عثمان قرشي په حديث کې دي: يو سړي د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه پوښتنه وکړه چې ايا موږ په دوا کې چيندخه استعمالولی شو؟ نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه منع کړو، (قال المنذري في حواشيه: فيه دليلٌ على تحريم أكل الضفدع) پاتې شو مذکوره ايت په ښکار باندې محمول دی او حديث په ماهي باندې محمول دی.

قوله غير طافٍ الخ: کوم ماهی چې د يو آفت له وجې مړ شي، هغه حلال دی او کوم ماهی چې د آفت څخه بغير په خپل مرګ باندې مړ شي، هغه د اوبو په عادي سطحه باندې روان وي او خېټه يې د اسمان په طرف وي، دې ماهي ته سمک طافي ويل وي، د داسې ماهي خوړل حلال نه دي، ابن ابي شيبه او عبد الرزاق په خپل خپل مصنّف کې د جابر بن عبد الله، علي، ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، ابن المسيب، ابوالشعثاء، نخعي، طاووس او زهري رَحِمَهُمُ اللهُ څخه نقل کړي دي چې د سمک طافي خوړل مکروه دي، د امام شافعي او امام مالک رَحِمَهُمَا اللهُ په نزد حلال دي، حافظ دار قطني د ابوبکر صديق او ابوايوب څخه اباحت نقل کړی دی، زموږ دليل د جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حديث دی: کوم ماهی چې درياب وغورځوي، هغه وخورئ! او کوم ماهی چې په اوبو کې مړ شي او د اوبو په مخ باندې سرچپه روان وي، د هغې څخه ځان وساتئ!

لومړی فايده که دريابي مارغه کوم ماهی ووهي، يا ماهی د درياب په تل کې مړ شي، يا څوک دوا پکې واچوي او ماهی هغه وخوري او مړ شي، د داسې ماهيانو خوړل حلال دي، که د اوبو د يخوالي يا ګرموالي له وجې ماهی مړ شي، نو په دې کې دوه روايتونه دي: يو روايت د حلت دی او دويم روايت د حرمت دی.

دويمه فايده: جريث د جيم په کسرې سره او په تشديد د راء سره چې د زغرې په شان ګول او له رنګه تور وي، ځينې هنديان ورته سچکي وايي، هغه مار ماهي چې د مار په شکل وي، هنديان ورته بام وايي، دا دواړه ماهي حلال دي، د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ څخه چې دا کوم قول نقل دی چې د جريث او مار ماهي څخه بغير نور ټول ماهيان حلال دي، دا ضعيف قول دی او په غاية البيان کې دي چې ځينو روافضو او اهل کتابو به جريث ماهی خوړل حرام ګڼلو او ويل به يې چې ددې ماهي اصل (خلک) چې ديوث وو، هغوی به خپلو ښځو ته پردي خلک رابلل، د هغوی شکلونه الله تعالى بدل کړل او جريث ماهی ترې جوړ شو، دا قول بالکل باطل دی او هيڅ حقيقت نه لري، ځکه چې کوم انسانان مسخ شي، د درې ورځو په تېرېدو سره هغوی مړه کيږي، د هغوی نسل هم باقي نه پاتې کيږي. (غاية الاوطار)

قوله وحل بلا ذکاة الخ: د ماهیانو ټول قسمونه او ملخان د ذبح کولو څخه بغیر حلال دي، ځکه چې په حدیث کې دي: زموږ لپاره دوه مرداري حلالې شوي دي، یو ماهی دی او بل ملخ دی، دوه وینې زموږ لپاره حلالې شوي دي، یو کلیجي او بل توری دی، دغه شان طبراني په معجم کې د ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت نقل کړی دی: (عن النبي صلی الله علیه وسلم قال کل دابة من دواب البر والبحر لیس لها دم ینعقد فلیس لها ذکاة)، دغه راز حافظ عبد الرزاق په خپل کتاب (المصنف) کې د علي رضي الله عنه قول نقل کړی دی چې (الحیتان والجراد ذکی کله)، د عمر رضي الله عنه قول دی: (الحوت ذکی کله والجراد ذکی کله) دا چې امام مالک رحمه الله فرمایي: د ملخ سر ماتول ضروري دي، آثار او مذکوره حدیثونه په هغه باندې (یعنې د هغه په خلاف) حجت دي.

یادونه: ماهی او ملخ اګر چې د ذبح کولو څخه بغیر حلال دي، خو په دواړو کې فرق دی: هغه دا چې که ملخ په خپل مرګ باندې مړ شي، بیا هم خوړل کیږي، په خلاف د ماهي چې دا ماکول نه دی، د امام مالک رحمه الله په نزد د ملخ مرګ د یو سبب له وجې ضروري دی، د امام احمد رحمه الله یو قول هم همداسې دی.

لومړی فایده: اوبښ، اوبنه، غوا، غویی، مېښه، مېږه او چېلی (هغه حیوانات چې ځناور نه دي لکه: هوسی، سهرایي خر، خرګوش، سهرایي غویی او هغه مارغان چې په پنجو باندې ښکار نه کوي، لکه: چرګ، چرګه، کوتره، بطه، ابابیل، کارغه چې یوازې دانه خوري، سوداني، فاخته، ملخ او ټول مارغان حلال دي. کوم ځناور چې په داړو باندې ښکار کوي یا نېشونه لري، لکه: زمری، شرمښ، پړانګ، ګیدړه، کوګ، سپی، پیشو، بیزو، ځنګلي موږک، فیل، طاووس مرغه، مار، لړم او په کومو ځناورو کې چې وینه نشته، لکه: مچی، مچ، ماشی او هغه مرغان چې په پنجو باندې ښکار کوي، لکه: تېپوس، باز، شاهین او هغه چې مردار خوري، لکه: مردار خور کارغه، دا ټول حرام دي. (قاضي خان)

دویمه فایده: د مردار خور د اته شیانو څخه ګټه اخیستل حلال دي، برابره خبره ده چې هغه د ماکول حیواناتو څخه وي او که د غیر ماکول حیواناتو څخه وي، لکه: ښکر، وړی، پټه، وېښته، هډوکي او وزرې. (طحاوي عن زواهر الجواهر)

كتاب الأضحيّة

تجب على حرّ مسلمٍ مقيمٍ موسرٍ عن نفسه لا عن طفله، شاةٌ أو سبع بدنةٍ يوم النّحر إلى آخر أيّامه.

ترجمه: په ازاد، مسلمان، مقيم او شتمن سړي باندې د ځان له لوري واجب ده. نه د خپل بچي له لوري، يوه چېلۍ، يا اوښ يا د غوا اومه برخه چې د لوی اختر د لوم‌ړۍ ورځې څخه تر اخري ورځې پورې يې قرباني كولى شي.

تشريح الفقهِ: **قوله كتاب الخ**: د كتاب الذبائح څخه وروسته يې كتاب الاضحية ذكر كړو، ځكه چې ذبيحه عامه ده او اضحيه خاص ده، خاص د عام څخه وروسته ذكر كيږي.

سوال: كه د كون الخاص بعد العام مطلب دا وي چې د خاص وجود د عام څخه وروسته وي، نو دا خبره بيخي غلطه ده، ځكه چې د محققينو په نزد دا خبره ثابته شوې ده چې د عام وجود د خاص په ضمن كې موجوديږي. كه مراد دا وي چې د خاص تعقل د عام د تعقل وروسته وي، نو دا خبره هم غلطه ده، ځكه چې دا په هغه وخت كې وي چې عام د خاص لپاره ذاتي وي او خاص بالكنه وي او دلته دا خبره نشته.

ځواب: په امور وضعيه او امور اعتباريه كې چې كوم يو د شي په مفهوم كې داخل ومنل شي، هغه به ددې شي لپاره ذاتي وي او كوم امور چې ددې شي په مفهوم كې داخل ومنل شي، د هغې سره د هغه شي تصور تصور بالكنه وي او دا دلته موجود دى، ځكه چې د ذبحې معنى په اضحيه كې لغة هم داخله ده او شرعا هم، لهذا تعقل د اضحيه په تعقل د معنى د ذبحې باندې موقوف دى. (فيتم التقريب)

قوله الأضحية الخ: اضحيه د افعولة په وزن باندې ده، ځكه چې اضحيه په اصل كې اضحوية ده، واو او ياء جمع شوه، د ياء څخه وړاندې حرف ساكن دى، ددې وجې واو په ياء سره بدل شو او ياء په ياء كې مدغم شوه، حاء ته د ياء د كسرې د مناسبت له وجې كسره وركړل شوه. د امام اصمعي رَحِمَهُ اللهُ د قول مطابق په اضحية كې څلور لغتونه دي. اضحية په لغت كې هغه چېلۍ يا څاروي ته ويل كيږي چې د لوى اختر په ورځ حلال كړى شي، دا چې دغه څاروى د ضحى (څاښت) پرمهال ذبح كولى شي، ددې وجې ورته اضحية ويل كيږي. ګويا دا تسمية الشيء باسم وقته دى، د شريعت په اصطلاح كې هغه ځانګړي څاروي ته ويل كيږي چې د ثواب په نيت خاص وخت كې ذبح كړى شي، د ځانګړي څاروي

څخه مراد غوا، غويی، مېږه، چېلی، او اوښ دی، د ځانګړي وخت څخه مراد د ضحی (څاښت) وخت مراد دی. (۱)

قوله تجبُ الخ: د امام ابوحنيفه، امام محمد، زفر، حسن بن زياد رَحِمَهُمُ اللهُ او په يو روايت کې د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ څخه نقل دي چې قرباني واجب ده، په دويم کې د سنت مؤکده قول نقل شوی دی، امام طحاوي د سنت کېدو قول د صاحبينو څخه نقل کړی دی، همدا د امام شافعي او امام احمد رَحِمَهُمَا اللهُ مذهب هم دی، د سنيت لپاره دليل څو روايتونه دي: (۱) رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: هغه څوک چې د ذي الحجې مياشت ووينې او د قرباني اراده وکړي، نو هغه دې خپل وېښته او نوکان نه کاټوي، د استدلال وجه او طريقه دا ده چې قرباني د ارادې سره تعلق لري او تعليق بالاراده د وجوب سره منافات لري، (۲) د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارشاد دی: درې شيان په ما باندې فرض دي او ستاسو لپاره نفل دي، وتر، قرباني او صلوة ضحی. (۳) قرباني کوئ! ځکه چې قرباني ستاسو د پلار ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ سنت دی، (۴) ابوبکر او عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا به يو يو کال او دوه کاله قرباني نه کول، که قرباني واجب وای، نو بيا به يې نه پرېښودل.

د وجوب لپاره هم څو حديثونه دي: (۱) رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: څوک چې وس لري او قرباني نه کوي، هغوی دې زموږ د لمانځه ځای ته نږدې هم نه راځي، دا ظاهره خبره ده چې داسې وعيد او زورنه واجبو په پرېښودو سره ورکول کيږي، (۲) ابوبرده بن نياز رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ووېل: زما سره جذعه ده، رسول الله ورته وفرمايل: همدا ذبحه کړه او ستا څخه وروسته به دا د هيڅ کس لپاره نه منل کيږي، ومثل هذا لايستعمل إلافي الوجوب (۳) د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارشاد دی: زکوة هره صدقه او د رمضان روژې ټولې روژې او د جنابت غسل ټول غسلونه او د قرباني هره ذبيحه منسوخه کړه.

قوله شاةٌ الخ: د تجب د فاعل يا د ضمير مرفوع څخه بدل دی، مطلب دا دی چې د چېلی، مېږې، غوا او اوښ قرباني واجب ده، د مېږې او چيلي قرباني يوازې د يو کس لپاره صحيح کيږي، په غوا او اوښ کې اوه کسان شريکېدی شي، د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد غوا او اوښ د يوې کورنۍ له لورې هم صحيح کيږي، اګر چې د کور کسان يې د اوه نفرو څخه زيات وي، ځکه چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

---

(۱): أضحى جمعه أضحية هي اسمٌ لِمَا يُذبحُ أيامَ الأضحى. (الدر مع الرد ج: ۶ص: ۳۱۱ ، ط: سعيد ، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۳، كتاب الأضحية ، طة سعيد، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۲۴، كتاب الأضحية، ط: رشيدية ، قال الطيبي: الأضحيةُ ما يذبح يوم النحر على وجه القربة ، وبه سمى يوم الأضحىٰ ، مرقاة المفاتيح ج: ۳ ص: ۳۰۲، كتاب الأضحية ، ط: امدادية.)

فرمايي: په هرې کورنۍ باندې هر کال قرباني او عتيره ده، موږ وايو: د قياس په رڼا کې خو د اوښ او غوا قرباني هم د يو کس له لورې صحيح کېدل پکار و، ځکه چې وينه توی کول يو ثواب دی او په دې کې تقسيم نه راځي، خو دا چې د جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حديث تسره ثابته ده چې د اوه کسانو له لورې د غوا او اوښ قرباني صحيح کيږي، نو ددې وجې موږ قياس پرېښودلو، په مېږه او چېلۍ کې کوم نص موجود نه دی، ددې وجې به مېږه او چېلۍ په خپل قياس باندې پاتېږي، د جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حواله روايت شوی حديث دا دی: موږ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د غوا او اوښ په قربانۍ کې اوه کسان وو.

سوال: د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت دی چې موږ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د سفر په حالت کې وو، د قربانۍ وخت راغلو، نو موږ په غوا کې اوه کسان او په اوښ کې لس کسان شريکان شو، بيا په اوښ کې د اوه کسانو څخه د زياتو کسانو نه شريکېدو څه معنی ده؟

ځواب: حافظ بيهقي رَحِمَهُ اللهُ په خپل سنن کې ويلي دي چې د سفيان څخه کوم دا روايت راغلی دی چې يو اوښ د لسو کسانو څخه پوره کيږي، دا وهم دی، ځکه چې فريابي د امام ثوري څخه، مالک بن انس، جريج، زبير بن معاويه وغيرهم د ابوالزبير او عطاء بن ابي رباح رَحِمَهُمُ اللهُ څخه د جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حواله نقل کړي دي چې د اوښ قرباني د اوه کسانو له لورې کيږي، امام مسلم د دوی روايت ته ترجيح ورکړې ده، دغه شان امام واقدي په مغازي کې ويلي دي چې د اوه کسانو له لورې د قربانۍ کولو روايت د هغو خلکو د روايت په مقابله کې زيات اثبت دی چې د لسو کسانو له لورې د قربانۍ کولو قائل دي.

قوله فجر الخ: دا لفظ د تجب لپاره د ظرفيت له وجې منصوب دی، د لوی اختر د لومړۍ ورځې څخه تر اخري ورځې پورې قرباني صحيح کيږي، د لوی اختر درې ورځې دي: (۱۰، ۱۱، ۱۲) د ذي الحجې، د تشريق ورځې هم درې دي، (۱۱، ۱۲، ۱۳) لهذا لسم تاريخ د لوی اختر ورځ ده، خو د تشريق په ورځو کې نه شمارل کيږي او ديارلسم تاريخ د تشريق ورځ ده: خو د لوی اختر ورځ په ورځو کې نه شمارل کيږي، يوولسم او دولسم د ذي الحجې هم د لوی اختر د ورځو څخه ګڼل کيږي او هم د تشريق د ورځو څخه، نو زموږ په نزد د دولسم ذي الحجې د لمر ډوبېدو څخه وړاندې وړاندې قرباني جائز ده، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد ديارلسم د ذي الحجې باندې هم قرباني جائز ده، ځکه چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: د تشريق ټولې ورځې د ذبحې ورځې دي، زموږ دليل د علي او ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا اثر دی: (الأضحى يومانِ بعدَ يومِ الأضحى).

ولا يذبح مصريٌّ قبل الصّلاة، وذبح غيره ويضحّى بالجمّاء والخصيّ والثّولاء لا بالعمياء والعوراء والعجفاء والعرجاء ومقطوع أكثر الأذن أو الذّنب أو العين أو الألية والأضحيّة من الإبل والبقر والغنم وجاز الثّنيّ من

الكلّ والجذع من الضّأن وإن مات أحد السّبعة، وقال الورثة: اذبحوا عنه، وعنكم صحّ وإن كان شريك السّتّة نصرانيًّا أو مريدًا للّحم لم يجز عن واحدٍ منهم ويأكل من لحم الأضحيّة ويؤكّل غنيًّا، ويدّخر وندب أن لا ينقص الصّدقة من الثّلث ويتصدّق بجلدها أو يعمل منه نحو جرابٍ وغربالٍ وندب أن يذبح بيده إن علم ذلك وكره ذبح الكتابيّ ولو غلطا، وذبح كلّ أضحيّة صاحبه صحّ، ولا يضمنان.

ترجمه: ښاري سړی به د لمانځه څخه وړاندې ذبحه نه کوي، د ښاري څخه علاوه نور کسان يې کولی شي. بې ښکره، خصي او لېونی قرباني کولی شي. خو نه شي قرباني کولی کوڼ، ړوند، کمزوری ګوډ، که د غوږ يا لکۍ يا غاښ يا سترګې يا لم (کوناټي) زياته برخه يې کاټ شوې وي، قرباني د اوښ، غوا، مېږې او چېلي جائز ده، په ټولو کې د دوه غاښونوالاجائز ده او د شپږو مياشتو د چاغې مېږې (ګډې) هم صحيح ده، که د اوه شريکانو څخه يو کس مړ شي، وارثان يې اجازه ورکړي چې د هغه او خپلو ځانونو له لورې يې ذبح کړئ؛ نو دا اجازه به صحيح وي او که د شپږو کسانو يو شريک (يعنې اوم کس) نصراني وي يا يوازې هغه کس وي چې د غوښې خواهش ولري، نو د يو کس قرباني به هم جائز نه وي، د قربانۍ له غوښې څخه خوراک کولی شي، په شتمن باندې يې هم خوړلی شي، ذخيره کولی يې هم شي، مستحبه دا ده چې خيرات دې د دريمې برخې څخه نه کموي، د هغې څرمن به په خيرات (صدقه) کې ورکوي، يا دې د هغې څخه د جرابو په شان (موزې) يا سلواغه وغيره جوړه کړي، مستحبه دا ده چې په خپل لاس يې ذبحه کړي او په کتابي (يهودي يا عيسوي) باندې ذبح کول مکروه ده، که دوه کسان په غلطۍ باندې د يو بل ذبيحه (قرباني) حلاله کړي، نو دا قرباني به د دواړو له لورې صحيح شي او هيڅ يو کس باندې به قيمت ورکول لازم نه وي.

د قربانۍ تفصيل حکمونه

تشريح الفقه: قوله ولا يذبح مصريٌّ الخ: کوم ښاري يا د اباديۍ مېشت اوسېدونکی د قربانۍ څاروی د لمانځه څخه وړاندې نه شي حلالولی او کليوال سړی کولی شي چې د لمانځه وړاندې خپل څاروی حلال کړي.

قوله ويُضَحِّيْ الخ: د څاروي په خصي کولو سره د څاروي غوښه ښه کېږي، له غوښې بدبويي ورکېږي، ښه پخېږي، څاروی تازه کېږي او وهل هم نه کوي، که څاروی لېونی وي؛ خو غټ او تازه وي: نو د هغه قرباني صحيح ده، د کوم څاروي ښکر چې پيدا ايشي نه وي، يا وي خو مات شوی وي قرباني يې

صحيح ده: (۱) خو که ښکر يې له بېخه مات شوی وي بيا يې قرباني نه صحيح کيږي، (۲) که د ښکر د پاسه خول يې لوېدلی وي بيا يې قرباني صحيح ده، (۳) که ښکر يې داسې مات شوی وي چې اثر يې دماغو ته رسېدلی وي؛ نو قرباني کول يې صحيح نه دي. (۴)

قوله وجاز الثنیُّ الخ: د پنځه کلن اوښ، دوه کلن غويي، غوا او يو کلن چېلي او ګډې (مېږې) قرباني صحيح ده، ځکه چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي «وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ» لَا تَذْبَحُوا إِلَّا مُسِنَّةً إِلَّا أَنْ يَعْسُرَ عَلَيْكُمْ فَتَذْبَحُوا جَذَعَةً مِنَ الضَّأْنِ«. رَوَاهُ مُسلِم. البته په مېږه کې شپږ مياشتينی چاغه قرباني کول هم صحيح ده، په دې شرط چې په يو کلنو مېږو کې پرېښودل شي، نو د نورو ځخه نه شي جدا کېدی، لقوله عليه السلام: «يجوز الجذعُ من الضأن أضحيةٌ».

قوله وإنْ ماتَ الخ: د اوه شريکانو ځخه يو شريک وفات شو، د هغه وارثانو وويل: چې تاسو د خپل طرفه او د مړي له طرفه قرباني وکړئ، نو قرباني به صحيح شي، که په هغوی کې يو شريک نصراني وي يا داسې کس وي چې د غوښې په نيت د هغوی سره شريک شوی وي، نو د يو کس قرباني هم نه صحيح کيږي، وجه دا ده چې د ټولو شريکانو نيت د ثواب پکار دی، اګر چې ځينو شريکانو د بل عبادت نيت کړی وي، مثلا: محرم سړي د ښکار بدله ورکوي، (۵) يا څوک هديه ورکوي، يا د حج ځخه د احصار بدل ورکوي، يا د احرام کفاره ورکوي، يا نفلي عبادت کوي، يا د متعې دم ورکوي، يا د حج قران دم ورکوي، يا يې د عقيقې نيت کړی وي، په حديث سره ثابته ده چې په قرباني کې د ثواب په نيت کسان شريکېدی شي او د نصراني يا يوازې د غوښې په نيت شريکېدو په صورت کې د عبادت (ثواب) نشته، ځکه چې نصراني د ثواب اهل نه دی.

---

(۱): وَيَجُوزُ بِالْجَمَّاءِ الَّتِي لَا قَرْنَ لَهَا، وَكَذَا مَكْسُورَةُ الْقَرْنِ، كَذَا فِي الْكَافِي. فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۷، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۳.

(۲): وَإِنْ بَلَغَ الْكَسْرُ الْمُشَاشَ لَا يُجْزِيهِ، وَالْمُشَاشُ رُءُوسُ الْعِظَامِ مِثْلُ الرُّكْبَتَيْنِ وَالْمِرْفَقَيْنِ، كَذَا فِي الْبَدَائِعِ. فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۷، الباب الخامس في بيان محل إقامة الواجب، ط: رشيدية، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۳، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۶، بدائع ج: ۵ ص: ۷۶، أما الذي يرجع إلى محل التضحية، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۳۴، ط: رشيدية.

(۳): وَيَجُوزُ بِالْجَمَّاءِ هي الَّتِي لَا قَرْنَ لَهَا خلقةً، وَكَذَا الْعَظْمَاءُ الَّتِي ذَهَبَ بَعْضُ قَرْنِهَا بِالْكَسْرِ أَوْ غَيْرِهِ، فَإِنْ بَلَغَ الْكَسْرُ إِلَى الْمُخِّ لَمْ يَجُزْ. شامي ج: ۶ ص: ۳۲۳، فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۷، ط: رشيدية، البحر ج: ۸ ص: ۱۷۶، بدائع ج: ۵ ص: ۷۶، فصلٌ أما شرائط جواز إقامة الواجب، فتح القدير ج: ۸ ص: ۴۳۴، ط: رشيدية.

(۴): وَإِنْ بَلَغَ الْكَسْرُ الْمُشَاشَ لَا يُجْزِيهِ، وَالْمُشَاشُ رُءُوسُ الْعِظَامِ مِثْلُ الرُّكْبَتَيْنِ وَالْمِرْفَقَيْنِ. فتاوى هندية ج: ۵ ص: ۲۹۷، ط: رشيدية، الباب الخامس في بيان محل إقامة الواجب، شامي ج: ۶ ص: ۳۲۳.

(۵) (يعني د حرم په حدودو کې يې د احرام په حالت کې ښکار کړی وي، د هغه جرم په بدل کې صدقه کوي. نو کولی شي چې د قرباني د کسانو سره ځان په يوه برخه باندې شريک کړي.

كتاب الكراهية

المكروه إلى الحرام أقرب، ونصّ محمّد - رحمه الله - أنّ كلّ مكروهٍ حرامٌ.

ترجمه: مکروه حرامو ته نږدې دی او امام محمد رَحِمَهُ اللهُ صراحتا ويلي دي چې هر مکروه حرام وي.

تشريح الفقهِ: قوله كتاب الخ: د كتاب الاضحية څخه وروسته يې د كتاب الكراهية بيان وكړو، د دواړو بابونو ترمنځ مناسبت ظاهر دی، ځکه چې ددې دواړو هيڅ اصل او فرع د کراهت څخه خالي نه ده، لکه: قرباني د شپې له خوا کول مکروه ده، خو د ورځې کراهت نه لري، دغه شان په ځاروي کې تصرف کول، لکه: وړی کاټول، شيدې يې لوشل يا د هغې په ځای بل ځاروی بدلول مکروه دي، همدا حالت د کتاب الکراهية هم دی، بيا د فقهي په کتابونو کې دا باب په مختلفو نومونو باندې ذکر شوی دی، امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په خپل جامع الصغير کې او امام طحاوي رَحِمَهُ اللهُ په خپل مختصر کې د کتاب الکراهية په عنوان سره موسوم کړی دی. مصنّف هم د دوی دواړو پيروي کړې ده، امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په خپل بل فقهي کتاب (الاصل) کې ترې په استحسان سره تعبير کړی دی، ډېرو عالمانو هم ددې عبارت پيروي کړې ده او په دې نوم باندې يې دا بحث وړاندې کړی دی، لکه: کافي، مبسوط، محيط او ذخيره کې همدا عنوان دی، امام کرخي په خپل مختصر کې په کتاب الحظر والاباحة سره ترې تعبير کړی دی، امام قدوري په خپل مختصر کې او علامه قاضي خان په خپله فتاوی کې همدا عنوان منتخب کړی دی، په تتمه، تحفه، ايضاح او نورو کتابونو کې همدا عنوان ذکر شوی دی (خو د هر يو عنوان لپاره خپل توجيهات دي)

قوله الكراهية الخ: کراهيت مصدر دی، په لغت کې ناخوښ ته وايي او د رضا ضد استعماليږي، الله تعالی فرمايي: «**وَعَسَىٰ أَن تَكْرَهُوا شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَعَسَىٰ أَن تُحِبُّوا شَيْئًا وَهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ**»، مکروه خلاف مندوب او خلاف محبوب هم استعماليږي، معتزله وايي چې کراهت د ارادې ضد دی، دا غلطه خبره ده، ځکه چې الله تعالی کفر او ګناهونه نه خوښوي، خو کفر او ګناهونه هم په مشيت او ارادې سره ترسره کيږي.

قوله المكروهُ الخ: لومړی دا معلومول پکار دي چې شرعي دلائل څلور دي: (۱) هغه چې ثبوت او دلالت دواړه يې قطعي او يقيني وي، لکه: قرآني ايتونه او متواتر صريحي حديثونه چې د هيڅ ډول تاويل احتمال پکې نشته، په دې سره يقين افاده کيږي، په دې سره فرض اعتقادي او حرام ثابتيږي. (۲) هغه چې ثبوت يې قطعي وي او دلالت يې ظني وي، لکه: هغه ايتونه او حديثونه چې د تاويل احتمال پکې وي، په دې سره د ظن افاده کيږي او په دې سره فرض عملي ثابتيږي، (۳) هغه چې ثبوت يې ظني وي او

دلالت يې يقيني وي، لکه اخبار احاد چې مفهوم يې قطعي وي، (۴) هغه چې ثبوت او دلالت يې دواړه ظني وي، لکه: اخبار آحاد محتمل المعاني، دا د سنيت او استحباب مفيد وي، نتيجه دا شوه: حرام هغه دي چې په دليل قطعي يقيني سره ممنوع وي، لکه: د شرابو ښنبل، مکروه تحريمي هغه دي چې په دليل ظني سره ممنوع وي، لکه: سمساره خوړل يا د شطرنج لوبه کول، اوس معلومه شوه چې امام محمد رَحِمَهُ اللهُ مکروه تحريمي ته د حرامو يو قسم وايي، حلال ورته نه وايي، ځکه چې ددې په حلت باندې هيڅ قاطع دليل نشته، هرکله چې هغه په خپلو کتابونو کې د کراهت اصطلاح استعمال کړي، د هغې څخه مراد حرام وي، خو مکروه تحريمي ته حرام قطعي هم نه ويل کيږي، ځکه چې ددې دليل قطعي نه دی کوم چې په حرمت باندې دلالت کوي، د شيخينو په نزد مکروه تحريمي په حلال غير قطعي کې داخل دی، ځکه چې د دوی په نزد په دې کې د حلت او حرمت دلائل متعارض دي، خو د حرمت جانب يې غالب وي، لهذا د شيخينو په نزد مکروه تحريمي نه حرام دي او نه د حرامو کوم قسم دی، بلکې حرامو ته نزدې دی، په جواهر الفتاوی کې دي چې مختار او صحيح قول د شيخينو دی. (د همدې وجې خو مصنف رَحِمَهُ اللهُ دا بحث مخکې کړو).

فصلٌ في الأكل والشّرب

كره لبن الأتان والأكل والشّرب والإدهان والتّطيّب من إناء ذهبٍ وفضّةٍ للرّجل والمرأة لا من رصاصٍ وزجاجٍ وبلّورٍ وعقيقٍ وحلّ الشّرب من إناءٍ مفضّضٍ والرّكوب على سرجٍ مفضّضٍ والجلوس على كرسيّ مفضّضٍ ويتّقي موضع الفضّة ويقبل قول الكافر في الحلّ والحرمة والمملوك والصّبيّ في الهديّة والإذن والفاسق في المعاملات لا في الديانات ومن دعى إلى وليمةٍ وثمّة لعبٌ وغناءٌ يقعد، ويأكل.

ترجمه: (دا فصل د خوړلو او څښلو د شيانو په بيان کې دی) د خرې شيدې مکروه دي، د سړي او ښځې لپاره د سرو زرو او سپينو زرو په لوښي کې خوراک، څښاک، تېل لګول او خوشبو لګول مکروه دي، نه دا چې د سيسې، شيشې، بلور او عقيق په لوښو کې، د سپينو زرو اوبه ورکړل شوي لوښي کې څښاک روا دی، د سپينو زرو اوبه ورکړل شوي زين باندې سوارلي کول او د سپينو زرو اوبه ورکړل شوي چوکۍ باندې کېنستل هم روا دي، په دې شرط چې د سپينو زرو د ځای څخه به ليرې وي، د کافر قول به په حلت او حرمت کې قبول وي، د غلام او ماشوم قول به په هديه او اجازت کې قبول وي، د فاسق قول په معاملاتو کې قبول دی: خو په ديانات کې قبول نه دی، هغه څوک چې د واده (وليمې) بلنې ته وغوښتل شو او هلته لوبې او سرود وي، نو هلته دې کېنيني او خوراک دې وکړي.

د خوراكي مكروه شيانو بيان

تَوْضِيْحُ اللُّغَةِ: (لبن) شيدې، (أتان) خر، (إِدْهَان) تېل لګول، (إناء) لوښي، (رصاص) سيسه، (زجاج) شيشه، (مفضّض) هغه شی چې د سپينو زرو اوبه ورکړل شوي وي، (سرج) زين، (لعب) لوبه او (غناء) سرود.

تشريح الفقهِ: **قوله وَالأكلُ الخ**: د سرو زرو او سپينو زرو په لوښو کې خوراک او څښاک کول. ددې څخه تېل اخيستل او په ځان باندې لګول د نارينه او ښځې دواړو لپاره مکروه دي. په حديث کې راځي: هغه څوک چې د سپينو زرو او سپينو زرو په لوښو کې خوراک او څښاک کوي، هغه خپله خېټه د جهنم له اور څخه کوي، دغه راز حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ځان لپاره اوبه وغوښتلې. نو غلام يې ورته د سپينو زرو په لوښي کې اوبه راوړلې. هغه ورته وفرمايل: "ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه اورېدلي دي چې وربښم او ديباج مه کاروئ، د سرو زرو او سپينو زرو په لوښو کې اوبه مه څښئ؛ او نه هم ددې په رکابيو (کاسو) کې خوراک کوئ، ځکه چې دا لوښي په دنيا کې د کافرانو لپاره دي او ستاسو لپاره په آخرت کې دي" هر کله چې په دې لوښو کې د خوراک او څښاک څخه منع راغله، نو ددې لوښو څخه تېل او خوشبو عطر کارول هم منع دي، (لأنّه فِيْ معناهُ).

قوله وحل الشربِ الخ: په منح الغفار کې د مفضض تفسير په مزوق سره شوی دی، په ځينې کتابونو کې په مرصّع سره شوی دی، په قهستاني کې په مزيّن سره شوی دی، يعنې هغه لوښی چې په سپينو زرو باندې ښايسته شوی وي او د سپينو زرو اوبه ورکول شوي وي، "په فارسی کې ورته سيم کوب ويل کيږي" په داسې لوښو کې بيا خوراک او څښاک کول حلال دي، داسې چوکۍ او زين استعمالول هم جائز دي، په دې شرط چې خوله او د کېنستو په ځای باندې سپين زر نه وي، د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد دا هم مکروه دي، د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ څخه دواړه روايتونه نقل شوي دي، امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې د لوښي بعضې جزء داسې دي لکه د لوښي په ټولو اجزاوو باندې چې سپين زر وي، لکه څنګه چې د کُل استعمال جائز نه دی، دغه شان د جزء استعمال هم جائز نه دی. (ولأبي حنيفةَ رَحِمَهُ اللهُ أنّ ذلكَ تابعٌ ولا معتبر بالتوابع).

قوله ويقبلُ الخ: په معاملات کې د يو سړي قول بالاجماع مقبول دی، برابره خبره ده چې هغه پرهېزګار وي اوّ که فاسق وي، ازاد وي او که غلام وي، نارينه وي او ښځه وي، مسلمان وي او که کافر وي، په دې شرط چې د رښتيا ګومان ورباندې غالب وي، خو په ديانات کې د يو کس قول معتبر نه دی، د

مصنّف رَحِمَهُ اللهُ ددې قول: (والحل والحرمة) مطلب همدا دی، يعني د کافر قول په هغه حلت او حرمت کې چې د معاملاتو په ضمن کې وي، هغه به مقبول وي. د معاملات څخه مراد هغه دي چې فيما بين الناس جاري وي، لکه: اخيستل، خرڅول، مضاربت، د تجارت اجازه ورکول او د ديانات څخه مراد هغه امور دي چې فيما بين الله وعباده جاري کيږي، لکه: عبادات، حلت او حرمت.

که کوم کافر ووايي: چې دا غوښه مې د يهودي يا نصراني څخه اخيستې ده، نو د هغې غوښې خوړل به حلال وي او که هغه ووايي چې دا غوښه مې د مجوسي څخه اخيستې ده، نو د هغې خوړل به حرام وي.

قوله ومَن دُعِيَ الخ: هغه څوک چې د واده بلنه ورکړل شي، هغه ته پکار ده چې بلنه قبوله کړي، ځکه چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: "هغه څوک چې دعوت قبول نه کړي، هغه د الله تعالی او د هغه د رسول نافرماني وکړه" خو ددې لپاره څو شرطونه دي: (۱) د هغه د راتلو څخه وړاندې ډول او سندرې نه وي، که ډول او سندرې وي، نو بيا دې داسې دعوت نه قبلوي. (۲) رابلل شوی کس به د خلکو مخکښ او مقتدیٰ نه وي، که هغه د خلکو لارښود او مقتدیٰ وي او د بلونکي کس په کور کې ډول. سورنا او سندرې وي، نو هلته دې نه ځي، بلکې پکار ده چې واپس لاړ شي، ددې لپاره چې په نورو خلکو باندې بد اثر ونه کړي، (۳) په کوم ځای کې چې يې دسترخوان اچولی وي، هلته لوبې او سندرې وغيره نه وي، کنه نو داسې دسترخوان ته به هم نه کښيني، ((فلا تقعدُ بعدَ الذِّكرٰی مَعَ القومِ الظّٰلِمِيْنَ)).

فصلٌ فی اللُّبس

حرم للرّجل لا للمرأة لبس الحرير إلّا قدر أربع أصابع وحلّ توسّده وافتراشه ولبس ما سداه حريرٌ ولحمته قطنٌ أو خزٌّ وعكسه حلّ فی الحرب فقط ولا يتحلّی الرّجل بالذّهب والفضّة إلّا بالخاتم والمنطقة وحلية السّيف من الفضّة والأفضل لغير السّلطان والقاضی ترك التّختّم.

ترجمه: (د اغوستلو بيان) د وريښمو اغوستل د نارينه لپاره حرام دي، نه د زنانه لپاره، د نارينه لپاره استثناء د څلورو ګوتو په اندازه ده. د وريښمو تکيه او ددې فرش حلال دی، د هغه کپړې استعمالول چې په اوږدو کې يې وريښم استعمال شوي وي او په لندو کې يې پخته يا وړۍ وي، ددې عکس جوړه استعمالول حلال دي په جنګونو کې، نارينه دې په سرو زرو او سپينو زرو باندې ښايست نه حاصلوي، مګر په ګوتمۍ، دايرې سره او د تورې د لاستې څخه کوم چې د سپينو زرو وي، د بادشاه او قاضي څخه بغير نورو خلکو لپاره غوره دا ده چې ګوتمۍ نه په لاس کوي.

د جامو د مكروهاتو بيان

تَوْضِيْحُ اللُّغَةِ: (لبس) اغوستل، (حرير) ورېښم، (توسد) تكيه لګول، (سد) اوږدوالى (ګز)، (لحمة) په لنډوالى (بر)، (قطن) پخته/ مالوچ، (حرب) جګړه، (يتحلّى) زېورات او ښايست كول، (خاتم) ګوتمۍ او (منطقه) ګول دايره، (حلية) زېورات (سيف) توره، (تختّم) ګوتمۍ په ګوته كې اچول

تشريح الفقهِ: **قوله حرم للرجل الخ**: د ورېښمو جامې يا هغه نرمې جامې چې د ورېښمو په شان وي، لكه بخمل، تافته، كم خاب، اطلس، ململ او داسې نورې... دا ټولې د ښځو لپاره حلالې دي او د نارينه وو لپاره حرامې دي، برابره خبره ده چې د بدن سره يې نږدې لګېدلې وي او كه ترې جدا وي. امام طحاوي د شمس الائمه حلوائي څخه نقل كړي دي چې همدا قول صحيح دی، ځكه چې رسول الله ﷺ فرمايي: "په دنيا كې به ورېښم هغه څوك اغوندي چې په اخرت كې يې برخه نه وي" او د ښځو لپاره د ورېښمو استعمال ددې حديث له وجې دی چې رسول الله ﷺ په خپل ښي لاس كې ورېښم او په چپ لاس كې سره زر ونيول، بيا يې وفرمايل: دا دواړه شيان زما د امت په نارينه وو باندې حرام دي، دغه شان په بل حديث كې دي: ورېښم او سره زر زما د امت په نارينه وو باندې حرام دي او د هغوی د ښځو لپاره حلال دي، خو د نارينه وو لپاره هم د څلورو ګوتو څخه په كمه اندازه باندې استعمالول جائز دي، ځكه چې په حديث كې هم ددې استثناء موجوده ده.

قوله وحلّ توسّده الخ: د ورېښمو د كپړې څخه تكيه جوړول او ددې فرش جوړول جائز دي، د ائمه ثلاثه او صاحبينو رحمهم الله په نزد حرام دي، په مواهب كې دي چې همدا قول صحيح دی، په شرنبلاليه كې يې ليكلي دي چې په صحيح، معتبرو او مشهورو متونو كې يې ددې خلاف ليكلي دي، فقيه ابو الليث سمرقندي امام ابو يوسف رحمه الله د امام ابو حنيفه رحمه الله سره يو ځای ذكر كړی دی، يعنې د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد هم د ورېښمو استعمال د فرش او تكيې لپاره جائز دی، په جامع صغير كې يوازې د امام محمد رحمه الله قول په حرمت باندې نقل شوی دی، هغه علماء چې د حرمت قائل دي، هغوی د روايت په عموم باندې استدلال نيسي او د امام صاحب رحمه الله استدلال د راشد د روايت څخه دی چې "ما د ابن عباس رضي الله عنه په فرش باندې مرفقه ورېښم وليدلو" او د كومې كپړې چې اوږدوالى چې په ورېښمو جوړ وي او په بر (لنډوالي) كې يې ورته پخته يا وړی، يا كتان وغيره يا د دريابي حيواناتو وېښته استعمال شوي وي، نو د هغې استعمال د شك پرته جائز دی، برابره خبره ده چې د جګړې پرمهال استعمال شي او كه د جنګ څخه بغير، وجه دا ده چې كپړه د لنډوالي له وجې جوړېږي

او په همدې طرف باندې ښايسته كيږي، نو لهذا د كپړې په حقيقت كې لنډوالى زيات معتبر دى او د وړى استعمال هم د ګڼو صحابه كرامو څخه ثابت دى.

قوله وعكسه الخ: د ماقبل عكس يعنې هر كله چې د كپړې اوږدوالى د وړى يا پختې وي؛ خو بر (لنډوالى) يې د ورېښمو وي، هغه يوازې د جنګ پرمهال استعمالول جائز دي، په دې شرط چې ښه ټينګه او غټه وي، د جنګ په صورت كې توره ورباندې ښوييږي او د دښمن له حملې څخه پرې انسان ځان ساتلى شي، كه د ورېښمو داسې كپړه باريكه (نرى) وي، نو بيا بالاتفاق يې استعمال حرام دى او هغه كپړه چې اوږد او لنډوالي دواړو حالتونو كې يې ورېښم وي، د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد د جنګ پرمهال هم داسې كپړه استعمالول حرام ده، د امام مالك او امام شافعي رَحِمَهُمَا اللهُ په نزد حلال ده، ځكه چې په دې سره دښمن باندې وېره راځي، امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ فرمايي: چې د حرمت په نصوصو كې د جنګ وغيره هيڅ شي استثناء او تعليل نه دى ذكر شوى.

قوله ولا يتحلّى الخ: د نارينه لپاره په سپينو زرو يا سرو زرو باندې ځان ښايسته كول په هيڅ حالت كې جائز نه دي، لكه دا خبره وړاندې هم وشوه، البته د ګوتمې په بند او د تورې په لاستې باندې د سپينو زرو ښايست كول جائز دي، په دې شرط چې د تكبر او لويى شبهه به نه وي، ځكه چې په روايت كې راځي: رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ځان لپاره د سپينو زرو ګوتمې جوړه كړې وه او حبشي غمې يې دلود، په هغه غمي باندې (الله، رسول، محمد) كيندل شوي و، دغه شان په حديث كې دي چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تورې لاستى د سپينو زرو و.

وحرُم التّختم بالحجر والحديد والصّفر والذّهب وحلّ مسمار الذّهب يجعل فى حجر الفصّ وشدّ السّنّ بالفضّة لا بالذّهب وكره إلباس ذهبٍ وحريرٍ صبيًّا لا الخرقة لوضوءٍ، ومخاطٍ والرّتم.

ترجمه: د كاڼي، اوسپنې، پيتلو او سرو زرو ګوتمه په لاس كول حرام دي. د سرو زرو مېخكي چې د غمي په سورو كې استعمال شي دا حلال دي. غاښ د سپينو زرو په تار باندې تړل جائز دي او د سرو زرو په تار باندې يې تړل ناجائز دي، ماشوم ته د سرو زرو او ورېښمو جوړه اغوستل مكروه دي؛ خو دستمال د اوداسه د اوبو وچولو يا پوزې پاكولو لپاره ورته مكروه نه دى او يا تار تړل د ياد پاتې كېدو لپاره.

تَوضِيحُ اللُّغَةِ (صفر) پيتل، (مسمار) مېخكي، (فص) غمي لګول، (مخاط) د پوزې ګرنګ، (رتم) هغه تار چې د كوم مقصد يادولو لپاره په ګوته يا لاس باندې تړل.

تشريح الفقهِ قوله وحرُم التّختم الخ: د سپينو زرو څخه بغير د بل شي ګوتمه په لاس كول حرام دي، لكه: د سرو زرو، كاڼي، اوسپنې، پيتلو، سيسې او داسې نورو شيانو. علامه سرخسي د عقيق او

يشب (۱) د جواز تصحيح کړې ده، دا اختلاف د ګوتمۍ د حلقې په باره کې دی او د غمي په اړه هيڅ اختلاف نشته، د ټولو عالمانو اتفاق دی چې ددې شيانو څخه غمۍ جوړول صحيح دی، د حلقې (دايرې) د جوړولو په حرمت باندې دليل دا دی چې يو ځل رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د يو سړي په لاس باندې د اوسپنې ګوتمه وليده، هغه ته يې وفرمايل: (مَالِيْ أَرٰى عليكَ حلية أهلِ النَّارِ) يو ځل يې د پيتلو ګوتمه وليده، نو د هغې په ليدلو سره يې وفرمايل: (مَالِي أجِدُ منكَ رِيحَ الأصنامِ) د ترمذي په روايت کې دي: بيا يې د سرو زرو ګوتمۍ وليده، نو وې فرمايل: (مَالِيْ أرٰى عليكَ حلية أهل الجنّة).

قوله وشدّ السنّ الخ: هغه غاښ چې خوزېږي د سپينو زرو په تار باندې يې تړل جائز دي، خو د سرو زرو په تار باندې يې تړل ناجائز دي، د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد جائز دي، ائمه ثلاثه هم همداسې وايي، د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ څخه دواړه روايتونه راغلي دي، د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ دليل دا دی چې عرفجه بن اسعد کناني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په پوزه باندې وهل خوړلي و، هغه د سپينو زرو پوزه ځانته ولګول، د هغې له وجې يې غوښې بد بوی ونيولو، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ته د سرو زرو د پوزې جوړولو اجازه ورکړه، دغه شان غاښ د سرو زرو په تار باندې تړل د ځينو مرفوع روايتونو څخه ثابت دی او داسې آثار هم راغلي دي، امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ فرمايي: په سرو زرو کې اصل حرمت دی او اباحت د ضرورت لپاره دی او ضرورت په سپينو زرو باندې پوره کيږي، لهذا سره زر به په خپل حرمت باندې باقي پاتې وي. (والضرورة فيما روى لم تندفع فى الأنف دونه حيث انتن).

فصلٌ فى النّظر واللّمس

لا ينظر إلى غير وجه الحرّة وكفّيها ولا ينظر من اشتهى إلى وجهها إلّا الحاكم والشّاهد وينظر الطّبيب إلى موضع مرضها وينظر الرّجل إلى الرّجل إلّا العورة والمرأة للمرأة والرّجل كالرّجل للرّجل وينظر الرّجل إلى فرج أمته وزوجته ووجه محرمه ورأسها وصدرها وساقيها، وعضديها لا إلى ظهرها وبطنها، وفخذها ويمسّ ما حلّ النّظر إليه وأمة غيره كمحرمه وله مسّ ذلك إن أراد الشّراء، وإن اشتهى ولا تعرض الأمة إذا بلغت فى إزارٍ واحدٍ والخصىّ والمجبوب والمخنّث كالفحل وعبدها كالأجنبىّ ويعزل عن أمته بلا إذنها وعن زوجته بإذنها.

ترجمه: (دا فصل د نظر او لاس لګولو په بيان کې دی) د ازادې ښځې مخ او لاسونو څخه علاوه نورو شيانو ته به نه ګوري، هغه څوک چې په خوند کې راځي هغه به د (ازادې) ښځې مخ ته هم نه ګوري، مګر حاکم او شاهد، ډاکټر به د ښځې د ناروغۍ ځای ته ګوري، سړی د بل سړي اندامونو ته کتلی شي

---

(۱): داسې قيمتي ډبره ده چې سبزی او شينوالي ته په رنګ کې نزدې کيږي. (فيروز اللغات اردو)

ماسوا د عورت څخه، ښځه د بلې ښځې او سړي لپاره د سړي په شان ده، سړی د خپلې وينزې او مېرمنې فرج (شرمګاه) ته او د خپلې محرمې مخ، سر، سينې او پنډۍ ته كتلی شي او د هغې دواړو څنګلو ته هم كتلی شي، نه د هغې ملا (شا)، خېټه (نس) ورون (كوناتي). لاس وړلی شي هغه اندامونو ته چې كتل ورته حلال دي، پردی وينزه د خپل محرمې (ښځې) په شان ده. هغې (وينزې) ته لاس وړلی شي كه د اخيستلو اراده يې وي. اګر چې په دې سره يې اشتهاء پورته كيږي. وينزه به يوازې په يوه جامه كې نه شي وړاندې كولی په هغه صورت كې چې بالغه شوې وي، خصي، هغه چې شرمګاه يې كاټ شوې وي او هيجړا د نارينه په شان دي او د ښځې غلام د پردي (نامحرم) په شان دی. د وينزې بې اجازې عزل كولی شي او د ښځې سره يې په اجازه باندې كولی شي.

ښځې ته د كتلو او لاس لګولو حكمونه

تشريح الفقه : قوله ولاينظر الخ: د غير محرم ټول بدن عورت دی، پرته له مخ او د لاسونو ورغوي چې هغې ته د ضرورت پرمهال كتل جائز دي، څكه چې په ايت كې راځي : (**وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا**) د (**إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا**) په تفسير كې د عايشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا څخه روايت دی چې ددې څخه مخ او د دواړو لاسونو ورغوي مراد دي، د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه الكحل او الخاتم مروي دی او مراد ترې موضع الكحل والخاتم دی: (**وهوَ الوجهُ والكفّ**).

فائده: ايا د پردی ښځې قدمونه په عورت كې داخل دي او كه نه دي؟ په دې اړه د عالمانو اختلاف دی.په هدايه او د قاضي خان په شرح جامع الصغير كې صراحتا موجود دي چې قدمونه په عورت كې داخل نه دي، په محيط كې همدا قول مختاره شوی دی، خو قاضي خان په خپله فتاوی كې د عورت كېدو تصريح كړې ده. اسبيجابي او مرغيناني همدا قول اختيار كړی دی، صاحب اختيار ددې قول تصحيح كړې ده، ويلي يې دي چې د پردی ښځې قدمونه په لمانځه كې عورت نه دي او د لمانځه څخه خارج بيا په عورت كې داخل دي، د منيه په شرح كې على الاطلاق د عورت كېدو قول ته ترجيح وركول شوې ده.

فصلٌ في الاستبراء وغيره

من ملك أمةً حرم عليه وطؤها، ولمسها والنّظر إلى فرجها بشهوةٍ حتّى يستبرء له أمتان أختان قبّلهما بشهوةٍ حرم وطء واحدةٍ منهما ودواعيه حتّى يحرم فرج الأخرى بملكٍ أو نكاحٍ أو عتقٍ وكره تقبيل الرّجل، ومعانقته في إزارٍ واحدٍ ولو كان عليه قميصٌ واحدٌ جاز كالمصافحةِ.

ترجمه: (د رحم د پاكولو او نورو شيانو بيان) هغه څوک چې د وينځې مالک شي، په هغه باندې د وينځې سره كوروالى كول، هغې ته لاس لګول او د هغې فرج (مخكينى شرمګاه) ته په خوند سره كتل حرام دى، تردې پورې چې هغې ته يو حيض راشي، د يو سړي سره دوه خويندې وينځې وي، دواړه يې په خوند باندې مچو كړې. اوس د يوې وينځې سره كوروالى كول يا د كوروالي لوازم ترسره كول د هغه لپاره حرام دي، تردې پورې چې د يوې وينځې شرمګاه په خان باندې حرامه كړي د ملكيت په ذريعه، د نكاح په ذريعه يا د عتق او ازادى په ذريعه، مكروه ده په يوه كپړه كې د نارينه څخه مچو اخيستل او غاړه وركول، كه په هغه باندې كميس هم وي، نو بيا (غاړه ملاول) داسې روا دي لكه څنګه چې لاس يو ځاى كول (ملاول) روا دي.

د رحم پاكولو وغيره حكمونه

تشريح الفقه: **قوله في الإستبراءِ الخ**: استبراء په لغت كې مطلق پاكوالي ته ويل كيږي، په اصطلاح كې د وينځې د مالک كېدو وروسته تر يو حيض پورې انتظار كولو ته ويل كيږي، ددې لپاره چې معلومات وشي ايا هغه حمل (ماشوم) لري او كه نه؟ كه حامله نه وي، نو مالک كولى شي چې هم هغه وخت خپل تصرف وكړي او كه حمل ولري؛ نو د حمل ليري كولو څخه وړاندې په وينځه كې تصرف نه شي كولى.

قوله من ملك الخ: هغه څوک چې د وينځې څخه د استمتاع (ګټې اخيستلو) مالک جوړ شي، نو تر كومه پورې چې د هغې د رحم (بچه دانى) د پاكوالي معلومات ونه شي، تر هغه پورې د مالک لپاره د هغې سره كوروالى كول، يا د كوروالي لوزمات (مچو اخيستل يا كونج ته كول) ترسره كول حرام دي، برابره خبره ده چې د هغه ملكيت د وينځې په اخيستلو سره ثابت شوى وي او كه په ميراث سره د وينځې مالک شوى وي، يا يې په جهاد كې نيولې وي يا بعد القبض د بيعې د فسخ كېدو وروسته د هغه لاسته راغلې وي، يا كوم كس ورته هبه كړې وي، يا په رجوع عن الهبه كې ورته ملاو شوې وي، يا په خلع، صدقه، وصيت، د اجارې بدل. يا كتابت يا د غلام د ازادى په بدل كې ورته ملاو شوې وي. (برابره خبره ده چې وينځه بالغه وي او كه نابالغه وي) يا يې د غلام څخه اخيستې وي او كه د خپلې

مېرمنې څخه يې اخيستې وي. يا يې د وينزې د محرم يا غير نسبي يا ماشوم څخه په روپو باندې اخيستې وي. په دې ټولو صورتونو کې که چېرته وينزه د ذوات الحيض د قبيلې څخه وي، نو د يو حيض تر راتلو پورې به انتظار کوي، که د ذوات الاشهر د قبيلې څخه وي، نو د يوې مياشتې تېرېدو پورې به انتظار کوي. د رحم د استبراء واجبېدو دليل دا دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اوطاس په جګړه کې د وينزو نيولو څخه وروسته وفرمايل : "د حامله ښځو سره د وضع حمل پورې او د غير حامله ښځو سره د يو ځل حيض راتلو پورې جماع (کوروالی) مه کوئ".

قوله له أمتانِ الخ: د يو سړي سره دوه وينزې وي چې دواړه د يو بل خويندې دي. هغه مالک د دواړو څخه مچو واخيسته. نو په ځان باندې يې دواړه حرامي کړې، نه د هغوی څخه مچو اخيستلی شي او نه يې هم کونج ته کولی شي چې ګپ شپ ورسره ولګوي. تر هغه پورې چې د يوې شرمګاه په ځان باندې حرامه نه کړي، د حرمت طريقه دا ده چې په هغوی کې يوه وينزه خرڅه کړي يا يوه وينزه هبه کړي يا هم يوه ازاده کړي او صحيح نکاح ورسره وکړي، وجه دا ده : لکه څرنګه چې جمع بين الاختين په ملک نکاحي کې حرامه ده په اتفاق د عالمانو سره، ځکه چې د قران کريم ايت دی : ﴿وَأَن تَجْمَعُواْ بَيْنَ الأُخْتَيْنِ﴾ همدا شان جمع بين الاختين په ملک يميني کې جمع کول حرام دي، دا چې دواعي د وطي په منزله د وطي او کوروالي سره دي. ددې وجې په دواعي د وطي کې هم جمع بين الاختين حرام ده.

قوله وکرهَ الخ: د يو سړي لپاره د بل سړي لاس يا خوله يا کوم بل اندام مچو کول يا د ښځې څخه مچو اخيستل، دغه راز يوازې په يوه کپړه (پرتوګ) کې معانقه کول د طرفينو په نزد مکروه ده، اګر چې د شهوت څخه خالي وي، د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد بلا شهوت معانقه کول او مچو اخيستل هيڅ خبره نه ده. ځکه چې د جعفر بن ابي طالب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره معانقه کول او د هغه تندی مچو کول د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه ثابت دي. د طرفينو دليل دا دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مکامعه (معانقه) او مکاعمه (تقبيل) څخه منع کړې ده، په حديث کې دي : يو سړي وويل : اې د الله تعالى رسوله! ايا زموږ څخه يو کس بل کس ته ښکته کېدی شي؟ وې فرمايل: نه! بيا يې وويل: ايا د يو بل سره معانقه کولی شو؟ هغه وفرمايل: نه! بيا يې وويل: د يو بل سره مصافحه کولی شو؟ هغه وفرمايل: هو! خو دا اختلاف په هغه صورت کې دی چې په بدن باندې کرته وغيره کميس نه وي، يوازې پرتوګ يې اغوستلی وي. کنه نو بلاکراهت د ائمه ثلاثه وو په نزد جائز دي. د هدايې مصنّف ددې قول تصحيح کړې ده او په عامو متونو کې هم همداسې ذکر دي

فصلٌ في البيع والإحتكارِ والاجارة وغيرها

كره بيع العذرة لا السّرقين له شراء أمةِ زَيْدٍ قال بكرٌ وكّلني زيدٌ ببيعها وكره لربّ الدّين أخذ ثمن خمرٍ باعها مسلمٌ لا كافرٌ.

ترجمه: (دا فصل د خرڅولو، جمع كولو او اجاره وغيره په بيان كې دى :) د مرادريو (غټ اودس ماتي) خرڅول مكروه دي؛ خو د سوټو (څارويو واله) مكروه نه دي، د زيد څخه وينزه اخيستل و چې بكر ووېل: زيد زه ددې وينزې د خرڅولو وكيل جوړ كړى يم. د قرض غوښتونكي لپاره مكروه دي د هغه شرابو قيمت اخيستل چې مسلمان خرڅ كړي وي، كه كافر خرڅ كړي وي، نو بيا يې اخيستل جائز دي.

تشريح الفقهِ : قوله كرهَ الخ: د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد د خالص مرداري خرڅول مكروه دي، برجندي د خزانې په حواله ذكر كړي دي چې داسې بيع باطله ده، كه په دې كې خاوره وغيره شيان يو ځاى شوي وي، نو بيا يې خرڅول جائز دي. خو په زيلعي كې دي چې د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ څخه صحيح قول دا نقل دى چې د خاص مرداري څخه ګټه اخيستل جائز دي، د څارويو د سوټو، پچو او خوشيانو خرڅول جائز دي. ځكه چې دا شيان په كښت كې پكار راځي، د ائمه ثلاثه وو په نزد ددې شيانو بيع جائز نه ده.

قوله وشراء الخ: د زيد وينزه وي، بكر غواړي چې هغه وينزه خرڅه كړي او وايي چې زيد زه ددې وينزې د خرڅولو وكيل جوړ كړى يم. نو خپله د بكر لپاره د وينزې اخيستل او د هغې سره كوروالى كول جائز دي، ځكه چې خبر وركوونكي د يوې معاملې خبر وركړو او په معاملاتو كې د يو رښتيني مخبر قول به قبول وي.

قوله وكرهَ الخ: د يو مسلمان په بل مسلمان باندې قرض وي، مقروض شراب خرڅ كړه او ثمن يې وصول كړه، غوښتل يې چې ددې څخه د قرض غوښتونكي قرض وركړي. نو د قرض غوښتونكي لپاره د خپل قرض په بدل كې د شرابو ثمن اخيستل جائز نه دي او كه خرڅوونكى يې كافر وي، نو بيا خپل ثمن اخيستل جائز دي. وجه دا ده چې په لومړي صورت كې (كله چې مسلمان شراب خرڅ كړي) بيع باطله ده، ځكه چې د مسلمان په حق كې شراب مال متقوم نه دي، نو لهذا ثمن د مشتري په ملكيت كې باقي پاتې شو، ددې وجې يې قرض غوښتونكى د بائع څخه نه شي اخيستلى او په دويم صورت كې بيع صحيح ده، ځكه چې د كافر په حق كې شراب مال متقوم دى، لهذا بائع د ثمن مالك جوړ شو، ددې وجې يې قرض غوښتونكى هم د هغه څخه قرض اخيستلى شي، اګر چې هغه شراب خرڅ كړي وي او پيسې يې لاسته راوړې وي.

واحتكارُ قوت الآدميّ والبهيمة في بلدٍ يضرّ بأهله لا غلّة ضيعته، وما جلبه من بلدٍ آخر ولا يسعّر السّلطان إلّا أن يتعدّى أرباب الطّعام عن القيمة تعدّيًا فاحشًا وجاز بيع العصير من خمّارٍ وإجارة بيتٍ ليتّخذه بيت نارٍ أو بيعةً أو كنيسةً أو يباع فيه خمرٌ بالسّواد وحمل خمرٍ لذمّيٍّ بأجرٍ وبيع بناء بيوت مكّة، وأراضيها وتعشير المصحف ونقطه وتحليته ودخول ذمّيٍّ مسجدًا وعيادته وخصاء البهائم وإنزاء الحمير على الخيل وقبول هديّة العبد التّاجر وإجابة دعوته واستعارة دابّته وكره كسوته الثّوب وهديّته النّقدين واستخدام الخصيّ.

ترجمه: مکروه ده چې د انسانانو او څارويو غزا په داسې ښار کې ذخيره کړی شي چې اوسېدونکو ته بې زيان وي، البته د خپلې ځمکې غله جمع کول او هغه غله چې د بل ښار څخه راوړل شوې وي. بادشاه دې نرخ نه ټاکي تر هغه پورې چې خلک د حد څخه تجاوز ونه کړي. جائز دي د شيرې خرڅول د شراب جوړونکي په لاس باندې، اور پرستو خلکو ته کور په کرايه ورکول چې هغوی عبادت خونه جوړه کړي. يا کليسا جوړه کړي يا دا چې په هغې کې د ښار په کليوالو باندې شراب خرڅ کړي. د ذمي شراب پورته کول په مزدوری باندې، د مکې مکرمې د مکانونو عمارت او ځمکه خرڅول. د قران کريم په لسو ايتونو باندې نښې لګول، نقطې او اعراب لګول، د هغې ښايسته کول او د ذمي جومات ته داخلېدل. د هغه د ناروغی پوښتنه کول، د څارويو خصي کول، د خرو په اسونو باندې خېژول. د تاجر غلام ډالی قبلول، د هغه بلنه منل او د هغه څخه په عاريت باندې سوارلی غوښتل، د تاجر غلام کپړه اغوستل مکروه دي. روپی ډالی کول او د خصي څخه خدمت اخيستل.

تَوْضِيحُ اللُّغَةِ: (احتکار) په ګران قيمت باندې اخيستلو لپاره يو شی ساتل، (قوت) غذا، (بهيمة) څاروي. (ضيعة) خپله ځمکه، (غلة) حاصلات (جلبة) د بهرون څخه راوړل، (يسعر تسعيرًا) قيمت ټاکل، (عصير) شيره جوړول، (خمّار) شراب خرڅوونکی، (سواد) د ښار شاوخوا ابادي، (تحلية) ښايسته کول، (خصاء) خصي کول، (بهائم) د بهيمة جمع ده، څاروي ته ويل کيږي، (انزاء) نر حيوان په ماده باندې خېژول، (حُمُر) د حمارٌ جمع ده.

تشريح الفقهِ: **قوله واحتكار قوت الآدميّ الخ**: د انسانانو او څارويو خوراکي توکي ددې لپاره د خان سره ساتل او وروسته خرڅول چې په ګران قيمت باندې خرڅ شي، د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد داسې معامله مکروه تحريمي ده، په هغه صورت کې چې د ښار خلکو ته پکې تاوان وي او په دې قول باندې فتوی ده، ځکه چې د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارشاد دی: چې جالب (هغه څوک چې د ښار څخه بهرون حاصلات اخلي او بيا يې ښار ته د خرڅلاو لپاره راوړي، دا انسان مرزوق دی) يعنې د هغه په روزی کې برکت دی او محتکر (هغه څوک چې د ګرانی په طمع باندې مالونه جمع کوي، دا سړی ملعون دی) بيا

د احتکار ثبوت د څلوېښتو ورځو او ددې څخه تر کمو ورځو پورې جائز دی، څکه چې رسول الله ﷺ فرمايي: هغه څوک چې د څلوېښتو ورځو څخه زيات وخت غله وساتي، نو هغه د الله تعالی څخه او الله تعالی د هغه څخه بېزاره دی. مګر دا چې د خپلې ځمکې غله او حاصلات يې وي. يا دا چې د بل ښار څخه يې راوړي وي، نو د هغې ذخيره کول په احتکار کې داخل نه دي. امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي: که هغه د داسې ځای څخه خوراکي توکي راوړي وي چې نور ښاريان يې هم د هغه ځای څخه راوړي، نو دا مکروه دي او که د داسې ښار څخه يې راوړي وي چې نور ښاريان يې د هغه ځای څخه نه راوړي: نو بيا يې احتکار مکروه نه دی.

يادونه: فقيه ابوالليث په شرح جامع الصغير کې ويلي دي چې د احتکار درې صورتونه دي: يو صورت صحيح، دويم مکروه او دريم صورت مختلف فيه دی، مکروه صورت دا دی چې غله په ښار کې واخلي او خرڅه يې نه کړي، ښاريانو ته د هغه له وجې تکليف رسيږي، صحيح صورت دا دی چې د خپلې ځمکې غله او حاصلات وي، يا دا چې د بل ښار څخه يې راوړي وي. يا دا چې په همغه ښار کې يې اخيستې وي، خو د هغه له ځان سره ساتل خلکو ته د تکليف وړ نه وي. (يعنې د هغه له احتکار له وجې خلکو ته هيڅ تکليف نه رسيږي) مختلف فيه صورت دا دی چې د ښار سره نږدې کليو څخه غله واخلي او ښار ته يې راورسوي او دلته يې له ځان سره وساتي، د امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد دا صورت صحيح دی او د امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد مکروه دی، د هدايې مصنّف چې د مجلوب کوم صورت مکروه ګڼلی دی هغه د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد مکروه دی، دا غير مسلم صورت دی. څکه چې فقيه ابوالليث سمرقندي دا صورت په متفق عليه کې شمار کړی دی، دغه شان قدوري په کتاب التقريب کې د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللَّهُ قول نقل کړی دی: که غله د نيمايي ميل په اندازه ليري ځای څخه راوړي، نو دا په احتکار کې نه شامليږي، نو د بل ښار څخه راوړل شوې غله به څنګه په احتکار کې شامله وي.

قوله ولايسعر الخ: قيمت دې نه ټاکي، څکه چې په روايت کې راځي: خلکو وويل: اې د الله تعالی رسوله! قيمتونه زيات شول، زموږ لپاره يو قيمت وټاکئ! هغه وفرمايل: په تحقيق سره د قيمتونو ټاکونکی، قابض، باسط او رازق ذات هم هغه دی، يعنې د غلې تنګي او پراخي د هغه په واک کې ده، خو دا چې د غلې په قيمت کې د حد څخه زيات تجاوز وشي. نو په دې صورت کې يې حاکم د خلکو د اهل الرايه په مشوره د شيانو لپاره قيمتونه ټاکلی شي، د امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد په دې صورت کې په حاکم باندې د قيمتونو ټاکل واجب دي.

قوله وإجارة الخ: په کليوالي سيمو کې د آتش خانې او کليسا جوړولو لپاره کور په کرايه باندې ورکول د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد صحيح دي، د صاحبينو او ائمه ثلاثه وو رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد مناسب نه دي، ځکه چې دا په ګناه باندې اعانت دی. فخر الاسلام او شمس الائمه سرخسي همدا قول مختار کړی دی، وقد قال الله تعالی: ﴿وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ﴾ امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې عقد اجاره د مکان په منفعت باندې ده او په دې کې د معصيت هيڅ خبره نشته. البته معصيت د مستاجر په کار کې دی او هغه دده اختياري فعل دی.

قوله وبيع بناء الخ: په مکه مکرمه کې د عمارت خرڅول په اتفاق د عالمانو جائز دي، د صاحبينو په نزد د هغه ځای ځمکه د نورو ځايونو په خلکو باندې خرڅول جائز دي، د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ څخه هم دا روايت نقل شوی دی، د کنز په شرح عيني کې دي چې په دې قول باندې فتوی ده، ځکه چې د کورونو (عمارتونو او ابادی) په شان ځمکې هم د خلکو ملکيت دي، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: (وهل ترك لنا عقيل من ربع) ددې خبرې واضح دليل دی چې د هغه ځای ځمکې هم د يو ملکيت څخه بل ملکيت ته د انتقال قابلې دي، دغه شان د هغه ځای ابادي او ځمکې د رواج سره سم د يو ملکيت څخه منتقل کيږي او د نورو کسانو ملکيت ګرځي، بلکې دا خبره هلته ښه مشهوره ده، د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ دليل د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا ارشاد دی: "مكة مناخ لايباع رباعها ولايواجر بيوتها".

قوله وتعشير الخ: د برهان مصنّف ويلي دي: اصلي دا ده چې د قران کريم په هرو لسو ايتونو باندې يوه نښه ولګول شي، دغه شان نقطې يعنې اعراب يې په کتابي شکل باندې ښکاره کول مکروه دي، ځکه چې عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي: "قران کريم مجرد پريږدئ، په دې کې هغه شيان مه شاملوئ چې په قران کې شامل نه وي" خو متاخرينو د اسانی په خاطر د اعراب ښکاره لګول مستحسن کار وګڼلو، ځکه چې د عجمو لپاره دا کار ضروري و.

قوله ودخول ذمّيّ الخ: د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد ذميان جومات ته داخليدی شي، برابره خبره ده چې مسجد حرام وي او که د مسجد حرام څخه علاوه نور جوماتونه وي، د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد هيڅ جومات ته نه شي داخليدی، د امام محمد، امام شافعي او امام احمد رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد د مسجد حرام څخه بغير نورو ټولو جوماتونو ته داخليدی شي، د عدم جواز لپاره يې دليل د قران کريم دا ايت دی: ﴿إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هَذَا﴾ د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ لپاره دليل دا دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د ثقيف يو وفد راغلو، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغوی ته حکم وکړو چې په جومات کې انتظار وکړي، د هغوی لپاره يې د جومات په وروستی برخه کې قبه ولګول،

صحابه كرامو وفرمايل: اې د الله تعالى رسوله! دوى خو مشركين دي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: (إِنَّ الأَرْضَ لا تنجسُ إِنَّمَا ينجس ابن آدم) د ايت كريمه څواب دا دى چې "لَا يَقْرَبُوا" نهى چې ده دا نهي تكويني ده. نهي تكليفي [1] نه ده. مطلب دا شو چې الله تعالى په مشركينو كې د مسجد حرام نژدېوالى نه پيدا كوي.

والدّعاء بمعقد العزّ من عرشك وبحقّ فلانٍ واللّعب بالشّطرنج والنّرد وكلّ لهوٍ وجعل الرّاية في عنق العبد وحلّ قيده والحقنة ورزق القاضي وسفر الأمة وأمّ الولد بلا محرمٍ وشراء ما لا بدّ للصّغير منه وبيعه للعمّ والأمّ والملتقط لو في حجرهم وتؤجّره أمّه فقط.

ترجمه: د عزت جوړېدو په عقد (يا ځاى د كېښستو باندې) دعا غوښتل يا د فلاني په حق باندې دعا غوښتل. يا لوبه كول په شطرنج، نرد شېر او نورو لوبو سره يا د غلامى نښان استعمالول د غلام په غاړه كې او حلال دي د غلام بندي كول، حقنه كول، د قاضي روزانه تړاكل. د وينځې او ام ولد بلا محرم سفر كول، د ماشوم لپاره د ضروري شيانو اخيستل او خرڅول. تره او مور او د غورځېدلي ماشوم د پورته كوونكي لپاره. كه هغه دده په تربيه او پالنه كې راغلو، د ماشوم مور ماشوم په مزدورى باندې وركولى شي.

تَوْضِيْحُ اللُّغَةِ: (نرد) دا يوه لوبه ده چې د ارد شير بن بابک په نوم يو سړي ايجاد كړې ده، (قاموس) په قهستاني كې دي چې دا لوبه د شاپور بن ارد شير د موضوعات څخه دي، كوم چې د ساساني بادشاهانو څخه يو مشهوُر بادشاه و، (راية) د غلامى نښه لګول، لكه د اوسپنې طوق يا داسې نور...، (عنق) غاړه، (حجر) غېږ، لمن.

تشريح الفقهِ: **قوله والدّعاء بمعقد العزّ الخ**: د معقد په لفظ سره د دعا كولو دوه صورتونه دي: يو دا چې مقعد وويل شي (د قاف په مخكې كولو او د عين په وروسته كولو سره) دويم دا چې معقد ولوستل شي، (د عين په مخكې كولو او قاف په وروسته كولو سره) په دواړو صورتونو كې دې الفاظو سره دعا كول مكروه دي، ځكه چې مقعد د قعود څخه مشتق دى، په دې صورت كې تمكن په عرش باندې ثابت دى كوم چې د مجسمه وو قول دى او دا بالكل غلط دى. دويم صورت ځكه مكروه دى چې عرش ته موضوع عقد عزت ويل وهم او حدوث دى. ځكه چې عرش قديم نه دى، بلكې حادث دى، لهذا

---

[1]: تكوين د كون څخه اخيستل شوى دى، د ماتريديه په نزد دا هغه قديمي صفت دى چې د افعالو صفاتو ته راجع كيږي، په تكويني او تكليفي كې فرق دى، د امر تكويني څخه امتثال عقلا نه متخلّف كيږي او د امر تكليفي څخه متخلّف كيږي، د امر تكويني مثال: (اِئْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا) او د امر تكليفي مثال: (أَقِيمُوا الصَّلٰوةَ) وغيره دي.

هغه عزت چې د عرش پورې متعلق شي، هغه به هم حادث وي، حال دا چې الله تعالی قدیم ذات دی. د امام ابویوسف رَحِمَهُ اللهُ څخه روایت دی چې دولس رکعته نفل لمونځ وکړئ، د هغې څخه وروسته دا دعا ولولئ: (اللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ الْعِزَّ بِمَعَاقِدِ الْعِزِّ مِنْ عَرْشِكَ) ځواب دا دی چې لومړی دا روایت د ابن الجوزي په حواله بالکل موضوع دی. ابن معین او ابن حبان ددې قول تکذیب کړی دی، دویم دا چې دا قول خبر واحد دی. لهذا احتیاط په دې کې دی چې ددې دعا څخه انسان پرهیز وکړي.

قوله واللَّعِبُ الخ: که د شطرنج لوبه د قمار په توګه کیږي، بیا خو په میسر کې داخل دی او ددې حرمت په قران کریم سره ثابت دی: (إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ) که دا لوبه د قمار په توګه نه وي، بیا هم لهو او لعب شمارل کیږي او دا ناجائز عمل دی. په حدیث کې دي: د مسلمان هره لوبه حرامه ده، پرته له درې لوبو څخه: یو له هغې څخه د خپلې مېرمنې سره لوبه کول، دویم خپل اس ته ښودنه او تعلیم ورکول او دریم د نښې ویشتلو لپاره غشي ویشتل. د امام شافعي او امام ابویوسف رَحِمَهُمَا اللهُ څخه اباحت مروي دی، په دې شرط چې د قمار بازی او دوام په توګه نه وي او د واجباتو ادا کولو مثلاً: د جمعې لمونځ او پنځه وخته لمونځونو په جماعت سره د ادا کولو مانع نه وي، کنه نو د ټولو په نزد به حرام وي، دغه شان د نرد شیر لوبه کول مکروه تحریمي ده، ځکه چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارشاد دی: هغه څوک چې په نرد شیر کې مصروف شو، هغه خپل لاس د خنزیر په وینو باندې رنګ کړو.

كتاب إحياء الموات

هی أرضٌ تعذّر زرعها لانقطاع الماء عنها أو لغلبته عليها غير مملوكةٍ بعيدةٌ من العامر، ومن أحياه بإذن الإمام ملكه وإن حجّر لا ولا يجوز إحياء ما قرب من العامر.

ترجمه: هغه ځمکه ده چې کښت کول یې ګران وي ددې وجې چې اوبه نه وي یا د اوبو د غالبه کېدو له وجې او هغه د کوم کس ملکیت نه وي او د ابادی څخه لیرې وي، هغه څوک چې داسې ځمکه د امام په اجازه باندې ژوندی کړي: نو هغه به یې مالک شي. که د کاڼو او ډبرو دېوال یې تاو کړو. نو هغه به مالک نه جوړیږي. جائزه نه ده د هغې ځمکې ژوندي کول چې ابادی ته نژدې وي.

تشريح الفقه: **قوله كتاب الخ**: په دې کتاب کې د مکروه او غیر مکروه دواړو بیان موجود دی. په دې سره مناسبت سره یې د کتاب الکراهیة څخه وروسته ذکر کړو.

قوله الموات الخ: موات لکه غراب او سحاب دی، په لغت کې هغې ځمکې ته ویل کیږي چې مالک یې نه وي. (فِي الصِّحَاحِ) "المواتُ بِالفتحِ مَا لَا روحَ فِيهِ وَالمواتُ أَيضًا الأَرضُ الَّتِي لَا مَالِكَ لَهَا مِنَ الآدَمِيِّينَ."

احياء د حيات څخه اخيستل شوی دی، ددې دوه قسمونه دي : حاسهناميه، حيات حاسه، په کوم سره چې حس او حرکت حاصل شي، حيات ناميه په کوم سره چې نمو حاصله شي، دلته ناميه مراد دی، يعنې په ځمکه کې د داسې قوت پيدا کېدل چې قابل د کښت وکرځي، په اصطلاح کې ارض موات هغه غير مملوک ځمکې ته ويل کيږي چې د ابادی څخه ليرې وي يا د اوبو نه موجودېدلو يا د ډېرو اوبو موجودېدلو له وجې کښت کول پکې ګران وي، د امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد د ارض موات لپاره د اهل قريې نه منتفع کېدل معتبر دي، برابره خبره ده چې ځمکه د کلي څخه ليرې وي او که نږدې وي، د ائمه ثلاثه وو رَحِمَهُمُ اللَّهُ هم همدا قول دی، همدا ظاهر الرواية دی، په فتاوی کبری، قهستاني، برجندي وغيره کې دي چې په دې باندې فتوی ده.

قوله ومن أحياهُ الخ: څوک چې مړه ځمکه د حاکم په اجازه قابل د زراعت کړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد به هغه مالک کړی شي، د صاحبينو په نزد د حاکم د حکم څخه بغير مالک کيږي، د ائمه ثلاثه هم همدا قول دی، فرمايي چې په حديث کې راځي : "**مَنْ أَحْيَا أَرْضًا مَيْتَةً فَهِيَ لَهُ**" په دې حديث کې د اذن او عدم اذن قيد نشته، د امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ دليل د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارشاد دی: "**لَيسَ للمرءِ إِلَّا مَا طَابَتْ بِهِ نفسُ أمامه**" او که څوک په داسې ځمکه کې يوازې د کاڼو او ډېرو دېوال تاو کړي، نو په دې سره به هغه مالک نه جوړېږي.

ومن حفر بئرًا في مواتٍ فله حريمها أربعون ذراعًا من كلّ جانبٍ وحريم العين خمسمائةٍ فمن حفر في حريمها منع منه وللقناة حريمٌ بقدر ما يصلحه وما عدل عنه الفرات، ولم يحتمل عوده إليه فهو مواتٌ وإن احتمل لا ولا حريم للنّهر.

ترجمه : څوک چې په ورانه ځمکه کې کوهی وکندي، د هغه لپاره به يې تر څلوېښت ګزو پورې هره خواته حريم وي، د چشمې حريم پنځه سوه ګزه دی، څوک چې ددې په حريم کې کوهی وکندي، هغه به بند کړي، د ويالې لپاره دومره اندازه حريم وي چې مناسب وي، د کومې ځمکې څخه چې فرات واوړي، بيا د راتلو احتمال نه وي، نو هغه به موات ګڼل کيږي، که د فرات راتلو احتمال وي، نو بيا به موات نه وي او د نهر لپاره هيڅ حريم نشته.

د كوهيانو او چشمو وغيره د حريم بيان

توضيحُ اللُّغَةِ: (حفر) كيندل. (حريم) شاوخوا لوى خالي ميدان او ځاى. (عين) چشمه او چينه. (قناة) د اوبو نرى وياله.

تشريحُ الفقهِ: **قوله ومن حفر بئرًا الخ**: يو سړي په غير اباده ځمكه كې د حاكم په اجازه (بالاتفاق) يا د حاكم بې اجازې (د صاحبينو په نزد) كوهى وكيندلو، نو د هغې شاوخوا هره خوا به څلوېښت ګزه حريم وي، يعنې په څلوېښت ګزه كې داخل به څوک كوهى نه كيندي، برابره خبره ده چې د هغه كوهى بئر عطن وي او كه بئر ناضح وي. د صاحبينو په نزد د بئر عطن حريم څلوېښت ګزه دى او د بئر ناضح حريم شپېته ګزه دى، د چشمې حريم په اتفاق سره پنځه سوه ګزه دى. د امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا اللهُ په نزد د حريم په اړه د عرف اعتبار دى، د صاحبينو دليل د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارشاد دى: د چشمې حريم پنځه سوه ګزه دى، د بئر عطن حريم څلوېښت ګزه دى او د بئر ناضح حريم شپېته ګزه دى، د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ دليل دا دى چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: (**مَنْ حَفَرَ بِئْرًا فَلَهُ مِمَّا حَوْلَهَا أَرْبَعُوْنَ ذِرَاعًا**) دا حديث عام دى، په دې كې د عطن او ناضح هيڅ تفصيل نشته. (**والعمل على العام المتفق أولى عنده من الخاص المختلفِ**).

قوله ولا حريمَ الخ: كوم نهر چې د بل سړي په ملكيت كې داخل وي، د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد هغه لپاره حريم نشته. د صاحبينو په نزد د ضرورت په اندازه حريم لري، يعنې دومره اندازه چې د نهر په غاړه سړى تلى شي، دغه شان كه نهر د خاورو څخه ډک شي، نو د نهر د خالي كولو پرمهال بايد خاوره وويستل شي او د نهر په غاړه وغورځول شي.

په قهستاني كې د تتمه څخه، په شرح مجمع كې د محيط څخه او په شرنبلاليه كې د اختيار څخه اخيستل شوي دي چې همدا صحيح قول دى، **وفي السراجيّة: قَالَ حسامُ الدّين: وَالصحيحُ أنّه يستحق الحريم** بيا د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد د نهر د غاړې اندازه د نهر د بر (عرض) برابر پكار ده. (دواړو طرفونو ته) د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد اندازه يې د نهر د بطن په نيمايي برابر ده. په قهستاني كې د كرماني څخه او په برجندي كې د نوازل څخه منقول دي چې فتوى د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ په قول ده. **وفي الكُبْرٰى أيْضًا: أنّ الفتوٰى على قولِ أبِيْ يوسفَ**.

يادونه: په شرح مجمع كې د كفاية څخه منقول دي چې د امام صاحب او صاحبينو ترمنځ اختلاف په لوى نهر كې دى، هغه چې هر وخت يې د خاورې پاكولو ته ضرورت نه وي. كه نهر وړوكى وي. هغه

چې د خاورې پاکولو ته یې هر وخت ضرورت پیښیږي، نو د داسې نهر حریم به بالاتفاق ثابت وي، په قهستاني کې د کرماني څخه منقول دي چې اختلاف په مملوک نهر کې دی، هغه چې غاړې یې د ونو څخه خالي وي او د هغې خوا ته د نهر والاڅخه بغیر د بل چا ځمکه لګېدلې وي، په دې صورت کې د صاحبینو په نزد د نهر غاړه د نهر والا مملوک ده او د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد د ځمکې والا مملوک ده، که د نهر غاړه خالي نه وي، بلکې د نهر والا یا د نزدې ځمکې والاونې وغیره څه وي، نو بالاتفاق د ونو مالک به د نهر د غاړې مالک ګڼل کیږي، (طحطاوي عن الدرر) په عیني کې د قاضي خان څخه منقول دي: که د نهر غاړه د نهر په اندازه نه وي، بلکې پورته وي، نو دا به د نهر والا مملوکه ګڼل کیږي، وجه دا ده چې د نهر غاړه د نهر په خاورو سره پورته شوې ده.

فَصلٌ فِي الشِّربِ

هو نصيب الماء الأنهار العظام كدجلة والفرات غير مملوكٍ ولكلٍّ أن يسقى أرضه، ويتوضأ به، ويشربه وينصب الرّحى عليه، ويكرى نهرًا منها إلى أرضه إن لم يضرّ بالعامّة وفي الأنهار المملوكة والآبار والحياض لكلٍّ شربه وسقى دابته لا أرضه وإن خيف تخريب النّهر لكثرة البقر يمنع والمحرّز في الكوز والجبّ لا ينتفع به إلّا بإذن صاحبه وكرى نهرٍ غير مملوكٍ من بيت المال فإن لم يكن فيه شيءٌ يجبر النّاس على كريه وكرى ما هو مملوكٌ على أهله ويجبر الآبي على كريه.

ترجمه: (د اوبو د نمبر بیان) شِرب په لویو لویو نهرونو کې د اوبو نمبر ته ویل کیږي، لکه: دجله او فرات چې د یو کس مملوک نه دي، هر سړی کولی شي چې خپلې ځمکې ته ترې اوبه ورکړي، اودس ترې کولی شي، څښلی یې شي، ژرنده پرې درولی شي، ددې څخه خپلې ځمکې ته نهر ویستلی شي، په دې شرط چې خلکو ته زیان ونه رسیږي او کوم نهرونه چې د چا ملکیت ګڼل کیږي یا کوهي یا حوضونو څخه یې هر سړی څښلی شي او څارویو ته یې ورکولی شي، خو خپله ځمکه نه شي اوبه کولی، که د زیات کنستلو له وجې د نهر د خرابېدو وېره وي، نو هغوی به منع کولی شي او کومې اوبه چې محفوظې وي په منګیو او متېکو کې، د هغې څخه به ګټه نه شي اخیستلی، مګر دا چې مالک یې اجازه ورکړي، د غیر مملوک نهر پاکوالی به په بیت المال باندې وي، که په هغې کې هیڅ شی نه وي، نو خلک به پرې مجبوره کولی شي، د مملوک کوهي پاکوالی د هغې د مالک ذمه واري ده، نو انکار کوونکي به د هغې په پاکوالي باندې مجبوره کولی شي.

داوبود نمبر (وار) بيان

توضيحُ اللُّغَةِ : (شِرب) د اوبو نمبر، (رُحٰی) ژرنده، (يکری) د نهر کنستل، (آبار) د بئر جمع ده، کوهي ته ويل کيږي، (حياض) د حوض جمع ده، د اوبو ډنډ او تالاب ته ويل کيږي، (بقوں) د بقر څخه اخيستل شوی دی، کنستلو، شکولو ته ويل کيږي، (محرز) جمع شويو اوبو ته ويل کيږي، (کوز) کوزې ته ويل کيږي، (جب) منګی او متکه، (آبی) انکار کوونکی.

تشريح الفقهِ : قوله الأنهار الخ: لوی لوی نهرونه، (لکه : د بغداد نهر چې فرات ورته ويل کيږي، د کوفې نهر چې نيل ورته ويل کيږي، د مصر درياب چې ګنګاجمنا ورته ويل کيږي، د هند درياب او د کابل سيند) چې د يو کس مملوک هم نه دي، د لمر او سپوږمۍ په شان ددې څخه هم هر سړی ګټه اخيستلی شي، مثلا : اوبه څښل، اودس کول، څاروي اوبه کول، ځمکه خړوبول، ژرنده جوړول، ځکه چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي : ټول مسلمانان په درې شيانو کې شريکان دي : واښه، اوبه او اور، دغه شان د لويو سيندونو څخه د خپلې ځمکې خړوبولو لپاره نهر کنستل جائز دي، په دې شرط چې د نهر په کنستلو سره عامو خلکو ته تاوان ونه رسيږي، که د نهر په کنستلو سره خلکو ته تاوان رسيږي. مثلا: د نهر غاړې خرابېدو سره اوبه د خلکو کليو او کورونو ته لاړې شي، هغوی ته به زيان ورسوي او د هغوی ځمکې به لاندې کړي، نو په دې صورت کې به نهر کنستل صحيح نه وي، ځکه چې د عوامو خلکو څخه د ضرر ختمول دا ضروري کار دی.

ومؤنة كرى النّهر المشترك عليهم من أعلاه فإن جاوز أرض رجلٍ برىءَ ولا كرى على أهل الشّفة وتصحّ دعوى الشّرب بغير أرضٍ نهرٌ بين قومٍ اختصموا في الشّرب فهو بينهم على قدر أراضيهم وليس لأحدٍ أن يشقّ منه نهرًا أو ينصب عليه رحًى أو داليةً أو جسرًا أو يوسّع فم النّهر أو يقسم بالأيّام، وقد وقع القسمة بالكوى أو يسوق نصيبه إلى أرضٍ له أخرى ليس لها فيه شربٌ بلا رضاهم ويورث الشّرب ويوصى بالانتفاع بعينه ولا يباع، ولا يوهب ولو ملأ أرضه ماءً فنزت أرض جاره أو غرقت لم يضمن.

ترجمه: د شريکي نهر د پاکولو خرچې په شريکانو باندې دي، د پورته له طرفه. هر کله چې نهر د يو چا له ځمکې څخه واوړي، نو هغه به بري وي، په اوبو څښونکو باندې به پاکي لازمه نه وي، د ځمکې څخه بغير هم د اوبو د نمبر دعوه صحيح ده، يو نهر د څو کسانو ترمنځ شريکي وي، هغوی د اوبو په نمبر باندې جګړه وکړه، نو هغه اوبه د دوی ترمنځ د ځمکو په اندازه وي، هيڅ شريک ته به اختيار نه وي چې ددې څخه ځانته نهر وباسي يا په هغې باندې ژرنده جوړه کړي يا ارټ (ټيوب ويل) ولګوي، يا پل ورباندې جوړ کړي يا د نهر خوله لويه کړي يا د اوبو تقسيم د ورځو په حساب سره وکړي، په داسې

حال کې چې د اوبو تقسيم د ويالو په حساب سره شوی وي يا دا چې د خپل نمبر اوبه خپلې بلې ځمکې ته يوسي. د کومې ځمکې لپاره چې د دغه نهر څخه د اوبو حق نه وي او د شريکانو د رضا څخه بغير. وارث ته په ميراث کې د اوبو ورکولو حق رسيږي، بعينه د هغې څخه د ګټې اخيستلو وصيت هم کولی شي، مګر دا چې خرڅولی يې نه شي او نه يې هبه کولی شي، يو کس خپله ځمکه د اوبو څخه ډکه کړه، د همدې وجې د هغه د ګاونډي ځمکې ته تاوان ورسېدلو، نو هغه به يې ضامن نه وي.

د نمبر (وار/ نوبت) پاتې حکمونه

تشريح الفقه: **قوله ومؤنة کری النّهر الخ**: د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد د شريکي نهر د پاکولو خرچه په ټولو شريکانو باندې د پورته له طرفه ده، هر کله چې نهر د يو شريک له ځمکې څخه تجاوز وکړي، نو هغه به د نهر د پاکوالي د خرچې څخه بري وي، د صاحبينو په نزد د نهر د پاکولو خرچه په ټولو شريکانو باندې د اول څخه تر اخره پورې د خپلې برخې په اندازه ده، صورت د مسئلې دا دی: که په نهر کې لس شريکان وي، نو خرچه به په لسو کسانو باندې تقسيميږي، يعنې هر سړی به د خرچې لسمه برخه ادا کوي، هر کله چې د نهر پاکوالی د يو شريک د ځمکې څخه تجاوز وکړي، نو په باقي شريکانو باندې به خرچه د وس مناسب وي، د صاحبينو په نزد د اول څخه تر اخره پورې لس شريک کسان به په طريقې د اعشار باندې شريک وي، په قاضي خان کې دي چې فتوی د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په قول باندې ده.

قوله ويصحّ الخ: د ځمکې څخه بغير د نمبر (وار او نوبت) دعوه کول هم استحسانا صحيح ده، ځکه چې نمبر ټاکل امر مرغوب او قابل د انتفاع دی، دا ممکنه ده چې يو انسان د ځمکې څخه بغير په طريقې د ميراث يا په طريقې د وصيت سره د نمبر مالک جوړ شي، ځکه چې زيات وخت ځمکه خرڅه شي، خو د اوبو نمبر خرڅ نه شي.

قوله نهر بين قوم الخ: يو نهر د څو کسانو ترمنځ شريکي وي. د هغوی ترمنځ د نمبر په زياتوالي او کموالي کې جګړه پېښه شوه، نو نمبر به د هغوی د ځمکو په اندازه ټاکل کيږي، ځکه چې د نمبر ټاکل د ځمکې د خړوبولو لپاره دي او د اوبو ضرورت د ځمکې د اختلاف په اعتبار سره مختلف کېدی شي، نو د هر سړي حق به د ځمکې د ضرورت مطابق وي.

كتاب الأشربة

تشريح الفقه: قوله كتاب الخ: لفظ د اشربه او شرب دواړه لفظونه او معناګانې د يوې ونې دوه شاخونه دي، ځكه چې اشربه د شراب جمع ده، اشربه او شرب دواړو معنى اصلي او په حروف اصلي كې شريكان دي. ددې وجې يې د شرب ځخه وروسته د كتاب الاشربه بيان وكړو. شراب په عربي لغت كې هغه باريک بهېدونكي شي ته ويل كيږي چې څښل كيږي. برابره خبره ده چې حلال وي او كه حرام وي، لكه: اوبه، شيره، شربت او داسې نور... . د شريعت په اصطلاح كې شراب هغه حرام مشروب دى چې انسان نشه، مست او بې هوشه كړي، دا چې په دې كتاب كې د شرابو بيان كيږي. لكه: په كتاب الحدود كې د حد حكمونه، په كتاب البيوع كې د بيعې حكمونه مذكور دي، ددې وجې يې د كتاب نوم هم كتاب الاشربه كېښود. **وفى التلويح: فى أوائل القسم الثانى قَدْ يُضَافُ الْحِلُّ وَالْحُرْمَةُ إِلَى الْأَعْيَانِ كَحُرْمَةِ الْمَيْتَةِ وَالْخَمْرِ وَالْأُمَّهَاتِ وَنَحْوِ ذٰلِكَ وَكَثِيرٌ مِنَ الْمُحَقِّقِينَ عَلَى أَنَّهَا مَجَازٌ مِنْ بَابِ إِطْلَاقِ اسْمِ الْحِلِّ عَلَى الْحَالِ، أَوْهُوَمَبْنِيٌّ عَلَى حَذْفِ الْمُضَافِ أَيْ حُرِّمَ أَكْلُ الْمَيْتَةِ وَشُرْبُ الْخَمْرِ وَنِكَاحُ الْأُمَّهَاتِ.**

فايده: اشربه څلور شيان دي: (۱) خمار چې د انګورو، خورما او وڅكو ځخه جوړيږي. (۲) حبوب چې د غنمو، وربشو او جوارو ځخه جوړيږي. (۳) شيرې چې د چيني (بوره) شات (شهد)، ګړې وغيره ځخه جوړيږي. (۴) البان لكه: د اوښ شيدې، د اس شيدې او داسې نور... . يوازې د انګورو ځخه شپږ ډوله شرابونه جوړيږي، يعنې خمر، باذق، منصف، مثلث او (بختج) پاخه د منقي (وڅكو) ځخه دوه قسمه شراب جوړيږي: نقيع او ذبيب. د خورما ځخه درې قسمه شراب جوړيږي: سكر، فيضح، نبيذ. د حبوب، فواكه او شاتو ځخه چې جوړيږي د هغې نومونه نور دي: د انګوري اشربه وو تفصيل دا دى: هر كله چې د انګورو شيره ونغښتل شي، هغې ته عصير ويل كيږي، تر هغه پورې چې شيره وي، كله چې جوش وخوري او زګ وكړي، ټينګوالى پكې پيدا شي، نو نوم يې خمرو ته بدل شي. كله چې نمكين شي: نو د انګورو سركه ترې جوړه شي. هر كله چې د انګورو شيره په اور باندې پخه كړى شي او د هغې د دوه ثلثو ځخه كمه اندازه وسوځول شي، هغه د جوش خوړلو وروسته زګ وغورځوي، نو نوم يې په باذق سره بدل شي، ځينې خلک ورته طلا هم وايي. كه د انګورو شيره دومره پخه شي چې نيمايي وسوځول شي او نيمايي پاتې شي، نو دې ته منصف ويل كيږي، كه پوره دوه ثلثه وسوځول شي، نو دې ته مثلث ويل كيږي. كه مثلث ته اوبه واچول شي او لږ نرم شي بيا په اور باندې كېښودل شي، نو دې ته بيا بختج ويل كيږي، دې ته پاخه. يعقوبي. ابايوسفي، جمهوري، حميدي هم ويل كيږي. د منقي ځخه نقيع او نبيذ جوړيږي، د نقيع صورت دا دى چې منقي تر څو ورځو پورې په اوبو كې لامده

کېښودل شي. تردې پورې چې اوبه په شیرې سره بدلې شي، که د منقي اوبه څه اندازه پخې کړی شي، نو بیا دې ته نبیذ ویل کیږي، د خورما څخه سکر، فیضح او نبیذ جوړیږي، سکر د پخې خورما کچه اوبو ته ویل کیږي، فیضح د نیم پخته خورما اوبه چې لږ اندازه پخې کړی شي.

الشّراب: ما يسكر، والمحرّم منها أربعةٌ: ۱- الخمر، وهي النّيء من ماء العنب إذا غلا واشتدّ وقذف بالزّبد وحرم قليلها وكثيرها - والطّلاء، وهو العصير إن طبخ حتّى ذهب أقلّ من ثلثيه.

ترجمه: شراب هغه دي چې نشه راولي، ددې څلور قسمونه یې حرام دي: شراب چې د انګورو کچه اوبه دي، کله چې جوش وخوري او سختوالی پکې پیدا شي او زګونه وولي، ددې لږ او زیات حرام دي، دوم طلا دي، دا هغه د انګورو شیره ده چې کله دومره پخه کړی شي چې د دوه ثلثو څخه لږه اندازه کم ترې ختم کړی شي.

تشريح الفقهِ: **قوله والمحرّم الخ**: په شرابونو کې څلور قسمه شراب څنبل حرام دي: (۱) خمر، (۲) طلا، (۳) سکر، (۴) نقیع الزبیب، خمر د انګورو کچه اوبو ته ویل کیږي، کله چې هغه جوش وخوري او په زګونو باندې راشي، سختوالی پکې پیدا شي، د جوش څخه مراد پوره جوش دی، تردې پورې چې د لاندې اوبه پورته شي او د پورته اوبه لاندې لاړې شي، د اشتداد څخه مراد د جوش کولو کثرت دی، په دې سره د مستی قوت پیدا کیږي، د ائمه ثلاثه وو په نزد هر نشه کوونکی شی خمر دی، ځکه چې رسول الله ﷺ فرمایي: "کل مسکرٍ خمرٌ" دغه شان د رسول الله ﷺ بل ارشاد دی: "**الخمرُ مِنْ هاتينِ الشجرتينِ النخلة والعنبة**" دغه شان عمر رضي الله عنه فرمایي: "**الخَمرُ مِنْ مخامرة العقلِ**" یعنې خمر د مخامرة څخه اخیستل شوی دی، په دې سره عقل باندې پرده راځي، ددې وجې ورته خمر ویل کیږي، مخامرت په هر نشه کېدونکي شي کې موجودیږي، معلومه شوه چې خمر یوازې د انګورو سره خاص نه دی، بلکې کوم چې د خورما، شات، غنمو او وربشو څخه جوړ شي، هغې ته هم خمر ویل کیږي، موږ وایو چې لفظ د خمر د اهل لغت په اجماع سره د معنی مذکور النيء من ماء العنب لپاره اسم خاص دی، ددې وجې یې استعمال په دې معنی کې مشهور دی، ددې څخه بغیر د نورو معناګانو لپاره نور الفاظ استعمالیږي، لکه: مثلث، طلا، باذق، منصف او داسې نور....، دغه شان د شرابو حرمت قطعي او بالاجماع ثابت دی، لهذا ددې حرمت به د هغه شي طرف ته راجع کیږي چې حرمت یې قطعي او یقیني ثابت وي او د انګوري شرابو څخه بغیر په نورو شرابو کې دا خبره نه موندل کیږي، ځکه چې هغه مجتهد فیها دي، لکه: طلا زموږ په نزد حرامه ده، د امام اوزاعي رحمه الله په نزد مباح ده، دغه شان نقیع التمر زموږ په نزد حرامه ده او د شریک بن عبد الله په نزد مباح ده، دغه شان نقیع الزبیب د جوش او اشتداد څخ وروسته زموږ په نزد حرامه ده، د امام اوزاعي رحمه الله په نزد مباح ده او

خمرو ته په دې معنى خمر ويل چې په عقل باندې پرده راولي، دا موږ ورسره نه منو، ځکه چې دا اتفاق د اهل لغت په خلاف دی، ځکه چې د لغت امام ابن الاعرابي فرمايي چې خمر ته ددې وجې خمر ويل کيږي چې هغه متخمر دی، يعنې په هغې کې شدت او قوت دی کوم چې په نورو شرابو کې نه موندل کيږي، که دا ومنل شي چې خمر د مخامرة العقل څخه اخيستل شوی دی او هر مسکر ته شامل دی. لکه د قاموس عبارت چې دی: (الخمرُ ما اسكرَ من عصير العنبِ أو هُوَ عامٌ والعمومُ أصحّ) د عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قول: (الخمرُ ما خامرَ العقلُ) د ابن عمر، ابوهريره او انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ د حديث څخه معلوميږي چې د شرابو اطلاق د انګورو څخه علاوه د نورو مېوو په نشه کوونکو شيرو باندې هم کيږي. په دې سره د خمر د اسم خاص نفي نه کيږي، ځکه چې ډېر الفاظ د اصلي معنى په اعتبار سره عام وي. خو د استعمال د غلبې له وجې خاص وي. لکه لفظ د نجم چې جمع يې نجوم ده، په اعتبار د اصل سره په معنى د ظهور سره دی او مشتق دی چې هر ظاهر کېدونکي شي لپاره استعماليږي. بيا د ظاهر مخصوص (جنس کوکب) لپاره اسم خاص دی، ددې څخه وروسته د استعمال د غالبه کېدو له وجې د مشهورې ستارې (ثريا) نوم کېښودل شو. دا يوازې د عربي ژبې سره خاص نه دی، بلکې په هره ژبه کې ددې نظير موجود دی، لکه: تنزيب هر هغه شي ته ويل کيږي چې د انساني بدن لپاره زيب او ښايست جوړيږي، حال دا چې نن سبا د يوې خاصې جوړې (کپړې) نوم دی، زموږ ددې دعوې تاييد د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د قول: (لقد حرمت الخمر وما بالمدينة منها شيء) څخه هم کيږي، ددې په اړه د علامه جوزي رَحِمَهُ اللهُ غوندې مشهور عالم هم د تحقيق په توګه وايي: (يعني به ماء العنب، فإنّه مشهورٌ باسم الخمر ولا يمنع هذا أن يسمّى غيره خمرًا) پاتې شو د مذکوره حديثونو څخه استدلال، نو د حديث: (كلّ مسكرٍ خمرٌ) څخه ځواب دا دی چې دا په مجاز باندې محمول دی. يعنې شراب په حقيقت کې د انګورو شرابو ته ويل کيږي. خو کله کله د خمر څخه بغير په طريقې د مجاز سره د خمرو څخه بغير غير خمر ته خمر ويل کيږي، که په مجاز باندې حمل نه کړی شي: نو بيا به خامخا دا لازمه شي چې بنګ او ځينې نورو بوټو ته هم خمر وويل شي. ځکه چې دا هم د مسکر په افرادو کې شامل ګرځي. حال دا چې ددې هيڅوک قائل نشته، د هدايې مصنّف ددې ځواب داسې ورکړی دی چې په دې حديث کې د جرح او تعديل امام يحيى بن معين طعن کړی دی. د فقهي کتابونو مصنّفينو هم د هغه پيروي کړې ده. بلکې صاحب عنايه خو تردې پورې ويلي دي چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه درې حديثونه ثابت نه دي، يو دا چې: (لا نكاحَ إلا بوليّ وشاهدَي عدلٍ) دويم دا حديث: (مَنْ مسّ ذكره فليتوضّأ) او دريم دا حديث: (كُلّ مسكرٍ خمرٌ) خو دا ځواب هيڅ مناسب نه دی، ځکه چې علامه عيني او محدث کبير علامه جمال الدين زيلعي

(د هدايې د حديثونو تخريج كوونكي) وايي چې ددې حديث اړه مونږ چېرته طعن ونه ليدلو. د طعن لپاره هيڅ وجه نشته. څكه چې امام مسلم رَحِمَهُ اللهُ دا كتاب په خپل صحيح كې روايت كړى دى. روايت د سند سره داسې دى: (حَدَّثَنَا أَبُو الرَّبِيعِ الْعَتَكِيُّ، وَأَبُو كَامِلٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ، وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ، وَمَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ فِي الدُّنْيَا فَمَاتَ وَهُوَ يُدْمِنُهَا لَمْ يَتُبْ، لَمْ يَشْرَبْهَا فِي الْآخِرَةِ) لهذا دا حديث صحيح دى او طعن نه منل كيږي. د دويم حديث چې: "الْخَمْرُ مِنْ هَاتَيْنِ الشَّجَرَتَيْنِ: النَّخْلَةِ وَالْعِنَبَةِ" څخه خواب داسې دى چې ددې څخه مراد اطلاق د خمرو مراد نه دى. بلكې بيان د حكم مقصود دى. كوم چې د رسالت د منصب سره مناسب دى، څكه چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حكمونو د بيانولو لپاره راغلى دى. نه دا چې د لغت بيانولو لپاره، نو مطلب دا شو چې كوم شراب د انگور له ونې څخه وي، هغه به حرامې وي او كوم شراب چې د خورما له ونې څخه وي، هغه به هم حرام وي، ددې تاييد د عايشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د روايت څخه كيږي: د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه د نبيذ په اړه پوښتنه وشوه، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: الله تعالى خمر د هغه د نوم له وجې نه دي حرام كړي، بلكې د هغې د انجام له وجې بې حرام كړي دي، نو د كومو شرابو انجام چې د شرابو په شان وي، يعنې مسكر وي، هغه به د خمر په شان حرام وي، معلومه شوه چې خمر د انگورو د شرابو نوم دى، دغه شان كوم شراب چې مسكر وي، د هغې حكم به هم د شرابو په شان وي، يعنې ټول نشه كوونكي توكي به د شرابو په شان وي.

قوله وقذف الخ: د خمر مذكوره تعريف د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد دى. د صاحبينو او ائمه ثلاثه وو رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد د زگ پورته كېدل شرط نه دى، بلكې جوش خوړل او سختېدل كافي دي، اگر چې زگ يې نه وي غورځولي، امام ابوحفص كبير همدا قول اخيستلى دى، همدا ظاهر قول دى، لكه په شرنبلاليه كې د مواهب څخه منقول دي، څكه چې لذت مطربه او د سخته نشه په اشتداد سره حاصليږي. دغه صفت د دښمنى په پيدا كېدو او د الله تعالى له ياد څخه په غافل كېدو كې مؤثر دى، لهذا زگ پيدا كېدل به زياتي وصف وي، امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې غليان (جوش پيدا كېدل د اشتداد ابتداء ده او خمر چې د تخمر څخه مشتق دى او د نشه كېدو په معنى دى، ددې څخه كامل شدت او سختي مراد ده. د جوش په ابتدايي حالت كې به ورته خمر نه ويل كيږي، بلكې كله چې پوره جوش پكې پيدا شي، بيا به ورته خمر ويل كيږي، څكه چې د مكدر څخه د صافي امتياز په همدې سره كيږي. دغه شان د خمر (شرابو) سره چې كوم شرعي حكمونه متعلق دي، لكه: د حد جاري كول، تكفير د مستحل. د بيعې حرمت او داسې نور..... دا ټول قطعي حكمونه دي، ددې وجې به د خمر د حكمونو مدار په اشتداد باندې وي.

قوله وحرم الخ: هر کله چې يو حکم په نص سره ثابت شي، د هغې لپاره د علت لټون ضروري نه دی، بلکې خپله نص به د هغه حکم لپاره د علت په توګه ذکر کولی شي، مګر کله چې هغه حکم په يوه فرعي مسئله کې قياس سره ثابت وي، نو بيا د فرع لپاره د علت وجود ضروري دی. مثلاً: که په خمرو باندې يو شی قياس کړی شي، نو د هغې لپاره به علت نشه راويستل کيږي. يعنې د فرعي مسئلې لپاره به په خمر کې علت سکر وي، پاتې شو د خمر حرمت؛ نو هغه په نص سره ثابت دی، ددې د حرمت لپاره د سکر علت راويستل ضروري نه دي، هر کله چې دا خبره ستاسو په ذهن کې يقيني توګه ثابته شوه، نو اوس ځان پوه کړئ چې د خمر حرمت د سکر له وجې نه دی، بلکې د نص له وجې دی، برابره خبره ده چې مقدار يې لږ وي او که زيات وي، څښل يې حرام دي، بلکې که د شرابو يو څاڅکی وي. بيا يې هم څښل حرام دي، اګر چې نشه پکې نه وي، ځينې خلک وايي: چې لږ مقدار يې حرام نه دی، دا يوازې نفس پرستي او شيطاني دوکه ده.

قوله والطلاء الخ: د حرامو مشروباتو څخه دويم حرام مشروب طلاء دی، دې ته باذق هم ويل کيږي، ددې طريقه دا ده چې دومره پخه کړی شي چې د دوه ثلثو څخه لږ کمه اندازه وسوځول شي او مسکر کړی شي، د امام اوزاعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد ددې استعمال مباح دی، ځينې معتزله هم همداسې وايي، ځکه چې طلاء پاکيزه شربت دي، خمر نه دي، موږ وايو چې طلاء خوند لرونکي خوشحالي پيدا کوونکي نري شراب دي، ددې وجې يې فاسقان او فاجران ډېر څښي، ددې څښل هم حرام دي، ددې لپاره چې فساد ختم شي.

فايده: د طلا دويم تفسير دا دی چې د انګورو شيره دومره پخه کړی شي چې دوه ثلثه وسوځول شي او نشه کوونکي جوړ شي، ځينو عالمانو ويلي دي چې طلا په حقيقت کې همدا ده، صاحب محيط او ځينو نورو همدا قول اخيستی دی. دا حرام نه دي، ځکه چې د صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ څخه ددې څښل ثابت دي.

والسّكر، وهو النّيء من ماء الرّطب ۴- ونقيع الزّبيب، وهو النّيء من ماء الزّبيب والكلّ حرامٌ إذا غلى واشتدّ وحرمتها دون حرمة الخمر فلا يكفر مستحلها، بخلاف الخمر.

ترجمه: سکر د لوندو خورما کچه اوبه دي، نقيع الزبيب د وڅکو (کشمشو) کچه اوبه دي، دا ټول حرام دي کله چې جوش وخوري، ددې شيانو حرمت د شرابو د حرمت څخه کم دی، ددې حلال ګڼونکی به کافر نه وي، په خلاف د کافر.

تشريح الفقه: **قوله والسّكر الخ**: دريم نمبر سكر دی چې د پخې او لوندې خورما شيره ده چې جوش وخوري او نشه پكې پيدا شي، ددې په حرمت باندې د صحابه كرامو اجماع ده.
څلورم نمبر: د نقيع الزبيب څخه د كشمش (وشكو) هغه كچه اوبه مراد دي چې په جوش خوړلو سره كلكوالی پكې پيدا شي او ددې استعمال هم حرام دی، دا اخري درې قسمه شرابونه هغه وخت حرام دي چې جوش وخوري او سختوالی پكې پيدا شي، خو د درې واړو حرمت د شرابو (خمر) په نسبت كم دی، ځكه چې د خمر حرمت قطعي دی او ددې درې مشروباتو حرمت اجتهادي دی، همدا وجه ده چې د شرابو يو څاڅكی څښونكی به د لويې ګناه مرتكب وي او په دورو به وهل كيږي، يعني حد به ورباندې جاري كيږي، په داسې حال كې چې دې درې واړو مشروباتو په څښلو سره حد نه ملاويږي، تر هغه پورې چې په نشه كې پوره مست نه وي، د همدې وجې ددې درې مشروباتو حلال ګڼونكی به كافر هم نه وي، په خلاف د خمر چې حلال ګڼونكی به يې كافر وي او په دې باندې فتوی ده.

والحلال منها أربعةٌ: ۱- نبيذ التّمر والزّبيب إن طبخ أدنى طبخةٍ، وإن اشتدّ إذا شرب ما لا يسكره بلا لهوٍ وطربٍ ۲- والخليطان ۳- ونبيذ العسل والتّين والبرّ والشّعير والذّرة طبخ أوّلًا، والمثلّث العنبيّ، وحلّ الانتباذ في الدّبّاء والحنتم والمزفّت والنّقير وخلّ الخمر سواءٌ خلّلت أو تخلّلت وكره شرب دردیّ الخمر والامتشاط به ولا يحدّ شاربه بلا سكر.

ترجمه: په دې مشروباتو كې څلور حلال دي: نبيذ التمر او نبيذ الزبيب، په دې شرط چې لږه اندازه پاخه كړی شي، اګر چې سختوالی پكې پيدا شي، په هغه وخت كې چې وڅښل شي، نشه نه راولي د لهو او لعب څخه بغير، خليطان، نبيذ الشهد، انځر، غنم، وربشې او جوار، برابره خبره ده چې پاخه كړی شي او كه نه، دغه شان مثلث عنبي دی، نبيذ جوړول حلال دي په دباء، حنتم، مزفت او نقير كې، د شرابو څخه سركه جوړه شوې وي او كه خپله تياره شوې وي، د شرابو د لوښي تل ځتل هم مكروه دي او په هغې باندې ږمنځ كول او حد به نه شي وركولی ددې څښونكي ته، د نشې څخه بغير.

تشريح الفقه: **قوله والحلال منها أربعةٌ الخ**: څلور قسمه شراب حلال دي: مصنّف رَحِمَهُ اللهُ همدا څلور مشروبات د شرائطو سره ذكر كړي دي:

اول: نبيذ التمر او زبيب هغه اوبه دي چې وچه خورما يا منقي (وشكې) پكې كېښودل شي، تردې پورې چې د هغې خوږوالی اوبو ته نقل شي، اول ته نبيذ التمر او دويم ته نبيذ الذبيب ويل كيږي، دا مشروب د شيخينو رَحِمَهُمَا اللهُ په نزد لاندې شرائطو سره حلال دي، اګر چې په دې كې سختي راغلې وي او زګونه يې غورځولي وي، اول شرط دا دی: په دومره اندازه يې څښونكی وڅښي چې د هغه غالب ګومان دا

ي چې ما به نه نشه كوي، دويم شرط دا دى چې د لهو او لهب په نيت سره به يې نه څښي، بلكې د بدن د قوي كېدو په نيت به وي، د امام محمد او امام شافعي رَحِمَهُمَااللهُ په نزد ددې څښل حرام دي

فايده: فتوى د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په قول باندې ده. لمافى الدر المحتار (وَحَرَّمَهَا مُحَمَّدٌ، أَيْ الْأَشْرِبَةَ الْمُتَّخَذَةَ مِنَ الْعَسَلِ وَالتِّينِ وَنَحْوِهِمَا، قال العلامة ابن عابدين تحت قوله: "قوله ونحوهما" كَالتَّمْرِ وَالزَّبِيبِ وَالْعِنَبِ، فَالْمُرَادُ الْأَشْرِبَةُ الْأَرْبَعَةُ الَّتِي هِيَ حَلَالٌ عِنْدَ الشَّيْخَيْنِ إِذَا غَلَتْ وَاشْتَدَّتْ وَإِلَّا فَلَا تَحْرُمُ كَغَيْرِهَا اتِّفَاقًا (قَوْلُهُ وَبِهِ يُفْتَى) أَيْ بِقَوْلِ مُحَمَّدٍ، وَهُوَ قَوْلُ الْأَئِمَّةِ الثَّلَاثَةِ لِقَوْلِهِ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ» كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ« رَوَاهُ مُسْلِمٌ، وَقَوْلِهِ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ - » مَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ فَقَلِيلُهُ حَرَامٌ« رَوَاهُ أَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارَقُطْنِيُّ) (الدر المختار مع الرد المحتار: ۳۲۳/۵)

دويم: خليطان د خورما او وڅكو اوبه سره يو ځاى كړى شي او بيا پخې شي، بيا همداسې پرېښودل شي، تردې پورې چې جوش وخوري او سختي پكې پيدا شي، دې ته خليطان وايي. ددې څښل هم حلال دي، منقي لويو وڅكو ته ويل كيږي.

دريم: شات، انخر، غنم، وريشي او د جوارو نبيذ هم د شيخينو په نزد حلال دي، برابره خبره ده چې پاخه كړى شي او كه نه، خو دلته هم د نبيذ التمر او زبيب شرائط معتبر دي، د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد دا هم مطلقا حرام دي، برابره خبره ده چې لږ وي او كه ډېر وي، په دې صورت كې هم فتوى د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په قول باندې ده.

څلورم: مثلث عنبي (د انګورو څخه ويستل شوي اوبه) كله چې دومره پخې كړى شي چې دوه ثلثه ختم شي او صرف يو ثلث پاتې شي، كه په دې كې جوش او تېزوالى پيدا شي، نو دا هم د شيخينو په نزد د مذكوره شرطونو په رڼا كې حلال ګرځي، د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد يې څښل مطلقا حرام دي، ځكه چې د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت دى: (مَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ فَقَلِيلُهُ حَرَامٌ) د كومو شرابو كثير چې نشه راولي، نو قليل يې هم حرام دي، په دې شرابو كې هم د زماني د فساد له وجې د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په قول باندې فتوى ده.

دباء: د كدو څخه جوړ شوي لوښي ته دباء ويل كيږي، **حنتم**: د شنې خاورې منګوټي، **نقير**: د لرګي لوښي، **مزفت**: د تاركولو په شان يو كيميكل څخه جوړيږي، په دې لوښو كې د نبيذ جوړول حلال دي، د جاهليت په دوره كې به خلكو په دې لوښو كې شراب جوړول، هر كله چې د شرابو حرمت نازل شو، نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ددې لوښو د استعمال څخه منع وفرمايل، ددې لپاره چې د خلكو په زړونو كې د شرابو څخه پوره نفرت او كركه پيدا شي، بيا چې كله بر يوې زمانې پورې خلكو ددې لوښو څخه

خالی

خالي

تشريح الفقه: قوله هو الاصطياد الخ: اصطياد ښكار كولو ته وايي، لكه احتطاب چې د لرګي غونډولو ته وايي، خو مجازا په مفعول باندې يې هم اطلاق كيږي. لكه: صَيد الامير أى مصيوده، قهستاني د مطرزي څخه نقل كړي دي چې صيد هر هغه وحشي ځناور دى چې د چل او دوكې وركولو څخه بغير نه نيول كيږي، برابره خبره ده چې ماكول وي او كه غير ماكول وي.

قوله وذا بترك الأكل الخ: د ښكار د حلالېدو لپاره ضروري دا ده چې ښكاري ځناور به تعليم يافته وي، يعنې د ښكار طريقې به ورته ښودل شوي وي. برابره خبره ده چې هغه سپى وي، كه پړانګ وي او كه باز وي، د سپي د تعليم يافته كېدو معلومات په دې باندې كيږي چې هغه درې ځله ښكار وكړي او د ښكار څرمن، غوښه، هډوكي وغيره هيڅ شى ونه خوري، نو داسې سپى به معلم وي، د باز د تعليم يافته كېدو معلومولو طريقه دا ده چې هغه ځان ته راوغوښتل شي، نو سمدستي راشي، ځكه چې د سپي عادت په تېښته راوړل دي او د باز عادت وحشت دى، هر كله چې دواړو خپل عادتونه پرېښودل؛ نو معلومه شوه چې تعليم يافته دي.

وإن أرسل مسلمٌ كلبه فزجره مجوسيٌّ فانزجر حلّ ولو أرسله مجوسيٌّ فزجره مسلمٌ فانزجر حرم وإن لم يرسله أحدٌ فزجره مسلمٌ فانزجر حلّ وإن رمى وسمّى وجرح أكل وإن أدركه حيًّا ذكّاه، وإن لم يذكّه حرم وإن وقع سهمٌ بصيدٍ فتحامل وغاب وهو فى طلبه حلّ وإن قعد عن طلبه ثمّ أصابه ميتًا لا وإن رمى صيدًا فوقع فى ماءٍ أو على سطحٍ أو جبلٍ ثمّ تردّى منه إلى الأرض حرم وإن وقع على الأرض ابتداءً حلّ وما قتله المعراض بعرضه أو البندقة حرم وإن رمى صيدًا فقطع عضوًا منه أكل الصّيد لا العضو وإن قطعه أثلاثًا والأكثر ممّا يلي العجز أكل كلّه وحرم صيد المجوسيّ والوثنيّ والمرتدّ وإن رمى صيدًا فلم يثخنه فرماه الثّاني فقتله فهو للثّاني وحلّ وإن أثخنه فللأوّل وحرم وضمن الثّاني للأوّل قيمته غير ما نقصته جراحته وحلّ اصطياد ما يؤكل لحمه وما لا يؤكل.

ترجمه: كه خپل سپى يې پرېښودلو، بيا هغه مجوسي تېز كړو او سپى هم تېز شي، نو دا ښكار به حلال وي، كه هغه مجوسي پرېښودلى وي او مسلمان تېز كړى وي او هغه تېز شي، نو دا ښكار به حرام وي، كه يو كس هم سپى نه وي پرېښودلى، خو مسلمان يې تېز كړي او هغه تېز شو، نو حلال به وي، كه غشى يې وويشتلو او بسم الله يې وويل او حيوان زخمي شو، نو خوړلى به شي، كه ژوندى يې وموندلو، نو ذبح دې كړي، كه ذبح يې نه كړي، نو حرام به وي، كه غشى په ښكار باندې ولګېدو او هغه د پورته كېدو سره ورك شو، ښكاري د هغه په طلب پسې ولګېدلو، هغه يې مړ وموندلو، نو حلال به وي، كه د هغې د طلب څخه كېناستلو، بيا يې مړ وموندلو، نو حلال به نه وي، كه ښكار يې وويشتلو او هغه اوبو ته ولوېدلو يا په چت باندې ولوېدلو يا په غر باندې وغورځېدلو، بيا د هغه ځاى څخه لاندې ځمكې خواته ولوېدلو، نو

هغه به حرام وي، که په اول وخت کې په څمکه باندې وغورځيږي، نو بيا به حلال وي، کوم ښکار چې په معراض غشي سره په پلنوالي باندې ولګيږي يا په توپک باندې ولګيږي، نو حرام به وي، که ښکار يې وويشتلو، د هغې کوم اندام قطع شو، نو ښکار به خوړل کيږي، خو اندام يې نه خوړل کيږي، که په درې برخو باندې کاټ شوی وي او زياته برخه د لکۍ په طرف باندې ده، نو ټول ښکار به خوړلی شي، د مجوسي، بت پرسته او مرتد د لاس ښکار خوړل حرام دی، که ښکار يې وويشتلو، خو هغه يې سست کړی نه وي، بيا هغه دويم کس وويشتلو او هغه يې ووژلو، نو هغه ښکار به د دويم کس وي او حلال به وي. که په لومړي ځل باندې سست شوی وي، نو د اول به وي او حرام به وي، دويم کس به د اول کس لپاره د هغه حيوان د قيمت ضامن وي. پرته له دې چې کوم قيمت کم شوی دی په زخم کولو سره، د هغه حيوان چې غوښه يې خوړل کيږي او که نه خوړل کيږي ښکار کول يې حلال دي.

تشريح الفقهِ : **قوله وإن وقع سهمٌ الخ**: يو سړي ښکار په غشي باندې وويشتلو او په غشي ويشتلو سره حيوان پورته شو او ورک شو، ښکاري د هغه ښکار پسې شو، تردې پورې چې هغه يې وموندلو، خو په دغه وخت کې ښکار مړ شوی و، نو د داسې ښکار خوړل حلال دي، ځکه چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابوثعلبه ته ويلي و: "هر کله چې تا ښکار په غشي باندې وويشتلو او تر درې ورځو پورې ستا څخه ښکار غائب شي، بيا هغه ښکار ته وموندلو، نو ته هغه خوړلی شې، تر هغه پورې چې مردار شوی نه وي" که د ښکار د لټون څخه کښېنستلو، نو بيا به حلال نه وي، ځکه چې په دې صورت کې امکان شته چې د ښکار مرګ د غشي له وجې نه وي شوی، بلکې د يو بل سبب له وجې ښکار مړ شوی وي، لکه په روايت کې راغلي: (**لعلّ هوامّ الأرض قتله**).

قوله وإن رمٰى صيدًا الخ: يو سړي د ښکار پسې غشی وويشتلو او هغه ښکار د لګېدو څخه وروسته په اوبو کې ولوېدو او مړ شو. نو داسې ښکار به حرام وي، ځکه چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عدي بن حاتم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وفرمايل: که ستا ښکار په اوبو کې ولوېدو، نو ته ترې خوراک مه کوه. ځکه چې معلومه نه ده، ايا هغه به ستا غشي مړ کړی وي او که اوبو. دغه شان که په چت يا غر باندې ولوېږي، بيا لاندې ځمکې ته رانښکته شي، بيا يې هم خوړل حرام دي، ځکه چې دا بيا متردیه شي او د متردیه حرمت په قران کريم سره ثابت دی، مګر دا چې ابتداء په ځمکه باندې لوېدلې وي، بيا حلاله ده. ځکه چې په ځمکه باندې د لوېدو څخه احتراز نه کيږي.

قوله وما قتله المعراضُ الخ: کوم ښکار چې د غشي په عرض (پلنوالي) باندې د لګېدو له وجې مړ شوی وي، نو داسې ښکار حرام دی، ځکه چې دا د بوج له وجې مړ شوی دی، نه دا چې د زخم او زخمي کوونکي شي له وجې. په فتاوی قاضي خان کې دي چې د کاڼي، د غشي په پلنوالي، لرګي وغيره

خالي

خالي

کوونکی شمار شي، مرتهن به زیاتي وصول کړي، د مرتهن لپاره جائز دي چې د راهن څخه د خپل دَین مطالبه وکړي او د دَین له وجې د ځان سره ایسارولی شي، مرتهن ته به د مرهون د حاضرېدو حکم کولی شي او راهن ته به ورانديې حکم کولی شي د دَین ادا کولو، که چېرته رهن د مرتهن په قبضه کې وي، نو راهن ته به په خرڅولو باندې قدرت نه شي ورکولی، تر دې پورې چې د مرتهن قرضه ادا کړي، هر کله چې هغه قرض ادا کړي، نو مرهون به هغه ته سپارل کیږي، مرتهن به د مرهون څخه د خدمت اخیستلو. اوسېدلو. اغوستلو. په اجاره او عاریت باندې ورکولو فایده نه اخلي. د مرهون ساتنه به خپله کوي. په خپلې مېرمنې. خپلو بچیانو او هغه خادم باندې کولی شي چې د هغه په کورنۍ کې شمار وي، که د دوی څخه علاوه په بل چا باندې ساتنه وکړي، یا یې چا ته امانت ورکړي یا زیادت پکې وکړي؛ نو د قیمت ضامن به یې وي. د مرهونه کور د ساتلو او څوکیدار مزدوري به په مرتهن باندې وي، د مېږو د شپون، د رهن د خرچې او ټیکسونه به په راهن باندې وي.

تشریح الفقه: **قوله هوحبس شيء الخ**: (۱) رهن په لغت کې د یو شي بندولو ته ویل کیږي، برابره خبره ده چې مال وي او که غیر مال وي، شرعي تعریف یې مصنف رَحِمَهُ اللهُ په دې الفاظو سره کړی دی: "حبس شيء بحق یمکن استیفاءه منه" د یو شي بندول د داسې شي په بدله کې چې وصول کول یې د رهن څخه ممکن وي، مثلاً د زید په بکر باندې زر روپۍ قرض وي، د هغه زر روپو په بدل کې زید د بکر څخه ټوپک د رهن په توګه واخیستلو او د ځان سره یې کېښودلو، اوس که بکر په خپل وخت د زید قرضه ادا نه کړي، نو زید کولی شي چې ټوپک خرڅ کړي او خپله قرضه ترې واخلي.

(۲) رهن په ایجاب او قبول سره منعقد کیږي، ځکه چې رهن هم د نورو عقودو په شان یو رهن دی، لکه څنګه چې نور عقدونه په ایجاب او قبول سره منعقد کیږي، دغه شان رهن هم په ایجاب او قبول سره منعقد کیږي. غوره دا وه چې مصنف رَحِمَهُ اللهُ (ینعقد بایجاب وقبول) ویلی وای، ځکه چې رهن په ایجاب او قبول سره منعقد کیږي، خو لازمیږي نه، په قبضې سره رهن تام او لازم ګرځي، قبضه د رهن د لازمېدو لپاره شرط ده. لقوله تعالی: (فرهانٌ مقبوضةٌ) دلته الله تعالی رهن د مقبوض په صفت سره موصوف کړی دی. هر کله چې د نکرې صفت بیانولی شي، نو هغه عام وي، معلومه شوه چې رهن د قبضې په صفت سره موصوف کیږي.

قوله وقبضه الخ: **وقبضه أي لزم الرهن بقبضه** : خو په ځینو نسخو کې: (**ویتم بقبضه**) په اعتبار د معنی سره دا دویم عبارت صحیح دی، یعنې هر کله چې مرتهن په رهن باندې قبضه وکړي، نو عقد رهن په

درې شرطونو سره تام كيږي، يو دا چې رهن به محوز [۱] وي، دويم شرط دا دی چې رهن به مفرغ [۲] وي او دريم شرط دا دی چې مميز [۳] به وي.

د رهن تخليه كول به په بيع كې قبضه ګڼل كيږي، يعنې كه راهن د مرهون او مرتهن ترمنځ داسې تخليه وكړي چې كه هغه وغواړي قبضه ورباندې وكړي، نو كولی يې شي، يا بائع د خپل خرڅ كړل شوي شي او مشتري ترمنځ داسې تخليه راوستل چې كه هغه وغواړي قبضه ورباندې وكړي، نو قبضه ورباندې كولی شي. نو په دې دواړو صورتونو كې به قبضه شمارل كيږي. ځكه چې تخليه رفع الموانع عن القبضه ته ويل كيږي او د تسليم لپاره حكم قبضه بالقبض ضروري دی، لهذا دا به تخليه ګڼل كيږي.

فايده: نن سبا د رهن يو بل صورت هم مشهور شوی دی : هغه دا چې مرهون د مرتهن په قبضه كې نه وركول كيږي، بلكې هغه د تېر په شان د راهن په قبضه كې وي، هغه يې ځان ته استعمالوي، خو په دولتي كاغذونو كې ليكل كيږي چې فلانی شی «موټر، كور يا ځمكه» د مرتهن په ولكه كې ده، د هغې نتيجه بيا دا شي چې كله راهن په ټاكلي وخت باندې خپله قرضه ادا نه كړي، نو مرتهن ته بايد د قرض اخيستلو لپاره د مرهونه شي خرڅولو اجازه حاصله شي، دې ته په عربی ژبه كې رهن السائل «ويلي شوی رهن» ويل كيږي، د رهن دا صورت جائز كېدل پكار دي، ځكه چې په دې صورت كې كله مرتهن په كاغذاتو باندې قبضه وكړه، ګويا هغه خپله په مرهون باندې قبضه وكړه او هغه مرهونه راهن ته عاريتا وركړې ده، لهذا دا صورت جائز كېدل پكار دي، البته كله چې مرهون شی د راهن په استعمال كې وي، تر هغه وخته پورې به د هغه په ضمان كې وي. «د تقرير ترمذي څخه راخيستل شوی: ۱۷۸/۱»

تر كومه پورې چې مرتهن په رهن باندې قبضه نه وي كړې، نو راهن ته به اختيار وي، برابره خبره ده چې مرهون مرتهن ته سپاري او كه د رهن څخه رجوع كوي، ځكه چې د عقد رهن لزوم په مرتهن باندې هغه وخت لازم دی چې مرتهن په مرهون باندې قبضه وكړي، كوم چې يې تر اوسه پورې نه ده كړې، لهذا دا عقد به په راهن باندې لازم نه وي او د غير لازم عقد څخه رجوع كول صحيح ده.

---

(۱) : مجتمع غير متفرق وي، لكه مېوه په ونه باندې رهن كول خو د ونو څخه بغير، دغه شان كښت په ځمكه كې رهن كول د ځمكې څخه بغير صحيح نه وي، ځكه چې دا محوز نه دي.

(۲) : يعنې د راهن په حق كې به مشغول نه وي، لكه : داسې كور كېښودل صحيح نه دي چې راهن خپله پكې اوسيږي يا يې د خپل كور سامان پكې ايښی وي، ځكه چې دا بيا مفرغ نه دی.

(۳) : يعنې رهن به مشاع (بې تقسيمه به پروت نه وي، بلكې تقسيم شوی به وي) نه وي، لكه : د شريكې غلام نصف يا ثلث د رهن په توګه كېښودل جائز نه دي، ځكه چې دا رهن مميز نه دی.

خالي

خالي

صحيح نه دی، ځکه چې دا هم محوز نه دی، (لکه دا مسئله وړاندې هم تېره شوه) مرهون خلقة د داسې شي سره متصل دی چې خپله مرهون نه دی، نو دا به د مشاع په درجه کې شي.

قوله والحرّ الخ: ازاد سړی، مدبر، مکاتب او ام ولد د يو چا سره رهن کول جائز نه دي، ځکه چې ازاد انسان خو له سره مال نه دی. پاتې نور مالونه دي. خو د ازادی د امکن له وجې د هغوی ځخه اخيستل په درجه د ناممکن کې دي، په داسې حال کې چې مذکوره شيان دد دې لپاره کېښودل کيږي چې د راهن د نه ادا کولو پر مهال به د دوی ځخه وصول کيږي، لهذا د مذکوره شيانو په رهن کې کېښودل صحيح نه دي

قوله ولا بالأمانة الخ: د امانت په فهرست کې د راتلونکو شيانو رهن کېښودل صحيح نه دي، لکه يو شی چې د کوم کس سره د امانت په توګه کېښودل شي او د هغې په عوض کې رهن اخيستل صحيح نه دي، مثلاً : يو کس خپله بکسه په بازار کې د يو دوکاندار سره کيږدي او د دوکاندار (مودَع) ځخه د خپلې بکسې په بدل کې يو شی د رهن په توګه واخلي، يا يې يو کس ته يو شی د عاريت [1] په توګه ورکړو او د مستعير (چا ته چې کور يا بکسه ورکول شي) ځخه په بدل کې رهن وغواړي، نو دا رهن اخيستل به صحيح نه وي، وجه دا ده چې رهن د دَين مضمون په بدل کې کېښودل صحيح دي، په داسې حال کې چې مذکوره شيان مضمون نه دي، لکه د وديعت مال چې د مودَع ځخه يا مستعار (په عاريت باندې ورکول شوی شی) د مستعير ځخه هلاک شي، نو دا خلک به ضامن نه وي.

قوله وبالدرك الخ: رهن بالدرک صحيح نه دی، درک په معنی د خسارې او نقصان سره دی، کله داسې کيږي، کله داسې کيږي چې يو کس کوم شی واخلي، خو دا ويره ورسره وي چې کوم مستحق يې پيدا نه شي، دريم کس هغه ته ووايي چې ته بې غمه شه، که دد ې مبيعې مستحق پيدا شو، نو زه يې ذمه دار يم، ستا ثمن به د بائع ځخه واپس درته واخلم، دې ته کفالت بالدرک ويل کيږي او داسې کفالت صحيح دی، دد ې لپاره چې د ضرورت په وخت کې د هغه اخيستل ممکن شي، دلته په ضامن باندې هيڅ واجب حق نشته. ځکه چې د مستحق نه پيدا کېدو له وجې په بائع باندې د مشتري هيڅ حق نه دی لازم شوی، نو په ضامن باندې هم هيڅ حق نه دی لازم شوی، نو وصولي به د څه شي وکړی شي.

قوله وبالمبيع الخ: که بائع د مبيعې په بدل کې د مشتري سره رهن کېښودلو، نو دا به صحيح نه وي، ځکه چې مبيعه مضمون بغيره ده او د مضمون بغيره په عوض کې رهن کېښودل صحيح نه دي، مضمون بغيره هغه شي ته ويل کيږي چې د هغې په هلاکت سره د هغې مثل يا قيمت هيڅ شی واجب نه

---

(۱) : د عوض اخيستلو ځخه بغير د يو شي د منافعو مالک جوړولو ته منافع ويل کيږي، لکه : يو کس چې ځانله خپل کور دد ې لپاره ورکړي چې هغه پکې اوسيږي او د اوسېدونکي ځخه يې عوض (روپۍ) نه اخلي. (نائل)

خالي

خالي

هم دی، مثلا: يو سړي د بل کس څخه دوه غلامان د زرو روپو په بدل کې واخيستل، بيا بائع ته يې پنځه سوه روپۍ ادا کړې، نو مشتري ته به دا حق حاصل نه وي چې د بائع څخه يو غلام همدا اوس واخلي، بلکې کله چې د هغه پوره ثمن ادا کړي، نو بيا به هغه ته مبيعه سپارل کيږي.

قوله فإن قضى دين أحدهما الخ: که په يو کس باندې د دوه کسانو قرض وي، مقروض د دواړو د دَين په بدل کې يو شی رهن کېښودلو. نو دا رهن به صحيح وي، خو پوره شی په دوی دواړو کې د يو کس سره رهن وي، ځکه چې په يوه معامله کې د پوره شي په طرف د رهن اضافت کيږي او په رهن کې شيوع نه وي، (ځکه چې تعدد د مستحقينو په محل واحد کې تعدد نه ثابتوي) او د رهن حکم دا دی چې د مرتهن د قرضې په بدل کې به محبوس وي او په دې کې تجزي نه راځي، ددې وجې به دا (رهن) د دواړو سره مرهون وي، د مرهون د هلاکت په صورت کې به هر يو د خپلې حصې دَين ضامن وي، ځکه چې د حق په وصولولو کې تجزي کيږي، نو د هلاکت په وخت کې به هر مرتهن د خپلې حصې وصول کوونکی شي، لهذا مرهون به د هر يو د دَين په اندازه مضمون وي، که راهن په دوی دواړو کې د يو کس دَين ادا کړو، نو اوس به پوره مرهون د بل کس په قبضه کې رهن وي، تر هغه پورې چې هغه هم خپله قرضه وصول نه کړي، ځکه چې پوره شی د تفريق څخه بغير د دواړو په لاس کې رهن دی، لکه څنګه چې د مرتهن يو کېدو په صورت کې و.

قوله وبطل بيّنة كلّ واحدٍ الخ: زيد او بکر دواړو دا دعوه وکړه چې د خالد سره کوم غلام دی، هغه يې زمونږ سره د رهن په توګه ايښې و او مونږ ورباندې قبضه هم کړې وه، يعني هر يو دا دعوه وکړه چې هغه زمونږ سره د رهن په توګه ايښې و، او هر يو په دې باندې شاهدان هم قائم کړه، نو د دواړو شاهدان به باطل وي، قاضي به د يو په حق کې هم فيصله نه کوي، ځکه چې دواړه د خپل مرتهن کېدو، د يو (متعين) کس د راهن کېدو او د هغه د غلام د مرهون کېدو دعوه کوي، حال دا چې داسې صورت محال دی، ځکه چې يو غلام په دوه کسانو کې د هر يو کس سره په يو وخت کې رهن کېدی نه شي او د کوم يو کس په حق کې فيصله کول به ترجيح بلا مرجح وي او د دواړو لپاره د نيمايي نيمايي فيصله کولو پرمهال به شيوع لازم شي او شيوع د (رهن په مذکوره طريقې سره) باطله ده، لهذا د دواړو مدعيانو دعوه او شاهدان به باطل وي.

قوله ولومات راهنه والعبد الخ: که په پورتني صورت کې راهن مړ شي او غلام ددې دواړو مدعيانو په قبضه کې وي او هر يو ددې غلام د خپل ځان سره د رهن په توګه ايښودلو باندې شاهدان هم قائم کړه، نو قاضي به د دواړو لپاره د نيمايي غلام فيصله د رهن په توګه وکړي، هغوی به نيمايي نيمايي غلام د خپل خپل حق په بدل کې خرڅ کړي، دا حکم استحسانا دی، ځکه چې د راهن په ژوند کې د رهن مقصد دا وي چې مرتهن يې د خپل حق اخيستلو په خاطر د خپل ځان سره وساتي او د راهن د مرګ په صورت کې د

رهن حکم دا دی چې هغه به خرڅ کړي او قرضه به ادا شي، په لومړي صورت کې شیوع ضرري وه، ددې وجې مونږ د بطلان قول وکړو او په دويم صورت کې شيوع تاوان نه کوي، ددې وجې اجازت ورکول شو

باب الرهن يوضع على يد عدل

قوله باب الخ: دا باب ددې په بیان کې دی چې مرهون به د عادل سړي په قبضه کې وي، هر کله چې مصنف رَحِمَهُ اللهُ د راهن او مرتهن د ذات سره د متعلقو مسئلو څخه فارغ شو، نو اوس يې د دوی د نائب (عادل) په اړه د احکامو بیان شروع کړو، ځکه چې نائب تل د اصل څخه وروسته ذکر کیږي، هر کله چې راهن او مرتهن د مرهونه شي د دريم کس په قبضه کې ورکولو باندې راضي شي، هغه دریم کس ته به عادل ویل کیږي.

وضعا الرّهن على يد عدلٍ صحّ ولا يأخذه أحدهما منه ويهلك في ضمان المرتهن فإن وكّل المرتهن أو العدل أوغيرهما ببيعه عند حلول الدّين صحّ فإن شرطت في عقد الرّهن لم ينعزل بعزله وبموت الرّاهن والمرتهن وللوكيل بيعه بغيبة ورثته وتبطل بموت الوكيل ولا يبيعه المرتهن أو الرّاهن إلّا برضا الآخر فإن حلّ الأجل وغاب الرّاهن أجبر الوكيل على بيعه كالوكيل بالخصومة من جهة المطلوب إذا غاب موكّله أجبر عليها وإن باعه العدل وأوفى مرتهنه ثمنه فاستحقّ الرّهن وضمن فالعدل يضمّن الرّاهن قيمته أو المرتهن ثمنه وإن مات الرّهن عند المرتهن فاستحقّ وضمن الرّاهن قيمته مات بالدّين وإن ضمن المرتهن رجع على الرّاهن بالقيمة وبدينه.

ترجمه: دواړو (راهن او مرتهن) مرهون شی د یو عادل سړي سره کېښود، نو دا به صحیح وي، د دوی څخه يې کوم يو کس د عادل څخه نه شي اخيستلی او د مرتهن په ضمان کې به هلاک کیږي. که راهن مرتهن وکیل وګرځوي یا عادل کس وکیل کړي یا د دوی دواړو څخه علاوه بل کس د مرهون د خرڅولو وکیل کړي د تاکلي مودې د پوره کېدو څخه وروسته، (نو دا وکالت به) صحیح وي، که وکالت په عقد رهن کې شرط کړی شي، نو وکیل به د راهن په معزوله کولو سره معزول نه وي، راهن به د مرتهن په مړينې سره او د وکیل لپاره به جائز وي چې د راهن د وارثانو په نه شتون کې يې خرڅ کړي، د وکیل په مړينې سره به باطل شي، مرهون به مرتهن یا راهن نه خرڅوي، مګر د بل کس په خوښه. که موده پوره شي او راهن غائب وي، نو وکیل به د مرهون شي په خرڅولو باندې مجبوره کولی شي. لکه د وکیل بالخصومت مؤکل چې کله غائب شي، نو هغه به په ځواب ورکولو باندې مجبوره کولی شي. که مرهون شی عادل خرڅ کړي او مرتهن ته يې د هغې ثمن ورکړو، بیا د مرهون شي مستحق پیدا شو او عادل سړي تاوان ورکړو، نو عادل به د راهن څخه د هغې قیمت اخلي یا به د مرتهن څخه د هغې ثمن.

كه مرهون د مرتهن سره مړ شي، بيا د هغې مستحق پيدا شي او راهن د هغې د قيمت تاوان وركړي، نو مرهون شى به د دَين په بدل كې مړ وي او كه د مرتهن څخه يې تاوان واخيستلو، نو مرتهن به په راهن باندې په قيمت او خپل دَين سره رجوع كوي.

تشريح الفقهِ : قوله وضعاً الرّهن الخ: كه راهن او مرتهن دواړه په دې باندې راضي شول چې رهن به د كوم عادل سره كېږدي، نو صحيح ده، ځكه چې په رهن باندې قبضه كول د مرتهن حق دى، هر كله چې هغه د خپل حق په اسقاط باندې راضي شو، نو د صحت څخه هيڅ مانع نشته، اوس به د راهن او مرتهن څخه يو كس ته دا حق حاصل نه وي چې د عادل څخه د رهن غوښتنه وكړي، ځكه چې د دريمګړي په قبضه كې د حفاظت كولو په اعتبار سره په رهن كې د راهن حق متعلق دى او د حق اخيستلو په اعتبار سره د رهن سره د مرتهن حق متعلق دى، لهذا هيڅ يو كس ته به د دويم كس د حق باطلولو اختيار نه وي، كه مرهون د دريمګړي سره هلاک شي، نو د مرتهن په ضمان كې به هلاک وي، ځكه چې د ماليت په حق كې د دريمګړي قبضه د مرتهن قبضه وي.

قوله فإن وكّل المرتهن الخ: كه راهن مرتهن لره يا عادل يا د دريمګړي د دَين د نيټې پوره كېدو وروسته د مرهون خرڅولو لپاره وكيل وټاكلو، نو دا وكالت به جائز وي، ځكه چې راهن د مرهون شي مالک وي او مالک ته اختيار وي، د هغه خوښه ده چې هر څوک د خپل مال خرڅولو لپاره وكيل وټاكي.

قوله فإن شرطت في عقد الرّهن الخ: كه د عقد رهن په وخت كې د وكالت شرط ولګول شو، مثلا: راهن ووېل چې زه دا شى د رهن په توګه په دې شرط كېږدم چې د قرض مودې پوره كېدو باندې به فلانى سړى زما له طرفه د وكالت په توګه دا خرڅولى شي، نو اوس به راهن ته دا حق حاصل نه وي چې هغه وكيل معزول كړي، كه راهن وكيل معزول كړي، نو د هغه معزوله كېدو ته به هيڅ اعتبار نه وي، ځكه چې وكالت د رهن په اوصافو كې يو وصف او د حقوقو څخه يو حق دى. (**فيلزم بلزوم أصله أي رهن**)

قوله وبموت الراهن والمرتهن الخ: كه راهن يا مرتهن مړ شي، نو بيا به هم مذكوره وكيل نه معزوله كيږي، ځكه چې د راهن په مړينې سره رهن نه باطليږي، ځكه چې د مؤكل په مړينې سره وكالت چېرته هم باطليږي، هغه د وارثانو د حق له وجې وي، ځكه چې ملكيت وارثانو ته منتقل كيږي، ځكه چې د مرتهن حق د وارثانو په حق باندې مقدم دى او د مرتهن په مړينې سره به ددې وجې معزول نه وي چې مرتهن خو هغه وكيل نه دى جوړ كړى، لهذا مرتهن به د وكيل د وكالت څخه اجنبي وي او د اجنبي په مړينې سره وكيل نه معزوله كيږي.

د راهن په ژوند کې د وکیل لپاره جائز و چې د راهن په عدم موجودګۍ کې مرهون خرڅ کړي، لهذا د راهن د مړينې وروسته هم هغه ته دا حق حاصل دی چې د راهن د وارثانو په عدم موجودګۍ کې مرهون خرڅ کړي.

که وکيل مړ شي، برابره خبره ده چې وکيل خپله مرتهن وي يا عادل وي يا کوم بل سړی وي، نو د وکيل وکالت به ختم شي، د وکیل وارثانو يا د هغه وصي ته به دا حق نه منتقل کيږي، ځکه چې په وکالت کې ميراث نه جاري کيږي، ځکه چې ميراث د هغو حقوقو څخه دی چې د مورث لپاره واجب وي، نه په هغو حقوقو کې چې د مورث په ذمه واجب وي.

د راهن او مرتهن څخه يو کس ته دا حق حاصل نه دی چې هغه د بل د رضامندی څخه بغير مرهون خرڅ کړي، مرتهن ته دا حق ددې وجې حاصل نه دی چې مرهون د راهن ملکيت دی او د راهن له طرفه د خرڅولو اجازه نشته او راهن د مرهونې د خرڅولو اجازه ددې وجې نه لري چې د مرهون په ماليت کې د راهن په نسبت د مرتهن حق زيات متعلق شوی دی، په دې صورت کې به راهن په دې باندې قادر نه وي چې مبيعه مشتري ته حواله کړي، حال دا چې د بائع لپاره ضروري ده چې د مبيعې په حواله کولو باندې قادر وي.

قوله فإن حلّ الأجل الخ: که د قرض ادا کولو وخت نژدې شي او راهن موجود نه وي، هغه وکيل چې د هغه په قبضه کې مرهون وي هغه يې د خرڅولو څخه انکار وکړي، نو قاضي به په وکيل باندې جبر کوي، ددې لپاره چې مرهون شی خرڅ کړي، ځکه چې د وکيل په انکار کې د مرتهن د حق ابطال دی او د بل کس د حق باطلېدو څخه د بچ کېدو په خاطر جبر جائز دی، همدا حکم د وکيل بالخصومت هم دی، مثلا يو سړي بل کس وکيل بالخصومت جوړ کړو او مؤکل غائب شو، وکيل د قاضي په وړاندې د خصومت څخه انکار وکړو، نو وکيل به په خصومت باندې مجبوره کولی شي.

قوله وإن باعه العدل الخ: د کوم عادل سړي سره چې رهن ايښی و، د وخت په نژدې کېدو سره هغه مرهون خرڅ کړو او ثمن يې مرتهن ته وسپارل. بيا د مرهونه شي کوم مستحق پيدا شو، عادل هغه کس ته ضمان ورکړو، نو عادل ته به اختيار وي، خوښه يې ده چې د راهن څخه تاوان اخلي، ځکه چې عادل د راهن وکيل دی، نو کومه ذمه داري چې عادل ته لاحق کيږي، د هغې په اړه به راهن ته رجوع کوي او که خوښه يې وي؛ نو د مرتهن څخه دي تاوان واخلي، ځکه چې عادل د ضمان ادا کولو له وجې د مرهون مالک شو، نو ثمن به هم د عادل وي او عادل ثمن مرتهن ته ددې وجې حواله کړي و چې هغه په خپل ګومان کې د راهن ملکيت ګڼلی و، خو کله چې معلومه شوه چې د راهن ملکيت نه دی، بلکې خپله د عادل ملکيت دی، نو هغه د خپل ملکيت مرتهن ته په ورکولو باندې خوښ نه دی، بهر حال

اوس دا معلومه شوه چې د مرتهن ثمن اخيستل ناحق دي، لهذا عادل ته به دا حق حاصل وي چې د مرتهن څخه خپل ثمن واپس واخلي. بيا که هغه د راهن څخه تاوان واخلي، نو د مرهون پوره قيمت تاوان به اخلي او که د مرتهن څخه يې تاوان واخيستلو، نو صرف دومره تاوان به اخلي چې هغه راهن ته ورکړی دی.

قوله وإن مات الرّهن عند المرتهن الخ: که د مرتهن په ولکه کې مرهون غلام مړ شي. د غلام د مړيني څخه وروسته د هغه مستحق پيدا شو. نو مستحق ته به اختيار وي. د هغه خوښه ده چې د راهن څخه تاوان اخلي او که د مرتهن څخه تاوان اخلي. ځکه چې د دواړو له طرفه زيادت موجود شوی دی. د راهن له طرفه زيادت دا دی چې هغه پردی غلام د خپل قرض په بدله کې مرتهن ته ورکړی دی او د مرتهن له طرفه زيادت دا دی چې هغه د مستحق په غلام باندې د هغه بې اجازې قبضه کړې ده. بيا که راهن ضمان ادا کړي، نو په دې صورت کې به دا غلام د مرتهن د قرض په بدل کې مړ شوی وي. نو ګويا د مرتهن قرض مړ شو (يعنې ساقط شو) لهذا اوس به راهن مرتهن ته هيڅ شی نه ورکوي. ځکه چې هغه د قرض په بدل کې د غلام قيمت ورکړو.

قوله وإن ضمن المرتهن الخ: که مستحق سړي د مرتهن څخه تاوان واخيستلو، نو مرتهن به د راهن څخه د غلام هغه قيمت هم اخلي چې هغه مستحق ته ورکړی دی او خپله قرضه دې هم واخلي. قيمت دې ددې وجې وصول کړي چې مرتهن ته د راهن له لورې دوکه ورکول شوې ده او قاعده دا ده چې په مغرور باندې کوم تاوان راشي، هغه به د دوکه ورکوونکي څخه اخيستلی شي او دَين به ددې وجې اخيستلی شي چې کله د هغه د اخيستلو قبضه ختمه شوه، نو د هغه د قرضې حق به واپس راشي.

باب التّصرّف في الرّهن والجناية عليه وجنايته على غيره

قوله باب الخ: دا باب په مرهون شي کې د تصرف کولو او په هغه باندې د جنايت کولو او د مرهون جنايت على الغير په بيان کې دی، په مرهون شي کې تصرف کول او په هغه باندې جنايت کول طبعاً معلومه خبره ده چې د رهن څخه وروسته کيږي. نو وضعاً هم مصنف رَحِمَهُ اللهُ ددې امورو احکام وروسته ذکر کړل. ددې لپاره چې وضع د طبع سره مطابق شي.

ويوقف بيع الرّاهن على إجازة مرتهنه أو قضاء دينه ونفذ عتقه وطولب بدينه لو حالًّا ولو مؤجّلًا أخذ منه قيمة العبد وجعلت رهنًا مكانه ولو معسرًا سعى العبد في الأقلّ من قيمته ومن الدّين ويرجع به على سيّده وإتلاف الرّاهن كإعتاقه وإن أتلفه أجنبيٌّ فالمرتهن يضمّنه قيمته ويكون رهنًا عنده وخرج من ضمانه بإعارته من راهنه فلو هلك في يد الرّاهن هلك مجّانًا وبرجوعه عاد ضمانه.

ترجمه: د راهن خرڅلاو به د مرتهن په اجازې يا د دَين ادا كولو پورې موقوف وي، د هغه ازادي به نافذه وي، كه قرض يې فوري وي. نو د قرض ادا كولو سمدستي غوښتنه به ترې كيږي. كه قرض نېټه دار (ميعادي) وي. نو د غلام قيمت به ترې اخيستل كيږي او د مرهون غلام په بدل كې به د مرتهن سره كېښودل كيږي. كه راهن تنګلاسى وي. نو غلام به په خپل قيمت او قرض (ادا كولو) په كمه اندازه كې كوشش كوي. بيا به په دې باره كې په خپل مولى باندې رجوع كوي. د راهن له طرفه تلف كول به د ازادى په شان وي. كه اجنبي يې تلف كړي. نو مرتهن به د هغه څخه د قيمت په اندازه تاوان اخلي او هغه قيمت به د هغه سره د رهن په توګه وي. په عاريت سره وركولو له وجې به د مرتهن له ضمان څخه خارج شي. كه د راهن سره هلاک شي. نو مفت به هلاک شي او په واپس كولو سره به تاوان واپس راشي.

تشريح الفقه: **قوله ويوقف بيع الرّاهن الخ**: كه راهن د مرتهن بې اجازې مرهون شى خرڅ كړي. نو دا بيع به موقوفه وي. ځكه چې د مرهون شي د ماليت سره د مرتهن حق متعلق كيږي. لهذا د مرتهن بې اجازې به دا بيع نافذ نه وي. كه مرتهن اجازه وركړي يا راهن د مرتهن دَين ادا كړو. نو بيع به نافذه وي. ځكه چې مانع به ختم شي.

قوله ونفذ عتقه الخ: كه مرهون شى غلام وي. راهن يې د مرتهن بې اجازې ازاد كړي. نو ازادي به نافذه وي. ځكه چې راهن عاقل. بالغ او په شرعي حكمونو باندې مكلف انسان دى. لهذا د هغه تصرف به لغو نه وي. بيع يې ددې وجې جائز نه وه چې په مرهون شي باندې د راهن قبضه موجوده نه وه. حال دا چې په بيع كې مبيعه باندې قبضه ضروري ده. ددې لپاره چې د مبيعې سپارل مشتري ته ممكن شي او په ازادى كې د تسليم ضرورت نه وي. لهذا د ازادونكي قبضه هم ضروري نه ده. اوس كه راهن شتمن وي او قرض فوري (سمدستي) ادا كول وي. نو د راهن څخه به د دَين ادا كولو سمدستي غوښتنه كيږي او كه دَين مؤجل وي. نو د راهن څخه به د غلام د قيمت په اندازه روپۍ واخيستل شي او د قرض د نېټې پوره كېدو پورې به يې مرتهن د ځان سره رهن كېږدي. ځكه راهن د مرتهن د وصولى قبضه ختمه كړې ده. له مرتهن به د غلام قيمت د رهن په توګه د ځان سره وساتي. ددې لپاره چې قرض د اخيستلو لپاره استيثاق (مضبوطي) حاصل شي.

قوله ولومعسرًا الخ: كه راهن تنګ لاسى وي. نو د غلام د قيمت او دَين څخه چې كوم كم وي، د هغې په اندازه به په غلام باندې د كار كولو حكم كيږي. ځكه چې هر كله د معتق څخه د قرض اخيستل حق متعذر شو. نو كوم كس چې د هغه د اعتاق څخه ګټه اخيستلې وي. په هغه باندې به رجوع كولى شي. لكه شريكي غلام چې يو شريک ازاد كړي. نو كه ازاد كوونكى تنګ لاسى وي. نو غلامه ته به حكم كولى شي چې د دويم كس د قيمت په اندازه به مزدوري وكړي او هغه ته به روپۍ وسپاري. بيا

چې غلام څومره قرضه ادا کړي، نو کله چې مولی (سردار) شتمن شي، نو هغه به يې د خپل مولی څخه واپس واخلي. ځکه چې معتَق د هغه قرضه ادا کړې ده او غلام د هغې په ادا کولو کې مضطر دی، متبرع نه دی، لهذا هغه ته به د مولی څخه رجوع کولو حق حاصل وي.

قوله وإتلاف الرّاهن كإعتاقه الخ: د راهن له طرفه د مرهون هلاکت د ازادی په شان دی، يعنې پورته بيان شوی تفصيل په دې صورت کې هم دی، کله چې راهن خپله مرهونه خپله هلاکه کړي، نو مرتهن به د راهن څخه د غلام د قيمت په اندازه مال اخلي او د رهن په توګه به يې د ځان سره ساتي، البته په دې صورت کې مرتهن په هلاک شوي غلام باندې سعايت نه شي کولی، ځکه چې په هلاک شوي غلام باندې سعايت کول محال دی.

قوله وإن أتلفه أجنبىٌّ الخ: که مرهون د کوم پردي کس په لاس باندې هلاک شي، نو د پردي کس څخه د تاوان په اخيستلو کې به خصم مرتهن وي، د پردي څخه د رهن قيمت اخلي او مرتهن به يې د ځان سره د رهن په توګه کېږدي، ځکه چې تر کومه پورې رهن موجود وي، د عين رهن حقدار به مرتهن وي او قيمت د عين قائم مقام دی، لهذا د قيمت اخيستلو حقدار به هم مرتهن وي.

قوله بإعارته من راهنه الخ: که مرتهن مرهون شی راهن ته د عاريت په توګه ورکړو او راهن ورباندې قبضه وکړ، نو مرهون به د مرتهن د ضمان څخه خارج وي، يعنې اوس به د هلاکت په صورت کې مرتهن ضامن نه وي، ځکه چې د راهن په قبضه کولو سره د مرتهن موجب ضمان قبضه ختمه شوه، نو اوس که د راهن په قبضه کې هلاک شي، نو د تاوان څخه بغير (مفت) به هلاک شي، ځکه چې د مالک په لاس کې تلف راغلی دی.

قوله وبرجوعه عاد ضمانه الخ: مرتهن ته به دا حق حاصل وي چې راهن ته په عاريت باندې ورکول شوی مرهون واپس واخلي، ځکه چې د حق ضمان څخه په علاوه کې عقد رهن په خپل حال دی، که مرتهن د راهن څخه مرهونه واپس واخيستل، نو په مرتهن باندې به ضمان هم واپس راشي، ځکه چې سبب د ضمان يعنې قبضه واپس راغله.

ولو أعاره أحدهما أجنبيًا بإذن الآخر سقط الضّمان ولكلٍّ أن يردّه رهنًا وإن استعار ثوبًا ليرهنه صحّ، ولو عيّن قدرًا أو جنسًا أو بلدًا فخالف ضمّن المعير المستعير أو المرتهن وإن وافق وهلك عند المرتهن صار مستوفيًا ووجب مثله للمعير على المستعير ولو افتكّه المعير لا يمتنع المرتهن إن قضى دينه وجناية الرّاهن والمرتهن على الرّهن مضمونةٌ وجنايته عليهما وعلى مالهما هدرٌ.

ترجمه: كه مرهون شى كوم كس (راهن يا مرتهن) د يو بل په اجازه پردي ته په عاريت باندې وركړو، نو ضمان به ساقط وي، هر يو ته به د رد كولو حق حاصل وي چې د ځان سره يې رهن كېږدي، كه كپړه يې په استعارې باندې اخيستلې وي ددې لپاره چې رهن يې كړي، نو صحيح ده، كه متعين كړي مقدار، جنس او ښار او هغه مخالفت وكړو، نو تاوان به معير د مستعير يا مرتهن څخه واخلي او كه هغه د هغه سره موافقت وكړو او كپړه د مرتهن سره ضايع شوه، نو د مرتهن حق به وصول شوى وي او همدومره به د معير لپاره واجب وي په مستعير باندې، كه معير كپړه خلاصه كړي، نو د كپړې وركولو څخه به مرتهن نه بنديږي، كه راهن د هغه قرضه ادا كړې وي، د راهن او مرتهن جنايت په مرهون شي باندې مضمون به وي، د مرهون جنايت په دوى دواړو او د هغه په مال باندې مفت دى.

تشريح الفقه: **قوله ولو أعاره الخ**: كه د راهن يا مرتهن څخه هر يو د بل په اجازه باندې مرهون شى پردي ته په عاريت باندې وركړو، نو د ضمان حكم به ساقط وي، كه مرهون د مستعير سره هلاك شي، نو هيڅوک به يې ضامنُ نه وي، مستعير به يې ددې وجې ضامن نه وي چې د هغه قبضه د امانت قبضه ده او امين ضامن نه وي، مرتهن به ددې وجې ضامن نه وي چې هغه د قبضې له وجې ضامن و، هر كله چې قبضه ختمه شوه، نو ضمان به هم ختم وي، د راهن او مرتهن څخه به هر يو ته دا اختيار حاصل وي چې د مستعير څخه مستعار شى واپس واخلي او د عادت سره يې سم رهن كېږدي، د نوي عقد هيڅ ضرورت نشته، ځكه چې تر دې وخته پورې د هغه عقد رهن په خپل حال صحيح دى.

قوله وإن استعار ثوبًا الخ: زيد د خالد څخه په عاريت باندې كپړه واخيستل، ددې لپاره چې د دريم كس سره يې په رهن باندې كېږدي او د هغه څخه قرضه واخلي او خپل ضرورت ورباندې پوره كړي، نو داسې معامله به جائز وي، ځكه چې دا د معير (خالد) له لورې تبرع (احسان) ده، كه خالد كوم مقدار ونه ټاكي، يعنې داسې ونه وايي چې د دوه روپو په بدل كې به رهن وي، ددې څخه په كم يا زيات كې به نه وي، نو مستعير (زيد) چې دا د څومره روپو مقدار په بدل كې رهن كېږدي، جائز به وي، ځكه چې دا مطلق اجازه ده.

قوله وإن وافق وهلك الخ: كه مستعير د معير د حكم موافقت وكړو، يعنې د څومره مقدار په بدل كې يې د رهن وينا كړې وه يا يې په كوم ښار كې د كېښودلو په اړه ويلي و، په همغه مقدار او همغه ښار كې يې كېښودل، اوس هغه كپړه د مرتهن سره هلاک شوه، نو كتل كيږي به: كه مستعار د مرهون د قيمت قرض په اندازه يا زيات وي، نو د مذكوره حكم په شان به د مرتهن قرض د راهن څخه ختم شي، ځكه چې د مرتهن قبضه د وصولى لپاره كيږي، لهذا د مرهون د هلاكت له وجې به مرتهن ته خپله قرضه وصول شوې ګڼل كيږي، څومره اندازه قرض چې و، په هغومره اندازه روپې به د معير په مستعير باندې لازمې شي، ځكه چې مستعير د معير د مال څخه خپل همدومره قرض ادا كړى دى او كه د مستعار مرهون قيمت د

قرض په برابر وي، د راهن د تنګ لاسی له وجې معير وغوښتل چې مرهون خلاص کړي، نو مرتهن ته به ·كه د هغه قرضه ادا كړي· د منع كولو حق حاصل نه وي، ځکه چې كه قرض كوم متبرع (احسان كوونكى) ادا كول غواړي، نو بې شكه چې په مرتهن باندې به جبر نه شي كېدلى، خو كه د قرض ادا كوونكى متبرع نه وي، نو بيا به په مرتهن باندې د رهن واپس كولو لپاره جبر كولى شي او په مذكوره صورت كې به معير متبرع نه وي، ځکه چې د عاريت وركولو پرمهال اګر چې هغه متبرع دى، خو په خلاصولو كې متبرع نه دى، بلكې هغه د خپل مال خلاصوونكى دى، لهذا د معير ادا كول به د راهن د ادا كولو په شان وي، لهذا مرتهن ته به د مرهون د منع كولو حق حاصل نه وي، كه منع يې كړي، نو د هغه ځخه به يې په زوره اخلي.

قوله وجناية الرّاهن والمرتهن الخ: كه په مرهون باندې راهن خپله تجاوز وكړو، نو دا به مضمون (يعنې موجب د ضمان) وي، ځکه چې په دې سره به د مرتهن محترم حق چې په رهن پورې متعلق دى هغه به فوت شي، لهذا مالک به په حق د ضمان كې پردى وګڼل شي، دغه شان كه مرتهن په مرهون باندې جنايت وكړو، نو دى به هم مضمون وي، يعنې د مرتهن قرضه به د راهن ځخه د جنايت په اندازه ساقط شي، ځکه چې راهن مالک دى او مرتهن د هغه په مملوک مال باندې تجاوز وكړو او فوت يې كړو، ددې وجې به مرتهن ضامن وي.

قوله وجنايته عليهما الخ: كه مرهون په راهن يا مرتهن يا يې د دوى په مال باندې جنايت وكړو، نو دا به مفت هلاک وي، (يعنې موجب د ضمان به نه وي) په دې شرط چې جنايت موجب د قصاص نه وي. كه موجب د قصاص وي، نو قصاص به ترې اخيستل كيږي، په راهن باندې د مرهون جنايت ددې وجې عفو دى چې دا د مملوک جنايت دى په مالک باندې او د مملوک جنايت په مالک باندې كه موجب د مال وي، نو دې ته اعتبار نشته، په مرتهن باندې د جنايت كولو په صورت كې ضمان ددې وجې نشته چې مرهون دا جنايت د مرتهن په ضمانت كې كړى دى، لهذا ددې جرم ځخه خلاصون به د مرتهن په ذمه وي، د يو طرفه د مرتهن لپاره ضمان دى او د بل طرفه خپله په مرتهن باندې ضمان دى، په دې ضمان كې به هيڅ فايده نه وي، لهذا دا جنايت به موجب د ضمان نه وي.

وإن رهن عبدًا يساوى ألفًا بألفٍ مؤجّلٍ فرجعت قيمته إلى مائةٍ فقتله رجلٌ وغرم مائةً وحلّ الأجل فالمرتهن يقبض المائة قضاءً من حقّه ولا يرجع على الرّاهن بشيءٍ ولو باعه بمائةٍ بأمره قبض المائة قضاءً من حقّه، ورجع بتسعمائةٍ وإن قتله عبدٌ قيمته مائةٌ، فدفع به افتكّه بكلّ الدّين وإن مات الرّاهن باع وصيّه الرّهن وقضى الدّين فإن لم يكن له وصيٌّ نصّب له القاضي وصيًّا وأمر ببيعه.

ترجمه: كه غلام يې په رهن كې كېښودلو چې د زرو (روپو) په برابر دى او د زرو روپو مؤجل په بدل كې او د هغه قيمت تر سلو پورې راښكته شو، بيا هغه كوم كس ووژلو، هغه په تاوان كې سل روپۍ وركړې او

موده پوره شوه، نو مرتهن به سل روپۍ قبضه کړي په سلو باندې د حق اخيستلو له مخې او نهه سوه روپۍ به د راهن څخه واخلي او که هغه داسې غلام وژلی وي چې د هغه قيمت سل روپۍ دی، نو قاتل (غلام) به ورکولی شي د مقتول په بدل کې. راهن به هغه خلاصوي د ټول دَين (قرض) په بدل کې او که راهن مړ شي، نو د هغه وصي به مرهون شی خرڅ کړي او قرض دي پرې ادا کړي. که د هغه هيڅوک وصي نه وي، نو د هغه لپاره به وصي ټاکل کيږي او هغه ته به د خرڅولو حکم کولی شي

تشريح الفقه: **قوله وإن رهن عبدًا يساوي ألفًا الخ:** که مقروض د خپل قرض خواه سره يو غلام د رهن په توګه کېښودلو چې قيمت يې د رهن په ورځ زر درهمه و او قرضه هم زر درهمه وه، بيا د غلام قيمت کم شو، ترديې پورې چې سل روپۍ ته راورسېدلو، بيا همدا غلام يو کس ووژلو او قاتل د هغه قيمت سل روپۍ ضمان (تاوان) ادا کړو، بيا د قرض موده ختمه شوه، نو مرتهن به د خپل حق د اخيستلو لپاره په سل روپۍ باندې قبضه کوي او د باقي نهه سوه درهمو لپاره به په راهن باندې رجوع نه کوي، ځکه چې د مرتهن قبضه د ابتداء څخه د وصولي قبضه ده او د مرهون په هلاکت سره هغه نوره هم مضبوطيږي، په ابتداء کې د مرهون قيمت زر درهمه و، هغه د ابتداء څخه د خپل ټول قرض اخيستونکی شو، که يوازې قيمت کم شوی وای او غلام هلاک شوی نه وای، نو په دې سره به په مرتهن باندې ضمان واجب نه وای، بلکې هغه به عين غلام سپارلو او خپله ټوله قرضه به يې اخيستل

قوله ولو باعه بمائة الخ: که په مذکوره صورت کې مرهون مړ شوی نه دی، بلکې راهن مرتهن ته حکم کړی وي چې مرهون خرڅ کړي، هغه په سل درهمه باندې خرڅ کړو او دا سل روپۍ يې د خپل قرض په بدل کې واخيستلې. نو نهه سوه روپۍ به د پخوا په شان د راهن په ذمه وي او مرتهن به د هغې په اړه راهن باندې رجوع کوي، ځکه چې هر کله مرتهن د راهن په اجازه باندې مرهون خرڅ کړو، نو دا داسې شوه لکه راهن چې خپله مرهونه خرڅه کړې وي او که هغه خپله خرڅه کړې وای او د ثمن سل درهم يې مرتهن ته ورکړي وای، نو د هغه سل درهمه به د راهن په ذمه باقي پاتې وای، ددې وجې به په مذکوره صورت کې هم همدا حکم وي

قوله وإن قتله عبدٌ قيمته مائةٌ الخ: که داسې صورت پېښ شو چې راهن کوم غلام د زرو روپو په بدل کې (په داسې حال کې چې خپله د غلام قيمت هم زر روپۍ دی) د مرتهن سره رهن ايښی دی، دغه مرهون غلام يو بل غلام ووژلو او د قاتل غلام قيمت يوازې سل روپۍ دی، بيا يې د شريعت د حکم له مخې همدا قاتل غلام مرتهن ته د مرهون غلام په بدل کې ورکړو، نو د شيخينو رحمهما الله په نزد به راهن د مرتهن پوره قرض ادا کړي او د خپل مرهون غلام قائم مقام (قاتل غلام) به د خان سره بوځي، ځکه چې قاتل غلام د مرهون

غلام په بدل کې راغلی دی، لهذا په نفس غلام کې تغير او تبديل نه دی راغلی، نو دا داسې شوه لکه لومړی غلام چې خپله موجود دی او د هغه قيمت کم شوی دی.

فايده: د شيخينو رَحِمَهُمَااللهُ قول راجح دی، لما فی الدر المحتار: «وَلَوْ قَتَلَهُ عَبْدٌ قِيمَتُهُ مِائَةٌ فَدَفَعَ بِهِ افْتَكَّهُ الرَّاهِنُ وُجُوبًا (بِكُلِّ الدَّيْنِ وَهُوَ الْأَلْفُ) لِقِيَامِ الثَّانِي مَقَامَ الْأَوَّلِ لَحْمًا وَدَمًا، وَقَالَ مُحَمَّدٌ: إنْ شَاءَ افْتَكَّهُ بِكُلِّ دَيْنِهِ أَوْ تَرَكَهُ عَلَى الْمُرْتَهِنِ بِدَيْنِهِ وَهُوَ الْمُخْتَارُ كَمَا فِي الشُّرُنْبُلَالِيَّةِ عَنْ الْمَوَاهِبِ، لَكِنَّ عَامَّةَ الْمُتُونِ وَالشُّرُوحِ عَلَى الْأَوَّلِ». (الدر المختار علی هامش رد المحتار: ۳۶۹/۵)

قوله وإن مات الرّاهن الخ: که راهن مړ شو، نو د هغه وصي (هغه څوک چې وصيت ورته وشي) کولی شي چې مرهون شی خرڅ کړي او د مرتهن قرضه ادا کړي، ځکه چې رهن د راهن يا مرتهن په مرګ سره نه باطلیږي او وصي د موصي قائم مقام وي، لهذا د موصي په شان دي وصي مرهون خرڅ کړي او د مرتهن قرض دي پرې ادا کړي او که د راهن څوک وصي نه وي، نو قاضي به د ميت لپاره څوک وصي وټاکي او ټاکل شوي وصي ته به حکم وکړي چې مرهون خرڅ کړي او د مرتهن قرضه ادا کړي.

فصلٌ فی تغير الرهن وزيادته

دا فصل د رهن په مختلفو مسئلو کې دی، د مصنّفينو عادت دا دی چې هغوی د متفرقات بحث د کتاب په پای کې کوي، ددې وجې مصنّف رَحِمَهُ اللهُ هم دا بحث د کتاب الرهن په پای کې ذکر کړو.

رهن عصيرًا قيمته عشرةٌ بعشرةٍ فتخمّر ثمّ تخلّل، وهو يساوی عشرةً فهو رهنٌ بعشرةٍ وإن رهن شاةً قيمتها عشرةٌ فماتت فدبغ جلدها، وهو يساوی درهمًا فهو رهنٌ بدرهمٍ ونماء الرّهن كالولد والثّمر واللّبن والصّوف للرّاهن وهو رهنٌ مع الأصل ويهلك مجّانًا وإن بقی وهلك الأصل فكّ بحظه ويقسم الدّين علی قيمته يوم الفكاك وقيمة الأصل يوم القبض، وسقط من الدّين حصّة الأصل وفكّ النّماء بحصّته وتصحّ الزّيادة فی الرّهن لا فی الدّين وإن رهن عبدًا بألفٍ فدفع عبدًا آخر رهنًا مكان الأوّل وقيمة كلّ ألف فالأوّل رهنٌ حتّی يردّه إلی الرّاهن والمرتهن فی الآخر أمينٌ حتّی يجعله مكان الأوّل.

ترجمه: د لسو درهمو شيره يې رهن کېښوده د لسو درهمو په بدل کې، د هغه شيرې څخه لومړی شراب جوړ شو بيا سرکه شوه، بيا هم د لسو درهمو په برابر وه، نو دا به د لسو روپو په بدل کې رهن وي، د لسو درهمو مېږه يې رهن کړه د لسو روپو په بدل کې، بيا هغه مړه شوه او څرمن يې پخه کړی شوه چې د هغې قيمت يو درهم و، نو د هغه سره به يو درهم رهن وي، د رهن زياتوالی، لکه: بچی، مېوه، شيدې او وړی تول به د راهن لپاره وي او هغه به د اصل سره رهن وي او هلاکت به يې مفت وي، که زياتوالی يې باقي وي او اصل هلاک شي، نو د هغه د حصې موافق به خلاصولی شي، نو دين به د هغې په قيمت باندې تقسيم

کړی شي، کوم قیمت چې د خلاصولو په ورځ دی او د اصل په قیمت باندې چې د خلاصولو په ورځ و، لهذا د قرض څخه به د اصل حصه ساقطه وي او زیاتوالی به خلاصولی شي د خپلې حصې په بدل کې، په مرهون کې زیاتوالی صحیح دی، نه دا چې په دَین کې، که یو غلام یې د زرو روپو په بدل کې رهن کېښودلو، بیا یې دویم غلام د اول غلام په بدل کې رهن کېښودلو او قیمت د هر یو زر روپۍ و، نو اول به رهن وي، تردې پورې چې مرتهن یې د راهن طرف ته رد کړي او مرتهن به د دویم غلام په حق کې امین وي تردې پورې چې مرتهن یې د اول غلام په ځای باندې رهن کړي.

د رهن ځینې مختلفې مسئلې

تشریح الفقه : قوله رهن عصیرًا الخ: که زید د بکر څخه لس درهم په قرض باندې واخیستل، بیا یې د هغې په بدل کې د انګورو شیره په رهن کې کېښوده چې د شیرې قیمت هم لس درهمه و، بیا د هغې شیرې څخه شراب جوړ شول او بیا خپله شراب په سرکې باندې بدل شول، اتفاقي خبره دا وه چې د سرکې ټول قیمت هم لس روپۍ و، نو اوس به سرکه د لسو درهمو په بدل کې رهن ګڼل کیږي، ځکه چې د انګورو شیره او سرکه دواړه مبیعه جوړېدی شي او کوم شیان چې قابل د مبیعې دي، هغه مرهون هم کېدی شي. دا چې په منځ کې د شیرې څخه شراب جوړ شوي دي، خو بقاء هغه بیا هم د عقد په حالت کې دی او بقاءً شراب هم محل د عقد جوړېدی شي، مثلا : کوم کس د انګورو شیره واخیستل او د قبضې څخه وړاندې د هغې شیرې څخه شراب جوړ شول. نو عقد به په دې کې په خپل حالت وي.

قوله وإن رهن شاةً الخ: که راهن د لسو روپو په بدل کې د لسو روپو مېږه په رهن کې ورکړه او هغه مېږه د ذبحې څخه بغیر مړه شي، د هغې څرمن په لمر، مالګه یا خاوره باندې وچه کړي چې قیمت یې یوې روپۍ ته راښکته شي، نو هغه به په یوه روپۍ باندې رهن وي، ځکه چې رهن د مرهونې په هلاکت سره ثابتیږي او هر کله چې په بعض محل کې صلاحیت پیدا شو، نو د هغې په اندازه به د رهن حکم واپس کیږي.
د مرتهن سره چې په رهن کې کوم زیادت راشي، لکه : مېوه، شیدې، وړۍ او داسې نور شیان ... نو دا به ټول د راهن وي، ځکه چې د راهن په مملوک کې زیادت راغلی دی او دا زیادت به د خپل اصل سره رهن وي، ځکه چې نماء د اصل سره تابع ده، که زیادت هلاک شي، نو په مرتهن باندې به ضمان نه وي، ځکه چې کوم شی د اصل مقابل وي، د هغې څخه به د تابع هیڅ حصه نه وي، ځکه چې تابع مقصودا په عقد کې داخل نه وي.

قوله وإن بقي الخ: که اصل مرهون هلاک شي او زیادت باقي پاتې شي، نو زیادت به د دَین په حصه کې خلاصولی شي، ځکه چې اوس به زیادت خلاصول هم مقصود وي او تابع چې کله مقصود وګرځي، نو د

هغې په مقابل كې قيمت وغيره راځي، نو اوس به دا څنګه معلومه شي چې زيادت د قرض په څومره مقدار په بدل كې محبوس دى. ددې صورت دا دى چې د اصل قيمت به د هغې ورځې معتبر وي د كومې ورځې څخه چې مرتهن قبضه ورباندې كړې ده او د زياتوالي قيمت به د هغې ورځې معتبر وي په كومه ورځ چې يې راهن خلاصوي او په دې دواړو باندې به د مرتهن دَين تقسيم كړى شي، نو كوم چې د اصل په مقابله كې راشي، د دَين هغه مقدار به ساقط كړى شي او كوم چې د زيادت په مقابله كې راشي. راهن به قرض ادا كړي او خپل زيادت به خلاص كړي. مثلاً قرض لس درهم دى او د اصل مرهون «مېږې يا چېلۍ» قيمت د قبض په ورځ لس درهمه و او زيادت «د مېږې يا چېلۍ بچى» د خلاصي په ورځ د پنځه درهمو وي. نو د دواړو قيمت به پنځلسو درهمو ته ورسيږي، اوس به دَين په مجموعه قيمت باندې تقسيم كولى شي. د دَين دوه ثلثه «شپږ درهمه او د يو درهم ثلث» به د اصل «چېلۍ» په مقابله كې راشي، لهذا د دَين دا مقدار به ساقط شي او د دَين يو ثلث «يعنې درې درهمه او د يو درهم ثلث» به د زيادت په مقابله كې راشي، هغه به راهن ادا كړي او خپل زيادت به خلاص كړي.

قوله ويصح الخ: په رهن كې زيادت جائز دى. مثلاً : يو سړي كپړه د لسو روپو په بدل كې رهن كړه. له ورروسته يې دويمه كپړه هم رهن كړه، نو دا رهن به جائز وي، ددې مثال بالكل داسې دى لكه په ثمن او مثمن كې زيادت كول. لكه څنګه چې په ثمن او مثمن كې زيادت جائز دى. دغه شان په رهن كې زياتوالى كول هم جائز دى، لهذا په مذكوره صورت كې به دواړه كپړې د لسو روپو په بدل كې رهن وي. خو په دَين كې د طرفينو رَحِمَهُمَاالله په نزد اضافه كول جائز نه دي. لكه په مذكوره صورت كې چې راهن ووايي : ماته پنځه روپۍ نورې هم قرض راكړه او زما كومه كپړه چې مخكې ستا سره د لسو روپو په بدل كې رهن ده. اوس به د پنځلسو روپو په بدل كې رهن وي، د طرفينو رَحِمَهُمَاالله په نزد به دا كپړه د زياتي شويو پنځه روپو په بدل كې رهن نه وي، ځكه چې په دَين كې زياتوالى په رهن كې شيوع پيدا كوي، مثلاً راهن يوه كپړه د زرو روپو په بدل كې رهن كېښوده، بيا مرتهن دَين اضافه كړو او تر دوه زره روپۍ يې خبره ورسول، نو اوس به د كپړې نيمايي غير معين د اول زرګون بدل وي او نيمايي غير معين به د دويم زرګون بدل وي. نو په كپړه كې شيوع پيدا شوه او دا مخكې تېره شوې ده چې رهن د مشاع جائز نه دى او د امام ابويوسف رَحِمَهُ الله په نزد په دَين كې زيادت جائز دى.

فايده: د طرفينو رَحِمَهُمَاالله قول راجح دى، لما في اللباب : **(وقال أبو يوسف: تجوز الزيادة في الدين أيضاً،قال في التصحيح واعتمد قولهما النسفي وبرهان الأئمة المحبوبي كما هو الرسم) "اللباب في شرح الكتاب: لِـ: عبد الغني بن طالب بن حمادة بن إبراهيم الغنيمي الدمشقي الميداني الحنفي (المتوفى: ١٢٩٨ هـ) ط: المكتبة العلمية، بيروت – لبنان"، وقال العلامة الحصكفي** رَحِمَهُ الله: **(وَالزِّيَادَةُ فِي الرَّهْنِ تَصِحُّ)**

وَتُعْتَبَرُ قِيمَتُهَا يَوْمَ الْقَبْضِ أَيْضًا. (وَفِي الدَّيْنِ لَا) تَصِحُّ خِلَافًا لِلثَّانِي، وَالْأَصْلُ أَنَّ الْإِلْحَاقَ بِأَصْلِ الْعَقْدِ إِنَّمَا يُتَصَوَّرُ إِذَا كَانَتْ الزِّيَادَةُ فِي مَعْقُودٍ بِهِ أَوْ عَلَيْهِ وَالزِّيَادَةُ فِي الدَّيْنِ لَيْسَتْ مِنْهُمَا. (الدر المختار على هامش رد المحتار: ۳۷۲/۵).

قوله وإن رهن عبدًا بألفٍ الخ : كه په كوم سړي باندې زر روپۍ قرض و، هغه ددې په بدل كې داسې غلام رهن كېښودلو چې زر درهمه قيمت يې درلود. بيا راهن مرتهن ته د اول غلام په ځاى باندې دويم غلام د رهن په توګه وركړو. د هر يو غلام قيمت زر درهمه دى. دويم غلام به د مرتهن سره امانت وي او اول غلام به رهن وي. تردې پورې چې مرتهن يې راهن ته واپس كړي. كه په همدې وخت كې اول غلام هلاک شي. نو د مرتهن قرضه به ساقطه وي. ځكه چې د رهن د هلاكت په صورت كې قرضه ساقطيږي او دويم غلام به د مرتهن سره امانت وي. ځكه چې اول غلام خو د مرتهن سره د ضمان لاندې داخل دى، لهذا دويم به د هغه په ضمان كې داخل نه وي، ځكه چې راهن او مرتهن دواړه د يو غلام په ضمان كې داخلېدو باندې راضي او خوشحاله دي، د دواړو په داخلېدو باندې خوشحاله نه دي. بيا چې مرتهن كله اول غلام واپس كړي، نو اوس به دويم غلام د قائم مقام په توګه رهن ګڼل كيږي

كتاب الجنايات

قوله كتاب الخ : د كتاب الرهن سره يې مناسبت دا دى چې رهن او د جنايت په حكمونو دواړو سره د شيانو ساتنه كيږي، رهن د مال د ساتلو لپاره دى او د جنايت حكمونه د نفس او بدن د ساتلو لپاره دي، دا چې مال د نفس د ساتلو لپاره ذريعه او وسيله ده، وسيله احق بالتقديم وي، ددې وجې كتاب الرهن په كتاب الجنايات باندې مقدم كړى شو.

قوله الجنايات الخ : جنايات د جناية جمع ده. په لغت كې تجاوز كولو ته وايي. د شريعت په اصطلاح كې د حرام كار نوم دى، برابره خبره ده چې دغه كار په مال كې واقع شي او كه په نفس كې. دلته د فقهاوو په عرف كې جنايت د هغه تعدي او ظلم څخه عبارت دى چې د انسان په نفس يا اطراف (لاس، پښې، پوزه او غوږونه وغيره) كې واقع شي.

فائده: د كوم قتل سره چې د اينده حكمونو تعلق دى، هغه په پنځه قسمه دى : (۱) قتل عمد. (۲) قتل شبه عمد. (۳) قتل خطاء، (۴) قتل جاري مجراى خطاء او (۵) قتل بالسبب

د قتل په پنځه اقسامو كې وجه د حصر: هر كله چې د انسان څخه قتل وشي، نو هغه به د دوه حالتونو څخه خالي نه وي، يا به په وسلې سره وژل شوى وي يا به بغير د وسلې څخه، لومړى شق به بيا د دوه

حالتونو څخه خالي نه وي، په دې سره به وژل مقصود وي يا به نه وي، که قتل مقصود وي، نو دا به قتل عمد وي، دویم به قتل خطاء وي، دويم شق به بيا د دوه حالتونو څخه خالي نه وي، ددې څخه به مقصود ضرب او تاديب وي يا به نه وي، اول شبه عمد دی او دويم به بيا د دوه حالتونو څخه خالي نه وي: يا به جاري مجرای خطاء وي يا به نه وي، اول قتل جاري مجرای خطاء دی او دويم قتل بالسبب دی، په دې وجه د حصر کې کمی شته، خو ګټور خامخا دی.

موجب القتل عمدًا، وهو ما تعمّد ضربه بسلاح ونحوه في تفريق الأجزاء كالمحدّد من الحجر والخشب والليطة والنّار الإثم والقود عينًا إلّا أن يعفى لا الكفّارة.

ترجمه: موجب د وژلو چې په قصد سره وي، هغه دا چې په سلاح (وسله) باندې د وژلو اراده وکړي يا هغه د وسلې په شان وي د بدن د اندامونو په جدا کولو کې، لکه څوکور لرګی، کانی، د بانس لرګی او په اور باندې وژل ګناه ده او معين قصاص، مګر دا چې معاف کړی شي، نه دا چې کفاره.

تشريح الفقه: **قوله موجب الخ**: د قتل لومړي قسم ته عمد وايي او په دې قسم کې مقصد په وسله باندې د انسان وژل وي، لکه: چاړه او توره وغيره...، يا داسې تېره شی وي چې د انسان په اندامونو جدا کولو کې د تورې په شان وي، لکه: تېره څوکې والا لرګی، کانی، بانس، اور او داسې نور...، داسې قتل کول ګناه ده، الله تعالى فرمايي: ((وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا)) رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: هغه څوک چې د الله تعالى د يو والي شاهدي ادا کوي او زما د پيغمبری اقرار کوي، نو د هغه وينه حلاله نه ده، مګر د درې شيانو له وجې: يو واده کړی زنا کار، دويم دا چې په نا حقه باندې څوک وژل او دريم هغه څوک چې خپل دين پرېږدي. په بل حديث کې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: د دنيا ختمېدل د الله تعالى په نزد باندې اسان دي ددې څخه چې څوک مسلمان ووژني، په بل حديث کې دي: که د ځمکې او اسمان والاد يو مؤمن په وژلو کې شريک وي، نو الله تعالى به دوی ټول سرچپه اور ته واچوي، د قتل لپاره دويم موجب عين قصاص دی د مال د لازمېدو څخه بغير، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ قول هم همدا دی، دويم قول دا دی چې قصاص به متعين نه وي، بلکې د مقتول وارثان (اولياء) به په قصاص اخيستلو کې مختار وي، زموږ دليل د الله تعالى دا ارشاد دی: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى) دلته په ايت کې د قتل څخه مراد قتل عمد دی، ځکه چې په قتل خطاء کې ديت واجب دی، لقوله تعالى: (وَمَن قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَئًا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ إِلَّا أَن يَصَّدَّقُوا) دغه شان د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارشاد دی: «العمدُ القودُ» يعني د قتل عمد موجب قصاص دی، علماء کرامو صراحتا فرمايلي دي چې دا حديث مشهور دی، هر کله

چې خبر واحد د مجمل ايت لپاره مبين وګرځي، (لکه څنګه چې د سر د مسح د مقدار په ايت کې ذکر دی) نو حديث مشهور خو به په طريق اولى سره مبين ګرځي، ګويا د ايت د ظاهر څخه د قتل عمد او قتل خطاء تخصيص نه کيږي، خو حديث مشهور ددې لپاره مخصص دی.

قوله لاالكفارة الخ: زموږ په نزد د قتل عمد له وجې کفاره نه ثابتيږي. د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد د قتل خطاء په نسبت قتل عمد کې د کفارې زيات ضرورت دی، موږ وايو چې قتل عمد خالص لويه ګناه ده او په کفاره کې د عبادت معنى موجوده ده، نو د قتل عمد تعلق د کفارې سره رانغلو. ولقوله عليه السلام: (خمس من الكبائر لا كفارة فيهن منها قتل النفس بعمد).

فايده: قصاص په لغت کې مساوات ته ويل کيږي، چا چې په يو کس باندې څومره ظلم کړی وي، هغومره بدل اخيستلو ته قصاص ويل کيږي، د هغې څخه زياتی کول ظلم دی، ددې وجې په شريعت کې د قتل او زخمي کولو هغې سزا ته قصاص ويل کيږي چې د مساوات او مماثلت خيال پکې ساتل شوی وي.

فايده: په دې کې شک نشته چې قصاص اخيستل د مقتول د اولياوو حق دی، خو د امت اجماع ده په دې باندې چې دا حق دوی خپله د قاتل په وژلو باندې نه شي اخيستلی. بلکې ددې حق د ثبوت لپاره د بادشاه يا د هغه د نائب حکم ضروري دی. څکه چې قصاص په کومو صورتونو کې واجبيږي او په کومو کې نه واجبيږي، ددې خپل دقيق صورتونه دي، ددې معلومات هر سړي ته نه کيږي. دغه شان کېدی شي چې د مقتول اولياء په غوسه کې راشي او په قاتل باندې ظلم ونه کړي، ددې وجې امت په دې باندې متفق دی چې د قصاص اخيستلو لپاره اسلامي دولت ته رجوع کول ضروري دی.

(معارف القرآن: ۴۳۷/۱)

وشبهه، وهو أن يتعمّد ضربه بغير ما ذكر، الإثم والكفّارة ودية مغلّظة على العاقلة لا القود والخطأ، وهو أن يرمى شخصًا ظنّه صيدًا أو حربيًّا فإذا هو مسلمٌ أو غرضًا فأصاب آدميًّا وما جرى مجراه كنائمٍ انقلب على رجلٍ فقتله الكفّارة والدّية على العاقلة والقتل بسببٍ كحافر البئر وواضع الحجر فى غير ملكه الدّية على العاقلة لا الكفّارة والكلّ يوجب حرمان الإرث إلّا هذا وشبه العمد فى النّفس عمدٌ فيما سواه.

ترجمه: او د شبه عمد حکم، هغه (شبه عمد) دا دی چې قصدا ووهل شي د مذکوره شيانو څخه بغير. په دې کې ګناه او کفاره دواړه شته او ديت مغلظه دی په عاقله (قوم) باندې، قصاص نشته، د قتل خطاء حکم، هغه (قتل خطاء) دا دی چې يو کس د ښکر په ګومان باندې ولګيږي يا د حربي (کافر) ګومان ورباندې وکړي او هغه مسلمان وخيږي، يا نښه يې لګولې وي او هغه په انسان باندې ولګيږي،

د جاري مجرای حکم، هغه (جاري مجرای) دا دی چې ویده انسان په یو کس باندې واوړي او هغه وړباندې مړ شي. په دې کې کفاره او دیت دی په قوم (قبیلې) باندې. د قتل بالسبب حکم. هغه (قتل بالسبب) دا دی لکه د بل په ملکیت کې کوهی. کنستونکی او کانی، اینبودونکی، په دې کې په قوم باندې دیت دی خو کفاره نشته. په دې ټولو صورتونو کې د میراث څخه محرومي ثابتوي. مګر اخري صورت او شبه عمد په نفس وژلو کې عمد دی ددې څخه په ماسوا کې.

د قتل شبه عمد، خطاء او جاري مجرای خطاء بیان

تشریح الفقهِ قوله وشبهه الخ: شبه عمد د امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد دا دی چې قاتل په داسې شي باندې د وهلو اراده وکړي چې نه سلاح وي او نه هم د سلاح قائم مقام وي. دې ته شبه عمد ددې وجې ویل کیږي چې قاتل داسې آله استعمال کړې ده چې غالبا د قتل لپاره نه کارول کیږي. بلکې په دې آله باندې د قتل څخه بغیر تادیب وغیره مقصد وي. د عمدیت د معنی د قصور له وجې شبه عمد ورته ویل کیږي. د صاحبینو رَحِمَهُمَا اللَّهُ په نزد شبه عمد دا دی چې قاتل د مقتول د وژلو لپاره داسې آله استعمال کړي چې په هغې باندې غالبا قتل نه کیږي، لهذا د صاحبینو رَحِمَهُمَا اللَّهُ په نزد که قاتل لوی کانی یا لوی لرګی په وژلو کې استعمال کړي، نو دا به شبه عمد نه وي، بلکې عمد به وي، ځکه چې په دې شیانو سره غالبا مرګ راځي. لهذا دا به د قتل لپاره په وضع شویو آلو کې شمارل کیږي. د امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ قول راجح دی. **لما قال العلامة ابراهیم ابن محمد الحلبي وعنهُ (عن أبي حنیفةَ) إنّما یجب إذا جرح وهو الأصح (مجمع الأنهر: ۳۱۹/۴).**

قوله الإثم والکفارة الخ: د شبه عمد (**علی اختلاف القولین**) حکم دا دی چې قاتل به ګنهګار وي، ځکه چې قاتل د وژلو په اراده باندې انسان مړ کړی دی او د قاتل په عاقله (۱) باندې به دیت وي، ځکه چې شبه عمد د الله تعالی ددې ارشاد لاندې داخل دی: ((**وَمَن قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَئًا**)) او دیت مغلظه (پنځه ویشت یو کلن اوښان، پنځه ویشت دوه کلن، پنځه ویشت درې کلن او پنځه ویشت څلور کلن اوښان دي) د صحابه کرامو په دې باندې اجماع ده. د شبه عمد په صورت کې به د قاتل څخه قصاص نه اخیستل کیږي. ځکه چې د قتل آلې ته په کتلو سره شبه عمد د قتل خطاء سره مشابهت لري.

---

(۱): عاقله دې ته وایي چې یو سړی دولتي عسکر دی، هغه ته د دولت له لورې تنخوا ورکول کیږي، دده سره چې کوم نور عسکر دي او د ټولو نومونه په یو رجستر کې لیکل شوي وي، نو دا ټول عسکر به دده عاقله وي، که د یو سړي عسکري نه وي، نو د هغه عاقله به بیا قومي خلک وي. (نائل)

قوله والخطأء الخ: قتل خطاء په دوه قسمه دی: خطاء في القصد او خطاء في الفعل، خطاء في القصد دېته وايي چې يو انسان په دې ګومان مړ کړي چې هغه ښكار دی، خو وروسته معلومه شي چې هغه انسان و، يا يو انسان په دې ګومان باندې ووژني چې هغه حربي كافر دی او هغه مسلمان و، خطاء في الفعل دېته وايي چې يو سړي ځانته نښه لګولې وه او هغه يې ويشتل، ناڅاپه غشی د نښې په ځای انسان باندې ولګېدلو.

قوله وماجرى مجراهٔ الخ: د قتل څلورم قسم د خطاء قائم مقام دی، قائم مقام د خطاء مثال دا دی: مثلا يو كس د خوب په حالت كې اړخ بدل كړي او بل كس د هغه لاندې راشي، په خطاء او قائم مقام د خطاء كې فرق دا دی چې په خطاء كې د قاتل له طرفه د قتل قصد موجود دی او په قائم مقام د خطاء كې د قتل اراده او قصد نشته، ځكه چې ويده انسان د هيڅ شي اراده نه شي كولی.

قوله الكفارة والدّية على العاقلة الخ: د قتل خطاء د دواړو قسمونو او قائم مقام خطاء حكم دا دی چې دې كې په قاتل باندې كفاره ده او د قاتل په عاقله باندې ديت دی، لقوله تعالى: «**فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰ أَهْلِهِ**» يعني مؤمن غلام به ازادوي او د مقتول اولياوو ته به ديت وركوي" د قائم مقام خطاء په صورت كې هم قاتل د مخطي په شان معذور دی، لهذا د قائم مقام خطاء حكم به هم هغه شان وي كوم چې د خطاء دی، د قتل خطاء په دواړو قسمونو كې قاتل باندې ګناه نشته، (ددې څخه مطلب دا دی چې د قتل ګناهورباندې نشته، البته نفس د هغه فعل د ګناه څخه خالي نه دی، ځكه چې د غشي ويشتلو پرمهال د كوم احتياط څخه كار اخيستل كيږي، د هغه احتياط څخه هغه بې پرواهي كړې ده).

قوله القتل بسببٍ الخ: د قتل پنځم قسم قتل بسبب دی، قتل بسبب دا دی چې د حاكم بې اجازې په دشته كې يا د مالک بې اجازې د هغه په ځمكه كې كوهی وكيندي، بيا څوک پكې ولويږي او مړ شي يا يو سړي د خلكو د لارې په منځ كې لوی كاڼی كېښودلو، د هغې سره د ټكر له وجې څوک مړ شو، دې ته قتل بسبب ددې وجې ويل كيږي چې كوهی كسنتونكی د مقتول په وژلو كې قصدي (عامد) نه دی او نه هم مخطي دی، البته د كوهي په كيندلو سره هغه ظلم وكړو او د قتل لپاره سبب جوړ شو، د قتل بہ سبب حكم دا دی چې د كوهی كنستونكي په عاقله باندې ديت دی، ځكه چې دا د تلف كېدو سبب ګرځېدو، كفاره به ورباندې ددې وجې نه وي چې د قتل لپاره مباشر نه دی.

باب ما يوجب القود وما لا يوجبه

يجب القصاص بقتل كلّ محقون الدّم على التّأبيد عمدًا ويقتل الحرّ بالحرّ وبالعبد والمسلم بالذّمّيّ ولا يقتلان بمستأمن والرّجل بالمرأة والكبير بالصّغير والصّحيح بالأعمى وبالزّمن وناقص الأطراف وبالمجنون والولد بالوالد ولا يقتل الرّجل بالولد والأمّ والجدّ والجدّة كالأب وبعبده ومدبّره ومكاتبه وبعبد ولده وبعبد ملك بعضه وإن ورث قصاصًا على أبيه سقط وإنّما يقتصّ بالسّيف.

ترجمه: قصاص واجبيږي د هر داسې كس په قصدا وژلو سره چې وينه يې د تل لپاره خوندي وي، ازاد سړى به وژل كيږي د ازاد او غلام په بدل كې، مسلمان د ذمي په بدل كې، مسلمان او ذمي به نه وژل كيږي د مستامن په بدل كې. نارينه د ښځې په بدل كې او بالغ د نابالغ په بدل كې، روغ د ړوند، فلج، هغه چې اندامونه يې نيمګړي وي او لېوني په بدل كې او زوى به د پلار په بدل كې (وژل كيږي) پلار به د زوى په بدل كې نه وژل كيږي، مور، نيكه او نيا (انا) د پلار په شان دى، مالك به نه وژل كيږي د خپل غلام، مدبر، مكاتب، د خپل زوى د غلام او هر داسې غلام په بدل كې چې د هغه د بعض مالك وي، كه په خپل پلار باندې د قصاص وارث شي، نو ساقط به وي او قصاص به خاص په توره باندې اخيستل كيږي.

تشريح الفقه: **قوله يجب القصاص الخ**: قصاص هغه وخت ثابتيږي چې مقتول داسې كس وي چې وينه يې د تل لپاره محفوظه وي او له قصده وژل شوى وي، لكه: مسلمان او ذمي، په خلاف د واده كړي زنا كار او مرتد چې دوى محفوظ الدم نه دي، دغه شان حربي كافر او مستامن دى، ځكه چې د دوى وينه د تل لپاره محفوظه نه ده او مستامن په دار الاسلام كې اګر چې محفوظ الدم دى، خو على التابيد نه دى، بلكې هغه چې كله هم بېرته دار الحرب ته لاړ شي، نو مباح الدم ګرځي.

قوله ويقتل الحرّ بالحرّ الخ: ازاد انسان د ازاد انسان په بدل كې هم وژل كيږي او د غلام په بدل كې هم، دغه شان غلام هم د ازاد او غلام دواړو په بدل كې وژل كيږي، ځكه چې د الله تعالى قول دى ﴿أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ﴾ يعنې نفس به د نفس په مقابله كې وژل كيږي، دا حكم مطلق راغلى دى، دغه شان په قصاص كې مساوات ضروري دى او په مذكوره كسانو كې د محفوظ الدم په اعتبار سره مساوات موجود دى، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد ازاد قاتل د غلام مقتول په بدل كې نه وژل كيږي، ځكه چې د قصاص په مسئله كې د قاتل او مقتول ترمنځ مساوات ضروري دى، په داسې حال كې چې دلته ازاد انسان مالك او غلام مملوك دى، په مالك او مملوك كې مساوات نشته، لهذا قصاص به هم نه وي، د احنافو خواب دا دى چې مساوات د عصمت او د وينې د حفاظت تر حده پورې په دواړو كې

موجود دی، يعنې ازاد او غلام انسان دواړه معصوم الدم دي، ځکه چې عصمت د اسلام او دار الاسلام له جې حاصلېږي او دا دواړه خبرې په ازاد او غلام دواړو کې موندل کېږي، لهذا ثابته شوه چې په دواړو کې مساوات موجود دی، لهذا د يو شخه به د بل په بدل کې قصاص اخيستلی شي.

قوله والمسلمُ بالذمي الخ: مسلمان د ذمي کافر په بدل کې وژل کېږي، ځکه چې رسول الله ﷺ مسلمان د ذمي کافر په بدل کې وژلی و، دغه راز ذمي د تل لپاره محفوظ الدم کېدو له وجې د مسلمان سره مساوي دی، ددې وجې به د ذمي په بدله کې مسلمان وژل کېږي، البته مسلمان او ذمي به د مستامن کافر په بدل کې نه وژل کېږي، ځکه چې مستامن د همېش لپاره محفوظ الدم نه کېدو له وجې د مسلمان او ذمي سره مساوي نه دی.

قوله والرجل بالمرأةِ والكبير بالصغيرِ الخ: سړی به د ښځې په بدل کې وژل کېږي او مشر به د کشر په بدل کې وژل کېږي، هغه چې اندامونه يې صحيح وي د ناقص الاعضاء انسان په بدل کې، هوښيار د لېوني په بدل کې او په بدن باندې روغ د فلج وهلي په بدل کې او زوی د پلار په بدل کې وژل صحيح دي، ځکه چې په نصوصو کې تعميم راغلی دی، ځکه چې د عصمت تر اندازې پورې په دوی ټولو کې مساوات موجود دی، په دې باب کې مساوات في العصمة معتبر دی، ځکه چې که په قصاص کې د هر ډول مماثلت اعتبار وشي؛ نو د قصاص دروازه به بنده شي او د فتنو دروازه به خلاصه شي.

قوله ولا يقتل الرّجل بالولد الخ: پلار به د زوی په بدل کې نه وژل کېږي، لقوله عليه السلام: (لايقاد الوالدُ بولده والسيد بعبده) د پلار شخه به د خپل زوی په بدل کې قصاص نه اخيستل کېږي، د مولی شخه به د خپل غلام په بدله کې قصاص نه اخيستل کېږي، همدا حکم د مور، نيکه، انا، د مور پلار (نيکه) او د مور د مور (انا) او هغه چې ددې شخه پورته دي.

قوله وبعبده الخ: که مولی خپل غلام، مدبر، يا مکاتب مړ کړي، نو د هغه په بدل کې به مولی نه وژل کېږي، ځکه چې په دې صورت کې د قصاص وارث مولی دی، په دې صورت کې به په خپل ځان باندې د قصاص لازمي کول واجب شي او دا باطل دی، دغه شان که يو سړي د خپل زوی غلام وژلی وي، نو بيا به هم قاتل نه وژل کېږي، ځکه چې زوی هم په پلار باندې د قصاص حق نه لري، دغه شان که داسې غلام ووژل شي چې د هغه د بعضې حصې قاتل مالک وي، نو بيا به هم قصاص نه وي، ځکه چې په قصاص کې تجزي نه کېږي، د هغه په خپله حصه کې به قصاص نه اخيستل کېږي او د بل په حصه کې به قصاص اخيستل کېږي.

قوله ان ورث قصاصًا على أبيهِ الخ: که څوک په خپل پلار باندې د قصاص وارث جوړ شي، نو قصاص به ساقط کړی شي، څکه چې فرع په خپلو اصولو باندې قصاص نه شي واجبولی، ددې صورت دا دی چې چا خپل خسر ووژلو، د قاتل د مېرمنې پرته د مقتول هيڅوک وارث نشته، بيا د قاتل څخه د قصاص اخيستلو وړاندې دا مېرمن هم مړه شوه، نو ددې مېرمنې زوی (چې د قاتل د منې "نطفې" څخه پيدا شوی دی) به د هغه قصاص وارث جوړ شي چې د هغه په پلار باندې واجب دی، نو دا قصاص به ساقط شي.

قوله وإنّما يقتصّ بالسّيف الخ: قصاص به په توره باندې اخيستلی شي، اګر چې قاتل د تورې او سلاح څخه پرته په بل شي باندې مقتول وژلی وي، **لقوله عليه السلام**: (**لا قودَ إلّا بالسّيفِ**) د تورې څخه مراد وسله ده، برابره خبره ده چې په توره باندې وي او که د تورې څخه بغير وي.

ترجمه: د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد قاتل چې په کومه آله باندې مقتول وژلی وي، په دې شرط چې هغه آله مشروع وي، په هم هغه شي باندې به قاتل وژل کيږي، څکه چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په دوره کې يو يهودي د مسلمانې ښځې سر د دوه کاڼو ترمنځ تکولی و، نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ حکم وکړو چې د يهودي سر هم هماسې وټکوئ، زموږ له لورې ځواب دا دی چې مذکوره يهودي مشهور فاسد و، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سياست له وجې چې نورو خلکو ته عبرت شي، داسې حکم وکړو، نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا حکم د قصاص په توګه نه و کړی.

مكاتبٌ قتل عمدًا وترك وفاءً ووارثه سيّده فقط أولم يترك وفاءً وله وارثٌ يقتصّ وإن ترك وفاءً ووارثًا لا وإن قتل عبد الرّهن لا يقتصّ حتّى يجتمع الرّاهن والمرتهن ولأبي المعتوه القود والصّلح لا العفو بقتل وليّه والقاضي كالأب والوصيّ يصالح فقط والصّبيّ كالمعتوه وللكبار القود قبل كبر الصّغار وإن قتله بمرّ يقتصّ إن أصابه الحديد وإلّا لا كالخنق والتّغريق ومن جرح رجلًا عمدًا وصار ذا فراشٍ ومات يقتصّ وإن مات بفعل نفسه وزيدٍ وأسدٍ وحيّةٍ ضمن زيدٌ ثلث الدّية ومن شهر على المسلمين سيفًا وجب قتله ولا شيء بقتله ومن شهر على رجلٍ سلاحًا ليلًا أو نهارًا في المصر أو غيره أو شهر عليه عصا ليلًا في مصرٍ أو نهارًا في غيره فقتله المشهور عليه فلا شيء عليه وإن شهر عليه عصًا نهارًا في مصرٍ فقتله المشهور عليه قتل به وإن شهر المجنون على غيره سلاحًا فقتله المشهور عليه عمدًا تجب الدّية وعلى هذا الصّبيّ والدّابّة ولو ضربه الشّاهر فانصرف فقتله الآخر قتل القاتل ومن دخل عليه غيره ليلًا فأخرج السّرقة فاتّبعه فقتله فلا شيء عليه.

ترجمه: کوم مکاتب په قصده ووژل شو او هغه د کتابت په اندازه مال پرېښودلو، د هغه وارث يې مالک دی، يا هغه د کتابت په اندازه مال نه دی پرېښودلی او د هغه څوک وارث وي، نو قصاص به

اخيستلی شي، كه د بدل كتابت په اندازه مال يې پرېښودلی وي او وارث يې نه وي، كه مرهون غلام ووژل شي، نو قصاص به نه شي اخيستلی تر هغه پورې چې راهن او مرتهن يو ځای شي، د معتوه د پلار لپاره قصاص او سوله ده، معافي نشته د هغه د ولي په وژلو سره او قاضي د پلار په شان دی، وصي يوازې سوله كولی شي، ماشوم د معتوه په شان دی، د بالغو وارثانو لپاره قصاص دی د نابالغو د بلوغ څخه وړاندې، كه څوك په كودال ووژل شي، نو قصاص به اخيستلی شي، كه د هغې د اوسپنې طرف ورسيږي، كنه نو نه به شي اخيستلی، لكه: په ستوني باندې زور كول يا په اوبو كې ډوبول او څوك چې بل كس په قصده زخمي كړي او په فرش باندې ځملي او د همدې له وجې مړ شي، نو قصاص به ترې اخيستلی شي، كه په خپل فعل، زيد، زمري او مار په فعل سره مړ شي، نو زيد به د ثلث ديت ضامن وي، هغه څوك چې په مسلمانانو باندې توره وباسي، د هغه وژل واجب دي، ددې څخه بغير د هغه په وژلو باندې نور هيڅ شی واجب نه دی، څوك چې په يو كس باندې د شپې يا د ورځې په ښار يا غير ښار كې وسله راوباسي، يا په هغه باندې لرګی د شپې له خوا راپورته كړي په ښار كې يا د ورځې د ښار څخه بغير، پس هغه مشهور عليه (هغه څوك چې وسله يا توره يې ورباندې ويستلې ده) ووژلو، نو په هغه باندې به هيڅ شی واجب نه وي، كه د ورځې يې ورباندې لرګی په ښار كې راوويستلو، پس هغه مشهور عليه ووژلو، نو د هغه په بدل كې به وژل كيږي، كه لېوني په بل كس باندې توره (وسله) راوويستل، پس هغه مشهور عليه په قصده ووژلو، نو ديت به واجب وي، په همدې حكم ماشوم او حيوان هم دی، كه يې ووهلو هغه چا چې توره يې راويستلې ده، هغه لاړو بيا هغه بل كس ووژلو، نو قاتل به وژل كيږي، د كوم كس سره چې بل كس راغلو او هغه د غلا مال راوويستلو، مالك د هغه پسې شو او هغه ووژل شو، نو په هغه باندې به هيڅ شی واجب نه وي.

تشريح الفقه: قوله مكاتبٌ قتل الخ: يو مكاتب په قصده ووژل شو، هغه د بدل كتابت په اندازه دومره مال پرېښودلی و چې بدل كتابت پرې ادا كيږي، د مولی څخه بغير د هغه څوك وارث نه وي، نو د شيخينو رَحِمَهُمَااللَّهُ په نزد به د قاتل څخه قصاص اخيستلی شي او د قصاص اخيستلو حق به مولی ته حاصل وي، د امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد به د مولی څخه قصاص نه اخيستل كيږي، ځكه چې د قصاص اخيستلو په سبب كې اشتباه موجوده ده، ځكه كه دا ومنل شي چې هغه د ازادی په حالت كې مړ شوی دی، نو د قصاص اخيستلو سبب به ولاء وي، كه دا ومنل شي چې د غلامی په حالت كې وژل شوی دی، نو د قصاص اخيستلو سبب به ملك وي، لهذا مولی ته به د قصاص اخيستلو حق حاصل نه وي، د شيخينو رَحِمَهُمَااللَّهُ دليل دا دی چې په دواړو صورتونو كې د قصاص اخيستلو حق مولی ته

حاصل دی، ځکه چې مولی معلوم دی او حکم (قصاص اخیستل) هم متحد دی، اګر چې مشتبه دی، خو دا د حکم لپاره هیڅ ضرري نه دی.

قوله ولم يترك وفاء الخ: هغه څوک چې مکاتب مړ شو، هغه دومره پاتې نه کړي چې بدل کتابت وربانديې ادا شي، د هغه وارثان هم موجود وي، په دې صورت کې به بالاتفاق قصاص اخیستلی شي. د قصاص اخیستلو حق به مولی ته حاصل وي، ځکه چې هر کله هغه دومره مال پرېښنبودلو چې بدل کتابت وربانديې ادا شي، هغه د بدل کتابت ادا کولو څخه عاجزه شو، نو هغه د غلامی په حالت کې مړ شو، لهذا د قصاص حق به يوازې مولی ته حاصل وي.

قوله وإن ترك وفاءً الخ: که څوک مکاتب په قصده ووژني او هغه د بدل کتابت په اندازه مال پرېښنبودلی وي، د مولی څخه بغیر د مقتول نور وارثان هم وي، په دې صورت کې به چاته د قصاص اخیستلو حق حاصل نه وي، اګر چې وارثان د مولی سره جمع شي، ځکه چې په دې صورت کې د قصاص په مستحق کې اشتباه ده، ځکه که د ازادی په حالت کې مړ شوی وي، نو د قصاص مستحقین به وارثان وي او که د غلامی په حالت کې مړ شوی وي، نو د قصاص مستحق به مولی وي.

قوله وإن قتل عبد الرّهن الخ: که څوک مرهون غلام ووژني، نو يوازې راهن يا يوازې مرتهن ته به د قصاص اخیستلو حق حاصل نه وي، تر هغه پورې چې راهن او مرتهن دواړه موجود شوي نه وي، ځکه چې مرتهن د غلام مالک نه دی چې د قصاص مستحق شي او که راهن خپله قصاص واخلي، نو د مرتهن حق به باطل شي، ددې وجې د دواړو وجود ضروري دی، ددې لپاره چې د مرتهن حق د هغه په خوبنه ساقط شي. د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد په د عبد مرهون په بدل کې قصاص نشته، اګر چې راهن او مرتهن دواړه موجود وي.

قوله ولأب المعتوه الخ: د بې عقل بچي رشته دارانو (د هغه اخيافي ورور، مور او بچيانو) د قتل په بدل کې د هغه د پلار د تشفي او سکون لپاره د قاتل څخه قصاص اخیستل جائز دی او هر کله چې قصاص جائز شو، نو سوله خو به په طريق اولی سره جائز وي، ځکه چې دا د هغه په حق کې د قصاص په نسبت ګټور دی، البته پلار ته به د معاف کولو اختيار نه وي، ځکه چې په دې سره د هغه حق باطلیږي.

قوله وللكبارِ الخ: هر کله چې قصاص د مشرانو او کشرانو اولیاوو ترمنځ شريکي دی، نو د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد د ماشومانو وارثانو د بلوغ څخه وړاندې د مقتول هوښيارانو او بالغانو څخه د قصاص اخیستلو اختيار دی، برابره خبره ده چې هغه ته د ماشومانو په مال کې د تصرف کولو ولايت حاصل وي او که نه وي، امام مالک، ليث بن سعد حماد بن سليمان او امام اوزاعي رَحِمَهُمُ اللهُ هم

همداسې وايي. د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ څخه هم يو روايت داسې نقل شوی دی، صاحبين او امام شافعي رَحِمَهُمُ اللهُ فرمايي: که مشران د کشرانو په مال کې د تصرف اولياء نه وي، نو تر کومه پورې چې کشر وارث ځوان نه شي. تر هغه وخته پورې قصاص نه شي اخيستلی، ځکه چې قصاص د مشرانو او کشرانو ترمنځ شريکي دی او مشرانو ته په کشرانو باندې ولايت حاصل نه دی چې د هغه حق حاصل کړي او د عدم تجزي له وجې د بعض حق استيفاء امکان نه لري. لهذا د حق استيفاء به د بلوغ تر حده پورې مؤخر کولی شي. د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ دليل دا دی چې د علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په بدل کې ابن بلجم ووژل شو. د هغه په وارثانو کې کشر نابالغ عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ و، په دغه وخت کې د هغه عمر څلور کاله و، د هغه د بلوغ تر حده پورې انتظار ونه شو او دا پېښه د صحابه کرامو په شتون کې وشوه، نو دا په منزله د اجماع شوه.

قوله وإن قتله بمر الخ: که مقتول په کودال او تبر باندې ووژل شي، په هغه باندې د اوسپنې حصه يا د تبر منځ ولګېږي، نو په اتفاق د علماوو به د هغه څخه قصاص اخيستل کيږي، که د لرګي په لاستي باندې ووژل شي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد به قصاص نه اخيستل کيږي، لکه د يو کس په ستوني باندې چې زور وشي يا هم په اوبو کې د ډوبېدو لامله مړ شي، د صاحبينو او امام شافعي رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد به قصاص اخيستل کيږي، ځکه چې ناحقه قتل موجود شوی دی، امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ چې د قصاص تعلق د محض عمد سره دی او هغه دا چې په زخم راوستونکي آله باندې قتل وشي او دا شی دلته موجود نه شو. لهذا قصاص به هم نه وي.

قوله وإن ماتَ الخ: يو سړي خپل سر خپله زخمي کړو، لړ وروسته زيد هم زخمي کړو. زمري هم ورباندې حمله وکړه او مار هم وچيچلو، نو په زيد باندې به د ثلث ديت تاوان راځي، ځکه چې د زمري او مار فعل د يو جنس څخه دی، نه په هغوی باندې دنيا کې څه شی واجب دی او نه په اخرت کې. د زيد فعل په دواړو جهانونو کې معتبر دی او خپله د عمرو فعل د دنيا په اعتبار سره باطل دی او د آخرت په اعتبار سره بالاتفاق ګنهګار دی، دلته درې ډوله جنايتونه جمع کړی شول چې په دوی کې يو معتبر دی او دوه غير معتبر دي. لهذا په زيد باندې به د ديت درېمه برخه لازمه وي. امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي: که د زيد فعل قصدا وي، نو په هغه باندې به قصاص واجب وي. د امام احمد رَحِمَهُ اللهُ قول هم همدا دی

قوله ولا شيءَ عليهِ الخ: که څوک په بل کس باندې د شپې يا د ورځې په ښار يا ځنګل کې وسله پورته کړي، يا د شپې په ښار کې يا د ورځې په ځنګل کې لرګی (امسا) پورته کړي او په کوم کس باندې چې وسله پورته شوې، هغه دا وسله پورته کوونکی (ظالم) ووژني. نو په قاتل باندې به نه قصاص وي او نه

به ديت وي، ځكه چې رسول الله ﷺ فرمايي : هغه څوک چې د قتل په اراده د مسلمان په طرف اوسپنې سره اشاره وكړي، د هغه وژل واجب دي، دغه شان د رسول الله ﷺ ارشاد دى: "هغه څوک چې په موږ باندې وسله پورته كړي، هغه زموږ څخه نه دى".

قوله وإن شهر المجنونُ الخ: لېوني يا ماشوم په كوم كس باندې وسله پورته كړه او مشهور عليه هغه ووژلو، يا كوم ځناور حمله وكړه او هغه ځناور ووژلو، د طرفينو په نزد د وژونكي په مال كې به ديت واجب وي او د څاروي د قيمت تاوان به هم وركوي، د امام مالک، امام شافعي او د اكثرو عالمانو په نزد دې ټولو صورتونو كې هيڅ شى واجب نه دى، د امام ابويوسف رحمه الله څخه روايت دى چې يوازې د څاروي د قيمت تاوان به وركوي، دوى وايي چې وهونكى ځان د شر څخه ساتلى دى، ددې وجې په هغه باندې هيڅ تاوان نشته، طرفين فرمايي چې د ماشوم، لېوني او څاروي فعل د حرمت سره نه متصف كېږي، لهذا بغاوت نه ثابتېږي، د اختيار نه صحيح كېدو له وجې د هغوى د وينې عصمت به ساقط نه وي، همدا وجه ده كه لېوني او ماشوم څوک ووژني، نو قصاص به نه وي، دغه شان كه څاروى چاته تاوان ورسوي، نو په هغه باندې به هم تاوان نه وي، بيا چې هر كله د هغه وينه معصومه شوه، نو قصاص واجبېدل پكار دي، خو د شر دفع كول وينه مباح كړه، ددې وجې به قصاص نه وي، بلكې ديت به واجب وي.

قوله ومَن دخلَ الخ: د چا كور ته د شپې پردى سړى راغلو، ددې لپاره چې د كور څخه يې غلا وكړي، د كور څښتن د هغه پسې شو، تردې پورې چې هغه يې ووژلو، نو په قاتل باندې به نه قصاص وي او نه به ديت وي، ځكه چې په حديث كې دي : "يو سړي رسول الله ﷺ ته وويل : اې د الله تعالى رسوله! كه څوک زما كور ته راشي او وغواړي چې زما مال له كوره وباسي، (نو زه څه وكړم؟) رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هغه ته نصيحت وكړه! هغه ورته وويل : كه هغه يې ونه مني؟ وې فرمايل : د حاكم څخه مرسته وغواړه! هغه ورته وويل : كه حاكم زما څخه لېرې وي؟ وې فرمايل : د شاخوا مسلمانانو څخه مرسته وغواړه! هغه ورته وويل : كه زما سره هيڅوک نه وي؟ وې فرمايل: د خپل مال لپاره د هغه سره وجنګېږه! تر هغه پورې چې ته د خپل ساتنه وكړې يا د شهيدانو له ډلې څخه وګرځې!".

باب القصاص فيما دون النّفس

هر كله چې مصنّف رحمه الله د پوره د بدن قصاص د بيان څخه فارغ شو، نو د يو اندام د قصاص په بيان كې يې شروع وكړه، ځكه چې جزء د كل تابع دى او كل متبوع وي، متبوع احق بالتقديم وي، لهذا د بدن د قصاص بيان يې وړاندې ذكر كړو.

يقتصّ بقطع اليد من المفصل، وإن كانت يد القاطع أكبر وكذا الرّجل ومارن الأنف والأذن والعين إن ذهب ضوءها وهي قائمةٌ ولو قلعها لا والسّنّ وإن تفاوتا وكلّ شجّةٍ تتحقّق فيها المماثلة ولا قصاص في عظمٍ وطرفي رجلٍ وامرأةٍ وحرٍّ وعبدٍ وعبدين وطرف الكافر والمسلم سيّان وقطع يدٍ من نصف ساعدٍ وجائفةٌ برء منها ولسانٌ وذكرٌ إلّا أن يقطع الحشفة وخيّر بين القود والأرش إن كان القاطع أشلّ أو ناقص الأصابع أو كان رأس الشّاجّ أكبر.

ترجمه: د لاس په كاټولو كې به قصاص د مړوند څخه اخيستلى شي، اګر چې د كاټونكي لاس لوى وي، دغه شان پښې دي، دغه شان پوزه، غوږونه او سترګه ده، كه چېرته يې رڼا تللې وه او سترګه موجوده وي، كه سترګه ويستل شوې وي نو بيا (قصاص) نشته، په غاښونو كې (قصاص) شته، اګر چې تفاوت (فرق) پكې وي او هر هغه زخم چې مماثلت پكې وي، په هډوكي كې قصاص نشته، د نر او ښځې، ازاد او غلام او د دوه غلامانو په لاس او پښو كې، د مسلمان او كافر اندامونه يو شان دي، د لاس قطع كول په نيمايي باندې او په جائفه زخم كې چې جوړ شوى وي، په ژبه او ذكر (د نارينه مخكينى شرمګاه) كې، مګر دا چې د شرمګاه مخكينى حصه كاټ شوې وي، په قصاص او ديت كې به اختيار وركولى شي، په هغه وخت كې د قاطع لاس شل يا ناقص الاصابع وي يا دا چې د زخم كوونكي سر لوى وي.

تشريح الفقه: **قوله يقتصّ الخ**: د بدن د اندامونو قطع كولو قاعده دا ده چې چېرته د ظالم او مظلوم د اندامونو برابري چې ممكنه وي، هلته به قصاص اخيستلى شي او په كومو ځايونو كې چې حفظ مماثلت ممكن نه وي، هلته به قصاص نه وي، كه څوک د بل چا لاس په قصده د څنګل څخه جدا كړي، نو د كاټوونكي لاس به هم د هغه ځاى څخه كاټولى شي، اګر چې د قطع كوونكي لاس د قطع شوي والالاس څخه لوى وي، يعنې په قصاص كې د لوى او وړوكي اعتبار نشته، ځكه چې په منفعت كې دواړه اندامونه يو شان دي او كه څوک د بل كس پوزه، غوږونه يا پښې قطع كړي، نو د هغه څخه به هم كاټولى شي، كه څوک د بل چا سترګه ووهي چې د هغه ليد او نظر ورباندې ختم شي او سترګه يې په خپل حال باندې پاتې وي، نو په دې كې به هم قصاص اخيستل كيږي، ځكه چې د مماثلت رعايت ممكن دى، ددې صورت دا دى چې د ضارب په سترګه به ګرمه شوې پخته كېښودل شي او د هغه سترګو ته به مخامخ ګرمه شيشه كېښودل شي، تردې پورې چې نظر يې ختم شي. دا حكم په عثماني خلافت كې د علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خوښه د صحابه كرامو وړاندې خوښ شوى دى، كه سترګه يې د خپل ځاى څخه ويستلې وي، نو په دې كې بيا قصاص نشته، ځكه چې اوس د مساوات خيال ساتل متعذر دي.

قوله وخيّر الخ: كه څوک د بل سړي سر مات كړي او زخم د سر دواړه طرفونه (ښي او چپ) ونيول، په داسې حال كې چې د شاج (زخمي كوونكي) سر د مشجوج (هغه څوک چې زخمي شوى دى) د سر څخه غټ وي او دا زخم د هغه د سر دواړه جانبه نه شي ګېرولی. نو مشجوج ته به اختيار وي، برابره خبره دد چې د خپل زخم په اندازه قصاص اخلي او دا اختيار هم ورته حاصل دى چې د كوم طرف څخه غواړي شروع دې وكړي، كه خوښه يې وي پوره ديت دې واخلي. وجه دا ده چې د شاج د سر دواړه جانبه ماتولو كې د شاج په جنايت باندې زيادت دى او زيادت جائز نه دى او د مشجوج د زخم په اندازه ماتولو كې دومره عيب نشته څومره چې شاج ته ورسېد. دغه شان د مشجوج حق به نيمګړى پاتې شي، لهذا مشجوج ته به اختيار وي.

فصلٌ في الصلح في الجنايات وغيره

دا فصل د دم عمد څخه د سولې وغيره په بيان كې دى، دا چې سوله د جنايت څخه وروسته كېږي، ددې وجې مصنّف رَحِمَهُ اللّٰهُ هم د جنايت څخه وروسته د سولې بيان مستقلا وكړو.

وإن صولح على مالٍ وجب حالًّا وسقط القود وينصّف إن أمر الحرّ القاتل وسيّد القاتل رجلًا بالصّلح عن دمهما على ألفٍ ففعل فإن صالح أحد الأولياء عن حظّه على عوضٍ أو عفا فلمن بقي حظّه من الدّية ويقتل الجميع بالفرد والفرد بالجمع اكتفاءً فإن حضر واحدٌ قتل له وسقط حقّ البقيّة كموت القاتل ولا تقطع يدا رجلين بيدٍ وضمنا ديتها وإن قطع واحدٌ يمينى رجلين فلهما قطع يمينه ونصف الدّية فإن حضر واحدٌ فقطع يده له فللآخر عليه نصف الدّية وإن أقرّ عبدٌ بقتل عمدٍ يقتصّ به وإن رمى رجلًا عمدًا فنفذ السّهم منه إلى آخر يقتصّ للأوّل وللثّاني الدّية.

ترجمه: كه په مال باندې سوله وشي، نو مال به في الحال واجب وي او قصاص به ساقط وي، نيمايي نيمايي به اخيستلى شي كه امر كړى وي ازاد قاتل او د قاتل غلام مالک د سولې لپاره، د هغه د وينې له طرفه په زر باندې او هغه سوله وكړه، كه څوک د اولياوو څخه سوله وكړي د خپلې حصې له طرفه په عوض باندې يا خپل حق معاف كړي، نو څوک چې پاتې شي هغوى ته به د ديت څخه حصه ملاوېږي، جماعت به د يو په بدل كې وژل كېږي او يو به د جماعت په بدل كې اكتفاءً وژل كېږي. كه يو كس حاضر شي، نو د هغه لپاره به قتل كولى شي او د باقي وارثانو حق به ساقط وي. لكه د قاتل د مړ كېدو په صورت كې.

تشريح الفقهِ : قوله وإن صولح الخ: كه د قاتل او مقتول اولياوو په معلوم مال باندې سوله وكړه چې قاتل به دومره مال وركوي او د مقتول وارثان به د قصاص څخه اوړي، نو دا صحيح دى، د قاتل څخه

به قصاص ساقط شي او مصالح مال به په هغه باندې في الحال واجب شي، برابره خبره ده چې په لږ مال باندې سوله شوې وي او كه په زيات مال باندې.

قوله وينصّف إن أمر الحرّ الخ: زيد ازاد دی او بكر د خالد غلام دی، زيد او بكر دواړو ساجد ووژلو او په دوی دواړو (زيد او بكر) باندې قصاص واجب شو، خو د دوی څخه زيد او د بكر مولی خالد دريمګړی سړی زاهد وكيل جوړ كړو چې د ساجد د وارثانو سره په زر درهمه باندې سوله وكړي، زاهد د ساجد د وارثانو سره په زر روپۍ باندې سوله وكړه، نو اوس به زر روپۍ زيد او خالد نيمايي نيمايي ادا كوي، ځكه چې دا زر روپۍ د قصاص بدل دی او قصاص په دوی دواړو باندې برابر دی، نو د قصاص بدل هم په دواړو باندې برابر لازم دی.

قوله فإن صالحَ الخ: زيد عمرو ووژلو، د عمرو ځينو وارثانو قصاص معاف كړو يا يې د خپلې حصې څخه په څه حصه مال باندې سوله وكړه، نو د ټولو د قصاص حق به ساقط وي او د باقي وارثانو مال به ديت ته نقل شي او اوس چې كومو وارثانو نه قصاص معاف كړی او نه يې سوله كړې ده، هغوی به خپله برخه د ديت څخه اخلي.

فصلٌ في تعدد الجناية

قوله تعداد الجناية الخ: هر كله چې مصنف رَحِمَهُ اللهُ د يو جنايت د بيان څخه فارغ شو، نو په متعددو جناياتو كې يې شروع وكړه، ځكه چې دوه د يو څخه وروسته ذكر كيږي.

ومن قطع يد رجلٍ، ثمّ قتله أخذ بالأمرين لو عمدين أو مختلفين أو خطأين تخلّل بينهما برءٌ أولا إلّا في خطأين لم يتخلّل بينهما برءٌ فتجب ديةٌ واحدةٌ كمن ضربه مائة سوطٍ فبرأ من تسعين ومات من عشرةٍ وإن عفا المقطوع عن القطع فمات ضمن القاطع الدّية ولو عفا عن القطع وما يحدث منه أوعن الجناية لا فالخطأ من الثلث والعمد من كلّ المال وإن قطعت امرأةٌ يد رجلٍ عمدًا فتزوّجها على يده، ثمّ مات فلها مهر مثلها والدّية في مالها وعلى عاقلتها لو خطأً وإن تزوّجها على اليد وما يحدث منها أو على الجناية فمات منه فلها مهر مثلها ولا شيء عليها لو عمدًا ولو خطأً رفع عن العاقلة مهر مثلها ولهم ثلث ما ترك وصيّةً ولو قطع يده فاقتصّ له فمات الأوّل قتل به وإن قطع يد القاتل وعفا ضمن القاطع دية اليد.

ترجمه: يو كس د بل چا لاس قطع كړو، بيا يې ووژلو، نو د هغه څخه به د دواړو ګناهونو بدله اخيستلی شي، برابره خبره ده چې قصدا يې كړي وي او كه خطاء شوي وي او كه مختلف وي، ددې دواړو ترمنځ روغتيا راغلې وي يا نه وي راغلې، مګر په دې دواړو خطاګانو كې چې ترمنځ يې روغتيا نه وي راغلې، په دې كې به يو ديت واجب وي، لكه يو كس چې بل كس سل دورې (كوړې) ووهي او هغه د نوي دورو

څخه روغ شي او د لسو دورو څخه مړ شي، که مقطوع د قطع فعل معاف کړو، بیا وروسته مړ شو، نو قاطع به د دیت ضامن وي، که د فعل قطع څخه یې معاف کړو او هغه څه څخه چې ددې څخه پیدا شوی دی یا یې تقصیر معاف کړو، نو (ضامن) به نه وي، د خطاء په صورت کې به دیت د ثلث څخه معاف وي، د عمد په صورت کې به د ټول مال څخه، که یوې ښځې د سړي لاس قصدا کاټ کړو، سړي په لاس باندې د هغې سره نکاح وکړه، بیا مړ شو، نو ښځې ته به مهر مثل ملاویږي او دیت به د هغې د مال څخه ورکول کیږي، دیت به د هغې په قوم باندې وي، که قطع په خطاء سره شوې وي او نکاح یې په لاس کړې وي او په هغه (زخمونو) باندې چې ددې (کاټولو) څخه پیدا شوي دي یا په تقصیر باندې، بیا هغه مړ شي، نو ښځې ته به مهر مثل ملاویږي او په هغې باندې به هیڅ شی نه وي که چېرته قصدا کاټ شوی وي، که چېرته په خطاء سره شوې وي نو د عاقله څخه به مهر مثل مرفوع (ختم) شي او د هغوی لپاره به د ترکې ثلث وي د وصیت په توګه، که د چا لاس کاټ شو او د هغه لپاره قصاص واخیستل شو، بیا اولنی مړ شو، نو د هغه په بدل کې به قتل کیږي، که د قاتل لاس یې قطع کړو او وینه یې ورته معاف کړه، نو قاطع به د لاس د قطع کولو د دیت ضامن وي.

تشریح الفقه: قوله ومن قطع الخ: یو سړي په لومړي ځل د بل کس لاس مات کړو، بیا یې مړ کړو، نو د هغه څخه به د دواړو افعالو بدل اخیستلی شي، ددې ټول شپږ صورتونه دي: (۱) دواړه فعلونه به قصدا صادر شوي وي، په منځ کې به د زخمي لاس جوړ شوی وي، (۲) دواړه فعلونه قصدا شوي وي او په منځ کې د زخمي لاس روغ شوی نه وي، (۳) دواړه په فعل خطاء سره صادر شوي او په منځ کې د زخمي لاس روغ شوی وي، (۴) دواړه په فعل خطاء سره صادر شوي وي او په منځ کې د زخمي لاس روغ شوی نه وي، (۵) لاس په قصده مات شوی وي او قتل خطاءً شوی وي او په منځ کې لاس روغ شوی وي، (۶) لاس په خطاء کې کاټ شوی وي او قتل په قصد سره شوی وي او په منځ کې لاس روغ شوی نه وي.

د مذکوره شپږو صورتونو څخه به په څلورو صورتونو کې د دواړو فعلونو بدله اخیستل کیږي، البته د خطاء په هغو دواړو صورتونو کې چې په منځ کې یې لاس روغ شوی نه دی، څلورم او شپږم صورت په دواړو فعلونو کې تداخل دی او په دواړو کې به یو دلته قاعده دا ده چې په اصل عقوبات کې تداخل دی، دویم فعل به د اول لپاره متمم ګڼل کیږي، مګر دا چې د دواړو فعلونو جمع کول ممکن نه وي، یا خو ددې وجې چې د دواړو فعلونو حکم جدا وي، مثلا قطع په خطاء کې شوې وي او قتل قصدا شوی وي یا ددې عکس وي یا د لومړي فعل څخه مجروح روغ شوی وي، نو په دې دواړو صورتونو کې تداخل ممکن نه دی، لهذا د هر یو فعل سزا به هم جدا وي، ددې قاعدې په رڼا کې د مذکوره شپږو

صورتونو څخه څلورم او شپږم صورت په سزا کې یه تداخل کیږي او په باقي څلورو صورتونو کې به تداخل نه کیږي.

قوله كمن ضربه مائة الخ: لکه څنګه چې په مذکوره دوه صورتونو کې تداخل کیږي، همدا راز که یو کس بل کس سل کوړې (دورې) په ناحقه ووهلو، د سلو کوړو څخه یې نوي کوړې په ملا باندې ووهي او لس کوړې یې په سر باندې ووهي، د لومړنیو نوي کوړو له وجې هغه مړ نه شو، بلکې روغ په خپل حالت باندې صحیح و او د آخري لسو کوړو له وجې هغه مړ شو، نو د آخري لسو کوړو له وجې به دیت واجب وي، د لومړنیو نوي کوړو له وجې به هیڅ تاوان واجب نه وي، ځکه چې هر کله د نوي کوړو هیڅ اثر په بدن باندې پاتې نه شو، نو تاوان به یې هم واجب نه وي، مګر دا چې د لومړنیو نوي کوړو له وجې قاضي هغه ته تعزیر ورکولی شي، ددې لپاره چې اینده داسې کړنه ترسره نه کړي.

قوله وإن عفا المقطوع الخ: که زید د بکر لاس قطع کړو، بکر زید ته معافي وکړه، بیا د همغه زخم له وجې زید مړ شو، نو په زید باندې به دیت واجب وي، لومړی معافي به ختمه شي، ځکه چې بکر د لاس قطع کول معاف کړي دي، د قتل معافي خو یې نه ده کړې، لهذا په زید باندې به دیت واجب وي، که بکر زید ته داسې وویل چې ما د لاس قطع کول معاف کې دي او د قطع څخه پیدا شوی اثر مې هم معاف کړی دی، یا یې داسې وویل چې زه د هغه د خطاء څخه تبر یم، اوس که بکر د لاس قطع کولو د زخم له وجې مړ شي، نو په زید باندې به د قتل دیت واجب نه وي، ځکه چې د بکر د وینا څخه د قتل معافي هم ثابتیږي.

قوله ولو عفا عن القطع الخ: که مقطوع قاطع معاف کړو، مثلا: داسې یې وویل چې ما قطع معاف کړو او د قطع څخه پیدا کېدو والااثر مې هم معاف کړو، بیا مقطوع د همدې قطع له وجې مړ شو. نو د مقطوع معاف کول د قاطع لره صحیح دي، خو د مقطوع له لورې دا تبرع ده او تبرع د مرض الموت په حالت کې په ثلث مال کې نافذیږي.

قوله فالخطأ من الثلث الخ: که قاطع په خطاء کې لاس قطع کړی وي، نو د هغه معافي به د ثلث مال څخه وي، ځکه چې د خطاء موجب مال دی او د مال سره د وارثانو حق متعلق کیږي، لهذا د قاطع معافي به د ثلث مال څخه وي، که د مقطوع هیڅ مال نه وي، نو د قاطع څخه به یو ثلث دیت معاف وي او دوه ثلث دیت به د قاطع په عاقله باندې د مقطوع د وارثانو لپاره لازم وي او که قاطع قصدا د مقطوع لاس قطع کړی وي، نو د قاطع معافي به د مقطوع د ټول مال څخه وي، ځکه چې د عمد موجب

قصاص دی او قصاص مال نه دی. لهذا د مقطوع د ناروغۍ په صورت کښې د وارثانو حق د هغه سره نه متعلق کيږي، لهذا په دې صورت کښې به معافي د ټول مال څخه کيږي.

قوله وإن قطعت إمرأة الخ: كه يوې ښځې د يو كس لاس مات كړو او هغه د خپل لاس د ديت په بدل كښې د هغې ښځې سره نكاح وكړه، بيا د همدې زخم له وجې هغه مړ شو، نو د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد د ښځې مهر مثل به په سړي باندې واجب وي او د ښځې په مال كښې به د لاس ديت واجب وي، په هغه صورت كښې چې هغې قصدا د سړي لاس قطع كړى وي. وجه دا ده چې دلته نكاح په قصاص طرف (د بدن د يو اندام په بدل كښې نكاح شوې ده) باندې شوې ده او د انسان اطراف د ماليت نه كېدو له وجې د نكاح لپاره د مهر واقع كېدو صلاحيت نه لري. نو د لاس ديت مهر وتاكل شو، ځكه چې د سړي او ښځې په اطرافو كښې ديت نه واجبيږي، لهذا مهر مثل به واجب وي او په ښځه باندې به ديت ددې وجې واجب شي چې د قصد په صورت كښې تاوان په فاعل باندې راځي نه په عاقله باندې، مگر دا چې خطاء د لاس قطع كېدل راغلي وي، نو ديت به په عاقله باندې واجب وي.

قوله وإن تزوّجها الخ: كه لاس قطع شوي (مقطوع اليد) والاكس د لاس كاټونكي مېرمنې سره د لاس په قطع كولو يا په هغه قتل باندې نكاح وكړه چې د قطع له وجې پيدا كيږي يا يې ددې جنايت په بدل كښې نكاح وكړه، بيا سړى د همدې زخم د زياتېدو له وجې مړ شو، نو د ښځې مهر مثل به واجب وي او په ښځه باندې به هيڅ شى واجب نه وي، په هغه صورت كښې چې ښځې له قصده لاس قطع كړى وي او كه د لاس قطع كول په خطاء كښې شوي وي، نو د ښځې د عاقله څخه به د هغې مهر مثل مرتفع شي او پاتې وصيت به د عاقله لپاره وصيت شي، ځكه چې خطاء جنايت ديت نكاح وگرځول شو او په ديت كښې د مهر واقع كېدو صلاحيت موجود دى، كه مهر مثل د ديت برابر وي او د ديت څخه بغير د مقتول نور مال نه وي، نو د ښځې په عاقله باندې به هيڅ واجب نه وي، ځكه چې نكاح د اصلي حاجتونو څخه شمارل كيږي، ددې وجې به د ټول مال څخه معتبر وي او كه مهر مثل د ديت څخه زيات وي، نو زياتي مقدار به واجب نه وي، ځكه چې مېرمن د مهر مثل څخه په كم باندې راضي شوې ده او كه مهر مثل د ديت څخه زيات وي، نو زياتي مقدار به د عاقله لپاره وصيت وي او دا به صحيح وي، ځكه چې هغه خلك هيڅ قاتل نه دي.

قوله ولو قطعَ يدَه الخ: يو سړي د بل كس لاس كاټ كړو، د هغه څخه ددې بدله واخيستل شوه، بيا مقطوع اول د مقطوع ثاني څخه وړاندې مړ شو، نو مقطوع ثاني به د مقطوع اول په بدله كښې قتل كولى شي، ځكه چې د قطع د سرايت له وجې دا ظاهره شوه چې جنايت د قتل عمد و او د مقتص له حق د قصاص انساني نفس و. (**وإستيفاء القطعِ لا يوجبُ سقوط حقّه في القتلِ**).

باب الشّهادة في القتل

قوله بابٌ الخ دا باب د قتل په باره کې د شاهدۍ ادا کولو په بيان کې دی.

مصنّف رَحِمَهُ اللهُ د شهادت في القتل بيان د قتل د حکم څخه وروسته ذکر کړو. ځکه چې شهادت في القتل د قتل سره متعلق امر دی او متعلق د شي د اصل شي څخه په کمه درجه کې وي، ددې وجې يې وروسته ذکر کول مناسب دي.

ولا يقيّد حاضرٌ بحجّته إذا أخوه غاب عن خصومته فإن يعد لا بدّ من إعادته ليقتلا ولو خطأً أو دينًا لا فإن أثبت القاتل عفو الغائب لم يقد وكذا لو قتل عبدهما وأحدهما غائبٌ وإن شهد وليّان بعفو ثالثهما لغت فإن صدّقهما القاتل فالدّية لهم أثلاثًا وإن كذّبهما فلا شيء لهما وللآخر ثلث الدّية وإن شهدا أنّه ضربه فلم يزل صاحب فراشٍ حتّى مات يقتصّ وإن اختلف شاهدا القتل في الزّمان أو المكان أو فيما وقع به القتل أو قال أحدهما قتله بعصًا، وقال الآخر لم أدر بماذا قتله بطلت وإن شهدا أنّه قتله، وقالا لا ندري بأيّ شيءٍ قتله وجب فيه الدّية وإن أقرّ كلّ واحدٍ منهما أنّه قتله، وقال الوليّ قتلتماه جميعًا له قتلهما، ولو كان مكان الإقرار شهادةٌ لغت.

ترجمه: حاضر سړی د خپل دليل له وجې قصاص نه شي اخيستلی کله چې يې ورور د خصومت څخه غائب وي، بيا چې کله هغه راشي نو د بينه اعاده ضروري ده، ددې لپاره چې دواړه قصاص واخلي او که د خطاء يا قرض دعوه وي، نو نه (يعني د شاهدانو د شهادت اعاده ضروري نه ده)، بيا که قاتل د غائب معافي ثابته کړي نو هغه به نه شي قتلولی او همدا شان که قتل کړی شو د دواړو غلام او په دوی کې يو کس غائب وي، که دوه اولياوو د دريم د معافی دعوه وکړه، نو لغو به وي، بيا که دوی دواړو د قاتل تصديق وکړو؛ نو د دوی لپاره به ديت اثلاثا وي، که د دوی دواړو تکذيب يې وکړو؛ نو د دوی دواړو لپاره به هيڅ شی واجب نه وي او د دريم لپاره به ثلث ديت وي او که دوه کسانو دا شاهدي ادا کړه چې هغه فلانی وهلی او د بستري څخه پورته نه شو، تردې پورې چې مړ شو، نو قصاص به اخيستلی شي، که د قتل دوه شاهدانو په وخت کې يا مکان کې يا د قتل په آله کې اختلاف وکړو، يو شاهد ووېل چې هغه په لرګي باندې وژلی و، دويم ووېل: ماته معلومه نه ده چې قتل يې په څه شي باندې کړی و، نو شاهدي به باطله وي، که دوه کسانو شاهدي ادا کړه چې هغه وژل شوی دی؛ خو موږ ته معلومه نه ده چې په څه شي باندې وژل شوی دی، نو ديت به واجب وي او که د دوه کسانو څخه هر يو دا اقرار وکړي چې قتل ما کړی دی او ولي ووېل چې تاسو دواړو په شريکه مړ کړی دی، د هغوی لپاره به د دواړو وژل جائز وي او که د اقرار په ځای باندې شاهدي وي، نو (شهادت) به لغو وي.

تشريح الفقهِ : قوله لايقيّد حاضرٌ الخ: ددې ځاى څخه تر (مِنْ إعادته) پورې پوره شعر دى چې مصنف رَحِمَهُ اللهُ د زړونو خوشحالولو او طبيعت فراخه كولو لپاره دلته د اختصار په ډول ذكر كړى دى، ذكر شوې مسئله په دوه اصولو باندې مبني ده، لومړى اصل دا دى چې د صاحبينو او امام شافعي رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد د وارثانو لپاره د قصاص ثبوت په طريقې د وراثت سره كيږي، يعنې ملكيت لومړى د مورث لپاره ثابتيږي، بيا د مورث څخه د وارثانو په طرف منتقل كيږي، د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد په طريقې د خلافت سره منتقل كيږي، نه په طريقې د وراثت سره، ددې وجې چې د قصاص مشروعيت د وينې په مطالبه كې د زړونو د تشفي لپاره كيږي او ميت ددې اهل نه وي چې ددې مالک شي، د قران كريم د ايت (وجعلناكم لوليّه سلطانًا) صريح مفهوم همداسې دى چې د قصاص ثبوت په طريقې د خلافت سره دى، نه په طريقې د وراثت سره او دلته د خلافت څخه مطلب دا دى چې يو سړى د بل كس د فعل په كولو كې قائم مقام دى، دلته ګويا حقيقي خلافت مراد نه دى، بلكې مجازي خلافت ترې مراد دى چې هغه د وراثت مقابله ده، دويم اصل دا دى چې د كوم شي وراث په طريقې د وراثت سره وي، په داسې صورت كې يو وارث د نورو وارثانو له لورې مخاصم او په خصومت كې د هغوى قائم مقام وي او د كوم شي وارث چې په طريقې د وراثت سره نه وي، نو په دې صورت كې يو وارث د نورو وارثانو له لورې مخاصم نه وي، كه يو وارث په متروكه مال كې د يو شي دعوه وكړي او شاهد راولي، نو د ټولو وارثانو حق به ثابت وي، د باقي وارثانو لپاره به تجديد د دعوې ته ضرورت نه وي، هر كله چې دا اصول په ښه توګه واضح شول، نو اوس په مسئلې باندې ځان پوه كړئ؛ مسئله دا ده چې دوه ورونه دي: يو ورور حاضر دى او دويم ورور يې غائب دى، حاضر ورور يې د خپل پلار په قاتل باندې د قتل عمد له وجې شاهدان راوستل او غوښتل يې چې د قاتل څخه قصاص واخلي، نو حكم دا دى چې تر كومه پورې غائب ورور حاضر نه شي، تر هغه وخته پورې حاكم په اجماع د عالمانو قصاص نه شي اخيستلى، د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد وجه دا ده چې دلته د وارث لپاره د قصاص ثبوت په طريقې د خلافت سره دى، يو وارث د نورو وارثانو له لورې قائم مقام نه شي جوړيدلى او د صاحبينو په نزد وجه دا ده چې د غائب ورور له لورې د قصاص معاف كېدو احتمال موجود دى، بيا چې كله غائب ورور راشي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد د شاهدانو اعاده ضروري ده، د صاحبينو رَحِمَهُمَا اللهُ په نزد د شاهدانو اعاده ضروري نه ده، وجه يې هغه ده چې موږ يې پورته بيان وكړو، د هغوى په نزد د وارثانو ملكيت په طريقې د وراثت سره دى او د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد په طريقې د خلافت سره دى.

قوله ولو خطأً الخ: كه په مذكوره مسئله كې د قتل خطا يا دَين دعوه وشي، نو بيا خو بالاتفاق د شاهدانو د شهادت اعاده ضروري نه ده، ځكه چې د قتل خطا او دَين موجب مال دى او په مال كې د

ملكيت ثبوت د وراثت په توګه وي، نو يو وارث د باقي وارثانو قائم مقام كېدى شي او كه قاتل په غائب وارث باندې د معاف كېدو دعوه وكړي او شاهدان هم تېر كړي، نو قصاص به ساقط شي او حاضر وارث به مخاصم جوړ شي، ځكه چې د عفوې په صورت كې د حاضر وارث حق قصاص هم ساقط دى او قصاص به په مال سره بدل شي او قصاص اخيستل د غائب د عفوې ثابتولو څخه بغير ناممكن دى، لهذا حاضر وارث به د غائب وارث له لورې مخاصم وي او هر كله چې په حاضر باندې حكم وشو، نو تبعا په غائب باندې به هم حكم ګڼل كيږي.

قوله وكذا لو قتل الخ: كه د دوه مالكانو غلام په قصده يا خطاء باندې قتل شوى وي او د مالكانو څخه يو حاضر وي او دويم غائب وي؛ نو د هغې هم همدا حكم دى، كه حاضر مالك شاهدان راولي، نو د غائب مالك د وجود په وخت كې به بلا اعادې مقبول نه وي، كه قاتل د غائب مالك په معاف كېدو باندې شاهدي تېر كړي، نو حاضر مالك به مخاصم وي او قصاص به ساقط شي.

قوله وإن شهدَ الخ: د يو مقتول درې وارثان دي: په دوى كې دوه كسانو د يو كس په اړه شاهدي ادا كړه چې هغه خپل حق قصاص معاف كړو. د دوى شاهدي به باطله وي، بلكې دا به خپله د دوى له طرفه د قصاص عفوه كېدل وي، ځكه چې دوى د دريمګړي په معافى سره غواړي خپل ځان ته ګټه ورسوي، په دې معنى چې دوى قصاص په مال سره بدلول غواړي، نو د دوى ګومان به يوازې د دوى په حق كې معتبر وي، بيا كه قاتل د دوى دواړو تصديق وكړي او دريم وارث تكذيب وكړي، نو ديت به د درې واړو وارثانو ترمنځ په طريقې د اثلاث سره تقسيمولى شي، ځكه چې د دوى دواړو تصديق كول د ديت د دوه ثلثو اقرار دى، نو د هغه اقرار به صحيح وي، خو هغه د مشهود عليه د حق ساقطېدو مدعي دى او مشهود عليه ترې منكر دى، په دې كې به د هغه تصديق نه شي كولى او كه قاتل د دوى تكذيب وكړو، نو دواړو وارثانو ته به هيڅ شى نه ملاوېږي، ځكه چې هغوى شاهدي ادا كړه او د خپل حق قصاص د بطلان اقرار يې وكړو، خو دريم وارث ته به د ديت دريمه برخه رسيږي.

قوله وإن اختلفَ الخ: دوه شاهدانو د قتل شاهدي ادا كړه، د قتل په زمانه، مكان يا آله د قتل كې يې اختلاف وكړو، مثلاً: يو شاهد داسې شاهدي ادا كړه چې د شوال په مياشت كې قتل شوى و، دويم كس وويل چې په ذي القعده كې قتل شوى و، يا يو شاهد كوفه وښودل او دويم شاهد شام وښودلو. يا يو شاهد وويل چې په لرګي باندې د قتل پېښه شوې ده او دويم شاهد وويل: ماته معلومه نه ده چې د كومې وسلې څخه يې په قتل كې ترې كار اخيستى دى، په دې ټولو صورتونو كې شهادت باطل دى، ځكه چې قتل دوه ځله نه شي كېدى، لهذا د كوفې او شام قتل جدا جدا قتلونه شول او په هر قتل باندې يوازې يو شاهد دى.

قوله وإنّ إقرارَ الخ: د دوه کسانو څخه يو کس دا اقرار وکړو چې فلانی سړی ما وژلی دی او د مقتول ولي وايي چې تاسو دواړو په شريکه باندې قتل کړی دی، نو ولي کولی شي چې دواړه قتل کړي، که دوه کسان دا شاهدي ادا کړي چې هغه فلاني سړي وژلی دی او دوه نور کسان شاهدي ادا کړي چې هغه فلاني کس وژلی دی او ولي ووايي چې دوی دواړو وژلی دی، نو د ولي لپاره به د هغوی وژل جائز نه وي، د دواړو مسئلو ترمنځ فرق دا دی چې د شاهدانو په اړه د ولي دا وينا چې دوی دواړو (ډلو) مقتول وژلی دی، دا يو قسم تکذيب دی چې فسق د شاهدانو لره مستلزم دی، ځکه چې هغوی د قتل شاهدي په انفرادي حالت کې بيانوي او ولي وايي چې دوی دواړو ډلو په شريکه باندې وژلی دی، دا خپله د شاهدانو تکذيب دی او د شاهدانو فاسق کېدو سره شهادت باطليږي، په خلاف د اقرار چې د مقر فسق د هغه اقرار نه باطلوي.

بابٌ في اعتبار حالة القتل

دا باب په اعتبار د حالت قتل کې دی، احوال د ذواتو لپاره د صفاتو په مرتبه کې دي، ددې وجې مصنّف رَحِمَهُ اللهُ د قتل او د قتل د متعلقاتو د بيانولو وروسته د قتل احوال بيان کړه:

المعتبر حالة الرّمي فتجب الدّية بردّة المرميّ إليه قبل الوصول لا بإسلامه والقيمة بعتقه ولا يضمن الرّامي برجوع شاهد الرّجم بعد الرّمي وحلّ الصّيد بردّة الرّامي لا بإسلامه ووجب الجزاء بحلّه لا بإحرامه.

ترجمه: د غشي ويشتلو وخت معتبر دی، د مرمي اليه په مرتد کېدو سره د غشي رسېدو څخه وړاندې به ديت واجب وي، نه دا چې د هغه د مسلمانېدو له وجې، د غلام قيمت په ازادېدو سره، کانی ويشتونکی به ضامن نه وي چې د رجم شاهدان رجوع د رمی څخه وروسته رجوع وکړي، د غشي ويشتونکي په مرتد کېدو سره به ښکار حلال وي، نه د هغه په مسلمانېدو سره، جزاء به واجبه وي د جزاء په حلالېدو سره، نه دا چې احرام تړلو سره.

تشريح الفقهِ: **قوله المعتبر الخ**: د ښکار په حلت او حرمت کې او دغه شان په ديت او تاوان واجبېدو او نه واجبېدو کې قاعده کليه دا ده چې د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد د غشي ويشتلو حالت ته اعتبار دی، نه دا چې د غشي لګېدو وخت، که کوم مسلمان غشی وولي او مسلمان د غشي ويشتلو څخه وړاندې مرتد شي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد به په غشي ويشتونکي باندې ديت واجب وي، د صاحبينو علامه کاکي او ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد به په هغه باندې هيڅ شی واجب نه وي، ځکه چې د تلف حصول په محل غير معصوم کې شوي او اتلاف د غير معصوم مفت وي، امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې د ضمان لزوم د فعل له وجې وي، ځکه چې د انسان په طاقت کې يوازې د هغه خپل فعل دی او هغه دلته غشی ويشتل

دی، پاتې شو د غشي لګېدل، نو هغه خو دده د وس خبره نه ده، هغه خو د غشي ويشتلو پرمهال قاتل جوړ شو، لهذا ديت به واجب وي، كه څوک كافر په غشي باندې وولي او هغه په غشي باندې د لګېدو څخه وړاندې اسلام قبول كړي، د صاحبينو په نزد دې صورت كې هم په هغه باندې ديت واجب نه دی، ځكه چې د غشي ويشتلو پرمهال د هغه وينه مباح وه، معصومه نه وه، معلومه شوه چې د غشي ويشتلو حالت معتبر دی، په دې باندې نور تفريعات هم قياس كړئ!

قوله والقيمة الخ: يو سړي غلام په غشي باندې وويشتلو او هغه په غشي باندې د لګېدو څخه وړاندې ازاد شو، نو په غشي ويشتونكي باندې به د غلام قيمت واجب وي، ديت به واجب نه وي، ځكه چې هغه د غشي ويشتلو پرمهال ازاد نه و، بلكې د غلامی په حالت كې و، د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد د مرمي او غير مرمي په قيمتونو كې چې څومره زياتي مقدار وي، هغه به واجب وي، مثلا د غشي ويشتلو څخه وړاندې د هغه قيمت زر روپۍ و او د غشي ويشتلو څخه وروسته اته سوه روپۍ پاتې شو، نو په غشي ويشتونكي باندې به دوه سوه روپۍ واجبې شي، د امام زفر رَحِمَهُ اللهُ په نزد پوره ديت واجب دی. (والفرقُ فى المطولاتِ)

قوله ولا يضمنُ الرامى الخ: د يو سړي اړوند شاهدانو د زنا شاهدي ادا كړه، حاكم په هغه باندې د سنګساری (رجم) فيصله وكړه، خلكو په هغه باندې ځه كاڼي وويشتل، خو د كاڼي لګېدو څخه وړاندې د رجم په شاهدانو كې څينو د خپل شهادت څخه رجوع وكړه، نو په كاڼي ويشتونكي باندې به تاوان نه وي، ځكه چې مذكوره شخص په اول وخت كې (د كاڼي ويشتلو پرمهال، نه د كاڼي لګېدو پرمهال) مباح الدم و.

كتاب الدّيات

قوله الدِّيَات الخ: ديات د دية جمع ده، په شريعت كې هغه مال ته ويل كيږي چې د نفس بدل وي، ارش هغه مال ته ويل كيږي چې د نفس څخه په كم جنايت كې وي، د كتاب الديات مناسبت د جنايات سره ظاهر دی، ځكه چې ديت په انسان باندې د جنايت د دوه سببونو (قصاص او ديت) له وجې په انسان باندې واجبيږي، دا چې په قصاص كې د احياء معنى د ديت په نسبت زياته موجوده ده، ددې وجې يې د قصاص بيان په ديت باندې مخكې كړو.

دية شبه العمد مائةٌ من الإبل أرباعًا من بنت مخاضٍ إلى جذعةٍ ولا تتغلّظ إلّا فى الإبل والخطأ مائةٌ من الإبل أخماسًا ابن مخاضٍ وبنت مخاضٍ وبنت لبونٍ وحقّةٌ وجذعةٌ أو ألف دينارٍ أو عشرة آلاف درهمٍ

وكفّارتهما ما ذكر فى النّصّ ولا يجوز الإطعام والجنين ويجوز الرّضيع لو أحد أبويه مسلمًا ودية المرأة على النّصف من دية الرّجل فى النّفس وفيما دونها ودية الذّمّىّ والمسلم سواءٌ.

ترجمه: د شب عمد ديت سل اوښان دي، يوه ربعه (پنځه ويشت اوښان) به د بنت مخاض څخه تر جذعه پورې وي او تغليظ نشته مگر په اوښ کې، د قتل خطاء ديت سل اوښان دي، يو خمس (شل اوښان) ابن مخاض، بنت مخاض، بنت لبون، حقه او جذعه يا زر ديناره يا لس زره درهم دي او ددې دواړو کفاره په نص کې ذکر شوې ده، جائز نه دي خوړل او په بل باندې خوراک کول او هغه بچی چې د مور په نس کې وي، جائز دی شيده روی ماشوم چې د مور او پلار څخه يې يو کس مسلمان وي، د ښځې ديت د سړي په نيمايي دی په بدن کې او د بدن څخه په کم کې، د مسلمان او ذمي ديت برابر دی.

دِ قتلِ خطاء اوشبه عمد د ديت بيان

تشريح الفقه: **قوله الديات الخ**: د شيخينو په نزد د شبه عمد ديت سل اوښان دي په طريقې د ارباع سره، يعنې پنځه ويشت بنت مخاض (يو کلن) دي، پنځه ويشت بنت لبون (دوه کلن) دي، پنځه ويشت حقې (درې کلن) دي او پنځه ويشت جذعه (څلور کلن) دي، د امام محمد، امام شافعي او په يو روايت کې د امام احمد رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد د شبه عمد ديت په طريقې د اثلاث سره دی، يعنې دېرش حقې، دېرش جذعې او څلوېښت ثنيې (شپږ کلن) حيوانات دي چې حملداره وي، ځکه چې په حديث کې دي: د خطاء او شبه عمد ديت سل اوښان دي چې څلوېښت پکې حملداره دي، د شيخينو دليل دا حديث دی چې په شبه عمد کې پنځه ويشت حقې، پنځه ويشت جذعې، پنځه ويشت بنت لبون او پنځه ويشت بنت مخاض دي.

قوله والخطاء الخ: د احنافو او امام احمد رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد د قتل خطاء ديت سل اوښان دي، په طريقې د اخماس سره، يعنې شل حقې شل جذعې، شل بنت مخاض، شل بنت لبون او شل بني مخاض (يو کلن اوښ) دي، د امام مالک، امام شافعي، ليث او ربيعه رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد د يو کلن شلو اوښانو په ځای دوه کلن شل اوښان دي، د دوی دليل د سهيل بن ابي حثمه روايت دی او زموږ دليل د عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دی.

قوله أو ألف دينارٍ الخ: د سرو زرو څخه د قتل خطاء ديت زر ديناره دي او د سپينو زرو څخه لس زره دراهم دي، د امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا اللهُ په نزد د سپينو زرو څخه دولس زره درهم دي، ځکه چې په نبوي دوره کې د بني عدي يو کس چا وژلی و، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه ديت دولس زره دراهم مقرر کړل، زموږ دليل دا دی چې عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د سپينو زرو څخه لس زره درهم وټاکل، ددې تصريح په بيهقي کې موجوده ده، ددې څخه بغير په نبوي دوره کې وزن خمسة، وزن ستة، وزن عشرة او مختلف

وزنونه رواج وو، لهذا كه مذكوره ديت په زون خمسه باندې حمل شي او د عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت په وزن سته باندې حمل شي، نو په دواړو كې به هيڅ تعارض پاتې نه شي.

قوله ودية الذمي والمسلم الخ: زموږ په نزد د مسلمان او ذمي ديت برابر دى، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد د يهودي او نصراني ديت څلور زره درهم دي او د آتش پرست اته سوه دراهم دي، د امام مالك رَحِمَهُ اللهُ په نزد د يهودي او نصراني ديت شپږ زره دى. د دوى دليل دا حديث دى: (**عقلُ الكافرِ نصف عقل المؤمنِ**) او د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد د مسلمان ديت دولس زره درهم دي. ددې نيمايي شپږ زره درهم دي، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دليل دا دى چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په هر مسلمان باندې چې د اهل كتابو څخه څوك مړ كړي څلور زره درهم مقرر كړي دي، دغه شان سعيد بن مسيب د عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت نقل كړى دى چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د يهودي او نصراني په باره كې څلور زره او د مجوسي په باره كې اته سوه باندې فيصله وكړه، زموږ دليل دا حديث دى: (**ديّة كل ذي عهد في عهده ألف دينارٍ**) دغه شان په نبوي او خلفاء راشده په دوره كې د مسلمان، يهودي او نصراني ديت برابر و، د ابن عباس، ابن عمر، اسامه بن زيد او علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ څخه داسې روايت نقل شوى دى، حكم، حماد، نخعي، ابن عتبه، اسماعيل بن محمد صالح، عطاء، مجاهد، علقمة، ثوري، عثمان البتى، حسن بن حيى او ابن شهاب زهري ټول ددې قائل وو.

فصلٌ في بيان ديات الأطراف

في النّفس والمارن واللّسان والذّكر والحشفة والعقل والسّمع والبصر والشّمّ والذّوق واللّحية إن لم تنبت وشعر الرّأس والعينين واليدين والشّفتين والحاجبين والرّجلين والأذنين والأنثيين وثديي المرأة الدّية وفي كلّ واحدٍ من هذه الأشياء نصف الدّية وفي أشفار العينين الدّية وفي أحدها ربعها وفي كلّ أصبعٍ من أصابع اليدين أو الرّجلين عشرها وما فيها مفاصل ففي أحدها ثلث دية الأصبع ونصفها لو فيها مفصلان وفي كلّ سنّ خمسٌ من الإبل أو خمسمائة درهمٍ وكلّ عضوٍ ذهب نفعه ففيه ديةٌ كيدٍ شلّت وعينٍ ذهب ضوءها

ترجمه: په نفس كې، پوزه كې، ژبه كې، د نارينه په مخكينى شرمګاه كې، د شرمګاه په سر كې، په عقل، اوريدو او نظر كې، په بوى كې، په ذوق كې، په ږيره كې كه چېرته نه شنه كيږي، د سر په وېښتو كې، په سترګو كې، په لاسونو كې، په شونډو كې، په وريځو كې، په پښو كې، په غوږونو كې، په خصيتينو (د نارينه په هګيو) كې او د ښځې په تيانو (سينو) كې ديت دى، ددې اندامونو څخه په هر يو كې نيمايي ديت دى او د سترګو په باڼو كې پوره ديت دى، په يو باڼو كې څلورمه برخه ده، د دواړو لاسونو په ګوتو كې د هرې ګوتې او د پښو په هره ګوته كې د ديت لسمه برخه ده او په كومو كې چې بندونه دي، په

هغې کې د هر يو په بدل کې د ديت دريمه برخه ده او نيمايي (ديت) به وي که چېرته دوه بندونه پکې وي، په هر غابښ کې پنځه اوښان دي يا پنځه سوه درهم دي او هر هغه اندام چې د ګټې ووځي په هغې کې پوره ديت دی، لکه لاس چې کار پرېږدي او د سترګو نظر ختم شي.

د اندامونو د ديت احکام

تشريح الفقه : **قوله والمارن الخ**: د پوره يا نيمايي ديت په اړه قاعده کليه دا ده چې د کومو اندامونو پوره منفعت ختم شي يا د انسان ښايست على وجه الکمال له منځه لاړ شي، نو پوره ديت به واجبيږي، د پوزې، ژبې او د نارينه د شرمګاه کاټولو له وجې پوره ديت دی، په حديث کې راځي : (**في الأنفِ إذا قطعَ مارنه الديةُ**) دغه شان په حديث کې دي : (**وفي اللسانِ الدّية کاملةٌ**) دغه شان د مخکيني شرمګاه په اړه راځي : (**في الذکرِ الدّيّة**).

قوله اللِحيةُ الخ: که څوک د چا د ږيرې وېښته يا د سر وېښته وباسي او بيا وېښته راونه خيږي، نو پوره ديت به واجب وي، د امام مالک او امام شافعي رحمهما الله په نزد د يو عادل سړي په پرېکړه به ګوزاره کوي، ځکه چې وېښته د ضرورت څخه زياتي شيان دي، د همدې وجې خو خلک د سر وېښته خريي او ځينې خلک د ږيرې وېښته هم خريي، ددې مثال بالکل داسې دی لکه څوک چې د سينې يا پنډۍ وېښته وباسي، مونږ وايو چې ږيره د ښايست او حسن لويه ذريعه ده، ددې په ختمولو سره ښايست ختميږي، دغه شان د سر وېښته دي، هغه څوک چې په سر باندې يې وېښته نه وي، هغوی په سختی سره خپل سرونه پټوي، ددې وجې د سر وېښته ختمولو سره چې دويم ځلي ونه خيږي، پوره ديت به واجب وي.

قوله وفي کُلِّ واحدٍ الخ: د انسان کوم اندامونه چې يو يو (مفرد) دي، لکه : پوزه، ژبه او آله د تناسل، ددې په قطع کولو سره پوره ديت واجب دی او کوم اندامونه چې دوه دوه دي، لکه : سترګې، غوږونه، لاسونه، پښې، تيان او خصيتين، ددې په دواړو قطع کولو سره پوره ديت دی او د يو په قطع کولو سره نيمايي ديت دی او کوم اندامونه چې څلور دي : لکه : د سترګو باڼو، د څلورو واړو په قطع کولو سره به پوره ديت وي، د يو په قطع کولو سره به د ديت څلورمه برخه لازمه وي او کوم اندامونه چې لس دي، لکه د لاس او پښو لس ګوتې، نو د لسو په قطع کولو سره به پوره ديت واجب وي او د يو په قطع کولو سره لسمه برخه ديت وي.

فصلٌ فی الشّجاج

کوم زخم چې په سر او مخ باندې وي، هغه ته شجة وايي، ددې جمع شجاج وايي، د باقي بدن زخم ته جراحة ويل کيږي، ددې جمع جراحات راځي، د نفس څخه په کمه درجه جنايتونو او ديتونو کې شجاج هم داخل دی، خو د مسائلو د زياتوالي له وجې يې د شجاج لپاره مستقل فصل وتړلو.

وفی الموضحة نصف عشر الدّية وفی الهاشمة عشرها وفی المنقّلة عشرٌ ونصف عشرٍ وفی الآمّة والجائفة ثلثها فإن نفذت الجائفة فثلثاها وفی الحارصة والدّامعة والدّامية والباضعة والمتلاحمة والسّمحاق حکومة عدلٍ ولا قصاص فی غير الموضحة وفی أصابع اليد نصف الدّية ولو مع الکفّ ومع نصف ساعدٍ نصف الدّية وحکومة وفی قطع الکفّ وفيها أصبعٌ أو أصبعان عشرها أو خمسها ولا شیء فی الکفّ وفی الأصبع الزّائدة وعين الصّبیّ وذکره ولسانه إن لم تعلم صحّته بنظرٍ وحرکةٍ وکلامٍ حکومة شجّ رجلًا موضحةً فذهب عقله أو شعر رأسه دخل أرش الموضحة فی الدّية وإن ذهب سمعه أو بصره أو کلامه لا وإن شجّه موضحةً فذهبت عيناه أو قطع أصبعًا فشلّت أخری أو قطع المفصل الأعلی فشلّ ما بقی أو کلّ اليد أو کسر نصف سنّةٍ فاسودّ ما بقی فلا قود وإن قلع سنّةً فنبتت مکانها أخری سقط الأرش وإن أقيد فنبتت سنّ الأوّل تجب الدية وإن شجّ رجلًا فالتحم ولم يبق له أثرٌ أو ضرب فجرح فبرأ وذهب أثره فلا أرش ولا قود بجرحٍ حتّی يبرأ وکلّ عمدٍ سقط فيه قوده لشبهةٍ کقتل الأب ابنه عمدًا فديته فی مال القاتل وکذا ما وجب صلحًا أو اعترافًا أو لم يکن نصف العشر وعمد الصّبیّ والمجنون خطأٌ وديته علی عاقلته ولا تکفير فيه ولا حرمان، والمعتوهُ کالصبیّ.

ترجمه: په موضحه کې د ديت شلمه برخه ده، په هاشمه کې د ديت لسمه برخه ده، په منقله کې لسمه او شلمه برخه ده، په آمه يا جائفه کې د ديت دريمه برخه ده، که جائفه سيده سيده لاړ شي، نو د ديت دوه ثلثه به وي، په حارصه، دامعه، داميه، باضعه، متلاحمه او سمحاق کې د عادل فيصله ده، د وموضحه څخه بغير په نورو کې قصاص نشته، د يو لاس په ګوتو کې نيمايي ديت دی اګر چې د ورغوي سره وي او د نيمايي څنګل سره نيمايي ديت دی او د يو عادل فيصله ده، کله چې د ورغوي په کاټولو کې يوه يا دوه ګوتې وي؛ نو د ديت لسمه يا پنځمه برخه به وي، په ورغوي کې هيڅ شی نه واجبيږي، په زياتي ګوته کې، د ماشوم په سترګه کې، د هغه په آله تناسل کې، په ژبه کې، که چېرته معلوم نه وي د هغه صحيح کتلو، حرکت کولو او ويلو سره، نو د يو عادل فيصله ده، يو سړي څوک زخمي کړو او د هغه عقل ختم شو يا د هغه د سر وېښته لاړل، نو په ديت کې به د موضحه تاوان داخل وي، که اوريدل، نظر يا خبرې پاتې نه شي، نو تاوان به نه وي، که څوک يې په موضحه سره زخمي کړو، د هغه دواړه سترګې ختمي شوې يا د هغه ګوته کاټ شوه او بيا بله ګوته شله شوه يا پورتنی بند کاټ شو، لاندې بندونه يې شل شول يا ټول لاس شل

شو یا یې نیمایي غابښ مات کړو، باقي غابښ تور شو، نو قصاص به نه وي، که غابښ یې ترې وویستلو، د هغه په ځای بل غابښ راووتلو، نو تاوان به ساقط وي او که قصاص واخیستل شو، بیا په اول ځای باندې غابښ راوختلو، نو تاوان به واجب وي، که څوک یې زخمي کړو، بیا هغه زخم ډک شو او اثر یې هم پاتې نه شو، یا یې ووهلو او زخمي یې کړو، بیا هغه ښه شو او اثر یې پاتې نه شو، نو تاوان به نه وي، د زخم قصاص به نه وي، تر هغه پورې چې ښه شي، هر هغه عمد چې قصاص یې د شبهې له وجې ساقط شي، لکه د پلار په قصد سره د زوی وژل، ددې دیت به د قاتل په مال کې وي او دغه شان په سولې یا اقرار سره چې کوم شی واجب شي یا هغه د نصف عشر (شلمې برخې) څخه کم وي، د ماشوم او لېوني عمدا به په خطاء کې وي، د دوی دیت یې په عاقله باندې دی، کفاره پکې نشته او نه محروم کېدل او معتوه د ماشوم په شان دی.

تشریح الفقه: **قوله وفي الموضحة الخ**: شجاج د سر او مخ زخم ته ویل کیږي او د باقي بدن زخم ته جراحت ویل کیږي، د سر او مخ زخم په لس قسمه دی: (۱) **حارصه**: هغه زخم دی چې په څرمن کې خراشی پیدا کړي، (۲) **دامعه**: هغه زخم دی چې وینه ښکاره شي؛ خو ونه بهیږي، لکه په سترګو کې چې اوښکې ښکاره شي؛ خو ونه بهیږي، (۳) **دامیة**: هغه زخم دی چې وینه ترې وبهیږي، (۴) **باضعه**: هغه زخم دی چې غوښه پکې کاټ شي، (۵) **متلاحمة**: هغه زخم دی چې د باضعه په نسبت زیاته غوښه کاټ شي، خو سمحاق ته ونه رسیږي، (۶) **سمحاق**: هغه زخم دی چې د غوښې او بدن د هډوکي ترمنځ باریکې پردې ته ورسیږي، (۷) **موضحه**: هغه زخم دی چې هډوکی پکې ښکاره شي، (۸) **هاشمه**: هغه زخم دی چې هډوکی هم پکې مات شي، (۹) **منقله**: هغه زخم دی چې هډوکی پکې مات شي او د خپل ځای څخه وخوځیږي، (۱۰) **آمه**: هغه زخم دی چې ام الدماغ ته ورسیږي، ام الدماغ هغه جالۍ ته چې ماغزه پکې پراته وي.

قوله وفي الموضحة الخ: که موضحه خطاءً شوې وي، نو په هغې کې به نصف عشر (د دیت شلمه برخه چې پنځه اوښان جوړیږي) وي، په هاشمه کې عشر دیت (لس اوښان) دي، په منقله کې عشر دیت او د نصف دیت مجموعه (یعنې پنځلس اوښان) دي، په آمه کې ثلث دیت واجب دی، لقوله علیه السلام: «وفي الموضحة خمس من الابل وفي الهاشمة عشر وفي المنقلة خمسة عشر وفي الآمة ثلث الدية».

قوله أو الجائفة الخ: په زیلعي کې دي چې جائفه هغه زخم ته ویل کیږي چې په سر او خېټه کې وي، په سراج کې دي: دا هغه زخم دی چې په خېټه یا سینه کې زخم وي چې داخل د خېټې یا هغه ځای ته ورسیږي چې اوبو داخلېدو سره پرې روژه ماتیږي، په دې کې د دیت دریمه برخه ده.

قوله فإن نفذتُ الخ: كه جائفه يعني د خېټې زخم داخل ته ورسيږي، تردې پورې چې د خېټې بلې غاړې ته هم ورسيږي، نو د ديت دوه ثلث به واجب وي، ځكه چې اوس دوه جائفې شوې، يوه جائفه د خېټې له طرفه او دويم د شلېدو په طرف. ابوبكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا پرېكړه كړې وه.

قوله والإقتصاص الخ: په اوم كې بالاتفاق قصاص شته، په اتم، نهم او لسم كې بالاتفاق قصاص نشته، په ۲، ۵، ۴، ۳، ۲ كې هم د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ څخه عدم قصاص روايت شوى دى، خو امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په اصل كې ذكر كړي او. همدا ظاهر الرواية دى چې په دې كې قصاص شته، ظاهري ايت (والجروحَ قصاص) هم ددې ښكاره مؤيد دى، په درر، مجتبىٰ، ابن الكمال، عيني او كافي وغيره كتابونو كې يې ليكلي دي چې همدا صحيح قول دى.

قوله إن لم يعلمُ صحته الخ: كه څوک د ماشوم ستر ګه زخمي كړي يا د هغه ژبه او يا تناسلي آله كاټه كړي، د ماشوم په كتلو سره د ستر ګو حالت، په ويلو سره د ژبې حالت او په خوځېدو سره د تناسلي آلې معلومات نه كيږي چې ايا دا اندام صحيح دى او كه نه؟ په دې صورت كې به د يو عادل فيصله معتبره وي، ځكه چې ددې اندامونو څخه مقصد منفعت دى او هر كله چې ددې په اړه دا معلومات نه كيږي چې ايا دا قابل د منفعت دي او كه نه دي؟ نو د شک له وجې به ديت نه واجبيږي، (هدايه) او كه د صحت حالت يې معلوم وي، نو د ماشوم حالت به د بالغ سړي د اندامونو په شان وي او د هغه بيان پورته وشو.

قوله شجّ رجُلًا الخ: يو سړي بل څوک موضحه زخمي كړو، د هغې له وجې د سړي عقل يا د سر وېښته لاړل، نو د موضحه ديت به د انسان په پوره ديت كې داخل وي، ځكه چې د عقل په ختمېدو سره ټول اندامونه بېكاره شي، ګويا هغه په ژوند كې مړى دى او كه د هغه اورېدل، بصارت يا خبرې كول ختم شي، نو د موضحه ديت به په پوره ديت كې شامل نه وي، ځكه چې ددې هر عمل فايده ځان ځانته ده، نو دا د مختلفو اندامونو په شان شو، ددې وجې به د موضحه ديت جدا او د سماعت ديت به جدا وربانديې واجب وي.

قوله وإن قلعَ الخ: يو سړي د بل كس غاښ وويستلو، د هغه غاښ په ځاى باندې بل غاښ وختلو، د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد به د غاښ ديت ساقط وي، د صاحبينو په نزد به ساقط نه وي، ځكه چې د ديت واجبونكى جنايت خو واقع شوى دى، پاتې شو د الله تعالى له لورې بل غاښ راختل دا ځانته لوى نعمت دى، امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې دلته د جنايت معنى ختمه شوې ده، ځكه چې د ديت وجوب د فساد منبت له وجې و او كله چې دويم غاښ پيدا شو، نو منبت فاسد نه شو، لهذا نه منفعت ختم شو او نه هم ښايست ختم شو، بلكې دواړه په خپل حالت باقي دي.

قوله ولا قودَ الخ: تر كومه پورې چې مجروح د زخم څخه ښه نه شي، تر هغه وخته پورې به د زخم قصاص نه شي اخيستلى، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد به سمدستي اخيستلى شي، ددې وجې چې كله موجب قصاص متحقق شي نو بيا تاخير د څه لپاره كيږي، موږ وايو چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د زخم جوړېدو څخه وړاندې د قصاص اخيستلو څخه منع فرمايلې ده، دا احتمال هم موجود دى چې شايد زخم به خراب شي او مجروح به مړ شي، په دې صورت كې به د مدعى عليه د نفس ختمول لازم شي.

قوله وكل عمد سقطَ الخ: هر قتل عمد چې د شبهې له وجې قصاص ساقط شي، مثلاً: پلار خپل زوى ووژني يا لس كسان په شريكه يو كس ووژني چې په هغوى لسو كسانو كې يو كس د هغه پلار وي، په دې صورت كې به ديت د قاتل په مال كې وي چې په درې كالو كې به ادا كولى شي او كوم ديت چې د سولې يا اقرار له وجې واجب شي، هغه به هم د قاتل د مال څخه وركولى شي او سمدستي به ادا كولى شي، ځكه چې كوم مال د عقد له وجې واجب شي، په هغې كې اصل دا دى چې سمدستي ادا شي او په عاقد باندې دې وي، په دې باره كې اصل دا حديث دى: (**لا يعقلُ العاقلُ عمدًا ولا عبدًا ولا صلحًا ولا إعترافًا**).

قوله وعمد الصبيّ الخ: كه كوم نابالغ ماشوم يا لېونى څوك ووژني، نو د هغوى عمد به هم په خطاء كې شمار وي، قصاص به واجب نه وي، بلكې د هغوى په عاقله باندې به ديت واجب شي، ځكه چې د دوى له لورې قصد صحيح نه دى، ځكه چې قصد او اراده په علم باندې موقوف دي او د علم ذريعه عقل دى، حال دا چې لېونى د عقل څخه خالي وي او په ماشوم كې عقل ناقص دى، لهذا د دوى له لورې به قصد او اراده موجوده نه وي، همدا وجه ده چې دوى دواړه به ګناهګار هم نه وي او دوى به د ميراث څخه هم نه بې برخې كيږي، ځكه چې د ميراث څخه محرومه كول سزا او عقوبت دى او دوى دواړه د سزا مستحق نه دي.

فصلٌ في الجنين

جنين د فعيل په وزن باندې دى، خو په معنى د مفعولٌ سره دى، يعنې مجنون او مجنون مستور ته ويل كيږي، جنين هغه ماشوم ته ويل كيږي چې تر اوسه پورې د مور په رحم (بچه دانى) كې پټ وي، هر كله چې پيدا شي، هغه ته وليد ويل كيږي، ددې څخه وروسته ورته رضيع ويل كيږي، جنين د جزء من الكل په حكم كې دى، ددې وجې مصنف رَحِمَهُ اللهُ دده احكام د بدن د حقيقي اجزاوو د بيان څخه وروسته ذكر كوي يا به د مخكيني عبارت سره د مناسبت لپاره داسې ووايو: هر كله چې مصنف رَحِمَهُ اللهُ په انسان او د هغه په متعلقاتو باندې د جنايت څخه فارغ شو، نو اوس يې د من وجه انسان احكاماتو بيان شروع كړو او من وجه انسان نه دى، مګر جنين دى.

ضرب بطن امرأةٍ فألقت جنينًا ميّتًا تجب غرّةٌ نصف عشر الدّية فإن ألقت حيًّا فمات فدية وإن ألقته ميّتًا فماتت الأمّ فدية وغرّة وإن ماتت فألقته ميّتًا فدية فقط وما يجب فيه يورث عنه ولا يرث الضّارب فلو ضرب بطن امرأته فألقت ابنه ميّتًا فعلى عاقلة الأب غرّةٌ ولا يرث منها وفي جنين الأمة لو ذكرًا نصف عشر قيمته لو كان حيًّا وعشر قيمته لو أنثى فإن حرّره سيّده بعد ضربه فألقته فمات ففيه قيمته حيًّا ولا كفّارة في الجنين وإن شربت دواءً لتطرحه أو عالجت فرجها حتّى أسقطته ضمن عاقلتها الغرّة إن فعلت بلا إذنٍ.

ترجمه: ښځه یې په نس باندې ووهل د هغې ځخه مړ ماشوم پیدا شو، نو غره به واجبه وي، هغه د دیت لسمه برخه ده او که ژوندی تري پیدا شو، بیا وروسته مړ شو، نو دیت به واجب وي، که ماشوم مړ پیدا شي او مور یې هم مړه شي، نو دیت او غره به دواړه واجب وي، که مور یې مړه شي او وروسته تري مړ ماشوم پیدا شو، نو یوازې دیت به لازم وي او کوم شی چې واجبیږي، په هغې کې به هغه میراث ورلی شي او وهونکی به وارث نه جوړیږي، که څوک خپله ښځه په خېټه باندې ووهي او د هغې ځخه مړ ماشوم هلک پیدا شي، نو د پلار په عاقله باندې به غره وي او میراث به ورته نه رسیږي، د وینزې په ماشوم کې چې هلک وي د هغه د قیمت شلمه برخه ده، که ژوندی وای او د قیمت لسمه برخه یې ده، که مؤنث وي، که هغه مولی ازاده کړي د هغې د وهلو ځخه وروسته، د هغې ځخه بچی پیدا شو او مړ شو، نو په دې کې به د هغې د ژوندي حالت قیمت وي، په ماشوم کې به کفاره نه وي، که ښځه دوا وڅښي ددې لپاره چې حمل وغورځوي یا یې په خپله شرمګاه کې څه شی کېښودلو چې ماشوم وغورځوي، نو عاقله به یې د غره ضامن وي، که هغې بې اجازې دا کار کړی وي.

توضيحُ اللغة : (جنين) هغه ماشوم چې تر اوسه پورې د مور په خېټه کې وي، (بطن) خېټه او نس، (ألقتْ، إلقاء) هغې وغورځولو او غورځول، (غرّة) عمده مال، (عاقله) د قومي خلک، (تطرح) لیرې کول.

تشريح الفقهِ : **قوله ضرب بطن امرأةٍ الخ**: یو سړي حامله ښځه په خېټه باندې ووهل، ښځې د وهلو له وجې مړ بچی پیدا کړو، د قاتل په عاقله باندې به غره واجب وي، غره په اصل کې عمده مال ته ویل کیږي، لکه : اس، اوښ، غلام او وینزه (مغرب) د شریعت په اصطلاح کې غره د جنین بدل ته ویل کیږي، ځکه چې په دې کې د غلام ورکول واجب دي او غلام ته غره ویل کیږي، دغه شان غرة الشهر د میاشتې اول ته هم ویل کیږي، هغه دیت چې غره ورته ویل کیږي د دیاتو لومړي مقادیر دي، بیا د قیاس له مخې پکار ده چې د جنین ساقطېدو له وجې هیڅ شی واجب نه شي، ځکه چې د هغه ژوندی پاتې کېدل یقیني نه دی، د استحسان وجه د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وینا ده چې په مړي ماشوم کې غره یعني غلام یا وینزه یا پنځه سوه درهمه دي.

قوله وهي نصف الخ: زموږ په نزد د غرې اندازه د مړي د دیت شلمه برخه ده، په هغه صورت کې چې جنین مذکر وي او که جنین مؤنث وي، نو بیا د دیت لسمه برخه ده، د نارینه د دیت لس زره درهم دي، د هغه د دیت شلمه برخه پنځه سوه روپۍ جوړیږي، د ښځې دیت پنځه زره درهم دي، د هغې د دیت لسمه برخه هم پنځه سوه روپۍ جوړیږي، د امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا اللهُ په نزد شپږ سوه درهم دي، خو مذکوره حدیث په دوی باندې حجت دی، بیا زموږ په نزد غره د قاتل په عاقله بندې راځي، د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد د قاتل په مال کې راځي، زموږ دلیل دا دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غره د قاتل په عاقله باندې مقرر کړه، دغه شان زموږ په نزد به غره په یو کال کې دننه ادا کولی شي، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد درې کالو کې دننه به وصول کولی شي، (لنا ما روی عن محمد بن الحسن الشيباني: أنه قال: بلغنا أن رسولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جعله على العاقلة في سنة).

قوله فدية فقط الخ: که لومړی مور مړه شي، بیا مړ بچی ترې پیدا شو، نو بیا به صرف د مور دیت واجب وي، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد غره به هم واجبه وي، ځکه چې ظاهره خبره دا ده چې هغه د وهلو له وجې مړ شوی دی، موږ وایو چې ظاهره خبره ده چې د هغه وژل د مور د مرګ له وجې دی، ځکه چې جنین د مور په ساه اخیستلو سره ساه اخلي او دا احتمال هم موجود دی چې جنین د وهلو له وجې مړ شوی وي، نو د شک له وجې به ضمان واجب نه وي.

قوله وفي جنينِ الأمة الخ: که د وینزې جنین مذکر وي، نو د هغه د قیمت شلمه برخه به واجبه وي، (بالفرض که ژوندی پاتې شوی وای) که مؤنث وي، نو د قیمت لسمه برخه به یې واجبه وي، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد د مور د قیمت لسمه برخه واجبه ده، ځکه چې جنین من وجه د مور جزء دی او په اجزاوو کې به د ضمان په وخت اصل ته نظر کیږي، موږ وایو چې دلته واجب مقدار د نفس جنین بدل دی، لهذا د هغه اندازه به د هغه د ذات څخه کیږي.

قوله فإن حرّره الخ: کوم کس حامله وینزه په خېټه باندې ووهله، د هغې څخه وروسته مالک جنین ازاد کړو، بیا د وینزې څخه ژوندی ماشوم پیدا شو او هغه وروسته مړ شو، نو د مالک لپاره به د ژوندي بچي قیمت واجب وي، دیت به یې واجب نه وي، ځکه چې د جنین مرګ د مخکیني وهلو له وجې راغلی دی او وهل د هغه د غلامۍ په حالت کې راغلی دی او اعتبار د وهلو وخت ته ورکول کیږي، د ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد د جنین دیت واجب دی، قیمت واجب نه دی، دا قول زموږ د ځینو مشائخو څخه منقول دی، لکه فخر الاسلام بزدوي رَحِمَهُ اللهُ په شرح جامع صغیر کې نقل کړي دي.

قوله ولا كفارة الخ: زموږ په نزد د جنين په قتل باندې كفاره واجب نه ده، د امام شافعي رحمه الله په نزد واجب دی، هغه فرمايي چې جنين من وجه نفس دی، لهذا احتياط په همدې كې دی چې كفاره واجب كړی شي، موږ وايو چې په كفاره كې يو قسم عقوبت دی، ددې ثبوت د شريعت په رڼا كې په نفس كامله كې دی، لهذا دا به د غير پورې متعدي نه وي.

باب ما يحدث الرّجل في الطّريق

دا باب د هغو شيانو په بيان كې دی چې انسان يې په لاره كې جوړ كړي، هر كله چې مصنّف رحمه الله د قتل مباشره د احكاماتو څخه فارغ شو، نو اوس يې د قتل لپاره د سبب جوړېدو په احكاماتو باندې شروع وكړه، دا چې اول زيات او بلا واسطه واقع كيږي، ددې وجې يې د هغه احكام مخكې بيان كړه او كوم قتل چې د سبب او واسطې له وجې پيښيږي، نو اوس د هغې احكامات بيانوي:

ومن أخرج إلى الطّريق العامّة كنيفًا أو ميزابًا أو جرصنًا أو دكّانًا فلكلّ نزعه وله التصرّف في النّافذ إلّا إذا أضرّ وفي غيره لا يتصرّف إلّا بإذنهم فإن مات أحدٌ بسقوطها فديته على عاقلته كما لو حفر بئرًا في طريقٍ أو وضع حجرًا فتلف به إنسانٌ ولو بهيمةٌ فضمانها في ماله ومن جعل بالوعةً في طريقٍ بأمر سلطانٍ أو في ملكه أو وضع خشبةً فيها أو قنطرةً بلا إذن الإمام فتعمّد رجلٌ المرور عليها لم يضمن ومن حمل شيئًا في الطّريق فسقط على إنسانٍ ضمن ولو كان رداءٌ قد لبسه فسقط لا مسجدٌ لعشيرةٍ فعلّق رجلٌ منهم قنديلًا أو جعل فيه بواري أو حصاةً فعطب به رجلٌ لم يضمن وإن كان من غيرهم ضمن وإن جلس فيه رجلٌ منهم فعطب به أحدٌ ضمن إن كان في غير الصّلاة وإن كان فيها لا.

ترجمه: هغه څوک چې عام سړک ته تشناب (بيت الخلاء)، ناوه، بارشل (چجه) يا دوكان وباسي، نو هر كس ته د هغې د وباسلو حق حاصل دی، هغه ته به په خلاصه (نافذه) كوڅه كې د تصرف حق حاصل وي، مگر دا چې ضرري وي او په بنده كوڅه كې دي تصرف نه كوي مگر هغه څوک چې د كوڅې د اوسېدونكو په اجازه باندې، كه څوک د غورځېدو له وجې مړ شي، نو ديت به يې په عاقله باندې وي، لكه څوک چې په لاره باندې كوهی وكيندي يا په لاره باندې كاڼی كېږدي، په هغې سره كوم انسان ضايع شي او كه څېرته څاروی وي، نو تاوان به يې په مالک باندې وي، څوک چې كنده (د مرداری خای) په لاره كې د حاكم په اجازه جوړ كړي يا يې په خپل ملكيت كې جوړ كړي يا لرگي په لاره كې كېږدي يا يې د بادشاه د اجازې څخه بغير پل جوړ كړو، كوم سړي په هغه باندې د تېرېدو اراده وكړه، نو په هغه باندې به تاوان نه وي، هغه څوک چې په لاره باندې يو شی پرېږدي او هغه په كوم انسان باندې وغورځيږي، نو ضامن به وي، كه هغه څادر وي چې اغوستلی يې وي او ترې وغورځيږي، نو ضامن به

نه وي، د يو قوم جومات وي، په هغې كې يو كس څراغ ځوړند كړو يا يې فرش پكې هوار كړو يا يې شګه پكې هواره كړه، د هغې له وجې څوك هلاك شو، نو ضامن به نه وي او كه د كليوالو څخه بغير بل څوك يې پر برېدي، نو ضامن به وي، كه د كليوالو خلكو څخه څوك په جومات كې كښېنستلو او د هغه له وجې څوك هلاك شي نو ضامن به يې وي، په هغه صورت كې چې په لمانځه كې نه وي او كه په لمانځه كې وي، نو ضامن به نه وي.

توضيحُ اللغةِ: (**كنيف**) تشناب (بيت الخلاء)، (**ميزاب**) ناوه، (**جرصن**) بارشل (چجه)، (**نأفذ**) خلاصه، (**حفر**) كيندل، (**بهيمة**) څاروى، (**بألوعة**) بدرو، (د مرداريو لپاره لويه كنده جوړول) د رڼا لپاره موره جوړول، (**خشبة**) لرګى، (**قنطرة**) پل، (**رداء**) څادر، (**عشيرة**) قوميان، (**قنديل**) فانوس (څراغ)، (**بواري**) د بورية جمع ده، د جومات فرش ته ويل كيږي، (**حصاة**) شګه او ميده كاڼي، (**عطب**) هلاك شو.

تشريح الفقهِ: **قوله ومن أخرج إلى الطّريق الخ**: په لويه لاره كې د مردارى لپاره لويه كنده ويستل، وياله يا دوكان وغيره جوړول صحيح دي، په دې شرط چې خلكو ته تكليف نه وي او څوك يې منع هم نه كړي، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: (لاضررَ ولاضِرارَ فِي الإسلام) او كه خلكو ته ترې تكليف رسيږي، نو د اهل خصومت څخه يې هر كس منع كولى شي او د جوړېدو څخه وروسته د ماتېدو غوښتنه هم كولى شي، ځكه چې د اهل خصومت څخه هر يو په دې كې حق لري. (**فكانَ لهُ ذٰلكَ**)

قوله جُرْصُنًا الخ: (په جيم او صاد باندې ضمه، راء ساكنه او نون مخفف ادا كول) ددې په تفسير كې اختلاف دى: ځينې وايي چې په معنى د بروج سره دى، ځينې په بارشل سره تشريح كوي او ځينې يې د اطاق مخې ته په حوض سره تعبير كوي، خو حكم د ټولو يو دى.

قوله مسجدٌ لعشيرةٍ الخ: د كلي په جومات كې كوم كليوال سړي يو څراغ ولګولو يا يې فرش هوار كړو، په هغې باندې څوك وښويېدل يا يې د څراغ سره سر ولګېدو يا وړباندې وسوځېدو او مړ شو، نو هغه څوك چې د خير دا كار يې كړى دى، په اتفاق د عالمانو هغه به ضامن نه وي، كه هغه سړى ددې كلي نه وي، د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد به ضامن وي، د صاحبينو رَحِمَهُمَا اللهُ په نزد به ضامن نه وي، ځكه چې دا ټول شيان د ثواب كارونه دي او ددې اجازه هر سړي ته حاصله ده، د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد د كليوال او پردي سړي د نېكى په كار كې فرق ښودلى دى، هغه دا چې د جومات چارې سمبالول د جومات په كليوالو باندې دى، نه دا چې په نورو باندې، ددې وجې پردو لپاره به مباح كار د سلامتيا په قيد سره مقيد وي.

يو سړی په خپل جومات کې يا په پردي جومات کې کېنستلو، دويم سړي د هغه سره ټکر وکړو او مړ شو، نو په ناست سړي باندې به تاوان نه وي، که هغه د لمانځه څخه بغير د بل شي لپاره ناست وي، نو ضامن به وي، د صاحبينو رَحِمَهُمَااللّٰهُ په نزد دواړو صورتونو کې به ضامن نه وي، په زيلعي کې د حلوائي څخه نقل دي چې زياتو مشائخو د صاحبينو رَحِمَهُمَااللّٰهُ قول اخيستى دى او په دې باندې فتوى ده، د صدر الاسلام څخه منقول دي چې د صاحبينو قول اظهر دى، په عيني کې دي چې د صاحبينو قول د ائمه ثلاثه د قول سره موافق دى او په دې باندې فتوى ده، وجه دا ده چې په جومات کې کېنستل د لمانځه د ضرورياتو او اړتيا څخه ګڼل کيږي، ددې وجې به دغه ناسته د لمانځه په حکم کې وي.

فصلٌ في الحائطِ المائلِ

دا فصل د کوږ دېوال په بيان کې دى: هر کله چې مصنّف رَحِمَهُاللّٰهُ د قتل مباشرتا او د قتل لپاره د سبب واقع کېدو څخه فارغ شو، نو اوس د هغه قتل د احکاماتو بيان کوي چې د جماداتو (دېوال وغيره) سره يې تعلق وي، مناسبه خو دا وه چې دا باب يې د باب جناية البهيمة څخه وروسته ذکر کړی واى، ددې لپاره چې د جماداتو څخه د حيواناتو احکام مخکې شوي وي، خو دا چې د ناوې (پرنالې) جرصن وغيره مسائلو سره ددې فصل مناسبت ظاهر و، ددې وجې يې د حيواناتو د احکاماتو څخه دا باب مخکې کړو.

حائطٌ مائلٌ إلى طريق العامّة ضمن ربّه ما تلف به من نفسٍ أو مالٍ إن طالب بنقضه مسلمٌ أو ذمّيٌّ ولم ينقضه في مدّةٍ يقدر على نقضه وإن بناه مائلًا ابتداءً ضمن ما تلف بسقوطه بلا طلبٍ فإن مال إلى دار رجلٍ فالطّلب إلى ربّها أو ساكنها فإن أجّله أو أبرأه صحّ بخلاف الطّريق حائطٌ بين خمسةٍ أشهد على أحدهم فسقط على رجلٍ ضمن خمس الدّية دارٌ بين ثلاثةٍ حفر أحدهما فيها بئرًا أو بنى حائطًا فعطب به رجلٌ ضمن ثلثي الدّية.

ترجمه: کوم دېوال چې لويې لارې ته کوږ وي، نو مالک به يې د هغه څه ضامن وي چې د چا مال يا ځان پرې ضايع شي، په هغه صورت کې چې کوم مسلمان يا ذمي د هغه د ماتېدو غوښتنه وکړي او هغه نه وي مات کړی او په ماتولو باندې هغه قادر هم وي او که هغه د اول څخه کوږ جوړ کړی وي؛ نو ضامن به وي د هغه څه چې د هغې د غورځېدو له وجې ضايع شي د مطالبې څخه بغير، که د چا د کور خواته کوږ وي، نو د مطالبې حقدار د کور مالک دى، که هغه وخت ورکړي يا يې بري کې، نو صحيح به وي، په خلاف د لارې، يو دېوال د پنځه کساناتو ترمنځ شريکي وي، په هغوى کې يو کس باندې شاهد تېر شو، بيا دېوال په کوم کس باندې وغورځېدو؛ نو هغه به د خمس ديت ضامن وي، يو کور د درې کسانو ترمنځ شريکي وي، په هغوى کې يو کس کوهى وکنستلو يا يې دېوال جوړ کړو، د هغې له وجې کوم کس هلاک شو، نو هغه به د ديت د دوه ثلث ضامن وي.

تشريح الفقهِ : **قوله حائطٌ مائلٌ الخ**: يو دېوال چې عامې لارې خوا ته كوږ و، د محلې خلكو ترې د غورځېدو غوښتنه وكړه، خو هغه مات نه كړو، په داسې حال كې چې د هغه سره وخت هم و او قدرت يې هم درلود، يعنې كه هغه ماتول غوښتلي واى، نو ماتولى يې شو، خو هغه مات نه كړو، بلكې په كوم كس باندې ولوېدو، يا د چا څاروى ترې لاندې شو يا د چا مال هلاک شو، نو د احنافو، موالكو، شريح، نخعي، ثوري او شعبي رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد به د دېوال مالک ضامن وي، د علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه هم داسې روايت نقل شوى دى، خو دا قول په استحسان باندې مبني دى، د قياس له مخې تاوان نه دى پكار، ځكه چې د دېوال كوږوالى د هغه كار او گناه نه ده، د استحسان لپاره دليل دا دى چې كله دېوال كوږ شو، د هغه سره خطره لاحق شوه او خلكو د دېوال د غورځولو غوښتنه هم وكړه او د هغه سره وخت هم و او قدرت يې هم ورباندې درلود، ددې ټولو اسانتياوو سره سره د دېوال نه غورځول د هغه له لورې تعدي (ظلم) نه دى، نو نور څه دى؟

قوله حائطٌ بَينَ خمسةٍ الخ: يو دېوال چې د پنځه شريكانو ترمنځ شريكي و، خو كوږ شوى و، د يو شريک څخه د هغې د سمولو غوښتنه هم شوې وه، خو هيچا دېوال سم نه كړو او په يو كس باندې ولوېدو، د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد به د دېوال والا په عاقله باندې د ديت پنځمه برخه وي او كه يو كور د درې كسانو ترمنځ شريكي وي، په هغوى كې يو كس كوهى وكيندي يا دېوال جوړ كړي او د هغې له وجې څوک مړ شي، نو په كنستونكي او جوړوونكي باندې به د ديت دوه ثلثه واجب وي، د صاحبينو رَحِمَهُمَا اللهُ په نزد دواړو مسئلو كې به د ديت نيمايي وي، ځكه چې تلف په دوه قسمه دى: يو معتبر (د كوم شريک څخه چې د برخې غوښتنه شوې وي) او دويم غير معتبر دى، دغه شان كنستونكي د خپل ملكيت په اعتبار سره متعدي او متجاوز نه دى، بلكې د شريكانو د ملكيت په اعتبار سره متعدي دى، نو تلف په دوه قسمه شو: لهذا ديت به نصفا نصف تقسيمېږي، امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې د مرګ علت علت واحده دى: يعنې د دېوال په مسئله كې ثقل مهلک (هلاک كوونكى دروند والى) او د كوهي په مسئله كې د كوهي ژور والى و، لهذا په ټولو شريكانو باندې به ديت د املاكو په اندازه تقسيمېږي.

باب جناية البهيمة والجناية عليها وغير ذلك

دا باب د څاروي د جنايت او په څاروي باندې د جنايت وغيره په بيان كې دى: مصنف رَحِمَهُ اللهُ د انسان د جنايت والا احكامو څخه فارغ شو، د څارويو د جنايت په احكامو يې شروع وكړه، ددې باب د وروسته كولو وجه دا ده چې انسان په رتبه كې د څاروي څخه مخكې دى، نو په ذكر كولو كې هم بايد د انسان سره متعلق احكامات مخكې بيان كړي، ددې لپاره چې ذكر كول د رتبې سره مطابق راشي، خو سوال دا دى چې د مملوک د جنايت بيان خو ددې باب څخه وروسته ذكر كيږي، حال دا چې مملوک (غلام او وينزه) هم

انسانان دي، ځواب دا دی: پکار خو داسې وه، لکه څنګه چې په سوال کې ذکر شو، خو دا چې د څارويو مناسبت د جمادات سره موجود دی، هغه دا چې په دواړو کې قوت نطق نشته، په تېر فصل کې د جمادات بيان وشو او په دې فصل کې د څارويو د جنايت وغيره متعلق مسائل بيانوي:

ضمن الرّاكبُ ما وطئت دابّته بيدٍ أو رجلٍ أو رأسٍ أو كدمت أو خبطت أو صدمت لا ما نفحت برجلٍ أو ذنبٍ إلا إذا أوقفها في الطّريق وإن أصابت بيدها أو رجلها حصاةً أو نواةً أو أثارت غبارًا أو حجرًا صغيرًا ففقأ عينًا لم يضمن ولو كبيرًا ضمن فإن راثت أو بالت في طريقٍ لم يضمن من عطب به وإن أوقفها لذلك وإن أوقفها لغيره ضمن وما ضمنه الرّاكب ضمنه السّائق والقائد وعلى الرّاكب الكفّارة لا عليهما ولو اصطدم فارسان أو ماشيان فماتا ضمن عاقلة كلّ واحدٍ منهما دية الآخر ولو ساق دابّةً فوقع السّرج على رجلٍ فقتله ضمن وإن قاد قطارًا فوطئ بعيرٌ إنسانًا ضمن عاقلة القائد الدّية فإن كان معه سائقٌ فعليهما وإن ربط بعيرًا على قطارٍ رجع عاقلة القائد بدية ما أتلف على عاقلة الرّابط ومن أرسل بهيمةً وكان لها سائقًا فأصابت في فورها ضمن وإن أرسل طيرًا أو كلبًا ولم يك سائقًا له أو انفلتت دابّةٌ فأصابت مالًا أو آدميًّا نهارًا أو ليلًا لا وفي فقاءِ عين شاة القصّاب ضمن النّقصان وفي عين بدنة الجزّار والحمار والفرس ربع القيمة.

ترجمه: سپور به د هغه څه ضامن وي چې د هغه سوارلي يې د پښنو لاندې کړي، يا د سر په ټکر کېدو سره، يا يې وچيچي يا يې ديکه کړي يا ټوپ وکړي، (ضامن به) نه وي د هغه چا چې په لغته يې ووهي، مګر په هغه صورت کې چې په لاره يې درولې وي، که چېرته د هغې له پښنو څخه کاڼی پورته شو يا د خورما هډوکی يا يې دوړه پورته کړه يا يې وړوکی کاڼی پورته کړو او د هغې له وجې ستره ړنده شوه، نو ضامن به نه وي او که چېرته غټ کاڼی وي، نو ضامن به وي، که چېرته يې په لاره باندې سوټه وکړه يا يې متيازي وکړې، نو د هغه څه ضامن به نه وي چې ددې له وجې تلف شي، که هغه خپله سوارلي ددې (سوټې يا متيازو کولو) لپاره درولې وي او که د بل کار لپاره يې په لاره باندې درولې وي، نو ضامن به وي، د کومو شيانو له وجې چې سپور تاواني کولی شي، د هغه له وجې به سائق او قائد هم تاواني کولی شي، خو په سپور باندې به کفاره وي او په دوی دواړو باندې نشته، که چېرته دوه سپاره يا پياده کسان د يو بل سره ټکر وکړي او مړه شي، نو د هر يو عاقله به د بل د ديت ضامنان وي، که چېرته يې سوارلی روانه کړې وه او زين په يو کس باندې راوغورځېدو او هغه يې مړ کړو، نو ضامن به وي، که چېرته د اوښانو والامخکې وي او اوښانو شاته انسان تر پښنو لاندې کړو، نو د قائد (چلوونکي) عاقله به د ديت ضامن وي او که چېرته د وروسته څخه هم چلوونکی ورسره وي، نو ضمان به په دواړو باندې وي، که چېرته يې اوښ په قطار کې تړلی وي، نو د قائد عاقله به رجوع کوي چې کوم شيان تلف کړي د تړونکي په عاقله باندې، که څوک څاروی د شا له خوا پرېږدي او سائق

ورسره وي، د هغې له وجې څه شی هلاشي، نو سائق به یې ضامن وي، که چېرته یې مرغۍ یا سپی پرېښودلو، خو شړونکی یې شاته ورپسې نه و، یا یې څاروی وتښتېدلو، د چا مال یې تلف کړو یا یې انسان هلاک کړو، شپه وي او که ورځ وي، نو ضامن به نه وي، د قصاب د چېلۍ څخه د سترګې په ویستلو کې به د نقصان ضامن وي، د اوښ، (غوا، مېښه) اس او خر سترګې ویستلو په صورت کې به د هغې د قیمت څلورمې برخې ضامن وي.

تشریح الفقه: قوله ضمن الراکبُ الخ: د څاروي د ضمان او عدم ضمان قاعده کلیه دا ده چې په کومو امورو کې احتراز ممکن وي، په داسې صورتونو کې د انسان لپاره په لاره باندې تلل مباح دي، که په دې صورت کې د چا له لورې په هغه باندې ظلم وشو، نو هغه به ضامن وي او په کومو کې چې احتراز ممکن نه وي، نو په هغې کې به ضمان هم نه وي، که د سپور سړي سوارلۍ څوک په لغته ووهلو، یا یې تر پښو لاندې کړو یا یې په سر باندې ووهلو یا یې په خوله باندې وچیچلو یا یې په خپل بدن باندې دیکه ورکړه، په دې صورتونو کې به سپور سړی ضامن وي، څکه چې ددې ضرر څخه احتراز ممکن و او که چېرته د څاروي د تللو پرمهال څوک د لکۍ یا پښې وهلو له وجې زخمي یا مړ شي، نو د هغې ضمان به نه وي، څکه چې د تللو پرمهال د داسې صورتونو څخه احتراز ممکن نه دی.

قوله فإن راثت أو بالت الخ: که روان څاروي په لاره کې سوټه یا متیازې وکړې او په هغې باندې څوک وښوییږي او مړ شي، نو سپور سړی به ضامن نه وي، څکه چې ډېر کم وخت هغه لاره چې څاروي ورباندې تګ کوي، د سوټو او متیازو څخه پاکه وي، لهذا دا د څارویو د ضروریاتو څخه دي او ددې څخه احتراز ناممکن دی، اګر چې سپور سړي یو ځای څاروی د متیازو لپاره درولی هم وي، څکه چې ځینې څاروي د ولاړې څخه بغیر متیازې نه کوي او هغه ته د ودرېدو ضروري وي، ددې وجې که څوک په دې صورت کې هلاک شي، نو سپور سړی به ضامن نه وي او که بې فایدې یې درولی وي او مذکوره صورت پېښ شي، نو سپور سړی به ضامن وي، څکه چې دا درول بې ضرورته و او سپور سړی به تجاوز کوونکی ګڼل کیږي.

قوله وما ضمنه الراکب الخ: په کومو صورتونو کې چې په سپور باندې تاوان لازم دی، په هغه صورتونو کې په سائق او قائد باندې هم تاوان لازم دی، څکه چې لکه څرنګه راکب د هلاکت سبب جوړ شوی دی، دغه شان د څارویو څخه مخکینی تلونکی سړی (قائد) او هغه چې د څارویو پسې شاته راروان (سائق) وي، هغوی هم د هلاکت لپاره سبب جوړ شوي، څکه چې هغوی څاروی محل د هلاکت ته نژدې کړو او دا محل د هلاکت ته نژدې والی د هغه له لورې تجاوز دی او د تجاوز له وجې به ضامن ګڼل کیږي.

قوله وعلى الرّاكب الكفّارة الخ: البته د تللو پرمهال په راكب باندې كفاره هم شته، ځكه چې راكب د قتل لپاره مباشر دى، ځكه چې د بوج د دروندوالي له وجې انسان مړ شوى دى، پاتې شو د ځاروي بوج د انسان د بوج تابع دى، ددې وجې به د قتل د مباشرت نسبت انسان ته كيږي، په سائق او قائد باندې كفاره نشته، ځكه چې دوى دواړه د قتل لپاره مباشر نه دي، بلكې مسبب دي، ځكه چې د مقتول او د دوى ترمنځ هيڅ ډول اتصال نشته او كفاره په مباشر باندې وي، په مسبب باندې نه وي.

قوله ولو اصطدمَا الخ: كه دوه سپاره يا پياده كسان د يو بل سره ټكر وكړي او مړه شي، نو د هر يو په عاقله باندې د بل كس پوره ديت وي، ځكه چې د هر يو كس په مرګ كې خپله د ميت فعل لره دخل دى، خو د مرګ نسبت د تل لپاره د غير فعل ته كيږي، ځكه چې د هر يو كس خپل فعل خو مباح دى او خپل فعل موجب د ضمان نه وي او د هغه د ملګري (هغه چې ټكر يې ورسره شوى دى) د هغه خپل فعل (په لاره باندې تلل) هم مباح دي؛ خو دغه مباح فعل په غير (بل) باندې واقع شوى دى، نو په غير باندې د واقع كېدو له وجې موجب د ضمان شو، شرط دا دى چې دواړه به ازاد وي؛ خو كه دواړه غلامان وي، نو په يو بل باندې به يې هيڅ شى واجب نه وي، د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَاالله په نزد به د هر يو په عاقله باندې نيمايي ديت وي، ځكه چې په دوى كې هر يو د خپل فعل او خپل صاحب د فعل له وجې مړ شوى دى، نو په دوى كې د هر يو فعل مفت دى او د بل فعل ته به اعتبار وركول كيږي، مونږ وايو چې په دوى كې د هر يو كس مرګ بل طرف ته مضاف دى، ځكه چې د هغه خپل فعل في نفسه مباح دى، ځكه چې د علي رَضِيَ اللهُ عَنهُ څخه روايت نقل شوى دى چې هغه به هر يو د بل كس پوره ديت ضامن ګرځول.

قوله وفي فقاءِ عين الخ: كه څوک د قصاب د چېلي سترګه وباسي، نو د نقصان په اندازه تاوان به ورباندې لازم وي، ځكه چې د قصاب د چېلۍ څخه مقصود غوښه وي، كه د اوښ، غوا، مېښې، اس يا خر سترګه يې ويستلې وي، نو د څلورمې برخې قيمت تاوان به ورباندې راځي، د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نزد يې حكم د چېلۍ په شان دى، د عمر رَضِيَ اللهُ عَنهُ او علي رَضِيَ اللهُ عَنهُ څخه هم داسې روايت نقل شوى دى.

باب جناية المملوك والجناية عليه

دا باب د غلام د جنايت او په غلام باندې د جنايت په بيان كې دى: هر كله چې مصنف رَحِمَهُ الله د ازاد (حر او مالک) سړي د جناياتو څخه فارغ شو، نو د غلام د جنايت په اړه يې شروع وكړه، دا چې غلام په مرتبه كې د ازد انسان څخه وروسته وي، نو ددې وجې مصنف رَحِمَهُ الله د بحث په ذكر كولو كې هم وروسته ذكر

کړو، ددې لپاره چې د ذکر مطابقت د مرتبې سره راشي، په دې کې شک نشته چې د ځارويو څخه د غلام مرتبه مخکې ده، خو دا چې د ځارويو جنايت د راکب، سائق او قائد په اعتبار سره و او دا خلک مالکان (احرار، ازاد) دي، ددې وجې يې د ځارويو د جنايت بيان مخکې کړو.

جنايات المملوك لا توجب إلّا دفعًا واحدًا لو محلًّا له وإلّا فقيمةٌ واحدةٌ جنى عبده خطأً دفعه بالجناية فيملكه أو فداه بأرشها فإن فداه، فجنى: فهي كالأولى. فإن جنى جنايتين: دفعه بهما، أو فداه بأرشهما. فإن أعتقه غير عالمٍ بالجناية ضمن الأقلّ من قيمته ومن الأرش ولو عالمًا بها لزمه الأرش كبيعه وتعليق عتقه بقتل فلانٍ ورميه وشجّه إن فعل ذلك عبدٌ قطع يد حرٍّ عمدًا ودفع إليه فحرّره فمات من اليد فالعبد صلحٌ بالجناية وإن لم يحرّره ردّ على سيّده ويقاد جنى مأذونٌ له مديونٌ خطأً فحرّره سيّده بلا علمٍ عليه قيمةٌ لربّ الدّين وقيمةٌ لوليّ الجناية مأذونةٌ مديونةٌ ولدت بيعت مع ولدها للدّين وإن جنت فولدت لم يدفع الولد له عبدٌ زعم رجلٌ أنّ سيّده حرّره فقتل وليّه خطأً لا شيء له قال معتقٌ لرجلٍ قتلت أخاك خطأً وأنا عبدٌ، وقال الرّجل بعد العتق فالقول للعبد وإن قال لها قطعت يدك وأنت أمتي، وقالت بعد العتق فالقول لها وكذا كلّ ما أخذ منها إلّا الجماع والغلّة عبدٌ محجورٌ أمر صبيًّا حرًّا بقتل رجلٍ فقتله فديته على عاقلة الصّبيّ وكذا إن أمر عبدًا محجورا عبدٌ قتل رجلين عمدًا ولكلٍّ وليّان فعفا أحد وليّي كلٍّ منهما دفع سيّده نصفه إلى الآخرين أو فداه بالدّية فإن قتل أحدهما عمدًا والآخر خطأً فعفا أحد وليّي العمد فدى بالدّية لوليّي الخطأ وبنصفها لأحد وليّي العمد أو دفعه إليهم أثلاثًا عبدهما قتل قريبهما فعفا أحدهما بطل الكلّ.

ترجمه: د غلام جنايتونه نه واجبوي، مګر يو ځل سپارل که چېرته هغه يې محل وي، کنه نو صرف يو قيمت، کوم غلام په خطاء کې کوم جنايت ترسره کړو، نو هغه دې د جنايت په بدل کې ورکړي، نو هغه به يې مالک شي يا دې د هغه د تاوان فديه ورکړي، که هغه فديه ورکړي، هغه بيا جنايت وکړي، نو ددې حکم به د لومړي جنايت په شان وي، که دوه جنايتونه ترسره کړي، نو غلام به د دواړو په بدل کې ورکولی شي يا دې د دواړو د تاوان فديه ورکړي، که هغه يې په داسې حالت کې ازاد کړو چې (مالک) يې د جنايت څخه خبر نه و، نو د کم شي ضامن به وي د قيمت او تاوان څخه، که په جنايت باندې خبر وي، نو تاوان ورکول به وربانديې لازم وي، لکه څنګه چې د هغه د خرڅولو په صورت کې پيښيږي او د هغه ازادي د فلاني د وژلو يا هغه په غشي ويشتلو يا زخمي کولو باندې معلق کولو کې کيږي، که چېرته غلام ددې مرتکب وي، يو غلام د ازاد سړي لاس په قصده کاټ کړو او هغه (غلام) مقطوع اليد کس ته ورکول شو او هغه غلام ازاد کړو، بيا هغه کس د همغه زخم له وجې مړ شو، نو غلام به سوله ګڼل کيږي د جنايت څخه او که هغه ازاد کړی نه وي، نو هغه به مالک ته دوباره واپس کيږي او د هغه څخه به قصاص اخيستل کيږي، ماذون مديون غلام خطاء جنايت وکړو، هغه مالک د بې خبرۍ په

حالت كې ازاد كړو، نو په مالك باندې به د قرض غوښتونكي لپاره قيمت لازم وي او يو قيمت به د جنايت ولي ته وركول كېږي، ماذونه مديونه وينځې بچى وزېږولو، نو هغه به د بچي سره د قرض لپاره خرڅول كېږي، كه هغې جنايت وكړو، بيا يې بچى پيدا شو، نو هغه ته به بچى نه وركول كېږي، د يو سړي غلام دى، بل كس دا ګومان وكړو چې د هغه مالك ازاد كړى دى، پس غلام د هغه ولي په خطاء كې مړ كړو، نو د ګومان كوونكي لپاره به په هغه باندې هيڅ شى واجب نه وي، يو معتَق (ازاد شوي سړي) بل كس ته وويل چې ما ستا ورور په داسې حال كې خطاءً وژلى و چې زه ستا غلام وم، هغه ورته وويل چې تا د ازادى څخه وروسته قتل كړى و، نو د غلام قول به معتبر وي، كه يو (ازاد سړي) وينځې ته وويل : ما ستا ګوته په داسې حال كې كاټ كړې وه چې ته زما وينځه وې او وينځې وويل چې د ازادى څخه وروسته دې كاټ كړې وه، نو د وينځې قول به معتبر وي او دغه شان هر هغه شى به وي چې د وينځې څخه يې اخيستى وي، مګر كوروالى او ګټه، يو محجور غلام ازاد ماشوم ته د يو كس د وژلو حكم وكړو، هغه ماشوم قتل وكړو، نو ددې قتل ديت به د ماشوم په عاقله باندې وي، دغه شان كه غلام ته غلام امر وكړي، يو سړي دوه كسان قصدا ووژل او د هر يو دوه اولياء دي، په دواړو اولياوو كې يې يو كس معاف كړي، نو مولى به نيمايي غلام نورو دوه وارثانو ته وركوي يا دي په ديت وركولو سره خلاص كړي، كه د دوه كسانو څخه يې يو قصدا وژلى وي او بل يې په خطاء كې وژلى وي، د عمد د دوه اولياوو څخه يو ولي (قصاص) معاف كړو، نو د خطاء دواړو وليانو ته دي پوره ديت او د عمد يو ولي ته دي نيمايي ديت وركړي او غلام دي خلاص كړي او يا دي غلام دوى ته اثلاثا وركړي، د دوه كسانو غلام د هغوى دواړو رشته دار ووژلو، په دوى دواړو كې يو كس معافي وكړه، نو ټول (قصاص او مال دواړه) به معاف وي.

تشريح الفقه : **قوله جنايات المملوك الخ**: كه د چا وينځې يا غلام د بهرو خلكو ته تاوانونه اړولي وي او هر چاته يې زيان رسولى وي، نو مولى به يې ددې ټولو زيانونو په بدل كې يو ځل نقصان والاوو ته سپاري، په دې شرط چې په هغوى كې د سپارلو صلاحيت موجود وي، يعني ددې نقصان رسولو څخه وروسته يې ازاد كړي نه وي، عقد كتابت يې ورسره نه وي كړى يا يې د مدبر كېدو وعده ورسره نه وي كړې، اوس كه غلام يا وينځه د سپارلو قابل نه وي، يعني مولى هغوى ازاد كړي وي، يا يې عقد مكاتبت ورسره كړى وي يا يې د مدبر كېدو وعده ورسره كړې وي، نو مولى به صرف يو ځل د هغوى قيمت نقصان والاته وركوي، يعني هر نقصان والاته به د هغوى پوره پوره قيمتونه نه حواله كوي، بلكې يو ځل قيمت وركولو سره به هغه بري شي.

قوله جنٰی عبدہ الخ: د کوم کس غلام په خطاء سره څوک ووژلو، نو مالک ته به اختيار وي چې دا غلام د جنايت ولي ته سپاري او که د هغه فديه ورکوي، وجه دا ده چې د جنايت خطاء ديت په عاقله باندې وي او د غلام عاقله د هغه مولی دی، که مالک غلام ورکړي، نو ولي د جنايت به د هغه مالک شي، د هغه لپاره به د غلام څخه بغير بل شی واجب نه وي او که مولی فديه ورکوي؛ نو د تاوان په اندازه به فديه ورکوي، د خطاء قيد زياتولو وجه دا ده چې که غلام په قصد سره څوک ووژني، نو بيا به مذکوره حکم نه وي، بلکې په غلام باندې به قصاص واجب وي، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد د مملوک جنايت د هغه سره تړلی دی، هغه به ددې جنايت په بدل کې خرڅولی شي، مگر دا چې مالک يې د جنايت ولي ته فديه ورکړي، دا مسئله د صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ترمنځ هم اختلافي وه: په کافي، کفايه او معراج الدراية کې دي چې د ابن عباس، معاذ بن جبل او ابوعبيده رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ څخه زموږ د مذهب په شان قول نقل شوی دی، د عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ د مذهب په شان قول نقل شوی دی، امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ وايي: په جنايت کې اصل دا دی چې هغه به په متلف باندې واجب وي، ځکه چې اصلي جنايت کوونکی همغه دی، خو د جنايت کوونکي سره يې عاقله مرسته کوي او د غلام څوک عاقله نشته، لهذا جنايت به د هغه په څټ باندې راځي، موږ وايو چې د خطاء په صورت کې اصل په جنايت کې دا ده چې په جنايت کوونکي باندې دې رانشي، ددې لپاره چې د هغه څټ پرې مات نه شي، ځکه چې هغه د خطاء له وجې معذور دی، تاوان به د هغه په عاقله باندې راځي او د غلام په حق کې د هغه سردار (مولی) عاقله دی، ځکه چې په عاقله کې اصل مرسته ده او د غلام مرسته د هغه سردار کوي، لهذا جنايت به د هغه په سردار باندې راځي.

قوله فإن أعتقه الخ: غلام يو جنايت وکړو او مولی ته يې معلومات نه و، هغه خپل غلام ازاد کړو، نو د قيمت او ديت څخه چې کوم مقدار کم وي، سردار به د هغه ضمان ورکوي او که په جنايت باندې د خبرېدو باوجود يې غلام ازاد کړو يا يې خرڅ کړو يا يې هغه ته وويل: که تا زيد ووژلو، نو ته به ازاد يې او غلام همداسې وکړه، نو په سردار باندې به د ديت تاوان لازم وي، ځکه چې د هغه ازادول د جنايت په وجود باندې معلق کول د مولی له لورې فديه اختيارول دي.

قوله عبد قطع الخ: يو غلام د بل سړي لاس په قصده کاټ کړو، مالک خپل غلام هغه ازاد سړي ته ورکړو او هغه سمدستي ازاد کړو، بيا هغه مقطوع اليد د لاس د زخم له وجې کړ شو، نو د مالک له لورې د غلام ورکول به د سولې لپاره وي او په مالک باندې به د ازاد په بدله کې هيڅ تاوان نه وي، که هغه غلام ازاد کړی نه وي او خپله د لاس قطع کېدو د زخم له وجې مړ شي، نو په دې صورت کې به غلام مالک ته واپس کړی شي او د غلام څخه به قصاص واخيستل شي، ځکه چې کله هغه غلام ازاد نه کړو او د زخم سرايت

تول بدن ته وشو، نو وروسته معلومه شوه چې د لاس دیت واجب نه و، بلکې قصاص واجب و، لهذا قصاص به اخیستلی شي.

قوله ماذونة مدیونة الخ: که د مدیونه ماذونې وینزې بچی پیدا شو، نو د دَین له وجې به وینزه د بچي سره خرڅولی شي، (په دې شرط چې د ماشوم زېږېدنه چې د دَین څخه وروسته وي) او که وینزې کوم جنایت وکړو او بچی وروسته پیدا شو، نو بچی به د جنایت اولیاوو ته نه ورکول کیږي، وجه دا ده چې دَین وصف حکمي دی چې د وینزې په ذمه واجب دی او هغه به یې ورکوي، د هغې له وجې بچي ته هم سرایت کوي، په خلاف د جنایت چې موجب د جنایت د وینزې په ذمه نه دی، بلکې د ولي په ذمه دی، ددې وجې هغه بچي ته سرایت نه کوي.

قوله قَالَ الْمُعتَقُ الخ: یو ازاد شوي غلام چاته وویل: هغه وخت چې زه ستا غلامی وم، په هغه حالت کې مې ستا ورور مړ کړی و، هغه کس ورته وویل: تا زما ورور په داسې حالت کې مړ کړی و چې ته ازاد وې، په دې صورت کې به د غلام قول معتبر وي، ځکه چې هغه د لزوم ضمان څخه انکار کوي او قول د منکرمعتبر وي او که سردار خپلې ازادې کړې وینزې ته ووایي چې ما ستا لاس په داسې حالت کې کاټ کړی و چې ته زما وینزه وې، هغې وویل: تا زما لاس په داسې حالت کې کاټ کړی و چې زه ازاده ښځه وم، په دې صورت کې به د ښځې قول معتبر وي، ځکه چې سردار د سبب ضمان (د قطع ید) اقرار کولو څخه وروسته د هغه شي مدعي دی چې هغه د تاوان څخه پرې بچ کیږي، ددې وجې به د هغه قول معتبر نه وي.

قوله عبد قتل رجلینِ الخ: یو غلام داسې دوه کسان په قصده ووژل چې دوه وارثان یې درلودل، په هغوی کې یو یو کس قصاص معاف کړو، په دې صورت کې به مالک نیمایي غلام هغو دوارو وارثانو ته ورکوي چې د هغوی له لورې معافي نه ده شوې یا دې پوره دیت د غلام په فدیه کې ورکړي، ځکه چې د هر مقتول په بدل کې مستقل قصاص واجب و او د عفوې له وجې قصاص په مال سره بدل شو، نو په سردار باندې شل زره درهم واجب شو، په شل زره درهمو کې لس زره درهم د معاف کوونکو برخه ساقطه شوه او کومو خلکو چې معافي نه ده کړې، د هغوی د برخې لس زره درهم پاتې دي، اوس که سردار فدیه ورکول غواړي، نو دیت به لس زره درهم ورکوي.

قوله فإن قتلَ أحدهما الخ: که په مذکوره صورت کې غلام یو کس قصدا وژلی وي او دویم کس یې په خطاء کې وژلی وي، د قتل عمد د وارثانو څخه یو کس قصاص معاف کړي، نو مالک به د قتل خطاء وارثانو ته پوره فدیه ورکوي او د قتل عمد کوم وارث چې معافي نه ده کړې، نو هغه ته به د نیمایي دیت فدیه ورکوي، که غلام ورکول وغواړي، نو د قتل خطاء دوه وارثانو ته به غلام حواله کړي

او د عول په طريقې به يې په درې برخو باندې تقسيم کړي، وجه دا ده چې د خطاء د وارثانو حق په پوره ديت يعنې لس زره درهمو کې دی او د عمدا قتل وارثانو حق په قصاص کې دی او هر کله چې د عمد يو وارث معافي وکړه، نو د دويم وارث برخه په مال سره بدله شوه. يعنې پنځه زره ردهم، که مالک فديه ورکول اختيار کړي، نو لس زره درهم به د خطاء وارثانو ته ورکوي او پنځه زره به د عمد يو وارث (کوم چې معافي نه ده کړې) ته ورکوي، که مالک غلام ورکول غواړي، نو دوه ثلثه به د خطاء وارثانو ته ورکوي او يو ثلث به د عمد وارث ته ورکوي، دا ټول تفصيل د امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد دی، د صاحبينو رَحِمَهُمَا اللهُ په نزد به په طريقې د منازعت سره څلور برخې شي چې درې برخې به د خطاء وارثانو ته ورکړي او څلورمه برخه به د عمد وارث ته ورکړي.

قوله عبدهما قتل الخ: د دوه کسانو يو شريکي غلام د هغوی دواړو نژدې رشته دار (خپلوان) ووژلو، په دوی دواړو کې يو مالک قصاص معاف کړو، په دې صورت کې به د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد قصاص او مال دواړه باطل وي، يعنې دويم مالک به ددې غلام څخه نه قصاص اخيستلی شي او نه ديت، ځکه چې د معافی څخه وړاندې د دواړو حق د قصاص په توګه د په طريقې د شيوع سره موجود و، لکه څنګه چې د دواړو په ملکيت کې شيوع و، هر کله چې يو مالک خپل حق معاف کړو، نو د هغه حصه ساقطه شوه، نو د دويم حق قصاص هم په مال سره بدل شو او د دويم برخه نيمايي ده، اوس په دې کې شک دی چې کوم مال دويم مالک (شريک) ته ورکول کيږي دا د کوم دويم نصف بدل دی؟ ځکه چې لکه څرنګه په دې کې دا احتمال موجود دی چې دا دې د هغه نصف بدل وي چې هغه معاف شوی نه دی، دغه شان په دې کې دا احتمال هم موجود دی چې دا دې د هغه نصف بدل وي چې معاف شوی دی او مال د شک له وجې نه واجبيږي، امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ فرمايي: معاف کوونکی به دويم مالک ته د خپلې برخې نيمايي غلام ورکوي يا که وغواړي؛ نو د ديت څلورمه برخه دې ورکړي.

فصلٌ في بيان ما يجب بقتل العبد

دا فصل په غلام باندې د جنايت کولو په باره کې دی: هر کله چې مصنّف د غلام د هغه جنايت څخه فارغ شو چې په غير باندې يې کولو، نو اوس يې خپله په غلام باندې د جنايت کولو احکام شروع کړه، ځکه چې فاعل (جاني فاعل دی) په اعتبار د وجود سره په مجنی عليه واقع کيدو (مفعول) باندې مقدم دی، نو ذکرا يې هم د فاعل (جاني) بحث مقدم کړو، ددې لپاره چې ذکر د وجود مطابق راشي.

قُتِلَ عبدٌ خطأً تجب قيمته ونقص عشرةٌ لو كانت عشرة آلافٍ أو أكثر وفي الأمة عشرةٌ من خمسة آلافٍ وفي المغصوب تجب قيمته بالغةً ما بلغت وما قدّر من دية الحرّ قدّر من قيمته ففي يده نصف قيمته قطع يد عبدٍ فحرّره سيّده فمات منه وله ورثةٌ غيره لا يقتصّ وإلّا اقتصّ منه قال أحدكما حرٌّ فشجّا فبيّن في أحدهما

فأرشهما للسّيّد فقأ عيني عبدٍ دفع سيّده عبده وأخذ قيمته أو أمسكه ولا يأخذ النّقصان جنى مدبّرٌ أو أمّ ولدٍ ضمن السّيّد الأقلّ من القيمة ومن الأرش فإن دفع القيمة بقضاءٍ فجنى أخرى يشارك الثّاني الأوّل ولو بغير قضاءٍ اتّبع السّيّد أو وليّ الجناية.

ترجمه: غلام په خطاء کې ووژل شو، نو د هغه قیمت به واجب وي، که قیمت یې لس زره یا ددې څخه زیات وي، نو لس درهم به کمولی شي او د وینزې د قیمت څخه به لس کمولی شي د پنځه زره څخه، په مغصوب غلام کې به د هغه پوره قیمت واجب وي چې هر څومره وي، د ازاد د دیت څخه چې کوم مقدار مقرر وي همغه مقدار به د غلام د قیمت څخه هم مقرر وي، لهذا د هغه په لاس کې به نیمایي قیمت وي د هغه څخه، د غلام لاس کاټ کړی شو، بیا د مالک له لورې ازاد کړی شو، بیا هغه ددې لاس له وجې مړ شو، د هغه لپاره د هغه څخه بغیر نور وارثان وي، نو قصاص به نه اخیستل کیږي، کنه نو د هغه څخه به قصاص اخیستلی شي، وې ویل: په تاسو دواړو کې یو ازاد دی، هغوی دواړه یې زخمي کړه، بیا یې په هغوی دواړو کې د یو کس ازادي بیان کړه، نو د هغوی تاوان به د مالک لپاره وي، یو کس د غلام دواړه سترګې وویستلې، نو مالک به خپل غلام هغه ته ورکړي، د هغه څخه دي پوره قیمت واخلي او یا دي د ځان سره ایسار کړي او تاوان دي ترې نه اخلي، که مدبر یا ام ولد جنایت وکړي، نو مالک به د قیمت او تاوان څخه په کم باندې تاواني کولی شي، که هغه د قاضي په حکم باندې قیمت وکړي او هغه دویم جنایت وکړو، نو دویم به د لومړي سره شریک وي، که قیمت یې د قاضي د قضاء څخه بغیر ورکړی وي، نو دویم به علیحده د مالک پسې شي یا به د لومړي جنایت والا پسې به شي.

تشریح الفقه: **قوله قُتِل عبدٌ الخ**: که کوم غلام یا وینزه په قتل خطاء سره ووژل شي، نو قیمت به یې واجب وي، اوس که د غلام قیمت د ازاد سړي د دیت یعنې لس زره درهم برابر وي او د وینزې قیمت د ازادې ښځې د دیت یعنې پنځه زره درهمو برابر وي، نو د مملوک د مرتبې کموالی به څرګندولی شي، د هر یو (غلام او وینزې) د دیت څخه به لس لس درهم کمولی شي، دا حکم د طرفینو رَحِمَهُمَاالله په نزد دی، امام نخعي، امام شعبي او ثوري رَحِمَهُمُالله هم ددې قائل دي، داسې یو روایت د امام احمد رَحِمَهُالله څخه هم نقل شوی دی، د امام ابویوسف رَحِمَهُالله لومړی قول هم همداسې و، آخري قول یې دا دی چې قیمت یې واجب دی، هغه که هر څومره مقدار وي، ځکه چې ضمان د مالیت بدل دی، د عمر رَضِيَاللهُعَنهُ او علي رَضِيَاللهُعَنهُ څخه هم داسې نقل شوي دي، ائمه ثلاثه، ابن سیرین، ابن المسیب، عمر بن عبد العزیز، زهري، اسحاق، مکحول، حسن، ایاس بن معاویه رَحِمَهُمُالله ټول ددې قائل دي، د امام صاحب رَحِمَهُالله دلیل د عبد الله بن مسعود رَضِيَاللهُعَنهُ قول دی: "لایبلغ بقیمة العبد دیة الحر وینقص منه عشرة

دراهمٌ دغه شان د ديت وجوب د انسانيت په مقابله کې دی او په مملوک کې ماليت او انسانيت دواړه موجود دي، خو د انسانيت رتبه يې اعلی ده، لهذا د هغې اعتبار به وي.

قوله وماقدرالخ: هر هغه مقدار چې د ازاد سړي د يت په توګه مقرر شوی دی، هغه به د غلام د قيمت په توګه مقرر کيږي، لهذا په کوم ځای کې چې د ازاد سړي نيمايي ديت وي، هلته به د غلام نيمايي قيمت معتبر وي، خو دا قيمت به د پنځه درهمه څخه کم پنځه زره څخه زيات نه وي، ځکه چې د انسان لاس د هغه نيمايي دی، دا به په ټول بدن باندې قياس کړی شي، لهذا کوم حکم چې د ټول غلام په باره کې وي، هغه به دده په نصف يعنې لاس کې وي، البته د ازاد او غلام ترمنځ به د فرق ظاهرولو لپاره دومره کيږي چې د پنځه زره درهمو څخه به پنځه درهم کمولی شي.

قوله فقاًء عيني الخ: يو سړي د غلام دواړه سترګې ويستلې، د هغه مالک ته به اختيار وي چې غلام سترګې ويستونکي ته ورکوي او د هغه څخه پوره قيمت اخلي او که غلام د ځان سره ساتي، نو د هغه څخه به د نقصان په اندازه قيمت نه شي کمولی، د صاحبينو رحمهما الله په نزد تاوان اخيستلی شي، وجه دا ده چې په اطرافو کې ماليت معتبر دی، په نورو اموالو باندې به قياس کولی شي، لکه څنګه چې په نورو امورو کې داسې جائز دي، دغه شان دلته به هم جائز وي، د امام صاحب رحمه الله دليل دا دی چې د غلام په اطرافو کې د ماليت سره انسانيت هم معتبر دی، لهذا هغه په محض اموال باندې قياس کول صحيح نه دي او د انسانيت حکم دا دی چې تاوان په اجزاوو باندې نه تقسيميږي، هر کله چې د هغه سترګې ويستل شوې، نو دا حکم به نه وي چې په سترګو او باقي بدن کې به حساب ولګول شي او د تلف شوي تاوان به واجب کړی شي او د روغ بدن تاوان به واجب نه وي.

قوله جنی مدبّر الخ: که مدبر يا ام ولده کوم جنايت وکړي، نو په قيمت او ديت کې چې کوم کم وي، د هغې تاوان به ورکولی شي، د امام شافعي رحمه الله په نزد دلته مدبّر غلام د شخصي غلام په مرتبه کې دی، د هغه په نزد به د مدبّر غلام جنايت په هغه باندې راځي او مالک ته به اختيار وي چې د جنايت په بدله کې غلام ورکوي او که د هغه فديه ورکوي، که غلام ورکول غوره کړي، نو د جنايت په بدل کې به غلام خرڅولی شي او که فديه ورکول وغواړي، نو د امام شافعي رحمه الله دوه قولونه دي: يو دا چې د جنايت د تاوان څومره مقدار دی همغه به ورکوي، د امام احمد رحمه الله څخه هم يو روايت داسې نقل شوی دی او دويم قول دا دی چې د قيمت او تاوان څخه کوم کم وي، هغه به ورکوي، د امام احمد رحمه الله څخه دويم روايت همداسې دی، امام مالک رحمه الله فرمايي: چې مدبّر به د هغه د جنايت په بدل کې نه شي خرڅولی، بلکې مجنی عليه به د جنايت په اندازه د هغه څخه خدمت اخلي، کله چې هغه خپله خدمت پوره کړي، نو غلام به بېرته خپل مالک ته واپس راشي او د تېر په شان به بېرته مدبّر پاتې شي، زموږ دليل

د عبيده بن جراح رضي الله عنه ارشاد دى : (جناية المدبّر على مولاهُ) د امام شعبي، نخعي، حسن او عمر بن عبد العزيز رحمهم الله څخه هم داسې روايت نقل شوى دى، بيا كه مالک قيمت د قاضي په امر وركړى وي، د هغې څخه وروسته مدبر يا ام ولده بل جنايت وكړي، نو په مولى باندې به هيڅ شى واجب نه وي، بلكې د دويم مقتول وارث به د لومړي مقتول د وارث سره شريكي وي، ځكه چې د مدبّر په ټول جنايت كې يو قيمت وركول واجب دي او هغه مولى وركړى دى، كه مالک د لومړي جنايت والا وارثانو ته قيمت د قاضي د فيصلې څخه بغير وركړى وي، نو د دويم مقتول وارثانو خوښه ده چې د قيمت اخيستلو لپاره د مالک څخه غوښتنه كوي او كه د لومړي مقتول د وارثانو څخه نيمايي قيمت اخلي، دا تفصيل د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد دى، د صاحبينو رحمهما الله په نزد د قاضي د فيصلې څخه بغير د قيمت وركولو په صورت كې مالک باندې هيڅ شى واجب نه دى.

باب غصب العبد والمدبر والصبى والجناية فى ذلك

دا باب د غلام، مدبّر او ماشوم د غصب كولو او په همدې وخت كې د هغوى څخه د جنايت واقع كېدو په بيان كې دى : ددې څخه وړاندې يوازې د جنايت على العبد بيان وشو، په دې باب كې د جنايت مع الغصب بيان دى، لهذا دا په منزله د مركب من المفرد شو او مفرد د مركب څخه مقدم وي.

قطع يد عبده فغصبه رجلٌ ومات منه ضمن قيمته أقطع وإن قطع يده فى يد الغاصب فمات منه برء غصب محجورٌ مثله فمات فى يده ضمن مدبّرٌ جنى عند غاصبه ثمّ عند سيّده ضمن قيمته لهما ورجع بنصف قيمته على الغاصب ودفعه إلى الأوّل ثمّ رجع به على الغاصب وبعكسه لا يرجع به ثانيًا والقنّ كالمدبّر غير أنّ المولى يدفع العبد هنا وثمّة القيمة مدبّرٌ جنى عند غاصبه فردّه فغصبه فجنى عنده على سيّده قيمته لهما ورجع بقيمته على الغاصب ودفع نصفها إلى الأوّل ورجع بذلك النّصف على الغاصب غصب صبيًّا حرًّا فمات فى يده فجأةً أو بحمّى لم يضمن وإن مات بصاعقةٍ أو نهشة حيّةٍ فديته على عاقلة الغاصب كصبيّ أودع عبدًا فقتله وإن أودع طعامًا فأكله: لم يضمن.

ترجمه: يو سړي د خپل غلام لاس كاټ كړو، بيا هغه كوم سړي غصب كړو او مړ شو، نو د لاس كاټ شوي غلام د قيمت ضامن به وي، كه د هغه لاس يې د غاصب په قبضه كې كاټ كړو، بيا مړ شو، نو غاصب به بري وي، محجور غلام د خپل ځان په شان څوک (محجور غلام) غلا كړو، بيا هغه دده په قبضه كې مړ شو، نو ضامن به وي، مدبّر د خپل غاصب سره جنايت وكړو، بيا يې د خپل مالک سره جنايت وكړو، نو (مالک به) د هغه د قيمت ضامن وي د دواړو (جنايتونو) لپاره او د هغې نيمايي قيمت به د غاصب څخه اخلي، لومړى به اول كس ته تاوان وركړي، بيا به د غاصب څخه نيمايي قيمت اخلي، ددې

په عکس صورت کې به دویم خلي نه شي، غلام د مدبّر په شان دی، یوازې دا چې دلته به مالک غلام ورکوي او هلته قیمت و، یو مدبّر د خپل غاصب سره جنایت وکړو، هغه واپس کړو، بیا یې هغه غصب کړو، بیا یې جنایت وکړو، نو په مالک باندې به دواړو ته قیمت ورکول لازم وي، د یو په قیمت باندې به په غاصب باندې رجوع وکړي، د هغې نیمایي به اول ته ورکړي او دا نیمایي به هم د غاصب څخه اخلي، یو سړي ازاد ماشوم غصب کړو او هغه دده په قبضه کې ناڅاپه مړ شو یا د تبې له وجې مړ شو، نو ضامن به نه وي او که هغه د برېښنا لوېدو له وجې مړ شي یا یې مار وچیچي، نو د هغه دیت به د غاصب په عاقله باندې وي، لکه هغه ماشوم چې یو غلام ته وسپارل شي او هغه یې مړ کړي، که چاته ډوډی وسپاري او هغه یې وخوري؛ نو ضامن به نه وي.

تشریح الفقه: قوله قطع ید عبده الخ: یو سړي د غلام لاس کاټ کړو او بل سړي هغه غصب کړو، هغه غلام د زخم د زیاتېدو له وجې مړ شو، غاصب به د غلام تاوان ورکوي؛ خو که غلام د غاصب په قبض کې وي او څوک د هغه لاس کاټ کړي، بیا غلام د زخم زیاتېدو له وجې مړ شي، نو غاصب به د تاوان څخه بري الذمه وي، وجه دا ده چې د بیعې په شان غصب هم د ملکیت سبب دی، نو د جنایت او سرایت ترمنځ د غصب حائل کېدل د زخم د زیاتېدو سبب شو او ګویا ګوډ لاسی غلام د غاصب سره د کوم اسماني آفت له وجې هلاک شوی دی، لهذا د ګوډ لاسي غلام قیمت به ورکوي او په دویم صورت کې د زخم د زیاتېدو سبب ونه موندل شو، د همدې وجې غاصب بري الذمه دی.

قوله مدبّر جنٰی الخ: یو سړي مدبّر غلام غصب کړو، هغه د غاصب سره و چې یو سړی یې مړ کړو، غاصب هغه غلام مالک ته حواله کړو، کله چې غلام د مالک کور ته راغلو، دلته یې هم څوک ووژلو، نو مالک به د هغه قیمت تاوان د دواړو مقتولینو وارثانو ته نیمایي نیمایي ورکوي او د غاصب څخه به د مدبّر نیمایي قیمت به خلي او د لومړي جنایت وارثانو ته به یې ورکړي، ځکه چې د هغوی حق په پوره قیمت کې و، ځکه چې کله د هغوی سړی ووژل شو، دغه وخت د هغوی سره څوک مزاحم موجود نه و، مزاحم ورته هغه وخت پیدا شو چې غلام دویم سړی ووژلو، هر کله چې د مالک په لاس کې د غلام له وجې دویم حق ثابت شو، نو اوس به غلام د لومړي مقتول وارثان اخلي، ددې لپاره چې هغوی ته پوره حق حاصل شي، مالک به د غاصب څخه نیمایي قیمت واخلي، ځکه چې مالک د لومړي مقتول کومو وارثانو ته پوره غلام ورکړو، د هغې سبب خو د غاصب په کور کې موجود شوی و.

قوله بعکسه الخ: عکس صورت دا دی چې مدبّر لومړی د مالک په کور کې څوک ووژني، د هغې څخه وروسته یې د غاصب په کور کې هم څوک مړ کړو، په دې صورت کې به مالک د غاصب څخه

دوباره نيمايي قيمت ددې وجې نه اخلي چې لومې جنايت خپله د هغه په كور كې واقع شوى دى، نه دا چې د غاصب په كور كې.

قوله علىٰ سيّده قيمته الخ: عمرو د بكر مدبّر غلام غصب كړو، مدبّر غلام د عمرو په قبضه كې زيد باندې جنايت وكړو، بيا عمرو دغه مدبّر غلام بكر ته واپس كړو، لې وخت وروسته يې بېرته ترې غصب كړو، دا ځل هغه مدبّر غلام په خالد باندې جنايت وكړو، نو بكر به د زيد او خالد وارثانو ته غلام وركوي، هغه به د غلام پوره قيمت د عمرو څخه اخلي، ځكه چې دواړه جنايتونه د هغه په كور كې واقع شوي دي، اوس چې كوم قيمت بكر د عمرو څخه اخيستى دى، د هغې څخه به نيمايي قيمت د لومړي جنايت (زيد) وارثانو ته وركوي، ځكه چې هغوى د ټول قيمت مستحق دي، (ددې وجې مو مخكې بيان كړه) او كوم نيمايي قيمت چې هغه د ځان څخه وركړى دى، هغه به د عمرو څخه اخلي، ځكه چې ددې نيمايي استحقاق سبب هم هغه دى چې د غاصب په كور كې واقع شوى دى.

قوله غصب صبيًّا الخ: يو سړي داسې ازاد ماشوم غصب كړو چې خپل حال نه شي ويلى، هغه ناڅاپه د تبې يا كومې بلې ناروغۍ له امله مړ شو، نو غاصب به ضامن نه وي، ځكه چې ناڅاپي مرګ او تبه په هر ځاى كې امكان لري، كه هغه د برېښنا غورځېدو يا مار چيچلو له وجې مړ شي، نو د غاصب په عاقله باندې به د ماشوم ديت واجب وي، خو د قياس تقاضا دا ده چې په دواړو صورتونو كې تاوان بايد لازم نه شي، لكه څنګه چې امام زفر او ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللّٰهُ وايي، ځكه چې د ازاد په حق كې د غصب هيڅ معنى نه موجوديږي، خو استحسان دا دى چې دلته تاوان د غصب له وجې نه دى، بلكې د تلف له وجې دى، ځكه چې ماشوم داسې ښار او غير اباد ځاى ته بوتلل چې هلته ضرري او زهريله شيان وي، دې ته اتلاف بالتسبب ويل كيږي.

بَابُ الْقَسَامَةِ

دا باب د قسامة په بيان كې دى: قسامت په لغت كې مطلق قسم ته وايي، د شريعت په اصطلاح كې د مخصوص عدد (پنځوسو)، مخصوص سبب (په محله كې د مړي موندل) او مخصوصه وجه (د پنځوسو انسانانو پنځوس قسمونه كول) باندې قسم كولو ته وايي، ددې تشريح دا ده: په يوه محله، كوڅه يا يو كور كې داسې مقتول وموندل شي چې قاتل يې معلوم نه وي او په مقتول باندې د وهلو يا زخم يا ستوني باندې زور كولو اثر موجود وي، نو په داسې وخت كې به د پنځوسو كسانو څخه قسم اخيستل كيږي، هر كس به داسې قسم كوي چې قسم په الله تعالى باندې ما هغه نه دى وژلى او نه ماته د هغه قاتل معلوم دى، شرط دا دى چې پنځوس بالغ كسان به وي، كه دا تعداد پوره نه شي، نو د موجوده كسانو څخه به تكراي

قسم اخيستل کيږي، ترديٍ پورې چې د پنځوسو تعداد پوره شي او د قسم څخه وروسته به د ديت حکم وركول کيږي، ددې لپاره چې وينه د مفته ضايع کېدو څخه محفوظه شي.

د محلې خلکو ته د قسم ورکولو او د هغوی څخه د ديت اخيستلو عقلي وجه دا ده چې د محلې حفاظت د هغوی ذمه داري ده، هر کله چې د دوی په محله کې مقتول وموندل شو، نو معلومه شوه چې هغوی خپله ذمه واري پوره نه ده ادا کړې، لهذا د هغوی څخه به قسم او ديت اخيستلی شي.

د مخکيني باب سره يې مناسبت دا دی چې د قتل په ځينو صورتونو کې د قسامت ضرورت پيښيږي، ددې وجې يې د ديات تر عنوان لاندې د کتاب په اخر کې مستقل باب سره ذکر کړو.

قتيلٌ وجد فى محلّةٍ لم يدر قاتله حلف خمسون رجلًا منهم يتخيّرهم الولىّ بالله ما قتلناه ولا علمنا له قاتلًا فإذا حلفوا فعلى أهل المحلّة الدّية ولا يحلف الولىّ.

ترجمه: په يوه محله کې داسې مقتول وموندل شو چې قاتل يې معلوم نه وي، نو د پنځوسو کسانو څخه به قسم اخيستل کيږي، د هغو کسانو څخه چې د مقتول ولي به يې منتخب کوي، (قسم به په دې الفاظو باندې کوي :) قسم په الله چې هغه موږ نه دی قتل کړی او نه موږ ته د هغه قاتل معلوم دی، که دوی قسم وکړو؛ نو د محلې په اوسېدونکو باندې ديت دی، ولي ته به قسم نه ورکول کيږي او منکر به تر هغه پورې بندي کولی شي چې قسم وکړي.

تشريح الفقه: **قوله قتيلٌ وجد فى محلّةٍ الخ**: په محله کې يو مقتول پيدا شو چې قاتل يې معلوم نه و، نو د محلې د پنځوسو کسانو څخه به قسم اخيستلی شي چې انتخاب به يې د مقتول وارث کوي، په دوی کې به هر د مفرد په صيغې سره داسې قسم کوي چې په الله تعالى قسم کوم : نه مې مقتول وژلی دی او نه راته قاتل معلوم دی، کله چې دوی قسم وکړي، نو په دوی باندې به د ديت حکم کولی شي.

قوله ولا يحلف الولىّ الخ: زموږ په نزد به قسم د محلې د اوسېدونکو څخه اخيستلی شي، د مقتول د ولي څخه به نه اخيستل کيږي، امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي : که هلته يو ډول اشتباه موجوده وي، مثلاً : د محلې اوسېدونکي د مقتول سره څه ظاهري دښمني درلوده يا د کوم قتل علامه موندل کېده يا ظاهري حال د مدعي په صداقت باندې دلالت کولو، نو د مقتول د اولياوو څخه به پنځوس ځله قسم اخيستل کيږي چې دا سړی د محلې اوسېدونکو وژلی دی، ددې څخه وروسته به په مدعى عليه باندې حکم کولی شي، د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد به د قصاص حکم کولی شي، که د مقتول اولياء د قتل عمد دعوه وکړي، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دليل دا دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د

مقتول اولياوو ته وفرمايل "فيقسم منكم خمسونَ أنّهم قتلوهُ" زموږ دليل د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارشاد دى: «البينةُ على المدّعِي واليمينُ عَلَى مَنْ أنْكَرَ».

وإن لم يتمّ العدد كرّر الحلف عليهم ليتمّ خمسين ولا قسامة على صبيّ ومجنونٍ وامرأةٍ وعبدٍ ولا قسامة ولا دية في ميّتٍ لا أثر به أو يسيل دمٌ من أنفه أو فمه أو دبره بخلاف عينه وأذنه قتيلٌ على دابّةٍ معها سائقٌ أو قائدٌ أو راكبٌ فديته على عاقلته مرت دابة عليها قتيل بين قريتين: فعلى أقربهما، وإن وجد في دار إنسانٍ فعليه القسامة والدّية على عاقلته.

ترجمه: كه عدد پوره نه وي، نو قسم به تكرارولى شي، تردې پورې چې پنځوس پوره شي، په ماشوم، لېوني، ښځې او غلام باندې قسامت نشته، په هغه مړي باندې نه قسامت شته او نه ديت شته چې څه نښه ورباندې نه وي يا يې د پوزې، خولې يا دبر «شاتنى شرمگاه» څخه وينه بهېدلې وي، په خلاف د سترګو او غوږونو، «په دې صورت كې به د محلې په اوسېدونكو باندې قسامت راځي» په داسې څاروي باندې مقتول وموندل شو چې د وړاندې څخه يې چلوونكى «قائد» موجود و يا د شا څخه اواز وركوونكى «سائق» موجود و يا څوک ورباندې سپور وي، نو ددې ديت به د هغه كس په عاقله باندې وي، يو داسې څاروى د دوه كليو ترمنځ تېر شو چې مړى ورباندې پروت و، نو قسامت به په دواړو كې نږدې والا باندې كيږي او كه مقتول د يو كس په كور كې وموندل شو، نو په هغه باندې به قسامت وي او ديت به د هغه په عاقله باندې وي.

تشريح الفقه: **قوله وإن لم يتمّ العدد الخ**: كه د محلې د اوسېدونكو شمار پنځوسو ته ونه رسيږي، نو د موجوده كسانو څخه به تكراري قسمونه اخيستل كيږي، ددې لپاره چې د قسم تعداد پنځوسو ته ورسيږي، ځكه چې عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كله د قسامت فيصله كول، نو قسمونه نهه څلوېښت شول، بيا يې په يو كس باندې دويم ځلي قسم وكړو، تردې پورې چې پنځوسو ته تعداد ورسېدلو، ابن ابي شيبه د شريح څخه، عبد الرزاق د ابراهيم نخعي څخه هم داسې روايت نقل كړى دى چې دوى د پنځوسو عدد پوره كولو لپاره د يو كس څخه دويم ځلي قسم واخيستلو.

قوله ولا ديّةَ في ميتٍ الخ: كه په محله كې داسې مړى وموندل شو چې د پوزې يا دبر يا يې د خولې څخه وينه روانه وه، نو په دې صورت كې به نه قسامت وي او نه به ديت وي، ځكه چې دا احتمال شته چې هغه د بواسير، نكسير «پوزې ماتېدو له وجې» يا د سوداوي «تور زيړي» له امله مړ شوى وي، كه وينه يې د خولې، سترګو يا غوږونو څخه راتله، نو هغه مقتول ګڼل كيږي، ځكه چې ددې ځايونو څخه وينه د سختو وهلو څخه بغير نه جاري كيږي.

قوله مرّت دابّة الخ: که یو مقتول د دوه کلیو ترمنځ وموندل شو، نو قسامت او دیت به په هغه کلي باندې وي چې مړی زیات ورته نژدې وي، ځکه چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په دوره کې داسې پېښه شوې وه، نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دواړه کلي پیمانه کړل، مړی یو کلي ته یوه لوېشت نژدې و، نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په هغه کلي باندې د قسامت او دیت فیصله وکړه چې مړی ورته نژدې و، که دواړه کلي په یوه اندازه مړي ته پراته وي، نو قسامت او دیت به په دواړو کلیو باندې لازم وي. (ثم قيد الدابّة اتفاقيّ فإنّ الحكمَ كذلكَ إذا وجدَ طريحًا بينهما) "در، طحطاوى، عينى"

قوله وإن وجدَ الخ: که مقتول د کوم کس په کور کې وموندل شو، نو په کوروالا باندې به قسامت او په عاقله باندې به دیت وي، ځکه چې هغه کور د هغه په قبضه کې دی، د کور د مالک سره د محلې والانسبت داسې دی لکه څنګه چې د محلې د خلکو سره د ښاریانو نسبت، ښاریان د محلې والاسره په قسامت کې شریک نه وي، نو د محلې اوسېدونکي به هم د کور د مالک سره په قسامت کې شریکان نه وي.

وهي على أهل الخطّة دون السّكّان والمشترين فإن لم يبق واحدٌ منهم فعلى المشترين وإن وجد في دارٍ مشتركةٍ على التّفاوت فهي على الرّءوس وإن بيعت ولم تقبض فعلى عاقلة البائع وفي الخيار على ذي اليد ولا تعقل عاقلةٌ حتّى يشهد الشّهود أنّها لذي اليد وفي الفلك على من فيها من الرّكّاب والملّاحين وفي مسجد محلّةٍ على أهلها وفي الجامع والشّارع لا قسامة والدّية على بيت المال ويهدر لو في بريّةٍ أو وسط الفرات ولو محتبسًا بالشّاطئ فعلى أقرب القرى ودعوى الوليّ على واحدٍ من غير أهل المحلّة تسقط القسامة عنهم وعلى معيّنٍ منهم لا وإن التقى قومٌ بالسّيوف فأجلوا عن قتيلٍ فعلى أهل المحلّة إلّا أن يدّعي الوليّ على أولئك أو على معيّنٍ منهم وإن قال المستحلف قتله زيدٌ حلف بالله ما قتلت ولا علمت له قاتلًا غير زيدٍ ويبطل شهادة بعض أهل المحلّة على قتل غيرهم أو واحدٍ منهم.

ترجمه: دیت به په ځایي اوسېدونکو باندې وي، نه هغه چې (عارضي) اوسېږي او یا یې اخیستې وي، که د دوی څخه څوک پاتې نه شي، نو بیا به په اخیستونکو باندې وي، که په داسې کور یې وموندلو چې مشترک علی التفاوت وي، نو قسامت به په عدد د رؤوسو باندې وي، که کور خرڅ شوی وي او قبضه شوی نه وي، نو د بائع په عاقله باندې به وي او د خیار په صورت کې قابض باندې دی، دیت به نه ورکوي تر هغه پورې چې شاهدان شاهدي ادا کړي چې هغه د قابض دی، که مقتول په کشتۍ کې وموندل شي، نو قسامت به په هغو کسانو باندې وي چې په کشتۍ کې سپاره دي، یعنې په سپور او کشتۍ چلوونکي باندې، که مړی د محلې په کوڅه کې وموندل شي. نو قسامت به د محلې په خلکو باندې وي، که مړی په جامع جومات یا لویه لار کې وموندل شي، نو قسامت به نه وي او دیت به په بیت

المال باندې وي، د هغه مقتول وينه به مفته لاړه شي چې مقتول په ځنګل يا د فرات نهر په منځ کې وي او که بند شوی وي د کلي ځنډې ته؛ نو په نږدې کلي باندې به قسامت وي، د ولي دعوه کول په کوم يو باندې د محلې د اوسېدونکو څخه بغير، نو د محلې د اوسېدونکو څخه به قسامت ساقط وي، د محلې د اوسېدونکو څخه به په کوم معين کس باندې نه وي، که قوم د تورو سره راووتلو. بيا په داسې حالت کې سره جدا شول چې مقتول پکې شوی وي. نو قسامت به د محلې په اوسېدونکو باندې وي. مګر دا چې ولي په توره ويستونکو باندې دعوه وکړي يا د هغوی څخه په کوم معين سړي باندې دعوه وکړي، که د قسم کوونکو څخه چا ووېل چې قتل زيد کړی دی. نو قسم به ورکولی شي چې په الله تعالی قسم ما قتل نه دی کړی او نه زه د هغه قاتل پېژنم د زيد څخه بغير. د محلې د ځينو کسانو شهادت به باطل وي په قتل کولو د غير د دوی څخه يا د دوی څخه په کوم يو باندې.

د قسامت تفصيل احکام

توضيح اللغةِ : (أهل الخطّة) د مځکينيو ځمکو څښتنان، (سکان) د ساکن جمع ده، اوسېدونکي ته ويل کيږي، (فلك) کشتۍ ته ويل کيږي، (رکاب) د راکب جمع ده، سپور ته وايي، (ملاحين) د ملاح جمع ده، هغه چا ته ويل کيږي چې کشتۍ چلوي، (شاطئ) کناره، (قُرى) د قرية جمع ده، کلي ته وايي، (سيوف) د سيف جمع ده، تورې ته وايي، (أجلواعن كذا) واضحه کول او څرګندول.

تشريح الفقهِ : **قوله على أهلِ الخطّةِ الخ**: د اهل خطه څخه مراد هغه خلک دي چې د پخوا راهيسې د هغوی په نوم باندې ځمکې وي، يعنې د هغه وخت څخه د ځمکې مالکان وي چې امام دا ځمکه فتح کړې وي او د غازيانو ترمنځ يې تقسيم کړې وي، هر يو ته يې د هغه برخه په کاغذ باندې ليکلې وي، ددې لپاره چې د هر سړي برخه جدا جدا شي، د طرفينو په نزد به قسامت د دغه ځای په خلکو باندې وي، په اوسېدونکو او اخيستونکو باندې به نه وي، د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد به ټول پکې شريکان وي، وجه دا ده چې تدبير منزل چې لکه څرنګه د ملکيت په ذريعه وي، دغه شان په اوسېدو سره هم وي. لهذا دوی ټول به شريکان وي. (ولهما أنّ المالكَ هو المختص بنصرة البقعة دونَ السكانِ).

قوله وإن وجد الخ: که مقتول په داسې کور کې پيدا شو چې د څو کسانو ترمنځ شريکي وي او په شريکانو کې د ځينو برخه زياتي وي او د ځينو کمه وي، نو ديت به د انسانانو په شمار سره وي، مثلاً : د يو شريک نيمايي برخه وي، د دويم شريک لسمه برخه وي او د دريم شريک باقي کور وي، نو ديت او قسامت به د هغوی په عاقله باندې درې برخو سره تقسيمېږي، ځکه د لږ او ډېر څښتن په حفظ او تدبير کې سره برابر دي.

قوله وإن بيعَ الخ: يو كور خرڅ شو، تر اوسه پورې د مشتري په قبضه كې نه و چې يو مقتول پكې ومونډل شو، نو ددې ديت به د بائع په عاقله باندې وي، كه كور په داسې حالت كې خرڅ شوى و چې د يو لپاره به خيار وي. د امام صاحب رحمه الله په نزد به ديت د هغه چا په عاقله باندې وي چې كور د هغه په قبضه كې دى (برابره خبره ده چې بائع قابض وي او كه مشتري) د صاحبينو رحمهما الله په نزد د هغه چا په عاقله باندې به وي چې د هغه لپاره د كور ملكيت ثابتېدونكى دى، ځكه چې قاتل كوم قتل كړى دى، هغه يې ددې وجې كړى دى چې د كور په ساتلو كې كوتاهي او نقصان شوى دى، نو د چا لپاره چې ولايت د حفاظت وي، په هغه باندې به ديت هم وي او ولايت د ساتلو (حفظ) د ملكيت څخه مستفاد دى. لهذا ملكيت ته به اعتبار وركول كيږي. امام صاحب رحمه الله فرمايي چې حفاظت په قبضې سره كيږي، تردې پورې كه قبضه وي او ملكيت نه وي، نو حفاظت كېدى شي. خو كه ملكيت وي او قبضه نه وي، نو حفاظت به نه كيږي، هر كله چې خبره داسې شوه، نو اعتبار به قبضې ته وركول كيږي، ملكيت ته به نه وركول كيږي.

قوله وبطلَ الخ: په يوه محله كې مقتول ومونډل شو. د مقتول ولي په غير محله كې د يو معين سړي نوم واخيستلو چې زمونږ څخه فلاني كس وژلى دى، د امام صاحب رحمه الله په نزد به دا شاهدي باطله وي او د صاحبينو په نزد به مقبوله وي، دا حكم په يو متفق عليه اصل باندې مبني دى. هغه دا چې كوم كس په يوه حادثه كې خصم شي او بيا د خصم كېدو څخه خارج شي، نو د هغه شهادت به قبول نه وي، دغه شان د كوم كس لپاره چې خصم كېدل عارض شوي وي، بيا عرضيت ختم شوى وي او هغه په دې حادثه كې شاهدي ادا كول غواړي، نو د هغه شهادت به قبول وي، په مذكوره مسئله كې صاحبين فرمايي: كه د مقتول اولياء د محلې په اوسېدونكو باندې د قتل دعوه وكړي، نو هغوى خصم جوړېدى شي، خو په غير محله باندې د دعوې له وجې هغه ددې غرضيت څخه خارج شو، لهذا د هغه شهادت به قبول وي، لكه وكيل بالخصومت چې د خصومت څخه وړاندې معزول كړى شي او هغه د همدې پېښې په اړه شاهدي ادا كړي، نو د هغهد شهادت به قبول وي، امام صاحب رحمه الله فرمايي چې په دې پېښه كې د محلې اوسېدونكي خصم جوړ شوي دي، ځكه چې مقتول په دوى كې ومونډل شو او كوم سړي چې په كومه حادثه كې خصم جوړ شوى وي، د هغه شاهدي نه قبليږي. (**كالوكيلِ إذا في مجلسِ الحكمِ ثم عزله فشهده**).

كتاب المعاقل

دا كتاب د معاقل په باره كې دى معاقل د معقلة جمع ده. په معنى د ديت سره ده. دلته په عبارت كې مضاف مقدر دى، (أىْ كتابُ أهلِ المعاقلِ) ځكه چې د ديت بيان مخكې ذكر شوى دى، دلته د (مَنْ تجبُ عليهمُ الدّيَة) بيان دى.

د ماقبل سره يې مناسبت دا دى چې مخكې د قتل خطاء موجب يې دا بيان كړى و چې په عاقله باندې به ديت واجب وي، خو دا بيان يې ونه كړو چې عاقله چاته ويل كيږي، ددې څه حكمونه دي. نو مصنف رَحِمَهُ اللهُ دا تفصيلات د كتاب المعاقل تر عنوان لاندې ذكر كړه.

هى جمع معقلةٍ وهى الدّية وكلّ ديةٍ وجبت بنفس القتل على العاقلة وهى أهل الدّيوان إن كان القاتل منهم تؤخذ من عطاياهم فى ثلاث سنين فإن خرجت العطايا فى أكثر من ثلاثٍ أو أقلّ أخذ منها ومن لم يكن ديوانيًّا فعاقلته قبيلته تقسّم عليهم فى ثلاث سنين لا يؤخذ من كلّ سنةٍ إلّا درهمٌ أو درهمٌ وثلثٌ فلم يزد على كلّ واحدٍ من كلّ الدّية فى ثلاث سنين على أربعةٍ.

ترجمه: دا جمع د معقلة ده او دا ديت دى، هر هغه ديت چې په نفس قتل سره واجب وي، په عاقله باندې به وي، هغه (عاقله) دفتر والا دي، كه قاتل د دوى څخه وي او د دوى د عطايا څخه په درې كالو كې او كه عطايا د درې كالو څخه زيات يا كم وخت ونيسي، نو د هغه څخه به اخيستلى شي. كه د دفتر والانه وي، نو د هغه عاقله د هغه قومي ده. په هغوى باندې به تقسيمولى شي، د هر يو څخه به نه شي اخيستلى مگر په هر كال كې يو درهم، يا يو درهم او د درهم دريمه برخه، په هر يو باندې به نه شي زياتولى د ټول ديت څخه په درې كالو كې په څلورو درهمو باندې.

تشريح الفقه قوله هى جمع معقلةٍ الخ: معاقل د معقلة جمع ده، په معنى د ديت سره، ددې دويم نوم عقل دى، عقل په معنى د منع كولو سره دى او ديت د وينې تويولو څخه انسان منع كوي، ددې وجې دې ته عقل ويل كيږي، هر كله چې معاقل د معقلة جمع ده، نو كتاب المعاقل عنوان غلط شو، ځكه چې دلته د ديتونو بيان مقصود نه دى، د هغې احكام خو په كتاب الديات كې تېر شول، دلته د هغو خلكو بيان مقصود دى چې ديتورباندې واجب دى، دوى ته عاقله ويل كيږي او جمع يې عواقل راځي، پكار دا ده چې عنوان په كتاب العواقل سره بدل شي، لكه دا عنوان چې د برهان او ځينې نورو كتابونو مصنّفينو خپل كړى دى، مگر دا چې كلام په حذف د مضاف سره شي، نو عبارت به صحيح شي: أىْ كتابُ أهلِ المعاقلِ.

قوله كلّ دِيَةٍ الخ: کوم دیت چې د نفس قتل له وجې لازم وي، هغه د قاتل په عاقله باندې واجبيږي. يعنې په اهل ديوان باندې به واجبيږي. په هغه صورت کې چې قاتل دولتي عسکر وي، ديوان هغه کتاب ته ويل کيږي چې د عسکرو او پوځيانو نومونه، مياشتينى تنخوا وغيره پکې ثبت شوي وي، د امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ مسلک دا دى چې ديت يې په خاندان باندې دى، ځکه چې د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دوره کې داسې عادت و. زموږ دليل دا دى چې کله عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ديوان مقرر کړو، نو د صحابه کرامو په لويه مجمعه کې يې په اهل ديون باندې ديت مقرر کړو او هيچا هم ددې څخه انکار ونه کړو، دغه شان د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې به مرسته رشته دارو خلکو کول او د ديوان جوړېدو څخه وروسته نصرت د اهل ديوان سره متعلق شو، ددې وجې اهل ديوان د عاقله په مرتبه کې شول.

قوله بنفسِ القتلِ الخ: په دې قيد سره هغه د وينې بدل خارج شو چې د سولې يا شبهې په توګه ورکول شي، لکه پلار چې خپل زوى قصدا ووژني، په دې دواړو صورتونو کې به د قتل بدل يوازې په قاتل باندې راځي، په عاقله باندې به هيڅ شى واجب نه وي.

قوله وتؤخذُ الخ: ديت به د اهل ديوان د عطايا او تنخواګانو څخه په درې کالو کې اخيستلى شي. که عطايا ددې څخه په کمه يا زياته موده کې ووځي، نو ټول ديت به د هغې څخه اخيستل کيږي، که قاتل عسکر نه وي، عاقله به يې خپل قوميان وي او په هغوى باندې به ديت تر درې کالو پورې تقسيم کړى شي، په داسې طريقه چې د هر يو کس څخه به په کال کې يو درهم يا يو درهم او د درهم دريمه برخه اخلي، په دې طريقه به په هر سړي باندې کال کې درې يا څلور درهمه لازم شي، د امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد د اخيستلو هيڅ مقدار معين نه دى، بلکې د عاقله په طاقت باندې به محمول وي (**وهوَ روايةٌ عنْ أحمدَ**) د امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد د شتمن سړي څخه نيمايي دينار او د درميانه سړي څخه د دينار څلورمه برخه اخيستل کيږي (**وهوَ روايةٌ عنْ أحمدَ أيضًا**) موږ وايو : دا يو قسم مهرباني ده چې په طريقې د مساوات سره واجبيږي. په دې کې به شتمن او غريب ټول يو شان برابر وي.

فإن لم تتّسع القبيلة لذلك ضمّ إليهم أقرب القبائل نسبًا على ترتيب العصبات والقاتل كأحدهم وعاقلة المعتق قبيلة مولاه ويعقل عن مولى الموالاة مولاه وقبيلته ولا تعقل عاقلةٌ جناية العبد والعمد ولا ما لزم صلحًا ولا اعترافًا إلّا أن يصدّقوه وإن جنى حرٌّ على عبدٍ خطأً فهي على عاقلته.

ترجمه: که په قوميانو کې د ديت ادا کولو طاقت نه وي، نو د هغه سره به د نسب په اعتبار نژدې خپلوان د عصبات په ترتيب يو ځاى کولى شي. قاتل به هم د هغوى څخه د يو کس په شان شمارل کيږي. د ازاد شوي عاقله به د هغه د مولى قبيله وي، د مولى الموالات له طرفه به د هغه مولى او د مولى قبيله ديت

وركوي، عاقله به تاوان نه وركوي د غلام د جنايت او د عمد جنايت والاو د هغه څخه چې په سولې سره لازم وي يا په اقرار سره، مګر دا چې عاقله يې تصديق وکړي او که ازاد سړي په غلام باندې خطاءً جنايت کړی وي، نو تاوان به يې په عاقله باندې وي.

تشريح الفقهِ: قوله فإن لم يتسع الخ: که د قوم خلک دومره زيات نه وي چې په دوی باندې ياد ديت د پورته حساب مطابق تقسيم شي. بلکې د دوی شمار کم وي او په هغوی باندې د څلورو درهمو څخه زيات مال راځي. نو بيا به د دوی سره د عصبات په ترتيب سره نور خپلوان يو ځای کولی شي. يعنې اول به ورور وي. بيا به خوريي. وي، بيا به تره وي او بيا به د تره زامن وي او داسې نور ...

قوله والقاتل كأحدهم الخ: د امام شافعي رحمه الله په نزد قاتل باندې هيڅ شی واجب نه دی، ځکه چې هغه د خطاء له وجې معذور ګڼل کيږي، زموږ په نزد هغه به هم په ديت کې شريک وي، ځکه چې جنايت د هغه له لورې شوی دی، د هغه بوج په نورو خلکو باندې اچول او هغه ترې خپله ويستل په شريعت کې هيڅ معنی نه لري

كتاب الوصايا

دا کتاب د وصايا په بيان کې دی، وصايا د وصية جمع ده او وصايا اسم په معنی د مصدر سره دی، (ثم سمّي به الموصیٰ به) د شريعت په اصطلاح کې وصيت هغه تمليک دی چې د مرګ څخه وروسته په طريقې د تبرع (احسان) سره يې اضافت وشي. برابره خبره ده چې تمليک د عين وي، که تمليک د دَين وي او که منافع وي.

د ماقبل سره يې مناسبت دا دی چې زيات وخت انسان د مرګ په وخت کې وصيت کوي او مرګ د انسان آخري مرحله ده، ددې وجې مصنّف رحمه الله د ژوند سره تړلې ټولې معاملې بيان کړې او د هغې څخه وروسته يې د وصيت بيان وکړو **الوصيّة تمليكٌ مضافٌ إلى ما بعد الموت وهي مستحبةٌ.**

ترجمه: وصيت هغه تمليک دی چې د مرګ څخه وروسته طرف ته يې اضافت کيږي او دا مستحب دی.

تشريح الفقهِ: قوله الوصيّة الخ: په وصيت کې تمليک هغه وخت موجوديږي چې د مالک ملکيت زائل شي، قياس دا تقاضا کوي چې وصيت بايد صحيح نه شي، خو کتاب الله او سنت رسول ددې اجازه ورکوي. **قال الله تعالىٰ** ﴿فَإِن كَانُوٓا۟ أَكْثَرَ مِن ذَٰلِكَ فَهُمْ شُرَكَآءُ فِى ٱلثُّلُثِ مِنۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَىٰ بِهَآ﴾ (که ددې څخه زيات وارثان وي. نو هغوی به په دريمه کې شريکان وي د وصيت څخه وروسته يا د دَين ادا کولو څخه وروسته) **وقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إنّ الله تصدّق عليكم بثلث أموالكم في آخر**

أعمارکم زيادة لکم في أعمالکم تضعونها حيث شئتم» (الله تعالى په تاسو باندې ستاسو د مال دريمه برخه صدقه کړه، ستاسو د عمر په پای کې، ددې لپاره چې ستاسو په اعمال کې زياتوالی راشي، تاسو يې په هغه ځای کې مصرف کړئ چې ستاسو خوښه وي).

فايده: وصيت کوونکي ته موصِي ويل کيږي، چاته چې وصيت وشي هغه ته وصي او موصٰی له ويل کيږي، د چا لپاره چې وصيت وشي هغه ته موصٰی له ويل کيږي او د کوم شي په اړه چې وصيت وشي. هغه ته موصٰی به ويل کيږي

قوله وهي مستحبة الخ: د وصيت څلور قسمونه دي : (۱) واجب وصيت، لکه د ودائعو رد کول او د مجهولو ديونو وصيت، (۲) مستحب وصيت، لکه : د روژې او لمانځه وغيره کفارو وغيره بيان، (۳) مباح وصيت، لکه : د شتمنو او نژدې خپلوانو لپاره وصيت کول، (۴) مکروه وصيت، لکه : د فاسقانو او بدبختو خلکو لپاره وصيت کول.

ولا تصحّ بما زاد على الثّلث ولا لقاتله ووارثه إن لم تجز الورثة ويوصى المسلم للذّمّيّ وبالعكس وقبولها بعد موته وبطل ردّها وقبولها في حياته وندب النّقص من الثّلث وملك بقبوله إلّا أن يموت الموصى له بعد موت الموصى قبل قبوله ولا تصحّ وصيّة المديون إن كان الدّين محيطًا والصّبيّ والمكاتب وتصحّ الوصيّة للحمل وبه إن ولدت لأقلّ مدّته من وقت الوصيّة ولا تصحّ الهبة له.

ترجمه: د دريمې برخې څخه زيات وصيت صحيح نه دی، نه د خپل قاتل او وارث لپاره، که چېرته وارثان اجازه ورنه کړي، مسلمان د ذمي لپاره وصيت کولی شي او ددې عکس صحيح دی، ددې قبلېدل د موصي د مرګ څخه وروسته کيږي او ددې رد کول باطل دي او قبول يې د هغه په ژوند کې، د دريمې برخې څخه کم وصيت کول مستحب دی، موصٰی له به ددې په قبلېدو سره مالک شي، مګر دا چې موصٰی له د موصي د مړينې څخه وروسته او د قبلېدو څخه وړاندې مړ شي، د قرض داره سړي وصيت صحيح نه دی، په هغه صورت کې په دَين باندې يې احاطه کړې وي، د ماشوم (وصيت هم صحيح نه دی) دغه شان د مکاتب هم دی، د حمل لپاره وصيت صحيح دی او د حمل وصيت هم صحيح دی، که پيدا يې کړي د وصيت د وخت څخه په کمه موده کې او د حمل لپاره هبه صحيح نه ده.

د وصيت تفصيلي حكمونه

تشريح الفقه: قوله ولا تصحّ الخ: په وصيت كې د څلورو شيانو خيال ساتل ضروري دي: (۱) د دريمې برخې څخه د زيات مال وصيت كول ناجائز دي، (۲) موصي به د خپل قاتل لپاره وصيت نه كوي. (۳) موصي به د خپل وارث لپاره وصيت نه كوي، (۴) مګر دا چې وارثان اجازه وركړي. نو وارث ته وصيت كولى شي. د لومړي قول دليل د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه روايت دى چې په شپږو صحاحو كې روايت شوى دى چې ما رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل: "اې د الله تعالى رسوله! زما مال زيات دى او وارثه مې يوازې يوه لور ده، ايا زه د خپل ټول مال وصيت كولى شم؟ وې فرمايل: نه! ما ورته وويل: د دوه ثلثو وصيت كولى شم؟ وې فرمايل: نه! ما ورته وويل: د نيمايي وصيت كولى شم؟ وې فرمايل: نه! ما وويل: د دريمې برخې وصيت كولى شم؟ وې فرمايل: د دريمې برخې وصيت وكړه او دا هم زيات دى" په دويم قول كې د قتل څخه عام قتل مراد دى، عمدا وي او كه خطاء وي، په داسې حال كې چې بالمباشرة (خپله د قاتل څخه) شوى وي، (لأنّ التسبّب لايمنعُ الوصيّة ولا الإرث) د امام شافعي رحمه الله په نزد د قاتل لپاره وصيت صحيح دى، ځكه چې هغه د مړي په حق كې محض پردى دى، نو لكه څرنګه چې د نورو پرديو خلكو لپاره وصيت كولى شي، دغه شان د قاتل لپاره يې هم كولى شي، زمونږ دليل د رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد دى: (ليسَ لقاتلٍ وصيةٌ)، د دريم قول دليل دا دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم خطبه وويل، بيا يې وفرمايل: (إنّ اللّٰهَ أعطى كُلَّ ذِيْ حقٍ حقّه، ألا لا وصيّةَ لوارثٍ) الله تعالى هر حقدار ته حق وركړى دى. (يعنې مقرر كړى يې دى) خبردار! ددې څخه وروسته د وارث لپاره وصيت نشته، په څلورم قول كې د امام ابويوسف رحمه الله سره اختلاف دى: هغه فرمايي: كه وارثان اجازه وركړي؛ نو بيا به هم د وارث لپاره وصيت صحيح نه وي، ځكه چې جنايت اوس هم باقي دى، (ځكه چې وارث بيا هم وارث وي او د نورو وارثانو په زړه كې به راګرځي چې ولې يو وارث ته وصيت كوي او دا نور محرومه كوي. نو دغه محرومه كول يو جنايت دى) د طرفينو دليل دا دى چې د ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دى: "لاوصيّة لوارثٍ إلّا أنْ يّشاءَ الورثة" دغه شان د وراثت څخه منع كېدل خو د وارثانو د خفګان له وجې و او هر كله چې هغوى خپله په وصيت باندې خوشحاله دي، نو په جواز كې يې هيڅ وينا نه ده پكار.

قوله وملك بقبوله الخ: د وصيت په قبلېدو سره موصٰى له د موصٰى به مالک ګرځي، خو يوه مسئله داسې ده چې د قبلېدو څخه بغير به مالک شي، هغه دا چې د موصي د مړينې څخه مخكې د وصيت قبلېدو څخه وړاندې موصٰى له هم مړ شي، په دې صورت كې موصٰى به بېرته د موصي د وارثانو په

ملکیت کې داخلیږي، خو ذ دوی په ملکیت کې داخلېدل استحسانا دي، قیاس خو دا دی چې داسې وصیت دي باطل شي، د استحسان وجه دا ده: هر کله چې موصي مړ شو، نو د هغه له لورې وصیت پوره شو، د هغه له لورې هیڅ ډول فسخ په وصیت کې رانغله او په هغې کې توقف یوازې ددې وجې راغلو چې **موصٰی لَه** چوپ و، هر کله چې هغه (**موصٰی لَه**) مړ شو، نو دا موصٰی به بېرته د **موصي** د وارثانو په ملکیت کې داخل شو، لکه په هغه بیع کې چې کیږي په کومه بیع کې چې د مشتري لپاره خیار وي او هغه د بیع جائز ګڼلو څخه وړاندې مړ شي

قوله والمکاتب الخ: د وصیت درې صورتونه دي: (۱) باطل بالاجماع، (۲) جائز بالاجماع او (۳) مختلف فیه. باطل دا دی چې مکاتب د خپل مال څخه د یو شي په اړه وصیت وکړي، د بطلان وجه یې دا ده چې په حقیقت کې هغه تر اوسه د څه شي مالک نه دی او پردي شیان خیراتول باطل دي. جائز صورت دا دی چې وصیت ازادی ته مضاف کړي او داسې ووایي: "**إذا أعتقتُ فثلثُ مالیْ وصیةٌ لفلانٍ**" د جواز وجه دا ده چې عدم جواز یې د مولی له وجې و، ځکه چې د هغه حقوق ورسره تړلي و، په ازادی باندې د تعلیق وروسته د مولی حق ختمیږي. مختلف فیه صورت دا دی چې مکاتب ووایي: "**أوصیتُ مالِي بثلثِ مالیْ لفلانٍ**" بیا سمدستي هغه ازاد شي، نو دا صورت د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد باطل او د صاحبینو په نزد صحیح دی.

قوله للحملِ الخ: که مالک ووایي: چې ما د خپلې دې وینځې لپاره د دومره درهمونو وصیت کړی دی، نو دا وصیت به جائز وي، ځکه چې په وصیت کې من وجهٍ استخلاف وي، یعنې موصي په خپل بعض مال کې **موصٰی لَه** خپل خلیفه وټاکي او جنین په میراث کې خلیفه جوړېدی شي، نو په وصیت کې هم خلیفه جوړول صحیح دي، که مالک ووایي چې ددې حمل وصیت د فلاني کس لپاره کوم، نو داسې وصیت هم صحیح دی، ځکه چې په حمل کې وراثت جاري کیږي، نو وصیت به هم جاري کیږي

وإن أوصی بأمةٍ إلّا حملها صحّت الوصیّة والاستثناء وله الرّجوع عن الوصیّة قولًا وفعلًا بأن باع أو وهب أو قطع الثّوب أو ذبح الشّاة والجحود لا یکون رجوعًا.

ترجمه: که چېرته د وینځې وصیت یې وکړو؛ خو حمل یې ترې مستثنی کړو، نو وصیت او استثناء دواړه به صحیح وي، د هغه لپاره به رجوع صحیح وي په وینا او فعل دواړو سره: په دې طریقه چې خرڅ یې کړي یا یې ډالۍ کړي یا کپړه (وه هغه) وشلوي، یا مېږه وي او ذبح یې کړي او انکار به رجوع نه وي.

تشریح الفقهِ: **قوله وإن أوصی بأمةٍ الخ**: که څوک د بل کس لپاره د خپلې وینځې وصیت کړي او حمل یې مستثنی کړي، مثلا داسې ووایي: زه د خپلې فلانی وینځې وصیت د زید لپاره کوم، خو د هغې د

حمل څخه بغير، نو دا وصيت او استثناء دواړه به صحيح وي، ځکه چې يوازې د حمل وصيت صحيح دی؛ نو د حمل استثناء به هم صحيح وي، ځکه چې د کوم شي عقد صحيح کيږي، د هغه شي د عقد څخه خارجول هم صحيح دي.

قوله وله الرجوعُ الخ: د وصيت څخه رجوع صحيح ده، ځکه چې وصيت احسان دی چې تر اوسه پورې تام شوی نه دی. د هبې په شان ددې څخه هم رجوع صحيح ده. د وصيت څخه رجوع په قول سره هم کيږي. داسې چې په ژبه ووايي: (**رجعتُ عمّا أوصيتُ به له**) او په فعل سره هم رجوع صحيح ده. مثلاً د کوم شي وصيت يې چې کړی دی، په چا باندې يې خرڅ کړي يا يې هبه کړي يا دا چې د کپړې وصيت يې کړی وي، هغه وشلوي يا د مېږې او چېلۍ وصيت يې کړی وي، هغه حلاله کړي، نو دا به د وصيت څخه رجوع شمارل کيږي. د رجوع د تصريح په صورت کې خو رجوع څرګنده ده؛ خو داسې فعل چې په رجوع باندې دلالت کوي. هغه به هم رجوع ګڼل کيږي، ځکه چې دلالت هم د تصريح کار ورکوي.

قولُه والجحودُ لا يكونُ رجوعًا الخ: د وصيت څخه انکار کول به رجوع نه وي، يعنې که څوک د خپل وصيت څخه انکار وکړي: داسې ووايي چې ما وصيت نه دی کړی، د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد به دا د صيت څخه رجوع نه وي، ځکه چې انکار په حقيقت کې په ماضي زمانه کې د يو کار نفي کولو ته وايي او انتفاء في الماضي لپاره انتفاء في الحال ضروري ده، ځکه چې د رجوع عن الشيء لپاره د شي اثبات ضروري دی، هر کله چې موصي رجوع وکړه، نو جحود في الماضي به لغو شي، د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد د وصيت څخه انکار رجوع ده.

باب الوصيّة بثلث المال ونحوه

أوصى لذا بثلث ماله ولآخر بثلث ماله ولم تجزه الورثة فثلثه لهما وإن أوصى لآخر بسدس ماله فالثلث بينهما أثلاثًا وإن أوصى لأحدهما بجميع ماله ولآخر بثلث ماله ولم تجز الورثةُ فَثُلُثُه بينهما نصفانِ.

ترجمه: د هغه لپاره يې د خپل مال دريمې برخې وصيت وکړو، د بل کس لپاره يې هم د مال د دريمې برخې وصيت وکړو، وارثانو يې جائز ونه ګڼلو، نو د هغه د مال دريمه برخه به د دواړو لپاره وي، که د دويم کس لپاره يې د خپل مال شپږمې برخې وصيت وکړو، نو ثلث به د دوی ترمنځ اثلاثا تقسيميږي.

تشريح الفقهِ: **قوله فالثلثُ بينهما أثلاثًا الخ**: يو سړي د زيد لپاره د خپل مال دريمې برخې وصيت وکړو او د عمرو لپاره يې د مال شپږمې برخې وصيت وکړو، نو د مال يو ثلث به د دواړو ترمنځ تقسيميږي، دوه برخې به زيد ته ملاويږي او يوه برخه به عمرو ته ملاويږي.

قوله وإن أوصٰى الخ: يو سړي د زيد لپاره د ټول مال وصيت وكړو او د عمرو لپاره يې د ثلث مال وصيت وكړو، خو وارثانو هغه ته اجازه نه وركول، د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد به يو ثلث په دواړو باندې نيمايي تقسيميږي. ځكه چې كله د دريمې برخې مال څخه زيات وارثانو اجازه ورنه كړه، نو هغه باطل شو. داسې وګڼل شوه چې هغه د هر يو لپاره د مال دريمې برخې وصيت كړى دى. د صاحبينو رَحِمَهُمَا اللّٰهُ په نزد دريمې برخه مال به په څلورو برخو باندې تقسيم كړى شي، په هغې كې به درې برخې د كُل وصيت والاته وركول شي او يوه برخه به ثلث والاته وركول شي. دا اختلاف په يو مختلف فيه اصل باندې مبني دى. بيان يې وروسته راروان دى.

د مال د دريمې برخې وصيت كولو حكمونه

ولَا يُضربُ للموصٰى لَه بما زاد على الثّلث إلّا في المحاباة والسّعاية والدّراهم المرسلة وبنصيب ابنه بطل وبمثل نصيب ابنه صحّ فإن كان له ابنان فله الثّلث وبسهمٍ أو جزءٍ من ماله فالبيان إلى الورثة قال سدس مالي لفلانٍ ثمّ قال له ثلث مالي له ثلث ماله وإن قال سدس مالي لفلانٍ ثمّ قال له سدس مالي له السّدس وإن أوصى بثلث دراهمه أو غنمه وهلك ثلثاه له ما بقي ولو رقيقًا أو ثيابًا أو دورًا له ثلث ما بقي وبألفٍ وله عينٌ ودينٌ فإن خرج الألف من ثلث العين دفع إليه وإلّا فثلث العين وكلّما خرج من شيءٍ من الدّين له ثلثه حتّى يستوفي الألف وبثلثه لزيدٍ وعمرٍو وهو ميّتٌ فلزيدٍ كلّه ولو قال بين زيدٍ وعمرٍو ولزيدٍ نصفه وبثلثه ولا مال له له ثلث ما يملك عند موته، وبثلثه لأمّهات أولاده وهنّ ثلاثٌ وللفقراء والمساكين لهنّ ثلاثةٌ من خمسةٍ وسهمٌ للفقراء وسهمٌ للمساكين وبثلثه لزيدٍ وللمساكين لزيدٍ نصفه ولهم نصفه وبمائةٍ لرجلٍ وبمائةٍ لآخر فقال لآخر أشركتك معهما له ثلث كلّ مائةٍ وبأربعمائةٍ له وبمائتين لآخر فقال لآخر أشركتك معهما له نصف ما لكلٍّ منهما وإن قال لورثته لفلانٍ عليّ دينٌ فصدّقوه فإنّه يصدّق إلى الثّلث فإن أوصى بوصايا عزل الثّلث لأصحاب الوصايا والثّلثان للورثة وقيل لكلٍّ صدّقوه فيما شئتم وما بقي من الثّلث فللوصايا ولأجنبيٍّ ووارثه له نصف الوصيّة وبطل وصيّته للوارث وبثيابٍ متفاوتةٍ لثلاثةٍ فضاع ثوبٌ ولم يدر أيًّا والوارث يقول لكلٍّ هلك حقّك بطلت إلّا أن يسلّموا ما بقي فلذي الجيّد ثلثاه ولذي الرّديء ثلثاه ولذي الوسط ثلث كلٍّ وببيت عينٍ من دارٍ مشتركةٍ وقسّم ووقع في حظّه فهو للموصى له وإلّا مثل ذرعه والإقرار مثلها وبألف عينٍ من مالٍ آخر فأجاز ربُّ المال بعد موت الموصي ودفعه صحّ وله المنع بعد الإجازة وصحّ إقرار أحد الابنين بعد القسمة بوصيّة أبيه في ثلث نصيبه وبأمةٍ فولدت بعد موته وخرجا من ثلثه فهما له وإلّا أخذ منها ثمّ منه ولابنه الكافر أو الرّقيق في مرضه فأسلم أو عتق بطل كهبته وإقراره والمقعد والمفلوج والأشلّ والمسلول إن تطاول ذلك ولم يخف منه الموت فهبته من كلّ المال وإلّا فمن الثّلث.

ترجمه: که د يو کس لپاره يې د خپل ټول مال وصيت وکړو او د دويم کس لپاره يې د ثلث مال وصيت وکړو، وارثانو يې جائز ونه ګڼلو، نو د هغه د مال دريمه برخه به د دواړو ترمنځ په نيمايي باندې تقسيمېږي، د **موصٰی له** لپاره به د ثلث څخه زياته برخه نه رسيږي، مګر په محابات، سعايت او دراهم مرسله کې، د خپل زوی د برخې وصيت کول باطل دي، د خپل زوی د برخې په مثل باندې وصيت کول صحيح دي، که د هغه دوه زامن وي، نو هغوی ته به ثلث رسيږي، که د يوې برخې يا د خپل مال يو جزء وصيت يې وکړو، نو د بيان اختيار به وارثانو لره وي، که يو سړي وويل: زما د مال شپږمه برخه د فلاني لپاره ده، بيا يې وويل: د هغه لپاره زما د مال دريمه برخه ده، نو د هغه لپاره به د مال دريمه برخه وي. که يو سړي وويل: زما د مال شپږمه برخه د فلاني لپاره ده، بيا يې وويل: زما د مال شپږمه برخه ده. د هغه لپاره. نو د هغه لپاره به شپږمه برخه وي، که د خپلو دراهمو د ثلث وصيت يې وکړو يا يې د خپلو مېږو (ګډو) د ثلث وصيت وکړو، په هغې کې دوه ثلثه هلاک شول، نو باقي به د **موصٰی له** لپاره وي. که غلام، کپړه يا کور وي، نو د باقي ثلث به وي، که د زرو روپو وصيت يې کړی وي او مال يې لږ نغدې او لږ قرض وي، که زر روپۍ د نغدو دريمه برخه وي، نو دا به هغه ته ورکولی شي، کنه نو د موجود دريمه برخه به ورکول کيږي او کله چې هم د دَين څخه کوم شی موصول شي، نو د هغه لپاره د هغې څخه ثلث وي، ترڅو پورې چې زر روپۍ پوره شي، (که داسې وصيت يې وکړو) چې د مال دريمه برخه د زيد او عمرو لپاره ده، په داسې حال کې چې عمرو مړ شوی وي، نو د مال ټوله دريمه برخه به د زيد لپاره وي، که وې ويل: چې د زيد او عمرو ترمنځ شريکې ده، په داسې حال کې چې عمرو مړ شوی وي، نو د زيد لپاره به نصف ثلث وي او که د چا لپاره د ثلث مال وصيت وکړي، په داسې حال کې چې مال د هغه سره نه وي، نو د هغه به د هغه مال څخه دريمه برخه وي چې د مرګ په وخت يې مالک وي، يو سړي د خپلو ام ولد (بچيانو) لپاره وصيت وکړو او هغه درې کسان وو، دغه شان د فقيرانو او مسکينانو لپاره، نو د امهات الاولاد لپاره به په پنځو برخو کې درې برخې وي، يوه برخه به د فقيرانو لپاره وي او يوه برخه به د مسکينانو لپاره وي، د ثلث مال وصيت يې د زيد او مسکينانو لپاره وکړو. نو د زيد لپاره د ثلث نيمايي وي او نيمايي به د مسکينانو لپاره وي، د سلو وصيت يې د يو کس لپاره وکړو او د سلو وصيت يې د بل کس لپاره وکړو. بيا يې دريم کس ته وويل چې ته مې د دوی سره شريک کړې، نو د دوی څخه به د هر يو کس لپاره د سلو ثلث ملاويږي، که د څلور سوه وصيت يې د يو کس لپاره وکړو او د دوه سوه وصيت يې د دويم کس لپاره وکړو او دريم کس ته يې وويل چې ته مې د دوی سره شريک کړې، نو دوی نه به د هر د برخې نيمايي ملاويږي. که خپلو وارثانو ته يې وويل چې د فلاني په ما باندې قرض دی، هغوی يې تصديق وکړو. نو د هغوی تصديق به تر ثلث پورې کولی شي، که ځينې وصيتونه يې کړي

وي، نو ثلث به وصيت والالپاره جدا کولی شي، دوه ثلثه به د وارثانو لپاره وي، هر يو ته به ويلی شي چې د دوی تصديق وکړئ په دومره اندازه کې چې ستاسو خوښه وي او کوم چې د ثلث څخه پاتې شي. هغه به د وصيتونو لپاره وي. که وصيت يې کړی وي د پردي او خپل وارث لپاره، نو پردي ته به نيمايي وصيت ملاوېږي او د وارث لپاره به وصيت باطل وي، که د متفاوت کپړو وصيت يې د درې کسانو لپاره وکړو. بيا يوه کپړه ضايع شوه او معلومه نه وه چې کومه کپړه ضايع شوه، وارث هر يو ته وايي چې ستا حق هلاک شوی دی. نو وصيت به باطل وي. مګر دا چې هغه باقي ورکړي، نو د ښه والالپاره به دوه ثلثه وي او د کمزوري والالپاره به دوه ثلثه وي او د درميانه والالپاره به د هر يو ثلث وي. که په شريکي کور کې يې د معينې کوټې وصيت وکړو. تقسيم وشو او د هغه په برخه کې واقع شو. نو هغه به د موصٰی له لپاره وي. کنه نو همدومره څمکه به ورکولی شي او اقرار هم ددې په شان دی.

تشريح الفقهِ : قوله ولا يضربُ الخ: د ضرب څخه مراد هغه ضرب دی چې د اهل حساب اصطلاح ده، د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد موصٰی له ته د ميراث د دريمې برخې څخه زياته حصه نه شي ورکولی، خو درې صورتونه داسې دي چې په هغې کې زيات ورکول جائز دي: اول د محابات په صورت کې، دويم د سعايت په صورت کې او دريم د دراهم مرسله په صورت کې.

په عربي لغت کې محابات عطاء ته ويل کيږي، ددې څخه مراد هغه بيع ده چې د عادي ثمن څخه کم وي، د محابات صورت دا دی چې د يو کس دوه غلامان وي چې په هغې کې د يو قيمت دېرش درهمه وي، د دويم قيمت شپېته درهمه وي، اوس هغه کس وصيت وکړو چې دا يو غلام په زيد باندې د لسو درهمو په بدل کې خرڅ کړئ او دويم غلام په عمرو باندې د شلو درهمو په بدل کې خرڅ کړئ، ددې دوه غلامانو څخه بغير د هغه نور هيڅ مال نه وي، نو د زيد په حق کې د شلو درهمو وصيت وشو او د عمرو په حق کې د څلوېښتو درهمو. ددې وجې چې لومړی غلام د دېرشو درهمو و او هغه په لس باندې د خرڅولو حکم وکړو. ددې مطلب دا شو چې هغه زيد ته شل درهم ورکول غواړي، نو د مال دريمه برخه به د دواړو موصٰی له ترمنځ په درې دريمو برخو باندې وېشل کيږي او لومړی غلام به په زيد باندې د شلو درهمو په بدل کې خرڅيږي. لس درهمه به د هغه په حق کې وصيت ګڼل کيږي، دويم غلام به په عمرو باندې د څلوېښتو درهمو په بدل کې خرڅولی شي، دا شل درهمه به د هغه لپاره وصيت ګڼل کيږي. نو زيد او عمرو د مال د دريمې برخې څخه د وصيت په اندازه مال واخيستلو، اګر چې ثلث د وصيت څخه زيات شو.

قوله والسعايةُ الخ: د سعايت صورت دا دی چې موصِي دوه غلامان ازاد کړل، په هغوی کې د يو غلام قيمت دېرش درهمه دی او د دويم غلام قيمت شپېته درهمه دی، ددې دوه غلامانو څخه بغير د هغه

نور مال نشته. نو د اول لپاره د مال د دریمې برخې وصیت وشو او د دویم لپاره د دوه ثلثو وصیت وشو. نو د وصیت برخې به په درې باندې تقسیمېږي. یوه برخه به اول ته ورکول کیږي او دوه برخې به دویم کس ته ورکول کیږي، د دوی لپاره به ثلث مال هم همداسې تقسیمولی شي، لهذا د اول غلام ثلث به ازاد وي چې قیمت یې لس درهمه دی. اوس به هغه په شلو روپو کې سعایت (کوشش) کوي او د دویم غلام ثلث به ازاد وي چې شل درهمه دي. هغه به اوس په څلوېښتو روپو کې سعایت (کوشش) کوي. نو هر موصیٰ له د وصیت په اندازه ضرب کړو. اگر چې په ثلث باندې زیات وي

قوله والدراهمُ المرسلة الخ: د دراهم مرسله څخه مراد هغه دراهم دي چې په هغې کې د ثلث. نصف یا ددې څخه بغیر د نورو شیانو قید نه وي. ددې صورت دا دی چې یو کس د زید لپاره د دېرشو درهمو وصیت وکړو او د عمرو لپاره یې د شپېتو درهمو وصیت وکړو، د هغه ټول مال نوي روپۍ دی. نو وصیت به یې د مال په دریمه برخه کې جاري کیږي، زید او عمرو ته به د وصیت موافق د میراث د دریمې برخې څخه ورکول کیږي.

قوله وبنصیب الخ: یو سړي زید ته وصیت وکړو او داسې یې وویل: "أوصیتُ له بنصیبِ ابني" ما د هغه لپاره د خپل بچي د برخې وصیت وکړو، نو دا د پردي په مال باندې د وصیت کولو له وجې باطل دی، ځکه چې د زوی برخه هغه ده چې هغه ته به د پلار د مړینې وروسته رسیږي، که هغه داسې وویل: (أوصیتُ له بمثلِ نصیب ابني) نو دا به صحیح وي، ځکه چې مثل شی د شي څخه مغایر وي، که د هغه دوه زامن وي، نو موصیٰ له ته به د مال ثلث ملاوېږي، گویا چې هغه موصیٰ له خپل دریم بچی وگڼلو.

قوله وبألفٍ الخ: یو کس د زید لپاره د زر درهمو وصیت وکړو، د هغه ځینې مال په خلکو باندې قرض دی او څه ورسره نغد دی، که زر درهمه د نغدو د دریمې برخې څخه پوره کیږي، نو زید ته به د هغې څخه ورکولی شي. یعنې د هغه میراث نغد مال درې زره روپۍ دی، نو د هغه نغدو روپو څخه به زر درهم موصیٰ له ته ورکولی شي. که د نغد میراث څخه زر روپۍ نه وخي. نو د نغدو روپو په دریمه برخه باندې به فیصله وشي، مثلاً: نغد میراث درې سوه روپۍ دی، نو درې سوه درهمه به موصیٰ له ته ورکولی شي او څومره قرضه چې پکې وصولیږي، د هغې د دریمې برخې څخه به یې زید ته ورکوي. تر درې پورې چې د هغه زر روپۍ خپل حق پوره شي

قوله وبثلثه له الخ: یو کس د زید لپاره د ثلث مال وصیت وکړو، په داسې حال کې چې د موصي سره هیڅ مال نه وي، نو موصیٰ له ته به د هغه د مال ثلث رسیږي هغه وخت چې هغه مړ کیږي او د مرگ په حال کې کوم مال ورسره موجود وي، د هغې څخه به ثلث زید ته ورکول کیږي. برابره خبره ده چې هغه د

وصيت څخه وړاندې ګڼلې وي او که د وصيت څخه وروسته، وجه دا ده چې وصيت عهد استخلاف دی چې د مرګ څخه وروسته وخت ته يې اضافت کيږي او ددې حکم دا دی چې د مرګ څخه وروسته ثابتيږي، نو د مرګ په وخت کې د موجود مال ثلث به ورته رسيږي.

قوله وبثلثه لأُمَّهاتِ الأولَادِ الخ: يو سړي د خپلو درې ام ولد (هلکانو)، فقيرانو او مسکينانو ته د ثلث وصيت وکړو. د شيخينو په نزد به ثلث په پنځه برخو باندې تقسيميږي: درې برخې به امهات الاولاد ته ورکول کيږي. يوه برخه به فقيرانو ته ورکول کيږي او يوه برخه به مسکينانو ته ورکول کيږي. د امام محمد رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد به اوه برخې ترې جوړيږي: ځکه چې د فقيرانو او مسکينانو کلمې جمع استعمال شوي دي او د جمع اقل دوه دي، نو موصٰی له دوه فقيران شوه او دوه مسکينان شول او درې امهات الاولاد شول، لهذا اوه برخې به جوړې شي او په اوه کسانو باندې به تقسيم کړی شي. شيخين رَحِمَهُمَا اللّٰهُ فرمايي چې په الفقراء او المساکين باندې الف لام د جنس دی او الف لام جنسي جمعيت باطلوي، په ظاهره کې د جمع صيغه معلوميږي خو په حقيقت کې مفرد دی.

قوله وبمائةٍ لرجلٍ الخ: موصي د زيد لپاره د سلو درهمو وصيت وکړو، د عمرو لپاره يې هم د سلو وصيت وکړو، بيا يې دريم ته وويل چې ته مې ددې دواړو (زيد او عمرو) سره شريک کړې، نو د دريم کس لپاره به د هر سلګون دريمه برخه وي، ځکه چې دلته د زيد او عمرو دواړو برخې برابرې دي، نو په درې واړو کسانو کې برابري ممکن ده، لهذا هر يو ته به په سلو درهمو کې دوه ثلثه ورسيږي، که موصي زيد ته د څلور سوه درهمو وصيت کړی وي او د عمرو لپاره يې د دوه سوه درهمو وصيت وکړو، بيا يې دريم کس ته وويل چې ماته د دوی دواړو سره شريک کړې، نو دريم کس ته به د هر يو کس د برخې څخه نيمايي (نصف) ملاويږي، ځکه چې دلته د دواړو برخې متفاوت دي، نو د دريم کس شرکت به د دواړو سره په مساوات باندې حمل کولی شي، ددې لپاره چې حتی الامکان د اشتراک په مفهوم باندې عمل وشي.

قوله وثيابٍ الخ: موصي د درې کسانو لپاره د عمده، درميانه او ناقص کپړو وصيت وکړو، يعني د هر يو لپاره يې د يوې يوې کپړې وصيت وکړو، بيا ددې کپړو څخه يوه کپړه ضايع شوه او دا معلومه نه ده چې کومه کپړه ضايع شوې ده، ايا عمده کپړه ضايع شوه، متوسطه ضايع ضوه او که ناقصه؟ د موصي وارثان هر کس ته وايي چې ستا حق ضايع شوی دی، نو دا وصيت به باطل شي. ځکه چې دلته مستحق نشته، مګر دا که د موصي وارثان د باقي کپړو په ورکولو باندې خوښ وي، نو وصيت به صحيح وي، نو د عمده والا لپاره به د عمده کپړې دوه ثلثه ملاويږي او د ناقص والا لپاره به د ناقص دوه ثلثه ملاويږي او متوسط والا ته به د دواړو کپړو يو يو ثلث ملاويږي، ځکه چې د برابری صورت همدا دی.

قوله وببيتٍ الخ: يو کور د دوه کسانو ترمنځ شريکي وي، په دوی دواړو کې يو کس يوه معينه کوټه د يو کس لپاره وصيت کړه، نو مکان به تقسيم وي، که په تقسيم کې دغه معينه کوټه د هغه په حصه ورسيږي، نو بيا خو بيخي هيڅ خبره نشته، هغه کوټه به موصیٰ له ته ورسيږي او که د موصِي په حصه کې واقع نه شي؛ نو په گز باندې به دغه ځمکه ناپ شي او د کوټې په اندازه ځمکه به موصیٰ له ته ورکوي.

قوله وصحّ الخ: د ميراث د تقسيم څخه وروسته د دوه زامنو څخه يو زوی د پلار له لورې د ثلث مال د وصيت اقرار وکړو، نو دا اقرار به د هغه خپلې حصې په ثلث کې جاري کيږي، د هغه په نيمايي حصه کې به نه جاري کيږي، ځکه چې هغه د موصیٰ له لپاره په ټول ميراث کې د ثلث شايع اقرار کړی دی او ترکه د دواړو سره ده، نو هغه د هغه مال په دريمه برخه باندې هم اقرار کړی دی چې د هغه سره دې او د هغه مال اقرار يې هم وکړو چې د هغه د ورور سره دی، نو د هغه اقرار به يوازې د هغه په حق کې قبول وي، نه د هغه د ورور په حق کې.

باب العتق فی المرض

دا باب د مرض الموت په حالت کې د ازادولو په بيان کې دی: په مرض الموت کې ازادي د وصيت د انواعو څخه ده، دا چې په دې وخت کې د غلام ازادولو مخصوص احکام دي، ددې وجې مصنّف رَحِمَهُ اللهُ دا باب د تصريحي وصيت څخه جدا بيان کړو.

تحريره في مرضه ومحاباته وهبته وصيّةٌ ولم يسع إن أجيز فإن حابى فحرّر فهي أحقّ وبعكسه استويا وإن أوصى بأن يعتق عنه بهذه المائة عبدٌ فهلك منها درهمٌ لم تنفذ بخلاف الحجّ وبعتق عبده فمات فجنى ودفع بطلت وإن فدى لا وبثلثه لزيدٍ وترك عبدًا فادّعى زيدٌ عتقه في صحّته والوارث في مرضه فالقول للوارث ولا شيء لزيدٍ إلّا أن يفضل من ثلثه شيءٌ أو يبرهن على دعواه ولو ادّعى رجلٌ دينًا والعبد عتقًا وصدّقهما الوارث سعى في قيمته وتدفع إلى الغريم وبحقوق الله تعالى قدّمت الفرائض وإن أخّرها كالحجّ والزّكاة والكفّارات وإن تساوت في القوّة بدء بما بدأ به وبحجّة الإسلام أحجّوا عنه رجلًا من بلده يحجّ راكبًا وإلّا فمن حيث يبلغ ومن خرج من بلده حاجًّا فمات في الطّريق وأوصى بأن يحجّ عنه يحجّ عنه من بلده والحاجّ عن غيره مثله.

ترجمه: په مرض الموت کې ازادول، په کم قيمت باندې خرڅول او هبه کول د وصيت په حکم کې دی، غلام به سعايت نه کوي که اجازه ورته ملاو شوه، که محابات يې وکړو بيا يې ازاد کړو، نو محابات به مقدم وي او که ددې په عکس صورت وي، نو برابر به وي، که وصيت يې وکړو چې زما له لورې په سل درهمه باندې ازاد کړئ؛ په هغې کې يو درهم هلاک شو، نو وصيت به نافذ نه وي، په خلاف د حج وصيت کولو، که د خپل غلام د ازادی وصيت يې وکړو، بيا موصي مړ شو او غلام يې جنايت وکړو. غلام د

مجنى عليه وارثانو ته ورکول شو، نو وصيت به باطل وي او که فديه ورکول شوه، نو وصيت به باطل نه وي، که د ثلث مال وصيت يې د زيد لپاره وکړو او يو غلام يې پرېښودلى وي، زيد په صحت کې د هغه د ازادۍ دعوه وکړه او وارثانو يې په مرض الموت کې د ازادولو دعوه کول، نو د وارث قول به معتبر وي او د زيد لپاره به هيڅ نه وي، مگر دا چې د هغه د ثلث څخه به لړ پاتې شي يا به هغه شاهدان قائموي په خپله دعوه باندې. که کوم سړي د قرض دعوه وکړه او غلام د ازادۍ دعوه وکړه او وارث د دواړو تصديق وکړو. نو غلام دې خپل قيمت وګټي او هغه دې قرض غوښتونکي ته ورکول شي، که د حقوق الله وصيت يې وکړو، نو فرائض به مخکې وي، اګر چې هغه وروسته ذکر کړي وي، لکه: حج، زکات او کفارات، که هغه په قوت کې برابر وي، نو بيا به د هغه څخه شروع کيږي چې هغه يې شروع کړې ده، د حج په صورت کې به د هغه له لورې حج ادا کوي داسې سړی چې د هغه د ښار څخه وي او سپور به حج ته ځي، که دا امکان ونه لري؛ نو څنګه چې هلته ځان رسولى شي، هغه څوک چې د خپل کور څخه د حج په اراده ووتلو، هغه په لاره کې مړ شو، دا وصيت يې وکړو چې زما له لورې دې حج وکړی شي، نو حج به ادا کولى شي د هغه د ښار څخه او د بل چا له لورې حج کوونکى د هغه په مثل باندې دى.

تشريح الفقهِ : قوله تحريره في مرضه الخ: که څوک په مرض الموت کې غلام ازاد کړي يا محابات وکړي يا يو شى هبه کړي، نو دا عقود په حقيقت کې وصيت نه دی، ځکه چې وصيت ايجاب بعد الموت ته ويل کيږي او دا عقود في الحال واقع کېدونکي دي، خو دا چې په مرض الموت کې واقع کيږي، ددې حکم د وصيت په شان دى، ددې اعتبار به د ثلث مال څخه کيږي، د عتق په صورت کې: که د وارثانو له لورې اجازه ملاو شي، نو غلام به د ځان په خلاصولو کې سعايت نه کوي، ځکه چې د ازادۍ څخه منع کول د وارثانو د حق له وجې و کوم چې د اجازې څخه وروسته ساقط شو.

قوله فإن حابى الخ: ناروغ لومړى محابات وکړو يعنې د دوه درهمو غلام يې په سل درهمه باندې خرڅ کړو، بيا د سلو درهمو غلام ازاد کړو، د مال په دريمه برخه کې د دواړو تصرفاتو ګنجائش نشته، نو ثلث مال به په محاباتو کې مصرف شي. که ددې عکس وي، نو په ثلث مال کې به نصفا نصف وي، د ازاد شوي غلام نيمايي به د هيڅ شي څخه بغير ازاد شي او په نيمايي قيمت کې به سعايت کوي، صاحب محابات به دويم غلام د پنځوسو روپو په ادا کولو سره اخلي، د صاحبينو رَحِمَهُمَا اللهُ په نزد دواړو صورتونو کې به عتق مقدم وي.

قوله وإن أوصى الخ: ناروغ وصيت وکړو چې د سلو درهمو غلام واخلئ او زما له لورې يې ازاد کړئ، بيا څه درهم ضايع شول. نو وصيت به نافذ نه وي، ځکه چې د غلام په قيمت کې د تفاوت له وجې

عبادت متفاوت کيږي، په خلاف د حج چې د هغه وصيت به باطل نه وي، د صاحبينو رَحِمَهُمَااللّٰهُ په نزد به دلته دواړه وصيتونه باطل نه وي.

قوله ويعتق عبده الخ: ناروغ وصيت وکړو چې زما د مړينې څخه وروسته فلانی غلام ازاد کړئ، ناروغ مړ شو او غلام داسې جنايت وکړو چې په بدل کې يې هغه غلام ورکول شو، نو هغه وصيت به باطل وي، ځکه چې د ولي جنايت حق په موصِي او موصیٰ له دواړو باندې مقدم دی، خو که وارثانو د غلام فديه ادا کړه، نو وصيت به باطل نه وي او د وارثانو له لورې فديه ورکول به د هغوی د خپل ذاتي مال څخه وي، ځکه چې فديه ورکول هغوی خپله په ځان باندې لازمه کړې ده، لهذا هغه به متبرع وي.

قوله وبثلثه لزيدٍ الخ: يو سړي د زيد لپاره د ثلث مال وصيت وکړو او هغه يو غلام پرېښودلو چې د هغه په اړه موصیٰ له (زيد) او د ميت وارث دواړه دا اقرار کوي چې مړي هغه ازاد کړی دی، خو د ازادی په وخت کې اختلاف دی: زيد وايي چې هغه د روغتيا او صحت په حالت کې ازاد کړی و (ددې لپاره چې ازادي د ټول مال څخه نافذه شي) او وارث وايي چې د ناروغۍ په حالت کې يې ازاد کړی و، (ددې لپاره چې عتق د مال څخه نافذ شي) په دې صورت کې به د وارث قول معتبر وي، ځکه چې زيد د استحقاق مدعي دی او وارث منکر دی، لهذا زيد ته به هيڅ شی نه ملاويږي، مګر دا چې د ثلث مال څخه کوم شيان زياتي شي، هغه ته به زياتي مقدار ورکول شي، مثلا: ثلث مال سل درهمه دی او د غلام قيمت اتيا درهمه دي، نو زيد ته به شل درهمه ورکولی شي يا به زيد خپله دعوه په شاهدانو سره ثابته کړي چې عتق د صحت په حالت کې شوی دی.

قوله ولوادعی الخ: يو سړي په مړي باندې د قرض دعوه وکړه او د هغه غلام د ازادی دعوه وکړه، د مړي سره د غلام څخه پرته نور هيڅ مال نه وي، دلته وارثانو هم د دواړو تصديق وکړو، نو غلام به په خپل قيمت کې سعايت کوي او هغه قيمت به قرض غوښتونکو ته ورکول کيږي، د صاحبينو رَحِمَهُمَااللّٰهُ په نزد به غلام ازاد شي او سعايت به هم واجب نه شي، فرمايي چې دلته عتق او دَين دواړه د وارث په تصديق سره په يوه خبره ظاهر شول، ګويا چې دواړه يو ځل واقع شول او د روغتيا ازادي موجب د سعايت نه ده، امام صاحب رَحِمَهُاللّٰهُ فرمايي چې د دَين اقرار د عتق د اقرار څخه قوي دی او د ادنیٰ له وجې اقوی نه دفع کيږي، نو دلته پکار ده چې اصل عتق باطل کړی شي، خو دا چې عتق د واقع کېدو څخه وروسته د ماتېدو احتمال نه لري، ددې وجې به دلته غلام سعايت کوي او ځان به خلاصوي.

قوله ومَن خرجَ الخ: يو سړی د حج لپاره ووتلو او په لاره کې يې وصيت وکړو او مړ شو، وصيت يې داسې وکړو چې زما له لورې حج وکړئ؛ د امام صاحب او امام زفر رَحِمَهُمَااللّٰهُ په نزد به د هغه د ښار څخه

حج کولی شي، د صاحبينو، امام شافعي او امام احمد رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد به د دغه خای څخه (کوم خای ته چې هغه رسېدلی دی) حج شروع کولی شي، ځکه چې د حج په نيت باندې سفر کول قربت ګڼل شوی دی، همدومره مقدار دويم ځلي قطع کول د هغه د ذمې څخه ساقط شوی دی، لقوله تعالی: (وَمَن يَخْرُجْ مِن بَيْتِهِ مُهَاجِرًا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ) امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ فرمايي : د هغه عمل د مرګ له وجې باطل شوی دی، پاتې شو ايت کريمه د اخرت د احکاماتو او اجر سره متعلق دی.

باب الوصيّة للأقارب وغيرهم

دا باب د خپلوانو او پرديو لپاره د وصيت په بيان کې دی: په دې باب کې د يو مخصوص قوم لپاره د وصيت کولو ذکر دی، ددې څخه په وړاندينيو بابونو کې بالعموم د وصيت احکام ذکر شو، دا معلومه خبره ده چې خاص د عام څخه وروسته راځي، ددې وجې يې دا باب وروسته ذکر کړو.

جيرانه ملاصقوه وأصهاره كلّ ذي رحمٍ محرمٍ من امرأته وأختانه زوج كلّ ذي رحمٍ محرمٍ منه وأهله زوجته وآله أهل بيته وجنسه أهل بيت أبيه وإن أوصى لأقاربه ولذوي قرابته أو لأرحامه أو لأنسابه فهي للأقرب فالأقرب من كلّ ذي رحمٍ محرمٍ منه ولا يدخل الوالدان والولد والوارث وتكون للإثنين فصاعدًا فإن كان له عمّان وخالان فهي لعمّيه ولو عمٌّ وخالان كان له النّصف ولهما النّصف ولو عمٌّ وعمّةٌ استويا ولولد فلانٍ للذّكر والأنثى على السّواء ولورثة فلانٍ للذّكر مثل حظّ الأنثيين.

ترجمه: د موصي ګاونډيان هغه خلک دي چې کور يې ورسره لګېدلی وي، اصهار هغه دي چې د مېرمنې ذي رحم محرم وي، زومان هغه دي چې د محرمو ښځو خاوندان (د ژوند ملګري يې) وي، د هغه اهل خپله مېرمن ده، د هغه آل د کورنۍ غړي دي، جنس يې د پلار خاندان دی، که وصيت يې وکړو خپلوانو ته يا نژدې رشته دارو ته يا ذوي الارحام ته يا د خپلې کورنۍ غړو ته، نو هغه به د ذي رحم محرم څخه الاقرب فالاقرب ته ملاوېږي، مور - پلار او بچيان به پکې داخل نه وي، د دوه او زياتو لپاره به وي، که د هغه دوه تره ګان او دوه ماماګان وي، نو وصيت به يې تره ګانو لپاره وي، که يو تره او دوه ماماګان يې وي، نو د تره لپاره به نيمايي وي او د دواړو ماماګانو لپاره به هم نيمايي وي، که يو تره او يوه امه (عمه) وي، نو دواړه به برابر وي، که د فلاني د اولاد لپاره يې وصيت وکړو، نو مذکر او مؤنث به برابر وي او که د فلاني د وارثانو لپاره يې وصيت وکړو؛ نو د سړو لپاره به د دوه ښځو په اندازه حصه وي.

تشريح الفقه: **قوله جيرانه ملاصقوه الخ**: يو سړي د خپلو ګاونډيانو لپاره وصيت وکړو، د امام صاحب او امام زفر رَحِمَهُمَا اللهُ په نزد به په دې کې هغه خلک داخل وي چې د هغه د کور سره نژدې وي، د

صاحبينو رَحِمَهُمَااللهُ په نزد به ټول هغه خلک پکې داخل وي چې د هغه په کوڅه کې اوسيږي او په جومات کې لمونځ ورسره کوي، د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ قول په قياس باندې مبني دی او د صاحبينو رَحِمَهُمَااللهُ قول په استحسان باندې مبني دی، امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې جار د مجاورت څخه اخيستل شوی دی او د مجاورت اصلي معنی ملاصقت دی، همدا وجه ده چې د شفعې استحقاق د همدې جوار له وجې دی، د استحسان وجه دا ده چې په عرف کې دې ټولو ته جيران ويل کيږي، د حديث شريف څخه هم ددې تاييد کيږي: (لاصلوة لجارِ المسجدِ إلّا فِي المسجدِ) د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد ګاونډيان تر څلوېښتو کورونو پورې وي. (هره خوا)

قوله وأصهاره الخ: که څوک خپلو اصهارو ته وصيت وکړي، نو په دې کې به هغه خلک داخل وي چې د مېرمنې رشته داران يې وي، که: د مېرمنې پلار، نيکه، تره، ماما، خوندي او داسې نور.... د صهر دا تفسير امام محمد رَحِمَهُ اللهُ کړی دی، په برهان وغيره کې يې په دې باندې يقين ظاهر کړی دی او په شرنبلاليه کې هم دا قول ثابت کړی دی، زيات علماء په دې باندې متفق دي چې د لغت په اړه د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ قول حجت دی، لکه ابوعبيده رَحِمَهُ اللهُ په خپل کتاب "غريب الحديث" کې د هغه په قول باندې ځای په ځای استشهاد کړی دی، په صحاح کې وايي: (الأصهار أهلُ بيتِ المرأةِ) فخر الاسلام بزدوي په شرح زيادات کې ويلي دي چې د مهر اطلاق کله په ختن باندې هم کيږي. (أي بدليل قولهم)

په روايت کې راغلي چې جويره بنت حارث رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د ثابت بن قيس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په برخه کې ورسېده، هغه ورسره عقد مکاتبت وکړو، دا د بدل کتابت ادا کولو لپاره رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغله، هغه ورسره عقد نکاح وکړه، کله چې صحابه کرامو دا واورېدل، نو د جويريه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ټول خپلوان يې ازاد کړل، ځکه چې دوی ټول د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په خسرګنی کې راغلل.

باب الوصيّة بالخدمة والسّكنى والثّمرة

دا باب د خدمت، اوسېدو او مېوو د وصيت په بيان کې دی: هر کله چې مصنّف رَحِمَهُ اللهُ د اعيانو د وصيت څخه فارغ شو، نو اوس يې د منافع سره متعلق شيانو په وصيت کې شروع وکړه، ددې باب د وروسته ذکر کولو وجه دا ده چې منافع وجودا د اعيان څخه وروسته وي، نو مصنّف رَحِمَهُ اللهُ وضعا هم وروسته کړه، ددې لپاره چې وضع د وجود سره مطابق شي.

وتصحّ الوصيّة بخدمة عبده وسكنى داره مدّةً معلومةً وأبدًا فإن خرج العبد من ثلثه سلّم إليه ليخدمه وإلّا خدم الورثة يومين والموصى له يومًا وبموته يعود إلى ورثة الموصي ولو مات في حياة الموصي بطلت وبثمرة

بستانه فمات وفيه ثمرةٌ له هذه الثّمرة وإن زاد أبدًا له هذه الثّمرة وما يستقبل كغلّة بستانه وبصوف غنمه وولدها ولبنها له الموجود عند موته قال أبدًا أولا.

ترجمه: د خپل غلام د خدمت وصيت صحيح دى، د خپل كور د اوسېدو تر معين وخت پورې او د تل لپاره، كه غلام د ثلث مال څخه ووتلو، نو هغه ته به وركولى شي، ددې لپاره چې د موصىٰ له خدمت وكړي، كنه نو دوه ورځې به د وارثانو خدمت كوي او يوه ورځ به د موصىٰ له خدمت كوي، د موصىٰ له په مرګ سره به بېرته د موصي وارثانو ته واپس شي، كه هغه د موصي په ژوند كې وفات شي، نو وصيت به باطل وي، كه د خپل باغ د مېوو وصيت يې وكړو، بيا مړ شو او په باغ كې مېوې وي، نو د موصىٰ له لپاره به همغه مېوه وي او لفظ د (أبدًا) يې ورسره زياتي كړى وي، نو د هغه لپاره به هغه مېوه وي چې اوس موجوده وي او كومه چې اينده پيدا كېږي، لكه د باغ د حاصلاتو وصيت كول، كه د خپلې مېږې د وړې وصيت يې وكړو يا يې د هغې د بچي وصيت وكړو يا يې د هغې د شيدو وصيت وكړو، نو د موصىٰ له لپاره به هغه څه وي چې اوسمهال د موصي د مرګ په وخت كې موجود وي، برابره خبره ده چې موصِي أبدًا ويلى وي او كه نه.

تشريح الفقهِ: **قوله وتصحّ الوصيّة بخدمة الخ**: د غلام د خدمت او په كور كې د اوسېدو وصيت كول صحيح دي، اوس كه غلام او كور د موصي ثلث مال وي، هغه به موصىٰ له ته وركولى شي، كه ثلث مال نه وي، نو كور به په درې برخو باندې تقسيميږي: يو ثلث به موصىٰ له ته وركول كيږي او دوه ثلثه به وارثانو ته وركوي، ځكه چې د موصىٰ له حق ثلث دى، د وارثانو حق په دوه ثلثه كې دى، د غلام تقسيم ناممكن دى، ددې وجې به په غلام كې نمبر مقرر كولى شي، لهذا غلام به يوه ورځ د موصىٰ له خدمت كوي او دوه ورځې به د وارثانو خدمت كوي، بيا كه غلام د موصىٰ له په ژوند كې مړ شي، نو وصيت به ختم شي، ځكه چې مستحق به ختم شي او وصيت په منافعو كې د موصي ملكيت نه زائله كوي، ددې وجې به د مستحق د مړينې وروسته د غلام او مكان مالک د موصي وارثان وي.

قوله كغلّةِ بستانه الخ: د مېوې او غلې په مسئله كې فرق دا دى چې په عرف كې مېوه هغه ته ويل كيږي چې موجود وي، نو دا به بغير د ولايت زائده معدوم ته شامل نه وي، په خلاف د غلې چې ددې اطلاق په دواړو باندې كيږي، يعني په هغه باندې هم د غلې اطلاق كيږي چې بالفعل موجود وي او په هغې باندې يې هم اطلاق كيږي چې اينده پيدا كيږي، لكه ويل كيږي : فلانى سړى د خپلې غلې څخه خوراک كوي. (يعني د خپل لاس ګټه خوري).

باب وصيّة الذّمّيّ

دا باب د ذمي د وصيت په بيان کې دی: هر کله چې مصنّف رَحِمَهُ اللهُ د مسلمانانو د وصيت د احکاماتو څخه فارغ شو، نو اوس يې شروع وکړه د ذميانو د وصيت په باره کې، ځکه چې په معاملات کې ذميان د مسلمانانو تابع دي او مسلمانان متبوع دي او تابع د متبوع څخه وروسته وي.

ذمّيٌّ جعل داره بيعةً أو كنيسةً في صحّته فمات فهي ميراثٌ وإن أوصى بذلك لقومٍ مسمّين فهو من الثّلث وبداره كنيسةً لقومٍ غير مسمّين صحّت كوصيّة حربيٍّ مستأمنٍ بكلّ ماله لمسلمٍ أو ذمّيٍّ

ترجمه: يو ذمي د خپل کور څخه بيعه يا کنيسه د خپلې روغتيا په حالت کې جوړه کړه، بيا مړ شو، نو کور به يې ميراث وي، که ددې شيانو وصيت يې د معين قوم لپاره وکړو، نو اعتبار به يې د ثلث څخه وي، که د خپل کور وصيت يې د غير معين قوم لپاره وکړو چې کنيسه دې ترې جوړه کړي، نو دا وصيت صحيح دی، لکه د مستامن کافر وصيت کول د خپل ټول مال د کوم مسلمان يا ذمي لپاره.

تشريح الفقه: قوله ذمّيٌّ جعل داره الخ: يو ذمي په خپله روغتيا کې خپل کور د بيعه (د يهوديانو عبادت خانې) يا کنيسه (د عيسويانو عبادت خانې) جوړولو لپاره ورکړو، بيا مړ شو، نو مکان به يې وارثانو ته ميراث پاتې وي، د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد دليل دا دی چې دا د وقف غير مسجل په شان دی او د صاحبينو رَحِمَهُمَا اللهُ په نزد وجه دا ده چې ددې جوړول معصيت (ګناه) ده.

سوال: د ذميانو لپاره د کنيسه يا بيعه جوړول داسې دي لکه د مسلمانانو لپاره چې د جومات جوړول څنګه دي، د جومات نه خرڅول جائز دي او نه په دې کې وراثت جاري کيږي، نو بيعه هم داسې پکار ده.

ځواب: د دوی بيعه او کنيسه داسې نه ده، لکه د مسلمانانو جومات، ځکه چې دوی په بيعه کې ژوند تېروي او مړي پکې ښخوي او زموږ جومات که داسې شي، نو په هغې کې هم وراثت جاري کيږي، ځکه چې دا به خالص د الله تعالى لپاره جومات پاتې نه شي.

قوله وإن أوصى الخ: که ذمي وصيت وکړو چې زما د کور څخه بيعه يا کنيسه جوړه کړئ، دا وصيت يې د مخصوصو کسانو لپاره وکړو، نو دا وصيت به د مال د ثلث څخه جاري کيږي او د موصى لهم لپاره به تمليک وګرځول شي، که وصيت د غير متعين خلکو لپاره شوی وي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد دا وصيت هم صحيح دی، د صاحبينو رَحِمَهُمَا اللهُ په نزد صحيح نه دی، ځکه چې دا معصيت دی او د معصيت وصيت پوره کول جائز نه دي، امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې دا في نفسه معصيت دی؛ خو د دوی په اعتقاد کې عبادت دی او موږ هغوی د دوی په عقيده پرېښودلو باندې مامور يو.

باب الوصيّ

دا باب د وصي په بيان کې دی: هر کله چې مصنف رَحِمَهُ اللهُ د موصٰى له د احکاماتو څخه فارغ شو، نو اوس يې شروع وکړه د وصي په احکاماتو کې، دا چې د موصٰى له احکامات د زياتوالي له وجې د معرفت محتاج وو، ددې وجې يې د موصٰى اليه د احکاماتو څخه مخکې ذکر کړل.

أوصى إلى رجلٍ فقبل عنده وردّ عنده يرتدّ وإلّا لا ويبيعه التّركة كقبوله وإن مات فقال لا أقبل ثمّ قبل صحّ إن لم يخرجه قاضٍ مذ قال لا أقبل وإلى عبدٍ وكافرٍ وفاسقٍ بدل بغيرهم وإلى عبده، وورثته صغارٌ صحّ وإلّا لا ومن عجز عن القيام بها ضمّ إليه غيره وبطل فعل أحد الوصيّين في غير التّجهيز وشراء الكفن وحاجة الصّغار والاتّهاب لهم وردّ وديعة عينٍ وقضاء دينٍ وتنفيذ وصيّةٍ معيّنةٍ، وعتق عبدٍ عيّن والخصومة في حقوق الميّت ووصّى الوصيّ وصيّ التّركتين وتصحّ قسمته عن الورثة مع الموصى له ولو عكس لا فلو قاسم الورثة، وأخذ نصيب الموصى له فضاع رجع بثلث ما بقي وإن أوصى الميّت بحجّةٍ فقاسم الورثة فهلك ما في يده أو دفع إلى من يحجّ عنه فضاع في يده حجّ عن الميّت بثلث ما بقي وصحّ قسمة القاضي وأخذه حظّ الموصى له إن غاب ويبيع الوصيّ عبدًا من التّركة بغيبة الغرماء وضمن الوصيّ إن باع عبدًا أوصى ببيعه وتصدّق بثمنه إن استحق العبد بعد هلاك ثمنه عنده ويرجع في تركة الميّت وفي مال الطّفل إن باع عبده، واستحق وهلك الثّمن في يده وهو على الورثة في حصّته وصحّ احتياله بماله لو خيرًا له ويبيعه وشراؤه بما يتغابن ويبيعه على الكبير في غير العقار ولا يتّجر في ماله ووصيّ الأب أحقّ بمال الطّفل من الجدّ فإن لم يوص الأب فالجدّ كالأب.

ترجمه: يو کس يې وصي جوړ کړو او هغه دده په وړاندې قبول کړو او بېرته يې رد کړو، نو رد کولى به شي، کنه نو نه به شي رد کولى، د موصي ميراث د وصي په لاس باندې خرڅول د وصيت د قبلولو په شان دی، که موصي مړ شي او وصي ووېل: زه يې نه قبلوم او لږ وروسته يې بيا قبول کړي، نو صحيح به وي، که قاضي لرې کړی نه وي تر کومه پورې چې هغه (لا اقبلُ) ويلى وي، که غلام، کافر يا فاسق يې وصي جوړ کړو، نو قاضي دې بدل کړي او بل دې مقرر کړي، که خپل غلام يې وصي وټاکلو، په داسې حال کې چې خپل وارثان يې کشران وي، نو صحيح به وي، کنه نو صحيح به نه وي، څوک چې د وصيت پوره کولو څخه عاجزه وي، نو قاضي دې کوم بل کس د هغه سره يو ځای کړي، د دوه وصيانو څخه د کوم يو کس فعل به باطل وي، په تجهيز، تکفين، کفن او د نابالغو ضروريات د هغوی لپاره اخيستلو، هبه قبلولو، معين امانت واپس کول، قرض ادا کولو او معين وصيت نافذولو، معين غلام ازادولو او د مړي په حقوقو کې د ځواب ورکولو څخه په علاوه کې، د وصي وصي د دواړو ميراثونو وصي وي، د وصيت تقسيم به د وارثانو له لورې د موصٰى له سره صحيح وي، که ددې عکس وي، بيا به صحيح نه وي، که د وارثانو سره

یې تقسیم وکړو او د موصیٰ له حصه یې واخیستل او هغه ضایع شوه، نو ثلث باقي دي واخلي، که میت د حج وصیت وکړو او وصي مال تقسیم کړو، بیا هغه مال ضایع شو چې د وصي په لاس کې و، یا یې هغه کس ته ورکړو چې د هغه له لورې حج کوونکی و، بیا د هغه د لاس څخه هم ضایع شو، نو د میت له لورې به د ثلث مابقي څخه حج کولی شي او د قاضي تقسیم به صحیح وي، د قاضي له لورې د موصیٰ له حصه اخیستل (چې غائب وي) د هغه لپاره صحیح دي او (صحیح دي) د وصي میراث غلام خرڅول د قرض غوښتونکو په غیاب کې، وصي به ضامن وي که خرڅ یې کړو هغه غلام چې د خرڅولو او روپو د خیرات کولو وصیت یې کړی و، که د غلام ثمن د وصي سره د هلاکت وروسته د غلام مستحق پیدا شو او هغه د مړي د میراث څخه واخلي، د ماشوم په مال کې که هغه غلام ترې خرڅ کړی وي، هغه د کوم بل کس غلام وخیږي او ثمن د هغه په لاس کې هلاک شوی وي، ماشوم د وارثانو څخه د خپلې حصې په اندازه واخلي، د نابالغ مال د وصي له لورې حواله کول صحیح دي که د هغه لپاره غوره وي، د هغه خرڅول او اخیستل په دومره نقصان کې چې خلک پکې دوکه کیږي، د بالغ د یو شي خرڅول د ځمکې څخه علاوه صحیح دي، د موصِي په مال کې به تجارت نه کوي او د پلار وصي زیات حقدار دی د ماشوم په مال کې د نیکه څخه، که پلار وصي نه وي تاکلی، نو نیکه به د پلار په شان وي.

تشریح الفقهِ: **قوله فقبلَ عنده الخ**: یو سړي بل کس خپل وصي مقرر کړو، هغه د وصي په وړاندې وصي کېدل ومنل، بیا یې د هغه په وړاندې انکار وکړو، نو په دې انکار سره به وصایت رد شي، اوس به هغه وصي پاتې نه شي، که د هغه پسې شا رد وکړي، نو وصي کېدل به رد نه وي، بلکې هغه به اوس هم وصي وي.

قوله فقالَ لا أقبلُ الخ: که موصي مړ شي او وصي ووایي چې ماته وصایت د منلو وړ نه دی، بیا یې قبول کړي؛ نو دا به صحیح وي، په دې شرط چې قاضي د هغه د انکار له وجې د وصي جوړېدو څخه برطرفه کړی نه وي، په دې وجه چې د هغه صرف (لا أبطلُ) ویل مبطل د ایصاء به نه وي، ځکه چې په دې کې د مړي نقصان دی او د وصیت په پاتې کېدو کې د موجود وصي نقصان دی. هغه د ثواب په ذریعه پوره کیږي.

فایده: د وصایا معامله د خطر څخه ډکه او کما حقه یې ادا کول ډېر ګران کار دی، ددې وجې څومره چې ممکنه وي، ددې څخه ځان ساتل پکار دي، د امام ابویوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ څخه روایت دی چې په دې کې لومړی ځل قدم کېښودل غلطي ده، دویم ځل داخلېدل خیانت دی او دریم ځل اختیارول سرقه (غلا) ده، امام حسن رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمایي: وصي کما حقه عدل نه شي کولی، اګر چې هغه عمر بن خطاب (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ) ولې

نه وي؟ ابو مطيع وايي: ما په شل كلنۍ د قضاء په موده كې داسې څوک هم ونه ليدل چې د خپل ورور په مال كې د عادل په شان معامله ترسره كړي.

قوله بدل الخ: يو سړي د بل كس غلام يا كافر يا فاسق خپل وصي وټاكلو، نو قاضي دي هغه لرې كړي او دويم وصي دي د هغه په ځاى باندې وټاكي، ځكه چې دا وصايت باطل دى، لكه د مذكور كتاب څخه معلوميږي، خو د قدوري د عبارت څخه معلوميږي چې وصايت يې صحيح دى؛ خو قاضي دي ختم كړي: (أخرجهم القاضي عن الوصيةِ) ځكه چې اخراج د دخول څخه وروسته راځي.

قوله صغار الخ: كه د چا وارثان ماشومان وي، هغه خپل غلام وصي مقرر كړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد دا صحيح دى، د صاحبينو رَحِمَهُمَا اللَّهُ په نزد صحيح نه دى، د قياس تقاضا هم دا ده چې بايد صحيح نه شي، ځكه چې رقيت (غلامي) د ولايت سره منافات لري، د استحسان وجه دا ده چې د هغه غلام دده په بچيانو څومره مهربان وي، شايد بل كس داسې نه وي.

قوله وبطلَ الخ: كه څوک دوه كسان وصيان مقرر كړي، نو د صاحبينو رَحِمَهُمَا اللَّهُ په نزد د يو وصي تصرف د بل وصي په غير موجودگۍ كې جائز نه دى، ځكه چې تفويض په كوم صفت سره موصوف وي، د هغې خيال ساتل په همغه طريقه ضروري دي، دلته تفويض د اجتماع (دواړو يو ځاى كېدو سره) مشروط دى، يعنې موصي د دواړو په فعل باندې خوښ دى، نه دا چې د يو په كار باندې او د دواړو څخه په يو حالت كې په صحيح طريقه صحيح كېدى هم نه شي، د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد په هر كار كې د دوى دواړو څخه د يو كس فعل داسې دى لكه دواړو چې كړى وي.

قوله ووصي الوصيّ الخ: زيد عمرو وصي جوړ كړى و، عمرو تر خپل مرگه پورې بكر ته وصايت وسپارلو، نو بكر به د زيد او عمرو دواړو وصي وي، امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي چې هغه به د ميت اول د ميراث وصي نه وي، ځكه چې ميت هغه د تصرف وصي جوړ كړى دى، نه د ايصاء لپاره، موږ وايو: وصي د هغه ولايت له وجې تصرف كوي چې هغه ته يې انتقال شوى دى او په ولايت منتقله كې بل كس خپل قائم مقام جوړول صحيح دي، لكه د نكاح په باب كې چې كله ولايت د پلار څخه نيكه ته منتقل شي، نو د پلار په شان نيكه لپاره جائز دي چې هغه خپله نكاح سر ته ورسوي يا يې په بل كس باندې وكړي.

قوله وتصحُّ الخ: موصي زيد ته د څه مال وصيت وكړو، د موصي څوک وارث موجود نه وي، نو وصي د وارثانو له لورې د هغوى حصه د موصىٰ له د حصې څخه جدا كولى شي، كه موصىٰ له نه وي او وارث وي، نو د موصىٰ له حصه په وارثانو باندې نه شي تقسيمولى.

قوله وصحّ إحتياله الخ: که د ماشوم مال د زيد په ذمه وي، هغه يې په عمرو باندې حواله کړي، نو د وصي لپاره به ددې حوالې قبلول جائز وي، په دې شرط چې د ماشوم په حق کې غوره وي، مثلاً: محتال عليه شتمن وي او د هغه څخه د مال زر ملاوېدو اميد او يقين وي.

قوله ووصيُّ الأبِ الخ: زموږ په نزد د ماشوم په مال کې د تصرف کولو لپاره د نيکه څخه د پلار وصي زيات حقدار دی، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد نيکه زيات حقدار دی، موږ وايو: د وصايت په بناء د پلار ولايت وصي ته منتقل کيږي، ګويا معنوي توګه د پلار ولايت موجود دی، لهذا هغه به مخکې وي، لکه څنګه چې پلار موجود وي، نو هغه به په نيکه باندې مقدم وي، پرته له دې چې د نيکه په موجودګی کې د پلار له لورې دويم کس وصي جوړول په دې باندې دلالت کوي چې د هغه د اولاد په حق کې د نيکه په نسبت وصي زيات ګټه ورته رسوي.

فصلٌ في الشّهادة

دا فصل د (وصيانو) د شهادت په بيان کې دی: هر کله چې مصنّف رَحِمَهُ اللهُ د وصيت د بيان څخه فارغ شو، نو اوس يې د شهادت په بيان کې شروع وکړه، دا چې وصيت اصل دی او په دې کې شهادت يو عارض دی او عارض وروسته ذکر کيږي، ددې وجې د شهادت احکام هم وروسته ذکر شول.

شهد الوصيّان أنّ الميّت أوصى إلى زيدٍ معهما لغت إلّا أن يدّعى زيدٌ وكذا الابنان وكذا لو شهدا الوارثٍ صغيرٍ بمالٍ أو لكبيرٍ بمال الميّت ولو شهد رجلان لرجلين على ميّتٍ بدينٍ ألف درهمٍ، وشهد الآخر أنّ للأوّلين بمثله تقبل وإن كانت شهادة كلّ فريقٍ بوصيّة ألفٍ لا.

ترجمه: ذوه وصيانو شهادت ورکړو چې مړي زيد وصي جوړ کړی دی زموږ سره. نو دا شهادت به لغو وي، مګر دا چې زيد هم دعوه وکړي، دغه شان د دوه زامنو شاهدي ده. دغه شان که دواړو د مړي په مال کې شاهدي ادا کړه د نابالغ وارث لپاره او که دوه کسانو شهادت اذا کړو د دوه نورو کسانو لپاره د مړي په مال کې د زر روپۍ قرضو او دې دواړو شاهدي ادا کړه د دوه لپاره د زر روپۍ، نو قبلولی به شي او که د هرې ډلې شاهدي په زر روپۍ وصيت باندې وي، نو قبولې به نه وي.

تشريح الفقهِ: **قوله شهد الوصيّان الخ**: دوه کسانو شاهدي ادا کړه چې ميت زموږ سره زيد هم وصي جوړ کړی و، نو دا شهادت به لغو وي، ځکه چې هغوی غواړي د ځان سره ملګری پيدا کړي او په دې کې د هغوی ګټه ده، خو د تهمت څخه خلاصېدی نه شي، دغه شان که د ميت دوه زامن شاهدي ادا کړي چې زموږ پلار فلانی سړی وصي جوړ کړی دی، نو دا به هم لغو وي، ځکه چې هغوی هم د ميراث مال لپاره محافظ ګوري چې د دوی ګټه پکې وي، خو دا په هغه صورت کې دی چې هغه کس (چې

زامن يې د وصي کېدو شاهدي خپله ادا کوي، د وصايت څخه انکار کوي، که هغه د وصي کېدو دعوه کوي، نو په دواړو مسئلو کې به يې شهادت قبول وي.

قوله وكذا لو شهدا الخ: دغه شان که دوه وصيان د وارث ماشوم په مال کې شاهدي ادا کړي، (برابره خبره ده چې ماشوم ته دغه مال په ميراث کې پاتې شوی وي يا ورته چا هبه کړی وي) يا د لوی وارث لپاره د ميت د مال شاهدي ادا کړي، نو دا شهادت به هم لغو وي، ځکه چې دوی په لومړي صورت کې د ولايت تصرف او په دويم صورت کې د ولايت حفظ مدعيان دي، په دې صورتونو کې په دوی باندې تهمت لګېدی شي.

قوله ولو شهد رجلانِ الخ: دوه کسانو د دوه نورو کسانو په اړه شاهدي ادا کړه چې د ميت په ذمه د دوی زر زر روپۍ قرض دي او همدا شاهدي دوی دواړو د دوه نورو لپاره ورکړې وه، نو د طرفينو په نزد دا دواړه شهادتونه صحيح دي، ځکه چې دَين واجب في الذمه وي او په دې کې مختلف حقوق واجب کېدی شي، مګر دا چې د دوی څخه هره ډله د بلې ډلې لپاره د زرو روپو وصيت شاهدي ادا کړي، نو دا شهادت به مقبول نه وي، ځکه چې په دې کې دوی باندې تهمت لګيږي.

كتاب الخنثى

دا کتاب د خنثی د احکاماتو په بيان کې دی: خنثی د فُعلی په وزن دی او د تخنّثَ څخه اخيستل شوی دی، د خنثی په اندامونو کې نرمي او ماتېدل وي، خنثی په اصطلاح کې هغه مولود ته ويل کيږي چې د نارينه او ښځينه دواړو شرمګا ولري.

د مخکې بحث سره يې مناسبت دا دی چې اصل په انسان کې دا ده چې يوه آله ولري، غالبا هم داسې موجوديږي، د دوه آلو وجود نادر دی او غالب الوجود په نادر الوجود باندې مقدم وي.

هو من له فرجٌ وذكرٌ فإن بال من الذّكر فغلامٌ وإن بال من الفرج فأنثى وإن بال منهما فالحكم للأسبق وإن استويا فمشكلٌ ولا عبرة بالكثرة فإن بلغ وخرجت له لحيةٌ أو وصل إلى النّساء فرجلٌ وإن ظهر له ثديٌ أو لبنٌ أو حاض أو حبل أو أمكن وطؤه فامرأةٌ وإن لم يظهر له علامةٌ أو تعارضت فمشكلٌ فيقف بين صفّ الرّجال والنّساء وتبتاع له أمةٌ تختنه فإن لم يكن له مالٌ فمن بيت المال ثمّ تباع وله أقلّ النّصيبين فلو مات أبوه، وترك ابنًا له سهمان، وللخنثى سهمٌ.

ترجمه: خنثی هغه دی چې ذکر او فرج دواړه ولري، لهذا که هغه په ذکر باندې متيازې وکړي، نو نارينه دی او که په فرج باندې متيازې وکړي، نو ښځه ده، که په دواړو باندې متيازې کوي، نو حکم به ددې څخه لګولی شي چې مخکې يې په کومه آله باندې کوي، که د دواړو څخه برابر خارجيږي، نو دې ته

خنثىٰ مشكل وايي او د زياتو متيازو اعتبار نشته، كه هغه بالغ شي او ږيره يې راوخيږي يا دا چې د ښځې سره په جماع باندې قادر وي، نو دا سړى دى، كه تيان يا شيدې يا د حيض ناروغي ورته راغله يا يې حمل ونيولو يا د هغه سره وطي ممكن وي، نو هغه به ښځه وي، كه هيڅ نښه ښكاره نه وي يا دا چې متعاضې نښې ومونډل شي، نو هغه به مشكل وي، هغه به د نارينه او ښځو د صف په منځ كې دريږي، هغه ته وينزه اخيستلى شي چې د هغه سنتي (ختنه) وكړي، كه د هغه سره خپل مال نه وي، نو د بيت المال په روپو دې وينزه واخلي بيا دې خرڅه كړي او د هغه لپاره به د دوه برخو څخه كمه برخه وي، كه د هغه پلار مړ شي او يو زوى ترې پاتې شو، نو د زوى لپاره به دوه برخې او د خنثىٰ لپاره به يوه برخه وي.

تشريح الفقهِ : **قوله هو من له فرجٌ وذكرٌ الخ**: مخنث هغه دى چې ذكر او فرج دواړه ولري، كه په ذكر باندې تشې متيازې كوي، نو مذكر به منل كيږي او دويمه علامه يې په تيانو ختلو باندې محمول ده او كه په فرج باندې تشې متيازې كوي، نو مؤنث به منل كيږي او دويمه علامه به يې ثلول (مسه) وي، په روايت كې دي چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ څخه د خنثىٰ په باره كې پوښتنه وشوه : (كيفَ يورثُ؟) رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل : (مِنْ حيثُ يبولُ) د علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه هم داسې روايت موجود دى، كه په دواړو باندې تشې متيازې كوي، نو بيا مخكې متيازې كولو ته اعتبار دى، څكه چې دا به د هغه په اصلي اندام باندې يو ښكاره دليل وي، كه د دواړو څخه په يو ځل باندې وځي، نو ددې معامله بيا مشكله ده، صاحبين رَحِمَهُمَا اللهُ فرمايي چې د زياتو متيازو اعتبار به وي، څكه چې كثرت خروج بول هم د اصالت عضو لپاره يو دليل دى، امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې كثرت خروج د لارې د خلاصوالي علامه ده، نه دا چې د اصالت عضو لپاره دليل.

قوله وله أقلّ الخ: د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد به خنثىٰ ته اقل النصيبين وركولى شي، يعنې كتل كيږي به : كه مونږ يې نارينه فرض كړو، نو څومره ميراث ورته رسيږي او كه مؤنث يې فرض كړو، نو څومره ميراث ورته رسيږي، لهذا په دې دواړو برخو كې چې كومه كمه برخه وي، هغه به ورته ملاويږي، كه په يو تقدير باندې محرومه كېده؛ نو هيڅ شى به ورته نه ملاويږي، كه د خنثىٰ پلار د هغې سره يو بل زوى پريږدي او مړ شي، نو زوى ته به دوه برخې رسيږي او خنثىٰ ته به يوه برخه رسيږي، د صاحبينو مسلك دا دى چې نيمايي برخه به ورته د مذكر رسيږي او نيمايي برخه به ورته د مؤنث ملاويږي.

مسائل شتّٰى

دا د متفرقو مسائلو بيان دى : د مصنّفينو عادت دا دى چې د مخكينيو بابونو سره متعلق داسې نادرې مسئلې چې د كوم خاص باب سره ربط نه لري، هغه ددې عنوان لاندې ذكر كوي، مصنّف رَحِمَهُ اللهُ د كتاب د شروع څخه تر اوسه پورې د هرو ابوابو نادرې مسئلې ذكر كړې.

إيماء الأخرس، وكتابته كالبيان بخلاف معتقل اللّسان في وصيّةٍ ونكاحٍ وطلاقٍ وبيعٍ وشراءٍ وقودٍ لا في حدٍّ غنمٌ مذبوحةٌ وميّتةٌ فإن كانت المذبوحة أكثر تحرّى وأكل، وإلّا لا لفّ ثوبٌ نجسٌ رطبٌ في ثوبٍ طاهرٍ يابسٍ فظهرت رطوبته على ثوبٍ طاهرٍ لكن لا يسيل لو عصر لا يتنجّس رأس شاةٍ متلطّخٌ بالدّم أحرق، وزال عنه الدّم فاتّخذ منه مرقةٌ جاز والحرق كالغسل سلطانٌ جعل الخراج لربّ الأرض جاز وإن جعل العشر لا ولو دفع الأراضي المملوكة إلى قومٍ ليعطوا الخراج جاز ولو نوى قضاء رمضان، ولم يعيّن اليوم صحّ ولو عن رمضانين كقضاء الصّلاة صحّ وإن لم ينو أوّل صلاةٍ أو آخر صلاةٍ عليه.

ترجمه: د ګونګي اشاره کول او د هغه ليکل د بيان په شان دي، په خلاف د هغه چا چې ژبه يې بنده شي په وصيت، نکاح، طلاق، بيع، شراء او قصاص کې، نه په حد کې، ځينې ميږې ذبح شوي دي او ځينې مرداري دي، که مذبوحې زياتې وي؛ نو سوچ دې ورباندې وکړي او خوراک دې ترې وکړي، کنه نو نه دې خوري، ويېچل شوه ناپاکه لمده کپړه په وچه پاکه کپړه کې، د مرداري کپړې اثر د نجاست په وچه پاکه کپړه باندې ظاهر شو، خو نه نغښتل کيږي، که چېرته ونغښتل شي نو نه مرداريږي، د چېلۍ (وزې) سر په وينو لړلی په اور باندې وسوځول شو، د هغه څخه وينه لاړه، بيا يې شوروا ترې تياره کړه، نو دا شوروا خوړل به روا وي، سوځول د وينځلو په شان دي، بادشاه د ځمکې د خاوندانو لپاره خراج (ټيکس) مقرر کړو، نو جائز دی، که عشر يې مقرر کړو، نو جائز به نه وي، که مملوکه ځمکې يې کوم قوم ته ورکړې، ددې لپاره چې هغوی ټيکس ادا کړي، نو دا به جائز وي، که د رمضان د قضاء نيت يې وکړو او ورځ يې متعين نه کړه، نو صحيح ده، اګر چې د دوه رمضانونو (قضاء) وي، لکه څنګه چې د لمانځه قضاء صحيح ده، اګر چې د مخکې يا اخري لمانځه نيت يې نه وي کړی کوم چې د هغه په ذمه دی.

تشريح الفقه : **قوله غنم الخ**: ځينې چېلۍ يې ذبح کړي دي او ځينې مرداري دي، که ذبح شوي زياتې وي، نو سوچ دې ورباندې وکړي او خوراک دې وکړي، که دواړه برابر وي يا مرداري زياتې وي، نو خوراک دې ترې نه کوي، کثرت ته ددې وجې اعتبار ورکولی شي چې په افاده د اباحت کې غلبه د ضرورت قائم مقام وي، که په مرداره لنده کپړه کې پاکه وچه کپړه تاو کړی شي او د ناپاکې کپړې رطوبت په پاکه کپړه باندې ظاهر شي، خو نغښلو سره ترې څاڅکي نه توييږي، نو پاکه کپړه به دې سره نه ناپاکه کيږي

قوله سلطان الخ: بادشاه د ځمکو خاوندانو لپاره د ځمکې ټيکس مقرر کړو، نو دا ټيکس مقررول به جائز وي او که عشر يې مقرر کړو، نو جائز به نه وي، د طرفينو په نزد دواړه جائز نه دي، ځکه چې عام خراج د مسلمانانو لپاره فيء دی او عشر زکات دی، نو هغه خو د فقيرانو حق دی، امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې په خراج کې د صاحب خراج حق دی، لهذا هغه به د هغه سره پرېښودلی شي

ابتلع بزاق غيره كفّر لو صديقه، وإلّا لا قتل بعض الحجّاج عذرٌ في ترك الحجّ [أربع عشرة مسألة بالفارسية:] تُو زَنِ مَن شُدِی، فقالت: شُدَم: لم ينعقد. خِوِيشْتَنْ رازَنْ مَنْ گَرْدَانِيدِی، فقالت: گَرْدَانِيدَمْ، وقال: بَذِيرَفْتَمْ: ينعقد. دُخْتَرْ خِوِيشْتَن رابِپِسَر مَن أَرْزَانی داشْتِی، فقال: داشْتَم: لا ينعقد. منعُها زوجَها عن الدّخول عليها، وهو يسكن معها في بيتها: نشوزٌ ولو سكن في بيت الغصب فامتنعت: لا قالت: لا أسكن مع أمتك، وأريد بيتًا على حدةٍ: ليس لها ذلك قالت: مَرَا طلاق دَهْ، فقال: داذَهْ كِير، و: گَرْدَهْ كِير، أو قال: داذَه بَاذْ، و: گَرْدَه بَاذْ: يُنَوِّی. ولو قال: داذَه أَسْت، وگَرْدَه أَسْت: يقع، نوى أولا. ولو قال: داذه أنكار، وگردَه أنكار: لا يقع وإن نوى. وَیْ مَرَا نَشَايَدْ تا قِيامَت، أو: هَمَهْ عُمْر: لا يقعُ إلّا بنيّة. حِيلَه زَنَانِ گُن: إقرارٌ بالثلاث. حِيلَه خِوِيش گُنْ: لا كابين تُرا بَخْشِيدَمْ مَرَا جَنْك بَازْدَار: إن طلّقها سقط المهر، وإلّا: لا قال لعبده: يا مالكي، أو قال لأمته: أنا عبدُك: لا يعتق. بَرْمَنْ سَوْگَنْدْ أَسْتْ كِی إِيْنْ كارْ نَكُنَم: إقرار باليمين بالله تعالى. وإن قال: بَرْمَنْ سَوْگَنْد أَسْتْ بطلاق: لزمه ذلك. فإن قال: قلت ذلك كذبا: لا يصدق.

ترجمه: كه چا د خپل محبوب لاړې تېرې كړې، نو كفاره به وركوي. كه محبوب يې نه وي، نو كفاره نشته، د ځينو حاجيانو مرګ حج ته د نه تللو لپاره عذر دى، (يو سړي ښځې ته وويل) ته زما ښځه شوې هغې ورته وويل: سمه ده، په دې سره به نكاح منعقده نه وي، (يا يو سړي ښځې ته وويل) تا خپل ځان زما مېرمن جوړه كړه، هغې وويل جوړه مې كړه، سړي وويل: ما قبوله كړې، په دې سره به نكاح منعقده شي. (يا يو سړي ښځې ته وويل) تا خپله لور زما د لوى لائقه كړه، هغې وويل: ومې كړه، نو نكاح به منعقده نه وي، د ښځې منع كول په خپل خاوند باندې د داخلېدو څخه. په داسې حال كې چې ورسره په كور يو ځاى اوسېږي، نافرماني ده، كه هغه د غصب په كور كې اوسېږي، بيا ښځه د هغه څخه منع شي؛ نو نافرماني به نه وي، ښځې وويل: زه ستا د وينزې سره نه اوسېږم، د جدا كور غوښتنه يې وكړه، نو د هغې لپاره به دا حق حاصل نه وي، ښځې وويل: ماته طلاق راكړه، خاوند يې وويل: در مې كړو يا وشو، يا در كړى مې و او شوى و، نو نيت به معلومولى شي، كه ويې ويل: ور كړى مې دى، يا شوى دى، نو طلاق به واقع وي. برابره خبره ده چې د طلاق نيت يې كړى وي او كه نه، كه وې ويل: دركړى مې دى ځان يا شوى دى ځان. نو واقع به نه وي، اګر كه نيت يې كړى وي، هغه ماته تر قيامته پورې پكار نه ده يا تر عمر پورې. نو واقع به نه وي، مګر په نيت سره، ته د ښځو حيله وكړه، دا اقرار دى په درې طلاقونو باندې، خپله حيله وكړه. دا به طلاق نه وي، ما تاته خپل مهر وبښلو، ما د خپل جنګ څخه لرې وساته، كه هغه طلاق وركړى وي. نو مهر به ساقط وي، كنه نو ساقط به نه وي، خپل غلام ته يې وويل: اې زما باداره! يا يې وينزې ته وويل زه ستا غلام يم، په دې سره به ازاد نه وي، په ما باندې قسم دى چې زه به دا كار نه كوم، دا اقرار دى د الله

تعالی په نوم د قسم، که وې ویل چې په ما باندې د طلاق قسم دی، نو په هغه باندې به طلاق لازم وي، که وې ویل چې ما دروغ ویلي و، نو تصدیق به یې نه شي کولی.

تشریح الفقه: قوله ابتلع بزاق غیره الخ: که کوم روژه دار د چا لاړې تېرې کړي، که هغه کس د روژه دار محبوب وي، نو په هغه باندې به کفاره واجبه وي او که هغه د روژه دار محبوب نه وي، نو قضاء به واجب وي، وجه دا ده چې د محبوب د لاړو څخه انسان ته نفرت نه وي، ددې مثال داسې دی لکه انسان چې ډوډی وغیره مرغوب شی وخوري، په خلاف د غیر محبوب چې د هغه د لاړو څخه انسان ته کرکه او نفرت وي.

قوله توزن من شدی الخ: یو سړي یوې ښځې ته وویل: ته زما ښځه شوې، ښځې ورته وویل: شوم، نو تر کومه پورې چې سړی "قبول کردم" (ما قبوله کړې) ونه وایي، نکاح به نه کیږي، ځکه چې د ښځې قول (شدم) ایجاب دی او د قائل قول: (تو زن من شدی؟) استفهام دی، نو تر کومه پورې چې قبول موجود شوی نه وي، نو نکاح به منعقده نه وي.

قوله دختر خویش الخ: یو سړي بل کس ته وویل: (تا خپله لور زما د زوی سره لائقه کړه؟) هغه ورته وویل: هو! علامه عیني رَحِمَهُ اللهُ فرمایي چې نکاح به نه کیږي، ځکه چې دا کلام په ایجاب او قبول باندې مشتمل نه دی، ددې څخه معلومیږي چې که سړی ددې څخه وروسته ووایي (قبوله مي ده) بیا به هم نکاح نه کیږي، خو په مجمع الانهر کې دي: نکاح به نه منعقده کیږي تر هغه پورې چې (کردم) ونه وایي، ددې عبارت څخه معلومیږي چې د قبول په شرط سره نکاح منعقد کیږي.

قوله منعها زوجها الخ: که ښځې خپل خاوند خان ته د پرېښودلو څخه منع کړو، په داسې حال کې چې خاوند د هغې سره اوسیږي، نو دا به د ښځې له لورې د خاوند نافرماني وي، په خاوند باندې به د هغې ډوډی او خرچه ورکول لازم نه وي، ځکه چې د هغې منع کول بې ځایه دي، که خاوند د غصب په کور کې اوسیږي او ښځه یې خان ته د پرېښودلو څخه منع کړي، نو دا به په نافرمانۍ کې شامل نه وي، ځکه چې د غصب په کور کې اوسېدل حرام دي، لهذا په خاوند باندې به ډوډی او خرچه ورکول واجب وي.

قوله ینوی الخ: ښځې خپل خاوند ته وویل: طلاق راکړه! هغه ورته وویل: درمي کړو، شوی دی، درکړل شوی دی، د هغه نیت ته به کتل کیږي، که هغه په دې الفاظو سره د طلاقو اراده کړې وي، نو طلاق به واقع وي، کنه نو طلاق به واقع نه وي. (لأنهما من الکنایات عندهما)

قوله کا بین ترا الخ: ښځې خاوند ته وویل: ما تا ته خپل مهر وبښلو، زما څخه دي لاس پورته کړه، خاوند ورته په همغه مجلس کې طلاق ورکړو، نو مهر به ساقط وي، که طلاق ورنه کړي، نو مهر به

ساقط نه وي، ځکه چې هغې مهر د طلاق بدل ګرځولی و، هر کله چې هغې ته طلاق ملاو نه شو، نو مهر به هم ساقط نه وي.

قوله قال لعبده الخ: مالک غلام ته وویل: اې زما مالکه! یا یې وینځې ته وویل: زه ستا غلام یم، نو دا به ازادي نه وي، ځکه چې دا الفاظ د ازادی لپاره نه صریح دي او نه کنایه دي، چا وویل: زه قسم کوم چې دا فلانی کار به نه کوم، نو دا د قسم اقرار دی، که هغه فلانی کار وکړو، نو په هغه باندې به د قسم کفاره واجب وي، که وې ویل: چې (برمن سوگند ست بطلاق) (په ما باندې د طلاق قسم دی) نو په دې سره به طلاق واقع شي.

ولو قال: مَرَا سَوْگَنْدْ خَانَه أَسْتُ کی إِیْنْ کارْ نَکُنَم: فهو إقرار باليمين بالطلاق. قال للبائع: بِهَارَا بَازْدِهْ، فقال البائع: بَازْدِهم: يكون فسخا للبيع. العقار المتنازع فيه لا يخرج من يد ذي اليد ما لم يبرهن المدّعي. عقارٌ لا في ولاية القاضي: لا يصحّ قضاؤه فيه إذا قضى القاضي في حادثةٍ ببيّنةٍ ثمّ قال: رجعت عن قضائي، أو بدا لي غيرُ ذلك، أو وقعتُ في تلبيس الشّهود، أو أبطلت حكمي، ونحو ذلك: لا يعتبر، والقضاء ماضٍ إن كان بعد دعوى صحيحةٍ وشهادةٍ مستقيمةٍ.

ترجمه: که وې ویل: زه قسم کوم چې د کور فلانی کار به کوم، نو دا اقرار دی د طلاق په قسم باندې، بائع ته یې وویل: قیمت واپس کړه! بائع ورته وویل: واپس کوم یې، نو دا د بیع فسخ کول دي، که داسې کار مي وکړو تر کومه پورې چې زه په بخارا کې یم، بیا د بخارا څخه ووتلو او بېرته راغلو او بیا یې هغه کار وکړو، نو حانث به نه وي، که خر یې خرڅ کړو، نو بچی به یې په بیع کې داخل نه وي، متنازع فیه ځمکه به د قابض د قبضې څخه نه وځي، تر کومه پورې چې مدعي شاهدان قائم نه کړي، کومه ځمکه چې د قاضي په ولایت کې نه وي، نو د هغه فیصله به په دغه ځمکه کې صحیح نه وي، کله چې قاضي د یوې دوسیې فیصله په شاهدانو سره وکړي، بیا یې وویل چې ما د خپلې فیصلې څخه رجوع وکړه یا یې وویل: ما ته د خپلې مسئلې خلاف ظاهر شو یا دا چې زه د شاهدانو په ګرفت کې راغلم، یا دا چې ما خپله فیصله باطل کړه او یا یې داسې نور څه وویل، نو ددې اعتبار به نه وي او فیصله به نافذه وي، په داسې صورت کې چې دعوه صحیح وي او د مستقیمو شاهدانو څخه وروسته (فیصله) شوې وي.

تشریح الفقه: **قوله ولو قال: مَرَا سَوْگَنْدْ خَانَه أَسْتُ الخ**: که چا وویل: په ما باندې د کور قسم دی ....، نو دا به د یمین طلاق اقرار وي، ځکه چې د قسم دارومدار په عرف باندې دی او په عرف کې چې کله بیت یا خانه وویل شي، نو دا کنایه وي د ښځې څخه.

قوله عقار لا فی ولایة الخ: کومه ځمکه چې د قاضي په ولایت کې شامله نه وي، ایا په هغې کې د قاضي حکم صحیح دی او که نه؟ د کنز په شان ملتقی کې هم دي چې صحیح نه دی، خو د تنویر مصنّف لیکلي دي چې صحیح دی او دا یې هم لیکلي دي چې موږ د صاحب کنز د عبارت ځخه ددې وجې عدول وکړو چې په بزازیه او خلاصه کې دي : صحیح قول دا دی چې د قاضي حکم په محدود کې صحیح دی، اګر چې محدوده ځمکه د قاضي په حکومت کې نه وي.

قوله ببینة الخ: د شاهدانو د تخصیص وجه صرف دا ده چې ددې ځخه وروسته عبارت داسې دی : (أو وقعتُ فی تلبیس الشهود) کنه نو که فیصله د اقرار له وجې وشي، بیا به هم دا حکم وي.

خبأ قومًا ثمّ سأل رجلًا عن شيءٍ فأقرّ به، وهم یرونه ویسمعون کلامه، وهو لا یراهم: جازت شهادتهم وإن سمعوا کلامه، ولم یروه: لا باع عقارًا، وبعض أقاربه حاضرٌ یعلم البیع ثمّ ادّعى: لا تسمع وهبت مهرها لزوجها فماتت فطالب ورثتها مهرها منه، وقالوا: کانت الهبة فی مرض موتها، فقال: بل فی الصحّة: فالقول له أقرّ بدینٍ أو غیره ثمّ قال کنت کاذبًا فیما أقررت: حُلِّف المقرُّ له على أنّ المقرّ ما کان کاذبًا فیما أقرّ به، ولست بمبطلٍ فیما تدّعیه علیه الإقرار لیس بسبب للملك. قال لآخر: وکّلتك ببیع هذا فسکت صار وکیلًا وکّلها بطلاقها لا یملك عزلها وکّلتك بکذا على أنّی متى عزلتك فأنت وکیلی یقول فی عزله عزلتك ثمّ عزلتك ولو قال کلّما عزلتك فأنت وکیلی یقول رجعت عن الوکالة المعلّقة، وعزلتك عن الوکالة المنجّزة قبض بدل الصّلح شرطٌ إن کان دینًا بدینٍ وإلّا لا ادّعى رجلٌ على صبیٍّ دارًا فصالحه أبوه على مال الصّبیّ فإن کان للمدّعی بیّنةٌ جاز إن کان بمثل القیمة أو أکثر بما یتغابن فیه وإن لم یکن له بیّنةٌ أو کانت غیر عادلةٍ لا قال لا بیّنة لی فبرهن أو لا شهادة لی فشهد تقبل للإمام الّذی ولّاه الخلیفة أن یقطع إنسانًا من طریق الجادّة إن لم یضرّ بالمارّة.

ترجمه: ځینې خلک یې پټ کړل، بیا یې د یو سړي ځخه د څه شي په باره کې پوښتنه وکړه، هغه د هغه شي اقرار وکړو، خلکو هغه کس لیدلو او د هغه خبرې یې اورېدلې، خو هغه (اقرار کوونکي کس) هغوی نه لیدل، نو د هغوی شاهدي به صحیح وي، که هغوی کلام اورېدلی وي؛ خو اقرار کوونکی یې لیدلی نه وي، نو بیا یې شاهدي صحیح نه ده، ځمکه یې خرڅه کړه او ځینې رشته داران یې حاضر دي، هغوی په خرڅولو باندې خبر دي، ددې ځخه وروسته هغوی بیا دعوه وکړه، نو دعوه به یې نه اورېدل کیږي، ښځې خپل مهر خاوند ته هبه کړو، بیا هغه مړه شوه، وارثانو د هغې د مهر غوښتنه د خاوند ځخه وکړه، وارثانو ویل چې هغې په مرض الموت کې مهر هبه کړی و، خاوند وویل چې د روغتیا په حالت کې مهر هبه شوی و، نو د خاوند قول به معتبر وي، یو سړي د قرض یا بل شي اقرار وکړو، بیا یې وویل : ما په دروغه اقرار کړی و، نو د مقر له ځخه به قسم اخیستلی شي چې هغه په خپل اقرار کې دروغجن نه دی او زه په باطله

باندې نه يم په خپله هغه دعوه کې چې زه يې مدعي يم، په دې باندې اقرار سبب د ملکيت نه دی، يو سړي دويم کس ته وويل : ما ته ددې شي خرڅولو وکيل جوړ کړی يې، هغه چوپ پاتې شو، نو هغه وکيل شو، خپله ښځه يې د طلاق وکيله جوړه کړه، نو خاوند به د هغې د معزوله کولو مالک نه وي، (که يو سړي بل کس ته وويل :) ماته ددې کار وکيل جوړ کړې په دې شرط چې کله هم زه تا معزول کوم، نو ته به زما وکيل يې، هغه ته يې د معزوله کولو لپاره وويل : چې ته مي معزول کړې، بيا مي معزول کړې، که وې ويل : چې کله هم زه تا معزول کړم، نو ته به زما وکيل يې، ته به وايې : ما د معلق وکالت څخه رجوع کړې ده او ته مي د موجوده وکالت څخه معزول کړې، په بدل صلح باندې قبضه کول شرط ده، که صلح دَين وي د دَين په بدل کې، کنه نو شرط به نه وي، يو سړي په ماشوم باندې د کور دعوه وکړه، د ماشوم پلار د هغه سره د ماشوم په مال باندې سوله وکړه، که د مدعي سره شاهدان وي، نو جائز دی، په هغه صورت کې چې په مثل قيمت سره وي يا دومره زيات قيمت سره وي چې خلک همدومره نقصان برداشت کوي، که د هغه سره شاهدان نه وي يا شاهدان عادلان نه وي، نو جائز به نه وي، (يو سړي د دعوې پر مهال) وې ويل : زما سره شاهدان نشته، بيا يې شاهدان راوستل، يا يې وويل : زما سره شهادت نشته، بيا يې شاهد راوستلو، نو قبلولی به شي، هغه امام ته به حق حاصل وي چې والي خليفه جوړ کړی وي او ورته يې ويلې وي : خلکو ته د شارع عام څخه ځمکې ورکوه! په دې شرط چې په لاره باندې تلونکو خلکو ته ضرر نه وي.

تشريح الفقه : قوله ولو قال: خبأ قومًا الخ: يو سړي څو کسان په يو کور کې پټ کړي وي، بيا يې د يو سړي څخه د څه شي په اړه پوښتنه وکړه، هغه اقرار وکړو، کوم خلک چې په کور کې پټ وو، هغوی اقرار کوونکي ته کتل او د هغه خبرې يې اورېدلې، خو دې اقرار کوونکي هغوی نه ليدل، نو ددې مقر په اقرار باندې ددې خلکو شاهدي ادا کول جائز ده، که هغوی يوازې ددې اقرار کوونکي خبرې اورېدلي وي او هغه يې ليدلی نه وي، نو شاهدي ادا کول به جائز نه وي، ځکه چې په اواز کې مشابهت راتلی شي.

قوله وهبت مهرها الخ: يوې ښځې خپل مهر خاوند ته هبه کړو او مړه شوه، اوس د هغې وارثان د خاوند څخه د مهر غوښتنه کوي، وايي چې د مهر هبه په مرض الموت کې شوې وه، خاوند وايي چې د روغتيا په حالت کې شوې وه، په دې صورت کې به د خاوند قول معتبر وي، د قياس په رڼا کې د وارثانو قول ته اعتبار ورکول پکار دی، ځکه چې هبه امر حادث دی او په حوادث کې اصل همدا دی چې د هغې اضافت نږدې وختونو ته کيږي، د استحسان وجه دا ده چې په مهر کې د وارثانو حق نشته، بلکې دا د ښځې حق دی او وارثان يې د خپلې ګټې لپاره دعوه کوي او خاوند منکر دی، نو د خاوند قول به معتبر وي.

قوله أقرّ بدين الخ: يو سړي د قرض وغيره اقرار وكړو، بيا يې وويل چې زه په خپل اقرار كې دروغجن وم، د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد به د مقر له څخه قسم اخيستل كيږي او هغه به وايي چې مقر په خپل اقرار كې دروغجن نه و او زه چې د څه شي دعوه كوم، زه په باطل باندې نه يم، د طرفينو په نزد به قسم نه اخيستل كيږي، ځكه چې اقرار په شريعت كې حجت ملزمه دی، د اقرار په وجود كې قسم ته هيڅ ضرورت نشته، د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ د قول توجيه دا ده چې عام عادت دا دی چې كله قرض وركولی شي، نو ليكل كيږي او بيا ويل كيږي، يوازې اقرار دليل نه جوړيږي.

قوله الإقرار ليس الخ: اقرار د ملكيت سبب نه جوړيږي، يعني په مقر باندې د مقر له د حق ثابتوونكی نه وي، ځكه چې اقرار يوازې د اخبار د قبيلې څخه دی او د ملكيت ثابتوونكي انشاءات وي، لكه بعتُ، اشتريتُ او داسې نور ... . كه څوك د چا لپاره د څه مال اقرار وكړي، په داسې حال كې چې په واقع كې د هغه په ذمه هيڅ شی نه وي، نو د چا لپاره چې اقرار شوی وي، د هغه لپاره به فيما بينه وبين الله د هغه مال اخيستل صحيح نه وي، مگر دا چې مقر يې په خپله خوښه وركوي، نو بيا يې اخيستلی شي، ځكه چې دا د نوي سره (تازه) مالك كول دي.

قوله يقول في عزله الخ: زيد عمرو ته وويل: زه تا ددې كار لپاره وكيل جوړوم، په دې شرط چې كله هم زه تا معزول كوم، نو ته به زما وكيل يې، كه په دې صورت كې زيد غواړي چې عمرو معزول كړي، نو داسې به وايي: (عزلتُكَ ثُمّ عزلتُكَ) دويم ځل معزول ته وينا ددې لپاره وي چې كوم وكالت په معزوله كېدو باندې معلق و، د هغې څخه هم برطرفه شي.

قوله إن كان ديناً الخ: كه د قرض څخه سوله وي د قرض په بدل كې، نو د داسې سولې د جائز كېدو لپاره شرط دا دی چې په كوم قرض باندې سوله كيږي، په هغې باندې به په مجلس كې قبضه كيږي، كنه نو داسې سوله به صحيح نه وي، كه سوله د يو سبب يا د قرض څخه د بل معين سبب په بدل كې وي، نو قبضه به شرط نه وي، د قرض څخه د قرض په بدل كې د سولې صورت دا دی چې مثلا د زيد په عمرو باندې زر روپۍ دي، عمرو انكار وكړو، بيا د حجت قائمولو څخه وروسته په لسو اشرفيو باندې لس ورځې وروسته دواړو روغه وكړه، كه زيد په همغه مجلس كې لس اشرفۍ قبضه كړي، نو سوله به صحيح وي، كنه نو داسې سوله - سوله نه ده.

ومن صادره السّلطان، ولم يعيّن بيع ماله فباع ماله صحّ خوّفها بالضّرب حتّى وهبته مهرها لم يصحّ إن قدر على الضّرب وإن أكرهها على الخلع وقع الطّلاق، ولا يسقط المال ولو أحالت إنساناً على الزّوج ثمّ وهبت المهر للزّوج لا تصحّ اتّخذ بئراً في ملكه أو بالوعةً فنزّ منها حائط جاره، وطلب تحويله لم يجبر عليه فإن سقط الحائط

منه لم يضمن عمر دار زوجته بماله بإذنها فالعمارة لها، والنّفقة دينٌ عليها ولنفسه بلا إذنها فله ولو عمرها لها بلا إذنها فالعمارة لها، وهو متطوّعٌ في النفقة. ولو أخذ غريمه فنزعه إنسانٌ من يده لم يضمن في يده مال إنسانٍ فقال له سلطانٌ ادفع إليّ هذا المال، وإلّا أقطع يدك أو أضربك خمسين فدفع لم يضمن وضع منجلًا في الصّحراء ليصيد به حمار وحشٍ، وسمّى عليه فجاء في اليوم الثّاني، ووجد الحمار مجروحًا ميتًا لم يؤكل.

ترجمه: څوک چې بادشاه جرمانه کړي، دا يې معينه کړې نه وي چې خپل مال خرڅ کړه، هغه خپل مال خرڅ کړو، نو دا به صحيح وي، ښځه يې د وهلو څخه ووېرول، تردې پورې چې هغې خپل مهر خاوند ته هبه کړو، نو دا هبه به صحيح نه وي، په دې شرط چې هغه په وهلو باندې قدرت لري او که ښځه يې په خلع کولو باندې مجبوره کړه، نو طلاق به واقع وي او مال به ساقط نه وي، که کوم انسان ته يې په خاوند باندې حواله ورکړه، بيا هغې خاوند ته مهر هبه کړو، نو دا هبه به صحيح نه وي، يو سړي په خپل ملکيت کې کوهی جوړ کړو، يا يې د ويالې مرداري وويستل او د هغې لوندوالی د ګاونډي دېوالونو ته ورسېدلو هغه ترې غوښتنه وکړه چې بلې غاړې ته يې واچوه، نو په هغه باندې به جبر نه شي کولی، که ددې وجې دېوال وغورځېدلو، نو ضامن به نه وي، د ښځې په ځمکه يې په خپل مال باندې د هغې په اجازه کور جوړ کړو، نو کور به د ښځې وي او خرچه به د هغې په ذمه وي، که د خپل ځان لپاره يې د ښځې د اجازې څخه بغير جوړ کړو، نو ګور به د خاوند وي، که د ښځې لپاره يې جوړ کړی وي د هغې د اجازې څخه بغير، نو کور به د ښځې وي او خاوند به يې احسان کوونکی وي، که خپل قرضداره يې ونيولو، خو بل کس ترې خلاص کړو، نو هغه خلاصوونکی به ضامن نه وي، د چا سره د بل کس مال وي، هغه ته بادشاه وويل چې ماته دا مال راکړه! کنه نو لاس به دې کاټ کړم يا به دې پنځوس دورې (کوړې) ووهم، هغه مال ورکړو، نو ضامن به نه وي، جال يې په ځنګل کې خپور کړو، ددې لپاره چې په دې وحشي خر ښکار کړي او بسم الله يې وربانديې وويل، بيا دويمه ورځ راغلو چې په هغې باندې يې زخمي او مړ شوی خر وليدلو، نو نه به خوړل کيږي.

تشريح الفقه: **قوله ومن صادره السّلطان الخ:** په کوم سړي باندې چې بادشاه جرمانه مقرر کړي او دا يې ورته نه وي ويلي چې خپل مال خرڅ کړه، هغه سړی خپل مال په تاوان باندې خرڅ کړي، نو دا بيع به صحيح وي، ځکه چې هغه مکرَه نه دی، بلکې په خپل اختيار يې مال خرڅ کړی دی، صرف دومره ويلی شو چې هغه ته د مال خرڅولو ضرورت پېښ شو، صرف په دې خبره باندې اکراه نه ثابتيږي، لکه کوم مديون چې د قرض له وجې بندي شي او هغه خپل مال خرڅ کړي، نو دا بيع به صحيح وي، مګر دا چې بادشاه ورته د مال خرڅولو هم ويلي وي، نو په دې صورت کې به بيع صحيح نه وي، ځکه چې اوس دا بيع په زوره شوې ده.

قوله ولو أحالتْ الخ: په يوه ښځه باندې د زيد قرض وي، هغې په خپل مهر کې دا قرضه په خاوند باندې لازمه کړه، بيا يې خاوند ته هبه کړو، نو دا هبه به صحيح نه وي، ځکه چې ددې مهر سره اوس د محتال حق تړل شوی دی.

كره من الشّاة الحياء والخصية والغدّة والمثانة والمرارة والدّم المسفوح والذّكر للقاضي أن يقرض مال الغائب والطّفل واللّقطة صبيٌّ حشفته ظاهرةٌ بحيث لو رآه إنسانٌ ظنّه مختونًا ولا يقطع جلدة ذكره إلّا بتشديدٍ ترك كشيخٍ أسلم وقال أهل النّظر لا يطيق الختان ووقته سبع سنين والمسابقة بالفرس والإبل والأرجل والرّمي جائزةٌ وحرّم شرط الجعل من الجانبين لا من أحد الجانبين ولا يصلّى على غير الأنبياء والملائكة إلّا بطريق التّبع والإعطاء بأسم النّيروز والمهرجان لا يجوز ولا بأس بلبس القلانس وندب لبس السّواد وإرسال ذنب العمامة بين كتفيه إلى وسط الظّهر وللشّابّ العالم أن يتقدّم على الشّيخ الجاهل ولحافظ القرآن أن يختم في كلّ أربعين يومًا.

ترجمه: مکروه دي خوړل د چېلۍ د شرمګاه، خصيتين، غده، د تشو متيازو جمع کېدو ځای، پته، بهېدلې وينه، آله تناسل او د ملا د تير مازغه، د قاضي لپاره جائز دي چې په قرض باندې ورکړي د غائب، ماشوم او لقطه مال، د يو ماشوم آله تناسل څرمن دومره خلاصه ده چې انسان پرې د سنت شوي ګومان کوي، که اوس ددې څخه څرمن کاټوي، نو په ډېر تکليف سره کاټيږي، نو داسې ماشوم به پرېښودلی شي، لکه: هغه بوډا چې اسلام يې راوړی وي او تجربه کاره خلک وايي چې دا د سنت کولو طاقت نه لري، د سنت کولو وخت اوم کال دی، د يو بل سره په مخکې کېدو کې د اسونو، اوښانو، پياده او په غشي ويشتلو سره مقابله کول جائز ده، د مال شرط لګول د دواړو طرفونو څخه حرام دي، نه دا چې د يو طرف څخه، د انبياوو څخه بغير او په پرښتو باندې درود مه وايئ، مګر (د رسول الله ﷺ) په تابعداری کې، چا ته د نوروز يا مهرجان په نوم باندې څه ورکول جائز نه دي، د غوږونو والاخولۍ په سر کولو کې هيڅ تنګي نشته، مستحب ده توره کپړه اغوستل، د پګړۍ شمله د دواړو اوږو او شا ترمنځ پرېښودل، د ځوان عالم لپاره پکار ده چې د بوډا جاهل څخه وړاندې شي، د قرآن کريم د حافظ لپاره پکار دي چې په څلوېښتو ورځو کې يو ختم وکړي.

تشريح الفقهِ : قوله كرِهَ الخ: د مېږې او چېلۍ (وزې) وغيره لاندې اندامونه خوړل مکروه دي: (فرج، خصية، غدود، مثانه، بهېدلې وينه، نازا، د ملا د تير مازغه) روانه وينه څښل خو بيخي حرامه ده او پاتې اندامونو خوړل مکروه دي په کراهت تنزيهي سره او د بعضې عالمانو په نزد مکروه دي په کراهت تحريمي سره، د ذکر څخه مراد د تشو متيازو ځای دی، برابره خبره ده چې د نر وي او که د ماده وي.

قوله صبيٌّ الخ: د يو ماشوم ذکر دومره ښکاره وي چې د لرې ځخه سنت شوی ښکاري، د څرمنې په کاټولو کې ماشوم ته سخت تکليف وي، پکار ده چې داسې ماشوم په خپل حال باندې پرېښودل شي، ځکه چې د سنت کولو مقصد دا دی چې حشفه (د ذکر سر) ښکاره شي او دا خپله څرګند دی، لهذا د کاټولو ضرورت نشته.

قوله ووقته الخ: د سنت کولو په وخت کې امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ چوپتيا کړې ده، د صاحبينو رَحِمَهُمَا اللّٰهُ ځخه هم کوم روايت نه دی نقل شوی، ددې وجې مشائخو پکې اختلاف کړی دی، ځينو لس کاله، ځينو اوه کاله او ځينو د بلوغ تر زمانې پورې سنتې جائز ګڼلې ده.

كتاب الفرائض

قوله کتاب الخ: د وصيت زيات وخت په مرض الموت کې واقع کيږي، ددې ځخه وروسته په انسان باندې مرګ راځي، د مړي د ميراث تقسيمولو نمبر راځي، ددې وجې يې د وصيت ځخه وروسته د کتاب الفرائض بيان وکړو.

قوله الفرائضُ الخ: فرائض د فريضةٌ جمع ده، خپله د فرض ځخه مشتق دی، فرض په عربي لغت کې مختلفو معناګانو سره راځي: مثلاً: وجوب، حصه، اندازه، قطع کول، مقرر کول او داسې نور...، په علم الفرائض (ميراث) کې دا ټولې معناګانې موندل کيږي، ددې وجې ورته فرائض ويل کيږي، اصطلاحي تعريف يې دا دی: **"هِيَ عِلمٌ بِأصولٍ مِن فقهٍ وحسابٍ يعرف بها حق الورثةِ من التركةِ"** فرائض د علم فقهې او حساب د هغو قواعدو پېژندلو نوم دی چې په هغې سره د هر وارث برخه معلومېږي.

فايده: په قران کريم کې د فرائضو علم داسې ياد شوی دی: (**فريضةً مِّنَ اللّٰه**) دا حکم د الله تعالی له لورې مقرر شوی دی، **وقَالَ عليهِ السلامُ: تعلموا الفرائضَ وعلموهَا النّاسَ** (يعني علم الفرائض زده کړئ او نورو خلکو ته يې هم وښيئ!) **وقَالَ عليهِ السلامُ: تعلموا الفرائضَ وعلموهَا النّاسَ فإنّها نصفُ العلمِ** (يعني علم الفرائض زده کړئ او نورو خلکو ته يې هم وښيئ! ځکه چې دا نيمايي علم دی).

يبدأ من تركة الميّت بتجهيزه ثمّ ديونه ثمّ وصيّته ثمّ تقسم بين ورثته وهم: ذو فرضٍ أى ذو سهمٍ مقدّرٍ فللأب السّدس مع الولد أو ولد الابن.

ترجمه: لومړی به د ميت د ميراث ځخه په تکفين او تجهيز باندې شروع کوي، بيا به قرضونه ادا کوي، بيا به وصيت پوره کوي، بيا به د وارثانو ترمنځ تقسيمېږي او وارثان: ذوي الفروض دي، يعنې د معينې برخو خاوندان دي، د پلار لپاره به شپږمه برخه وي، د زوی او لمسي سره.

تشريح الفقه: **قوله يبدأ الخ**: د ميت د مال سره پنځه حقونه تړل شوي دي، لومړی تجهيز او تکفين يعنې ټول هغه شيان چې ميت ورته د مړ کېدو څخه وروسته تر خاورو لاندې پورې کېدو محتاج وي، دويم به د ميت د ميراث څخه په هغه باندې شته قرضونه ادا کولی شي کوم چې د معين شي سره متعلق نه وي، بيا به د پاتې مال د دريمې برخې څخه وصيتونه پوره کولی شي، ددې څخه وروسته چې کوم مال پاتې شي، هغه به د وارثانو ترمنځ تقسيمولی شي.

قوله وهم ذو فرض الخ: د مړي وارثان درې قسمه دي: اصحاب الفروض، عصبات او ذو رحم محرم، فروض د فرض جمع ده، په معنی د حصې سره، اصحاب الفروض هغه دي چې حصې يې په کتاب الله کې په معينه توګه ذکر شوي وي، هغه شپږ حصې دي: نيمايي، څلورمه برخه او دوه ثلثه، يو ثلث، شپږمه برخه او اتمه برخه، ددې حصو مستحق کسان دولس دي: لس کسان د نسب په اعتبار سره دي چې درې سړي دي، يعنې پلار، نيکه او اخيافي ورور، اوه ښځې دي: لور، لمسی، حقيقي خور، مېرنی خور، مور شريکه خور، مور، نيا او دوه د سبب له جهته دي: يعنې خاوند او ښځه.

د پلار د ميراث بيان

قوله فللأب الخ: د پلار درې حالتونه دي: فرض مطلق، فرض او تعصيب او تعصيب محض، فرض مطلق: هغه حصه ده چې په قران کريم کې مقرر شوې وي او دا شپږمه برخه ده، په هغه وخت کې چې زوی يا لمسی (هلک) ورسره وي، **قال تعالى**: ﴿وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِن كَانَ لَهُ وَلَدٌ﴾ فرض او تعصيب په هغه وخت کې دی کله چې لور يا لمسۍ (جينۍ) ورسره وي، پلار ته به لومړی شپږمه برخه د فرض له وجې ورکول کيږي، د قران کريم د ايت له وجې، د لور او لمسۍ (جينۍ) برخې ورکولو وروسته به پاتې مال د تعصيب له وجې پلار ته ورکولی شي، **لقوله عليه السلام**: "**ألحقوا الفرائض بأهلها فما أبقت فلأولى عصبة ذكر**" تعصيب محض به په هغه وخت کې وي چې مړی بې اولاده وي، يعنې نه زوی وي او نه لور وي، په وارثانو کې يوازې پلار موجود وي، نو د ذوي الفروض څخه وروسته به ټول مال پلار ته ورکول کيږي، (**لقوله تعالى**: ﴿فَإِن لَّمْ يَكُن لَّهُ وَلَدٌ وَوَرِثَهُ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ الثُّلُثُ﴾ په دې ايت کې د مور حصه بيان شوې ده، پاتې برخه به د مور او پلار وي، معلومه شوه چې پلار په عصبه کې داخل دی.

د نيكه د ميراث بيان

والجدّ كالأب إن لم يتخلّل في نسبته إلى الميت أمّ إلّا في ردّها إلى ثلث ما بقي وحجب أمّ الأب فيحجب الإخوة وللأمّ الثّلث ومع الولد أوولد الابن أو الاثنين من الإخوة والأخوات لا أولادهم: السدس. ومع الأب وأحد الزّوجين ثلث الباقي بعد فرض أحدهما.

ترجمه: نيكه د پلار په شان دى، كه په نسبت كې يې مور داخله نه شي، مگر دا چې په واپس كولو كې د هغې حصه د مابقي په ثلث كې، د پلار مور به محرومه وي، هغه به ورونه او خويندې محرومه كوي او د مور لپاره ثلث دى د اولاد او لمسبانو سره اگر چې د هر زيات لاندې وي، د دوه ورونو او خويندو سره نه دا چې د هغوى د اولادونو سره يې شپږمه برخه ده او د پلار سره، د خاوند يا مېرمن سره يې ثلث دى د هغه حصې د باقي څخه چې په دواړو كې د يو كس وركول شي.

تشريح الفقه: **قوله والجدّ الخ**: د جد دوه قسمونه دي: جد صحيح او جد فاسد: جد صحيح هغه دى چې په نسبت كې يې مور شامله نه شي، دې ته نيكه وايي، دده په اړه ياد ساتل پكار دي چې د پلار په موجودگۍ كې ورته هيڅ شى نه ملاويږي، بلكې محروم وي، خو كه پلار نه وي، نو بيا دده هم هغه درې حالتونه دي چې د پلار لپاره تېر شول، يعنې فرض مطلق، فرض او تعصيب دواړه او تعصيب محض.

قوله إلّا في ردّها الخ: د پلار د نشتون په وخت كې نيكه د پلار په شان دى، خو په دوه مسئلو كې نيكه د پلار په شان نه دى: اول دا چې كه د مړي والدين او احد الزوجين پاتې شي، نو مور ته به د احد الزوجين حصې وركولو وروسته د باقي ثلث حصه ملاويږي، كه د پلار په ځاى نيكه وي، نو مور ته د كُل مال ثلث ملاويږي، البته د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد هم د مابقي ثلث ملاويږي، دويم صورت دا دى چې د پلار سره نيا وارثه نه وي او د نيكه سره وارثه جوړيږي.

فايده: په سراجي كې دي چې په څلورو مسئلو كې نيكه د پلار په شان نه دى او د الاشباه والنظائر مصنّف ديارلس مسائل ذكر كړي دي او شيخ صالح د الاشباه په حاشيه (زواهر الجواهر) كې د فصولين څخه يوه بله مسئله هم زياتي نقل كړې ده.

د مور د ميراث بيان

قوله وللأمّ الخ: د مور درې حالتونه دي: اول دا چې كه زوى، دوه ورونه يا دوه خويندې نه وې، نو مور ته به د ټول ميراث دريمه برخه وركول كيږي، (لقوله تعالى: **فَإِن لَّمْ يَكُن لَّهُ وَلَدٌ وَوَرِثَهُ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ الثُّلُثُ**)، دويم صورت دا دى: كه د مذكوره كسانو څخه كوم څوك موجود وي، نو مور ته به شپږمه برخه

ملاويږي، (لقوله تعالیٰ: ولأبويه لكلّ واحد منهما السدس إن كان له ولد - فإن كان له إخوة فلأمه السُّدُس) دريم دا چې د پلار او احد الزوجين سره مور ته د احد الزوجين حصې وركولو وروسته د مابقي ثلث وركولی شي، ددې دوه صورتونه دي: اول دا چې ښځه خپل خاوند او مور پلار پرېږدي او مړه شي، نو ميراث به په شپږو برخو باندې تقسيميږي، نيمايي يعنې درې برخې به خاوند ته ملاو شي او د باقي مال دريمه برخه چې يو سهم جوړيږي دا به مور ته وركول شي او باقي دوه برخې به پلار ته ملاو شي، دويم صورت دا دی چې يو كس خپله مور - پلار او مېرمن پرېښودل او مړ شو، نو دلته به ميراث دولس برخې شي، څلورمه برخه (درې برخې) به مېرمن ته وركول شي او د باقي ميراث دريمه برخه (چې درې برخې جوړيږي) به مور ته وركول شي او پاتې شپږ برخې به پلار ته وركول شي.

وللجدّات وإن كثرت السدس إن لم يتخلّل جدٌّ فاسدٌ في نسبتها إلى الميت وذات جهتين كذات جهة والبعدى تحجب بالقربى والكلّ بالأمّ وللزوج النصف ومع الولد أو ولد الابن وإن سفل الرّبع وللزّوجة الربع ومع الولد، أو ولد الابن وإن سفل: الثُّمُنُ.

ترجمه: نياګانې چې څومره هم وي، هغوی ته به شپږمه برخه ملاويږي، كه جد فاسد (د مور پلار) د دوی په نسبت كې د مړي طرف ته رانشي، د دوه نسبتونو والا د يو نسبت والا په شان ده، ليرې به د نژدې له وجې محرومه كيدی شي، دا ټولې بيا د مور له وجې محرومه دي، د خاوند لپاره به نيمايي وي، د بچيانو او لمسيانو لپاره اګر چې ډېر زيات لاندې وي څلورمه برخه ده، د مېرمن لپاره څلورمه برخه ده د زوی، لمسي او كه څه هم لاندې ډېر زيات وي اتمه برخه به وي.

دانا (نيا) د ميراث بيان

تشريح الفقه: قوله وللجدّات الخ: د هر سړي دوه نياګانې وي: يوه هغه نيا ده چې د مور مور وي او دويمه هغه نيا ده چې د پلار مور وي، د جدې دوه قسمونه دي: صحيحه او فاسده، جده صحيحه هغه ده چې مړي ته د هغې په نسبت كې يو پلار د دوه مورګانو ترمنځ واقع نه وي، جده فاسده هغه ده چې د دوه مورګانو ترمنځ پلار واقع وي، بيا د جدې څخه يوازې د پلار مور مراد نه ده، بلكې د نيكه مور او د نيا مور وغيره هم په شريعت كې نياګانې دي، دلته د جده څخه مراد جده صحيحه ده، ځكه چې د ذوي الفروض څخه همدا نيا ده، په خلاف د جده فاسده چې هغه د ذوي الارحام د قبيلې څخه ده.

قوله وإن كثرت الخ: د جدې شپږمه برخه ده چې څومره زياتې وي، كه جده صحيحه نه وي يا د يو څخه زياتې په صورت كې مساوي نه وي، نو شپږمه برخه به يوازې جده صحيحه ته ملاويږي، د يوې جدې لپاره د شپږمې حصې ثبوت خو واضح دی او د جدات لپاره د شپږمې برخې دليل د عبادة بن صامت

رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت دی چې فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دوه نياګانو لپاره د سدس فيصله وکړه، د ابوبكر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه هم د محمد بن مسلمه په روايت سره داسې فيصله مروي ده.

قوله وذاتُ جهتينِ الخ: هر كله چې د ميت نياګانې جمع شي، يوه نيا د يوې رشتې (يعنې د پلار د مور مور) دويمه نيا د دوه رشتو والا يا ددې څخه هم زياتي والا راشي، (لکه د مور د مور مور) چې د پلار نيا هم وي، صورت يې دا دی:

په دې صورت کې به د امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد يو سدس د رشته دارۍ د قرابت په اعتبار سره په درې برخو باندې تقسيم کړی شي، يعنې هغه نيا چې په يوه رشته باندې مړي ته نژدې کيږي هغې ته به په سدس کې يو ثلث ورکول کيږي او کومه نيا چې په دوه رشته دارۍ باندې مړي ته نژدې کيږي، هغې ته به په سدس کې دوه ثلثه ورکول شي، ځکه چې د ميراث استحقاق د قرابت په اعتبار سره دی، لهذا کومه نيا چې په يوه رشته نژدې کېږي هغې ته به يوه برخه ورکول شي او کومه نيا چې په دوه رشتو باندې مړي ته نژدې کيږي، هغې ته به دوه برخې ورکول شي.

شيخين، امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمُ اللَّهُ فرمايي: د دواړو نياګانو ترمنځ به سدس د بدن په اعتبار سره بيخي په نيمايي باندې تقسيم شي، د کتاب مصنّف دا قول اخيستی دی، وجه دا ده: استحقاق په ميراث کې هغه وخت وي چې کله د تعدد سره نوم هم متعدد وي، دلته په نوم کې تعدد نشته، بلکې څنګه چې يوې رشتې والا نا ته جده ويل کيږي، دغه شان دوه رشتو والا نا ته هم جده ويل کيږي، علامه طحاوي رَحِمَهُ اللَّهُ ويلي دي چې فتوی د شيخينو په قول باندې ده.

قوله والبعدیٰ الخ: جده قريبه د مور په جهت سره وي او که د پلار په جهت سره وي، بهر صورت جده بعيده پرې محرومه کيږي، برابره خبره ده چې جده قريبه وارثه وي او که نه وي، ددې څلور صورتونه دي: (۱) جده قريبه مورنۍ جده بعيده مور والا محجوبه ګرځوي، (۲) جده قريبه مورنۍ جده بعيده پلرنۍ محجوبه کوي، (۳) جده قريبه پلرنۍ جده بعيده پلرنۍ محجوبه ګرځوي، (۴) او جده قريبه پلرنۍ سره جده بعيده مورنۍ محجوبه کيږي.

قوله والکلّ الخ: د جدې دويم حالت دا دی چې جدات پلرنۍ وي که مورنۍ وي، دا ټولې د مور د وجود په وخت کې محرومه دي.

د خاوند د ميراث بيان

قوله وللزوجِ الخ: د خاوند دوه حالتونه دي : (۱) دا چې مېرمن مړه شي، خو زوی، لور، لمسي او لمسيانې نه وي، نو خاوند ته به د مېرمن په ميراث کې نيمايي برخه ملاوېږي، (۲) دويم دا چې مېرمن په داسې حال کې وفات شي چې زوی، لور، لمسي يا لمسيانې پرېږدي، په دې صورت کې به خاوند ته د ټول ميراث څلورمه برخه ملاوېږي، الله تعالى فرمايي : (وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّهُنَّ وَلَدٌ فَإِن كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ).

يادونه: پورته چې دا خبره تېره شوه : كه د ښځې اولاد وي، نو خاوند ته به څلورمه برخه ملاوېږي، ددې دا مطلب نه دی چې هغه اولاد به ددې خاوند څخه وي، بلکې خبره عامه ده، ددې خاوند څخه وي او كه دده څخه وړاندې د بل خاوند څخه وي يا د دواړو وي، په دواړو صورتونو کې د اولاد د موجودګۍ په صورت کې به خاوند ته څلورمه برخه په ميراث کې ملاوېږي.

د مېرمنې د ميراث بيان

قوله وللزوجَةِ الخ: لكه څنګه چې خاوند د ميراث څخه نه محرومه كيږي، دغه شان مېرمن هم د ميراث څخه نه محرومه كيږي، لكه څنګه چې د خاوند د ميراث دوه حالتونه وو، دغه شان د مېرمن د ميراث هم دوه حالتونه دي : كه د خاوند زوی، لور، لمسي يا لمسيان مْوجود نه وي، نو د خاوند په ميراث کې به مېرمن ته څلورمه برخه ملاوېږي او كه ددې مذكوره كسانو څخه موجود وي، نو مېرمن ته به د خاوند د ميراث څخه اتمه برخه ملاوېږي، الله تعالى فرمايي : (وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّكُمْ وَلَدٌ فَإِن كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُم) د خاوند په حالاتو کې چې كومه يادونه ذكر شوه، هغه به دلته هم مراد وي.

وللبنت النّصف وللأكثر الثلثان وعصبها الابن وله مثلا حظّها وولد الابن كولده عند عدمه ويحجب بالابن ومع البنت لأقرب الذّكور الباقي وللإناث السّدس تكملةً للثّلثين وحجبن ببنتين إلّا أن يكون معهنّ أو أسفل منهنّ ذكرٌ فيعصب من كانت بحذائه، ومن كانت فوقه ممّن لم تكن ذات سهمٍ، وتسقط من دونه والأخوات لأبٍ وأمٍّ كبنات الصّلب عند عدمهنّ.

ترجمه: د لور لپاره نيمايي ميراث دی، د زياتو لپاره دوه ثلثه دي، په زوی سره دوی عصبه كيږي، د زوی لپاره به د دوه لورګانو په برابر حصه وي، لمسی د زوی په شان دی هغه وخت چې زوی نه وي، په زوی او لور سره به محجوب كيږي، د قريبي مذكر لپاره به باقي وي او د لمسيانو لپاره به شپږمه برخه

وي، ددې لپاره چې ثلثان ورباندې پوره شي، خو لمسیانې په دوه لورګانو سره محرومه کیږي، مګر دا چې د دوی (لورګانو) سره یا د دوی څخه لاندې مذکر وي، نو دا (مذکر) به عصبه کوي، هغه چې د دوی سره برابر وي او هغه چې د دوی څخه پورته وي، د هغو څخه چې د برخې خاوند نه وي، ساقط به شي د دوی څخه علاوه، حقیقي خویندې د لورګانو په شان دي د هغوی د نشتون په صورت کې.

دلورد میراث بیان

تشریح الفقه: قوله وللبنت النّصف الخ: د لور درې حالتونه دي: (۱) صرف یوه لور یې وي، زوی یې نه وي، په دې صورت کې به لور ته نیمایي میراث ورکول کیږي، لقوله تعالی: (وَإِنْ كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ) که بل هیڅ وارث نه وي، نو پاتې نیمایي به برخه به هم دې ته ملاویږي، (۲) که دوه یا د دوه څخه زیاتې لورګانې وي، نو د میراث دوه ثلثه به ورکول کیږي، (۳) که د لورګانو سره د میت خپل زوی وي، نو هغوی ته به هیڅ شی نه ملاویږي، بلکې هغوی به د ورور سره عصبه بالغیر جوړ شي، نو څومره میراث چې زوی ته ملاویږي، د هغې نیمایي به لور ته هم ملاویږي، برابره خبره ده چې یوه لور وي، دوه وي او که څلور وي.

دلمسیانو (انجونو) د میراث بیان

قوله وللأُناثِ الخ: د لمسیانو (انجونو) شپږ حالتونه دي: درې صورتونه یې هغه دي چې پورته د لور په بیان کې تیر شول، یعنې یوې ته به د مال نصف ملاویږي، که دوه وي یا د دوه څخه زیاتې وي، هغوی ته به د مال دوه ثلثه ملاویږي، که د لمسیانو (انجونو) سره د هغوی ورور وي، نو تعصیب دی او درې حالتونه داسې دي چې د لمسیانو (انجونو) سره خاص دي: (۱) که یوه صلبي لور وي، نو لمسیانو (انجونو) ته به شپږمه برخه ملاویږي، ددې لپاره چې دوه ثلثان پوره شي، داسې به فرض کړو چې لمسۍ هم د لور په شان ده، نو کوم دوه ثلثه چې د لورګانو حق دی، هغه به دوی ته داسې ملاو شي چې نیمایي مال به لور ته ورکول شي او شپږمه برخه به لمسۍ ته ورکول شي، د دواړو حصو څخه به دوه ثلثان جوړ شي، (۲) دوه یا د دوه څخه زیاتو لورګانو سره لمسیانې (انجونې) به محرومه وي، خو که په دې صورت کې د لمسیانو سره د هغوی څخه لاندې کوم هلک وي، نو هغه د خپل خان سره برابر او هغه چې د دوی څخه پورته دي د ذوي الفروض لورګانو څخه علاوه عصبه کوي او نارینه ته د ښځې د حصې دوه چنده مال رسیږي او کوم چې د هلک څخه لاندې وي، هغوی ته هیڅ شی نه ملاویږي، که د مړي خپل زوی موجود وي، نو لمسیانو (انجونې) محرومې دي.

قوله إِلَّا أَنْ يَكُونَ الخ: په دې باندې د پوهېدو لپاره داسې فرض كړئ چې يو سړي خپله لور پرېښودل، د هغه زوى يو زوى او يوه لور پرېښودل، بيا د هغه بل زوى يو زوى او يوه لور پرېښودل او ميت يوه دويمه لور پرېښودل، بيا د هغه زوى او لمسي (هلک) زوى او لور پرېښودل او ميت يو دريم زوى پرېښودلو، بيا د هغه زوى او لمسي (هلک) زوى او لور پرېښودل، مثال يې لاندې په نقشه كې وګورئ:
دلته په لومړي فريق عليا (فاطمه) او ميت كې صرف يوه واسطه ده، د هغې سره برابر هيڅ ښځه نشته، هغه به د جد اعلى د ميراث ځخه نصف وړي، ځكه چې هغه د بنت صلبي قائم مقام ده، د فريق اول د وسطى (كلثوم) سره د دويم فريق عليا (زينب) ده او دواړه په يوه درجه كې دي، ځكه چې د دوى او ميت ترمنځ دوه واسطې دي، نو دوى دواړو ته به سدس ملاوېږي، ځكه چې د لومړي فريق عليا (فاطمې) ته نصف ملاو شو، د ثلثين ځخه چې كوم سدس باقي دى، هغه به دوى ته ملاو شي، ددې لپاره چې دوه ثلثه پوره شي، ددې درې ځخه وروسته چې كوم شپږ سفليات دي، د هغوى لپاره به هيڅ شى نه وي، مګر دا چې په سفلياتو كې د كومې ذلې سره ورور د فريق اول د سفلى سره وي، نو د لومړي فريق عليا (فاطمه) به نصف يوسي، د فريق اول وسطى (ام كلثوم) او د فريق ثاني عليا (زينب) ته به سدس ملاوېږي او باقي ثلث به د فريق اول سفلى (رقيه) او د هغې ورور او د فريق ثاني وسطى (خالده) او د فريق ثالث عليا (حامده) كې به د (لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ) په قاعده باندې تقسيمېږي، د فريق ثاني سفلى (عابده)، د فريق ثالث وسطى (زاهده) او سفلى (ساجده) به ساقطه وي.

د حقيقي خورد ميراث بيان

قوله وللأخواتِ لأبٍ وأُمٍّ الخ: د حقيقي خور پنځه حالتونه دي: (۱) كه يوه وي، نو نصف به ورته ملاوېږي، لقوله تعالى: (وله أختٌ فلها النصفُ)، (۲) كه دوه يا د دوه ځخه زياتې وي، نو ثلث به ورته ملاوېږي، لقوله تعالى: (فَإِن كَانَتَا اثْنَتَيْنِ فَلَهُمَا الثُّلُثَانِ) (۳) كه د دوى سره حقيقي ورور وي، نو په لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ باندې به عمل كېږي، لقوله تعالى: وَإِنْ كَانُوا إِخْوَةً رِجَالًا وَنِسَاءً فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ (۴) كه لورګانې يا لمسيانې (انجونې) وي، نو دوى ته به پاتې شونى مال ملاوېږي، ځكه چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حديث دى: (خويندې د لورګانو سره عصبه جوړ كړئ!)، (۵) كه د مړي پلار، نيكه، زوى لمسى (هلک) موجود وي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد به خويندې محرومې وي، د صاحبينو په نزد د نيكه په موجودګى كې به محرومې نه وي، خو فتوى د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په قول باندې ده.

ولأبٍ کبنات الابن مع الصلبیّات وعصبهنّ إخوتهنّ والبنت وبنت الابن وللواحد من ولد الأمّ السّدس وللأکثر الثّلث ذکورهم وإناثهم سواءٌ وحجبن بالابن وابنه وإن سفل، وبالأب والجدّ والبنت تحجب ولد الأمّ فقط.

ترجمه: علاتي (پلار شریکه) خور د لمسیانو (د زوی د لورګانو) په شان ده، د خپلو صلبي لورګانو په وجود کې، د دوی د ورور، زوی او لمسی (د زوی د لور) له وجې به عصبه جوړیږي، د یو اخیافي ورور او خور لپاره شپږمه برخه ده، د زیاتو لپاره ثلث دی، مذکر او مؤنث برابر دي، دوی به په زوی، لمسي (هلک) او اګر چې ددې څخه لاندې وي، (په دوی سره به) محرومه کیږي، په پلار، نیکه او لور سره صرف اخیافي اولاد محرومه کیږي.

د علاتي (پلارشریکې) خورد میراث بیان

تشریح الفقه: **قوله ولأبٍ الخ**: د علاتي (پلار شریکې) خور او خویندو حال د لمسیانو (انجونو) په شان دی، یعنې کوم حال چې د لمسیانو د لورګانو سره ذکر شو، دغه حالت به د علاتي خویندو د حقیقي خویندو سره وي، که حقیقي خویندې نه وي، نو (۱) د یوې علاتي خور لپاره به نصف وي، (۲) د دوه یا دوه څخه زیاتو لپاره به دوه ثلثه وي، (۳) د یوې حقیقي خور سره یې شپږمه برخه ده، (۴) که دوه یا د دوه څخه زیاتې حقیقي خویندې وي، نو علاتي خویندې به محرومې وي، (۵) که په څلورم کې د دوی سره علاتي ورور وي، نو دوی به ورسره عصبه جوړیږي، د عصبه سره دوی ته د نارینه د حصې نیمایي ملاویږي، (۶) د لورګانو او لمسیانو (انجونو) سره علاتي خویندې عصبه جوړیږي او د ذوي الفروض څخه چې کوم مال پاتې شي هغه دوی ته ملاویږي، (۷) که د مړي پلار، نیکه، زوی یا لمسی موجود وي، نو علاتي خویندې به محرومه وي.

د اخیافي (مورشریک) وروراو خورد میراث بیان

قوله وللواحدِ الخ: د مور شریک ورور او خور حال دا دی: که یو وي، نو شپږمه برخه به ورته ملاویږي، که زیات وي، نو ثلث به ورته ملاویږي، په دوی کې د نر او ښځې حصه برابره ده، داسې نه ده چې نارینه د ښځې د حصې دوه برابره ملاو شي، که وروڼه او خویندې حقیقي وي، که علاتي وي او که اخیافي وي، دوی ټول د مړي د زامنو، لمسیانو (نارینه اولادونو) له وجې او دغه شان د مړي د پلار او نیکه له وجې محرومه کیږي، حقیقي لور او لمسی صرف اخیافي ورور او خور محرومه کوي، حقیقي او علاتي نه محرومه کوي، تردې ځای پورې د دولسو ذوي الفروضو احکامات پای ته ورسېدل.

فایده: مقرر شوي فروض شپږ دي : **نصف**، **ربع**، **ثمن**، **ثلثين**، **ثلث**، **سدس**، په دوی کې **نصف** د پنځه اصنافو فرض دی : (۱) خاوند : په هغه صورت کې چې د ښځې زوی، لور، لمسي او لمسی نه وي، (۲) حقيقي لور، (۳) لمسی ته چې حقيقي لور نه وي، (۴) حقيقي خور، (۵) مېرنی خور چې حقيقي خور نه وي، **ربع** د دوه اصنافو حصه ده : (۱) خاوند چې کله ولد یا ولد الابن وي، (۲) مېرمن چې کله ولد یا ولد الابن نه وي او **ثمن** يوازې د يو صنف حصه ده، هغه د ښځې حصه ده کله چې ولد يا ولد الابن وي او **ثلثين** د څلورو اصنافو فرض دی : (۱) دوه یا د دوه څخه د زياتو حقيقي لورګانو، (۲) دوه يا د دوه څخه زياتو لمسيانو (انجونو) کله چې حقيقي لور نه وي، (۳) دوه يا د دوه څخه زيات حقيقي خويندو، (۴) دوه يا د دوه څخه زياتو مېرنی خويندو لپاره، کله چې حقيقي خويندې نه وي او **ثلث** د دوه صنفو حصه ده : (۱) د مور کله چې د مړي ولد الابن نه وي او نه يې دوه ورونه وي او نه دوه خويندې وي، (۲) مورنی اولاد نه وي يا زيات نارينه وي يا زياتې ښځې وي او **سدس** د اوه اصنافو فرض دی : (۱) د پلار کله چې د مړي ولد الابن وي، (۲) د جد صحيح لپاره کله چې د مړي پلار نه وي، (۳) د مور لپاره کله چې د مړي ولد يا ولد الابن وي يا دوه ورونه يا دوه خويندې وي، (۴) د جده صحيحه لپاره، (۵) د لمسی لپاره د حقيقي لورګانو سره چې دوه ثلثان پوره شي، (۶) د مېرنی خور د حقيقي خور سره، (۷) د مورنی اولاد لپاره کله چې يو نر وي يا يوه ښځه وي. (غاية الاوطار)

وعصبةٌ أي من أخذ الكلّ إن انفرد، والباقي مع ذي سهمٍ والأحقّ الابن ثمّ ابنه، وإن سفل ثمّ الأب ثمّ أب الأب وإن علا ثمّ الأخ لأبٍ وأمٍّ ثمّ الأخ لأبٍ ثمّ ابن الأخ لأبٍ وأمٍّ ثمّ ابن الأخ لأبٍ ثمّ الأعمام ثمّ أعمام الأب ثمّ أعمام الجدّ على التّرتيب ثمّ المعتق ثمّ عصبته على التّرتيب واللّاتي فرضهنّ النّصف والثّلثان يصرن عصبةً بإخوتهنّ لا غير.

ترجمه: عصبه دي کله چې دوی ټول مال يوسي، په هغه وخت کې چې يوازې وي او پاتې شوی مال کله چې د ذي فرض سره وي، زيات حقدار زوی دی، بيا لمسی (د زوی زوی) دی، اګر چې د لاندې څخه وي، بيا پلار دی، بيا نيکه دی، کڅه هم پورته وي، بيا حقيقي ورور، بيا علاتي ورور، بيا د حقيقي ورور زوی، بيا د علاتي ورور زوی، بيا تره، بيا د پلار تره ګان، بيا د نيکه تره ګان په ترتيب سره، بيا ازادونکی، بيا د دوی عصبات په ترتيب سره او د ګومو ښځو حصه چې نيمايي يا دوه ثلثه وي، هغوی د خپلو ورونو سره عصبه کيږي، نه دا چې د دوی څخه بغير.

د عصباتو بيان

تشريح الفقهِ : قوله وعصبةٌ الخ: د كتاب الفرائض په شروع كې چې كوم (ذُوْ فرضٍ) تېر شو، په هغې باندې د عطف له وجې مرفوع دى. **أى الورثة ذُوْفَرضٍ وعصَبَةٍ** آه عصبه په عربۍ ژبه كې پتې ته وايي، په شريعت كې عصبه هغه كس ته وايي چې په غوښه او پوست كې شريک وي، د هغه د عيب جن كېدو له وجې په پوره خاندان باندې عيب لګيږي، ددې دوه قسمونه دي : سببي او نسبي، عصبه سببي ته مولى عتاقة وايي او عصبه نسبي په درې قسمه ده : (۱) عصبه بنفسه چې خپله عصبه وي، (۲) عصبه بغيره چې په خپل عصبه كېدو كې د نورو عصبه وو محتاج وي، (۳) عصبه مع غيره چې په عصبه كې د بل چا محتاج وي، خو محتاج اليه خپله عصبه نه وي، بيا د عصبه بنفسه خپله څلور قسمونه دي : جزء ميت : لكه زوى او لمسى، د ميت اصل: لكه پلار او نيكه، د ميت د پلار جزء : لكه ورور، وراره، د ميت د نيكه جزء : لكه تره او د هغه اولاد، په دوى كې چې تر ټولو زيات رشته دا وي، هغه به مخكې وي، د هغه څخه وروسته به كمتر وي، نو د ميت خپل جزء به په اصل باندې مقدم وي، يعنې لومړى زوى، بيا لمسى، ددې څخه وروسته به د اصل نمبر وي، يعنې پلار به مقدم وي بيا به نيكه وي.....

قوله ثُمَّ الأَخُ الخ: په حقيقي ورونو باندې د نيكه مخكې كېدل د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ مذهب دى، د صاحبينو، امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمُ اللّٰهُ په نزد حقيقي ورور په نيكه باندې مخكې دى، د فتوى لپاره د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ قول مختار دى، ځينو عالمانو د صاحبينو په قول باندې فتوى ذكر كړې ده، خو علامه طحطاوي رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايلي دي چې د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ قول معتمد دى.

قوله ثُمَّ العتقُ الخ: تر ټولو اخري عصبه سببيه دي، يعنې معتِق (ازادونكى) د جمهورو په نزد په ذوي الارحامو باندې مقدم دي، ددې تاييد حاكم، دارمي او نورو عالمانو كړى دى، د علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ او زيد بن ثابت رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ څخه هم داسې قول نقل شوى دى، البته د عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په نزد معتِق د ذوي الارحام څخه وروسته دى.

قوله واللاتِي الخ: د كومو ښځو حصه چې نيمايي او ثلث وه، لكه : لورګانې، لمسيانې، حقيقي او علاتي خويندې، دوى د خپلو ورونو سره عصبه كيږي، د دوى څخه بغير نورې ښځې د خپلو ورونو سره نه عصبه كيږي.

ومن يدلى بغيره حجب به سوى وَلد الأمِ والمحجوب يحجب كالأخوين أو الأختين يحجبان الأمّ من الثلث إلى السّدس مع الأب لا المحروم بالرّق والقتل مباشرةً واختلاف الدّين أو الدّار والكافر يرث بالنسب والسّبب كالمسلم ولو حجب أحدهما فبالحاجب لا بنكاحٍ محرَمٍ ويرث ولد الزّنا واللّعان بجهة الأمّ فقط ووقف

للحمل حظ ابن ويرث إن خرج أكثره فمات لا أقله ولا توارث بين الغرقى والحرقى إلا إذا علم ترتيب الموتى وذو رحم وهو قريب ليس بذي سهم وعصبة.

ترجمه: څوك چې د بل په ذريعه منسوب وي، هغه به د بل په موجودګۍ كې محروم وي، ماسوا د اخيافي اولاد چې كوم محجوب وي، هغوى يې محجوب كولى شي، لكه: دوه ورونه او دوه خويندې محجوبه كوي د مور حصه شپږمې برخې طرف ته د پلار سره، نه چې هغه محروم وي په غلامۍ سره، په قتل سره، د دين يا دار د اختلاف له وجې، كافر د نسب او سبب له وجې وارث جوړيږي، لكه د مسلمان په شان، كه يو د دوى څخه محجوب شي، نو حاجب به قرابت سره وارث شي، نه دا چې د محرم سره په نكاح كولو، حرامي او ولد اللعان به يوازې د مور له وجې وارث كيږي، د حمل لپاره به د يو زوى حصه پاتې كول شي، وارث كيږي به كه اكثر راوتلى وي او مړ شوى وي، نه دا چې د كم په صورت كې، په ډوبېدو يا سوځېدو سره د مرګ له وجې به په هغوى كې وراثت نه جاري كيږي، مګر دا چې د مړه شويو ترتيب معلوم وي، بل ذو رحم دى: دا داسې رشته دار دى چې نه ذو الفرض وي او نه عصبه وي.

د حجب بيان

تشريح الفقه: **قوله ومن يدلي الخ**: ددې ځاى څخه د حجب احكامات بيانوي، حجب په لغت كې منع كېدو ته وايي او په اصطلاح د اهل فرائض كې حجب دې ته وايي چې يو معين وارث ته د بل وارث له وجې كمه حصه ملاو شي يا هيڅ ورته ملاو نه شي، حجب په دوه قسمه دى: حجب نقصان: دا د يوې حصې څخه دويمې حصې ته محرومه كېدل دي، دا د پنځه كسانو لپاره دي: خاوند، ښځه، مور، لمسۍ (جينۍ) او مېرنۍ خور، دويم قسم حجب حرمان دى: په دې كې دوه قسمه وارثان دي: يو هغه قسم دي چې په هيڅ حالت كې نه محرومه كيږي، دوى شپږ كسان دي: درې نارينه چې يو زوى دى، دويم پلار دى او دريم خاوند دى، درې ښځې دي: يوه لور ده، دويمه مور ده او دريمه مېرمن ده، دويم قسم هغه وارثان دي چې په يو وخت كې وارثان دي او په دويم وخت كې محرومه كيږي، د مصنف د قول (ومن يدلي) مطلب دا دى: څوك چې د ميت سره په كومه ذريعه باندې رشته لري، د ذريعې د موجودېدو په وخت كې هغه ته هيڅ شى نه رسيږي، لكه: لمسى او نيكه چې د زوى او پلار په ذريعه د ميت رشته داران دي، كه زوى او پلار موجود وي، نو لمسى او نيكه به دواړه محروم وي، خو اخيافي ورونه او خويندې ددې قاعدې څخه مستثنى دي، ځكه چې د دوى رشته د مور له وجې ده؛ خو د مور په شتون كې نه محرومه كيږي، ځكه چې مور خپله د پوره ميراث حقداره نه ده.

قوله والمحجوبُ الخ: کوم کس چې محجوب وي، يعنې د کوم نژدې خپلوان له وجې د ميراث څخه محروم وي، هغه به بالاتفاق بل کس هم محجوب کوي، مثلاً : د ميت پلار، مور، دوه ورونه يا دوه خويندې وي، سره له دې چې د پلار د شتون له وجې ورور او خور ته هيڅ نه ملاوېږي، خو دوی د مور حصه د ثلث څخه سدس ته رسوي، که دوی نه وای، نو مور ته به ثلث ملاوېدو، د دوی له وجې د مور په حصه کې نقصان پيدا شو او دوی خپله محروم دي.

قوله لاالمحروم الخ: کوم کس چې د ميراث څخه بالکل محروم وي، مثلاً د ميت زوی د چا غلام وي يا د ميت قاتل وي يا کافر وي يا دا چې په دار الحرب کې اوسېږي، نو هغه زموږ په نزد د ميت نور وارثان ورونه، خويندې وغيره نه شي محرومه کولی، د عامو صحابه کرامو همدا قول دی. خو د عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په نزد هغه د نورو وارثانو لپاره حاجب جوړېدی شي، خو په حجبِ نقصان سره.

قوله ولو حجب الخ: که د کافر په دوه قرابتونو کې يو محجوب وي او يو حاجب وي، نو هغه به د حاجب د قرابت له وجې ميراث مومي، نه دا چې محجوب، مثلاً : کوم کافر د خپلې لور سره نکاح وکړه او د هغې څخه يې زوی پيدا شو، نو دا زوی يې د کافر سره دوه رشتې لري، يو د زويتوب او يو د لمسي کېدو رشته داري، د لمسي کېدو رشته داري محجوب ده او د زويتوب حاجب ده، نو دغه ماشوم به د کافر ميراث د زويتوب له وجې وړي، نه دا چې د لمسيتوب له وجې.

د ډوب شوي يا سوځېدو له وجې د مړ شوي ميراث بيان

قوله ولا توارث الخ: غرقى د غريق جمع ده، ډوب شويو خلکو ته ويل کيږي، حرقى د حريق جمع ده، هغو خلکو ته ويل کيږي چې سوځېدلي وي، لکه : قتلى چې د قتيل جمع ده، دلته د داسې خلکو د ميراث بيان دی چې په خپلو کې رشته داران وي او دا معلومه نه وي چې لومړی څوک مړ شوی دی، د داسې خلکو پنځه صورتونه دي : (۱) د دوی څخه لومړی مړی باليقين معلوم وي، ددې حکم ظاهر دی چې وروستنی به د مخکيني وارث وي، (۲) لومړی مړی په شروع کې على التعيين معلوم و، خو وروسته شک پيدا شو، دده حکم دا دی چې ميراث به يې موقوف وي، تر کومه پورې چې شبه زائله شوې نه وي او يقين راغلی نه وي يا هم وارثان په خپلو کې سوله ونه کړي، (۳) لومړی مړی بلاتعيين معلوم وي، (۴) د ټولو مرګ يو ځای واقع شوی وي، (۵) سبقت او معيت هيڅ معلوم نه وي، په لومړيو درې صورتونو کې به يو د بل کس وارث نه وي، بلکې د دوی مال به د ژوندي وارثانو ترمنځ د استحقاق په اندازه تقسيمولی شي، د احنافو، موالکو، امام شافعي او عامو صحابه کرامو همدا مذهب دی، په فرائض شريفي کې راځي چې صديق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د يمامه د مقتولينو سره همداسې معامله کړې وه،

يعني د مړيو ميراث يې ژوندیو ته ورکړی وو، دغه شان د عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په زمانه کې چې په خلکو باندې وبا راغله، نو هغه همداسې وکړه، علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هم د صفين او جمل د مقتولينو سره داسې معامله وکړه، د علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه هم يو روايت داسې نقل شوی دی چې د يو بل وارثان به وي.

د ذوي الارحام د ميراث بيان

قوله وذو رحمٍ الخ: دا په سابقه قول: (وعصبةٌ) باندې د عطف له وجې مرفوع دی، ددې ځای څخه د ذوي الارحام د وراثت بيان کوي، د اکثرو صحابه کرامو لکه: علي، عمر، عبد الله بن مسعود، ابوعبيده، معاذ، ابوالدرداء او ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ څخه د مشهور روايت له مخې ذوي الارحام ته ميراث ورکول کيږي، د احنافو او حنابله وو هم دا مسلک دی. د زيد بن ثابت او ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا څخه د شاذ روايت له مخې دوی د ذوي الارحام د وراثت قائل نه دي، د وارث نه کېدو په صورت کې به د ميت ميراث بيت المال ته ورکول کيږي، امام شافعي او امام مالک رَحِمَهُمَا اللَّهُ هم ددې قائل دي، دليل دا دی چې الله تعالى په ايت ميراث کې يوازې د ذوي الفروض او عصبه برخې بيان کړي دي، ځواب دا دی چې ايت: (وأولوا الأرحام بعضهم أولى ببعض) تفسير په (أولى بميراث بعض عن غيره) سره شوی دی.

قوله وهو قريبٌ الخ: په مغرب کې دي چې رحم په اصل کې د ښځې په ځېټه کې هغې حصې ته ويل کيږي چې بچی پکې اوسيږي، بيا هغو خلکو ته ذوي الارحام ويل کيږي چې د نژدې رشته دار د رحم څخه پيدا وي، علامه طحطاوي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي چې ذوي الارحام مطلقا رشته دارو ته هم ويل کيږي، برابره خبره ده چې هر ډول رشته داري ورسره وي، په اصطلاح کې ذي رحم هر هغه خپلوان دی چې نه د ذوي الفروض څخه وي او نه عصبه وي، په دې کې څلور قسمه خلک دي: (۱) کوم چې ميت ته منسوب دي، لکه: لمسيان (د زوی له لورې او د لور له لورې)، (۲) کوم ظرف ته چې ميت منسوب وي، لکه: اجداد فاسد، جدات فاسده، (۳) چې د ميت د والدينو څخه کوم يو ته منسوب وي، لکه: د خورګانو اولاد، د ورونو لورګاني او د اخيافي ورونو زامن، (۴) چې د ميت نيکه، د مور پلار، انا، د مور مور ته منسوب وي، لکه: عمه ګانې، اخيافي تره، ماما، خاله ګانې، دا ټول خلک په ذوي الارحام کې داخل دي.

ولا يرث مع ذي سهمٍ وعصبةٍ سوى أحد الزّوجين لعدم الرّدّ عليهما وترتيبهم كترتيب العصبات والتّرجيح بقرب الدّرجة ثمّ بكون الأصل وارثًا وعند اختلاف جهة القرابة فلقرابة الأب ضعف قرابة الأمّ وإن اتّفق الأصول فالقسمة على الأبدان وإلّا فالعدد منهم، والوصف من بطنٍ اختلف.

ترجمه: د صاحب او عصبه سره وارث نه شي جوړېدی مګر خاوند د مېرمن سره، په دوی دواړو باندې د نه رد کېدو له وجې او د دوی ترتيب د عصبات د ترتيب په مثل باندې دی او ترجيح د درجې په نژدې کېدو باندې ده، بيا د اصل وارث کېدو له وجې او په جهت د قرابت کې د اختلاف په صورت کې د پلار د رشته دارانو لپاره دوه برابره ده د مور د رشته دارانو په نسبت، که اصول متفق شي، نو تقسيم به د شمار په اعتبار سره وي، کنه نو د عدد په اعتبار سره به د دوی څخه وي او وصف د هغه بطن څخه چې اختلاف پکې دی.

تشريح الفقه: **قوله ولايرث مع ذی سهم الخ**: ذو رحم د کوم صاحب فرض او عصبه سره نه وارث کيږي، ماسوا د خاوند او مېرمن چې که د دوی سره وي، نو باوجود ددې چې دوی صاحب فرض دي، خو د دوی سره وارث کيږي، وجه دا ده چې خاوند او مېرمن ته زياتي شوی مال دوباره نه ورکول کيږي، په خلاف د نورو فرض والاوو، که د دوی د حصې څخه څه مال زياتي پاتې شي، نو هغه به دوی ته د حصو مطابق دوباره ورکولی شي.

قوله وترتيبهم الخ: د ذوي الارحام ترتيب د عصبات د ترتيب په شان دی، نو جزء د ميت بچيان او لمسيان به په نورو اقسامو باندې مخکې وي، بيا اصل د ميت يعنې جد فاسد او جدات فاسده دي، بيا د ميت د والدينو جزء يعنې عيني يا علاتي يا اخيافي خويندې د ورونو په اولادونو باندې بيا د جدين او جدتين اولاد يعنې عمه ګانې او د تره زامن بيا د پلار ماما او خاله وغيره....

قوله والترجيحُ الخ: په ذوي الارحام کې د درجې په قرب سره ترجيح وي، يعنې د نژدې رشته دار په شتون کې ليرې رشته دار ته نه ورکول کيږي، که دوه کسان په قرب کې برابر وي، بيا به کتل کيږي چې د هغه اصل وارث شته او که نه، که اصل وارث يې وي، نو په هغه چا باندې به مقدم وي چې اصل وارث يې نه وي، مثلاً: که د وراره لور او خوريي زوی وارثان وي، نو مال به د وراره لور ته ملاويږي، ځکه چې د هغه اصل يعنې وراره عصبه دی او د خوريي زوی ته به نه ملاويږي، ځکه چې خوريی وارث نه دی، بلکې ذي رحم دی.

قوله وعند إختلاف الخ: کله چې د ذوي الارحام جهت د قرابت ميت ته مختلف وي، نو د چا قرابت چې د پلار له طرفه وي، هغه ته به دوه برابره ورکول کيږي او د چا قرابت چې د مور له طرفه وي، هغه ته به يوه حصه ملاويږي، مثلا: ميت د خپل پلار مور او د مور پلار پرېښودلو، نو اول ته به دوه ثلثه او دويم ته به يو ثلث ورکول کيږي.

قوله وإن اتفقَ الخ: که د ذوي الارحام اصل متفق وي، نو ميراث به د دوی په شمار باندې تقسيمېږي، مثلا د يوې خور اولاد وي يا د دوه خويندو اولاد وي، نو ټول خوريان به شمار شي او ميراث به وربانديې برابر تقسيم شي، که ټول مذکر وي يا ټول مؤنث وي، که ټول نارينه وي او بعض زنانه وي، نو د ښځو د حصې په نسبت به نارينه ته دوه برابره ورکول کيږي او که اصول يې په مذکر او مؤنث صفت کې متبق نه وي، بلکې د بعض اصل نارينه وي او د بعضې اصل ښځې وي، نو په کوم بطن کې چې اختلاف وي، نو په هغه بطن باندې به للذکَرِ ضعفُ الأنثى په قاعده باندې تقسيمېږي، بيا به يوه حصه د هغوی فروعو ته ورکول کيږي.

والفروض نصفٌ وربعٌ وثمنٌ وثلثان وثلثٌ وسدسٌ ومخارجها اثنان للنصف، وأربعةٌ وثمانيةٌ وثلاثةٌ وستةٌ لسميّها واثنا عشر وأربعةٌ وعشرون بالاختلاط.

ترجمه: فروض دا دي: نيمايي، څلورمه، اتمه، دوه ثلثه، يو ثلث، شپږمه برخه، مخارج يې دوه دي: د دوه عدد دی د نصف لپاره، د څلورو، اته، درې او شپږ عدد دی د خپلو خپلو نومونو لپاره، دولس او د څلرويشت عدد دی د اختلاف په صورت کې.

د فروضو د مخارجو بيان

تشريح الفقهِ: قوله والفروض نصفٌ الخ: ددې ځای څخه د مخارجو فروض بيانوي چې ددې تقسيم په ميراث کې خامخا پکاريږي، مخرج هغه عدد ته ويل کيږي چې ددې څخه کوم کسر يعنې حصه، لکه: نصف يا ثلث يا ربع صحيح ووځي او که ددې څخه ووځي، نو د ماتولو څخه بغير نه وځي، ماتې حصې ته کسر ويل کيږي، په قران کريم کې چې کوم فرض حصې ذکر شوي دي: هغه په دوه قسمه دي: درې يو قسم دي: نصف، ربع او ثمن او درې دويم قسم دي: يعنې ثلثان، ثلث او سدس، ددې مخارجو تشريح دا ده چې د نيمايي لپاره مخرج د دوه عدد دی او د څلورمې برخې لپاره د څلورو عدد دی او د اتمې برخې لپاره د اته عدد دی، د دوه ثلثو او يو ثلث لپاره د درې عدد دی، د شپږمې برخې لپاره د شپږ عدد دی.

هر کله چې په مسائلو کې ددې فروضو څخه يو يو راشي، نو مخرج ددې همنام وي، مثلاً: د ميت څخه خاوند او زوی پاتې شول، نو خاوند ته به د لور له وجې ربع ملاويږي، په دې صورت کې د مذکوره فروضو څخه يوازې ربع ده، لهذا مسئله به د څلورو څخه شروع شي او دې څلورو ته به ددې مخرج ويل کيږي.

کله چې په مسئله کې ددې فروضو څخه دوه دوه درې درې راشي او ټول د يو قسم وي، نو ددې ټولو مخرج به وي چې په دوی کې د وړوکي عدد مخرج وي، مثلا : مړي خاوند، يوه لور او يو تره پرېښودلو، نو خاوند ته به د لور له وجې ربع ملاوېږي او د لور د تنهايي له وجې به نصف ورته ملاوېږي، دلته نصف او ربع جمع شول، په دوی دواړو کې وړوکی عدد ربع دی، نو د همدې څخه به مخرج جوړولی شي که ميت مېرمن، يوه لور او يو تره پرېښودلو، نو مېرمن ته به د يوې لور له وجې ثمن ملاوېږي او لور ته به نصف ملاوېږي، دلته نصف او ثمن جمع شول، په دوی کې وړوکی عدد ثمانية ده؛ نو مخرج به اته وي که د لومړي قسم څخه ثمن د دويم قسم د کوم فرض سره مخلوط شي، نو مخرج به د څلرويشت عدد وي، مثلا : ميت مېرمن، دوه لورګانې او يو تره پرېښودلو، نو د مېرمن حصه به ثمن وي، لورګانو ته به ثلثان ملاوېږي او باقي به تره ته د عصبيت له وجې ملاوېږي. **وتعول بزيادة فستةٌ تعول إلى عشرة وترًا وشفعًا واثنا عشر إلى سبعة عشر وترًا وأربعةٌ وعشرون إلى سبعةٍ وعشرين.**

ترجمه: په مخارجو کې عول کېږي، شپږ تر لسو پورې عول کوي، په جفت او طاق دواړو درجو کې، دولس تر اولسو پورې عول کوي په طريقه د طاق سره او څلرويشت تر اوه ويشت پورې عول کوي.

د عول بيان

تشريح الفقهِ : قوله وتعول بزيادة فستةٌ الخ: تعولُ د عول څخه اخيستل شوی دی او عول په لغت کې غلبې ته وايي، په اصطلاع کې دې ته وايي : کله چې د حصو د مخرج عدد کم شي او سهام زيات شي، نو په مخرج کې به څه اضافه کولی شي، ددې لپاره چې حصو والاته د دوی سهام ورسيږي، ددې اضافه نوم عول دی.

فايده: مجموعه مخارج اوه دي: ۲، ۳، ۴، ۶، ۸، ۱۲، ۱۴، په حقيقت کې دا ټول نهه و، شپږ خو د فروض سته و، د انفراد په حالت کې او درې د اختلاط په حالت کې، مګر دا چې د ثلث او ثلثان مخرج يو دی، ددې وجې يو عدد کم شو، دغه شان د نصف او سدس په اختلاط کې هم مخرج يو دی چې هغه شپږ دی، ددې وجې يو بل مخرج هم کم شو، لهذا اوه ۷/ پاتې شول، په دوی کې د ۲، ۳، ۴، ۸ عول نه کيږي، ځکه چې د مسئلې څومره احتمالي صورتونه راوځي، هغه د خپل مخرج برابر وي، په ۶، ۱۲ او ۲۴ کې زيات وخت مخرج کم وي او حقدار زيات وي، ددې وجې په دې کې د عول ضرورت وي.

قوله فستّة الخ: د شپږو عول تر لسو پورې کيږي، طاق هم کيږي، يعنې اوه او نهه هم کيږي او جفت هم کيږي، يعنې اته او لسو طرف ته کيږي، ددې مثالونه داسې دي.

قوله واثنا عشرَ الخ: د دولسو عول اولسو پورې كيږي، خو صرف د طاق يعنې جفت طرف ته ددې عول نه كيږي، مثالونه دا دي:

قوله وأربعة وعشرونَ الخ: د ۲۴ عول صرف ۲۷ طرف ته كيږي، لكه په مسئله منبريه كې چې ده، ددې مثال دا دی:

عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ۲۴ عول تر ۳۱ پورې كوي، مثال دا دی چې ابن كافر زموږ په نزد حاجب نه جوړيږي، د عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په نزد حاجب په حجب نقصان سره وي، ددې وجې مېرمن ته د څلورمې برخې په ځای اتمه برخه وركوي او مور ته شپږمه برخه وركوي، د عول د بحث حاصل دا دی چې د شپږو عول څلور ځله كيږي او د دولسو عول درې ځله او د څلرويشتو عول صرف يو ځل.

فايده: د مسئله منبريه وجه تسميه دا ده چې يو ځل علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د كوفې په جومات كې د منبر دپاسه ناست و چې په دغه وخت كې ددې مسئلې پوښتنه وشوه، هغه سمدستي ځواب وركړو، په دې سره سوال كوونكی او اورېدونكي ټول حيران پاتې شول.

وإن انكسر حظ فريق ضرب وفق العدد في الفريضة إن وافق.

ترجمه: كه د كوم فريق حصه ماته شي، نو وفق د رؤوسو ته به ضرب وركول شي په اصل مسئله كې، كه چېرته توافق وي.

د كسر پوره كولو طريقه

تشريح الفقهِ : قوله وإن انكسر الخ: ددې ځای څخه د تصحيح د مسائلو شروع كوي، په دوه عددونو كې به د څلورو نسبتونو څخه يو نسبت وي، تماثل، تداخل، توافق او تباين، تماثل د دوه عددونو برابري ته ويل كيږي، لكه : څلور څلور يا لس لس، تداخل دې ته وايي چې د دوه عددونو څخه لوی عدد په وړوكي عدد باندې برابر تقسيم شي او كسر پاتې نه شي، يا دا چې وړوكی عدد وويستل شي؛ نو دوباره يا ددې څخه په زيات كې لوی عدد فناء شي، لكه په پنځه ويشت او پنځه كې تداخل دی، پنځه ويشت په پنځه باندې صحيح تقسيميږي او د پنځه پنځه په كمولو سره د پنځه ويشت عدد په پنځم ځل فناء كيږي، توافق په دوه عددونو كې توافق بالربع ګڼل كيږي او يوه ربع به ضرب كيږي، كه په ثلث كې موافق وي، نو يو ثلث به ضرب كولی شي، تباتن دې ته وايي چې د يو عدد څخه بغير كوم دريم عدد هم دا دواړه فناء نه كړي، لكه : نهه او لس.

قوله حظُّ فريق الخ: كه په وارثانو كې د هر فريق حصې په هغوی باندې د كسر څخه بغير تقسيم شي، نو بيا خو د ضرب هيڅ ضرورت نشته، مثلا : د ميت څخه والدين او دوه لوركانې پاتې شوي دي، نو

والدينو ته به شپږمه شپږمه برخه ملاويږي چې په دوی باندې د كسر څخه بغير صحيح تقسيميږي، دغه شان دوه لورګانو ته به دوه ثلثه يعنې څلور ملاو شي او څلور هم په دوی باندې بلاكسر تقسيميږي، نو د ضرب هيڅ ضرورت پاتې نه شو، صورت دا دی:

كه برابر نه تقسيميږي، نو ضرب ته به ضرورت پېښيږي، موږ به ګورو چې كسر په يو فريق باندې دی او كه په زياتو باندې، كه په يو فريق باندې وي، نو ددې فريق په سهام او رؤوس كې به نسبت ته كتل كيږي، كه نسبت د توافق وي؛ نو وفق د رؤوس ته به په اصل مسئله كې ضرب وركول كيږي، كه په مسئله كې عول وي، نو په عول كې به ضرب وركول كيږي، مثلا ميت والدين او لس لورګانې پرېښودلې، نو مور او پلار ته به سدس سدس ملاو شي او لورګانو ته به دوه ثلثه وركول شي، مسئله به د شپږو څخه شروع شي، ځكه چې سدس او ثلثان جمع دي، اوس په مور او پلار باندې يو يو برابر تقسيميږي، خو په لسو لورګانو باندې دوه ثلثه (څلور) برابر نه تقسيميږي، نو ددې وقف به ويستل كيږي، ځان پوه كړه چې عدد د رؤوسو يعنې لس او په عدد د سهام (يعنې څلور) كې توافق بالنصف دی، ځكه چې دوه څلورو لره په دوه مرتبو كې او لس په پنځه مرتبو كې فناء كوي، پس وفق رؤوس يعنې پنځه ته په اصل مسئله يعنې شپږو كې ضرب وركول شي، ددې حاصل به دېرش شي، بيا به وفق رؤوس (پنځه) ته په سهام كې ضرب وركول شي او تقسيم به شي، نو والدينو ته به پنځه پنځه ورسيږي او لسو نجونو ته به مجموعه لس ورسيږي او يوې يوې ته به دوه دوه ورسيږي، صورت دا دی:

د عول مثال دا دی:

وإلّا فالعدد في الفريضة فالمبلغ مخرج وإن تعدّد الكسر، وتماثل ضرب واحدٌ وإن توافق فالوفق وإلّا فالعدد في جميع العدد الثاني، ثم ما بلغ في الثالث، ثم ما بلغ في الرابع، كزوجتين جدات، ثمّ المبلغ في الفريضة وعولها.

ترجمه: كنه نو ټول عدد د رؤوس ته په اصل مسئله كې، پس حاصل ضرب به مخرج وي، كه كسر او تماثل خو ځايونه وي، نو يو ته به ضرب وركول شي، كه تداخل وي، نو لوی عدد ته به ضرب وركول شي او كه توافق وي، نو وفق د عدد ته به ضرب وركول كيږي، كنه نو عدد د رؤوسو ته په بل عدد كې ضرب وركول شي، بيا حاصل ضرب ته په اصل مسئله كې او كه عول وي، نو په عول كې به ضرب وركول شي.

تشريح الفقه: قوله وإلّا فالعدد الخ: كسر په يو فريق باندې وي، خو په عدد د رؤوسو او سهامو كې توافق نه وي، بلكې تباين وي، نو د كوم فريق په سهامو كې چې كسر وي، د هغه په كُل عدد رؤوس كې به اصل مسئلې ته ضرب وركول شي او كه په اصل مسئله كې عول وي، نو په عول كې به ضرب وركوي، مثلاً: ميت والدين او پنځه لورګانې پرېښودلې، نو والدينو ته به شپږمه شپږمه يعنې يوه يوه برخه وركړي او پنځه لورګانو ته به دوه ثلثه يعنې څلور وركړي، د لورګانو د فريق په سهامو كې كسر دی، په عدد د سهام (۴) او عدد د رؤوس (۵) كې تباين دی، نو عدد د رؤوس يعنې پنځه ته به په اصل مسئله يعنې شپږ كې ضرب وركول شي، صورت دا دی:

دعول مثال دادی:

قوله وإن تعدّدَ الكسرُ الخ: كه دوه يا ددې څخه په زياتو فريقو باندې كسر راغلى وي، نو په كوم كوم فريق باندې چې كسر وي، نو د دوی په عدد سهام او عدد رؤوس كې د سابق د نسبت لحاظ كيږي، كه تماثل پكې وي، نو په اعداد مماثله كې به اصل مسئلې ته ضرب وركول شي او مسئله به صحيح شي، مثلا: ميت شپږ لورګانې، درې جدات او درې تره ګان پرېښودلي وي، نو دلته د سدس او ثلثان د جمع كېدو له وجې اصل مسئله د شپږو څخه شروع شوه، چې د دوی په سهام (څلورو) كې يې توافق بالنصف دی، نصف رؤوس (درې) چې وقف د رؤوس دی، محفوظ شو، د جدات په رؤوس او سهام كې به داسې كيږي، دغه شان د تره ګانو په سهام او رؤوس كې تباين دی، ددې وجې د هر يو كُل رؤوس (درې) محفوظ شو، بيا يې ددې ټولو محفوظو اعدادو ترمنځ نسبت وكتلو، نو تماثل پكې وموندل شو، نو په دوی كې يو (درې) ته په اصل مسئله كې ضرب وركولو سره اتلس حاصل ضرب شو او ددې اتلو څخه به ټولو ته برخې تقسيميږي، صورت دا دی:

قوله وإن تداخلَ الخ: كه د بعضې عددونو د بعضو نورو سره تداخل وي، نو د ټولو څخه لوی عدد ته به په اصل مسئله كې ضرب وركولی شي، مسئله به صحيح شي، مثلا: د ميت څخه څلور مېرمنې، درې جدات او دولس تره ګان پاتې شول، نو زوجات به د ربع حقدار وي، جدات به د سدس حقدار وي، د ربع او سدس د جمع كېدو له وجې اصل مسئله د دولسو څخه شروع شوه، ربع (درې برخې) زوجاتو ته رسيږي، سدس (دوه) جداتو ته رسيږي، پاتې به د عصوبت په طريقه تره ګانو ته رسيږي، دلته په رؤوس كې د تداخل نسبت دی، ځكه چې ۳، ۴، په ۱۲ كې ۴ په ۱۲ سره يا درې سره تقسيميږي، نو تر ټولو لوی عدد (دولسو) ته به په اصل مسئله (دولسو) كې ضرب وركول شي چې حاصل يې (۱۴۴) ته ورسيږي، دې دولسو ته به د زوجات حق ربع (درې) ته پكې ضرب وركول شي، نو څلورو زوجاتو ته به مجموعه (۳۶) ورسيږي او يو كس ته به (۹) ورسيږي، د درې جدات حق سدس (دوه) ته به په دولسو كې ضرب وركول شي، نو درې جدات ته به مجموعه (۲۴) او يو كس ته به (۸) ملاو شي او د دولسو تره ګانو حق عصوبت (۷) ته به په دولسو كې ضرب وركول شي، نو دولسو تره ګانو ته به (۸۴) مجموعه ورسيږي او يو كس ته به (۷) برخې ورسيږي، صورت دا دی:

قوله وإن توافقَ الخ: كه د بعضې اعدادو نسبت د بعض نورو سره د توافق وي، نو د يو عدد وفق ته به د بل عدد ټول ته ضرب وركول شي، بيا به حاصل ضرب ته د دريم عدد وفق ته ضرب وركول شي، په دې شرط چې د حاصل ضرب د دريم عدد سره توافق وي، كنه نو حاصل ضرب ته به په اصل مسئله كې ضرب وركولی شي، مثلا: ميت څلور زوجات، اتلس لورګانې، پنځلس نياګانې او شپږ تره ګان پرېښودل، نو اصل به د څلرويشت څخه شروع شي، څلورو زوجات ته به ثمن (درې) ورسيږي، د دوی په سهام او رؤوس كې تباين دی، ددې موږ ټول عدد د رؤوس (څلور) محفوظ كړو، اتلس لورګانو ته دوه

ثلثه (شپاړس) ملاوېږي چې په دوی باندې برابر نه تقسيمېږي، د رؤوس او سهام ترمنځ توافق بالنصف دی، لهذا عدد د رؤوس (نهه) مو محفوظ کړو او د پنځلسو نياګانو لپاره سدس (څلور) دي، د رؤوس او سهام ترمنځ تباين دی، لهذا ټول رؤوس پنځلس محفوظ شو، د شپږو تره ګانو لپاره باقي يو برخه ده، د دوی په رؤوس او سهام کې هم تباين دی، لهذا ټول عدد د رؤوس (۶) محفوظ شو، اوس ټول عدد د رؤوسو چې محفوظ شوي: (۴، ۹، ۱۵، ۶) دي، موږ په دوی کې نسبت وکتلو، په (۴ او ۶) کې توافق بالنصف دی، ددې وجې يې د څلورو نصف دوه ته په شپږو کې ضرب ورکړو، نو حاصل ضرب دولس شو، اوس په دولسو او نهه کې د توافق بالثلث نسبت شو، نو د دولسو ثلث څلورو ته په نهه کې ضرب ورکول شو، نو حاصل ضرب (۳۶) شو، اوس په (۳۶ او ۱۵) کې هم توافق بالثلث دی، ددې وجې د شپږ دېرش ثلث دولسو ته په پنځلسو کې ضرب ورکول شو، نو (۱۸۰) حاصل ضرب شو، بيا دې مجموعې ته په اصل مسئله (۲۴) کې ضرب ورکول شو، نو حاصل ضرب (۴۳۲۰) شو، لهذا (۱۸۰) ته د هر يو کس په حصه کې ضرب ورکولو سره څلور زوجات ته مجموعه (۵۴۰) يو يو کس ته (۱۳۵) او اتلسو لورګانو ته مجموعه (۲۸۸۰) او يو يو کس ته (۱۶۰) او پنځلسو نياګانو ته مجموعه (۷۲۰) او شپاړسو تره ګانو (۱۸۰) رسيږي، يو يو کس ته دېرش دېرش ملاوېږي، صورت دا دی:

قوله وَإِلَّا فَالعَدَدُ الخ: که په اعداد کې توافق نه وي، بلکې تباين وي، نو يو عدد ته به په کُل دويم عدد کې ضرب ورکول شي، ددې حاصل ضرب ته به په جميع ثالث کې ضرب ورکول شي، بيا به ددې حاصل ضرب ته په جميع رابع کې ضرب ورکول شي، دغه شان ددې څخه وروسته چې کوم عدد جمع شي، هغې ته به په اصل مسئله کې ضرب ورکول شي او که عول وي، نو عول ته به ضرب ورکول شي، مثلاً: ميت دوه مېرمنې، شپږ نياګانې، لس لورګانې او اوه تره ګان پرېښودل، نو اصل مسئله به د (۲۴) څخه شروع شي، ددې ثمن (درې) به مېرمنو ته ملاو شي، د دوی په رؤوسو او سهام کې تباين دی، ددې وجې کُل عدد رؤوس (۲) محفوظ شو او سدس (۴) جدات ته ملاو شو، د دوی په رؤوس او سهام کې توافق بالنصف دی، ددې وجې نيمايي عدد رؤوس (۳) محفوظ شو، دوه ثلثه (۱۶) لسو لورګانو ته ملاو شو، په دوی کې هم توافق دی، ددې وجې نيمايي عدد رؤوس پنځه محفوظ شول، اوس زموږ سره ټول (۲۸، ۳، ۵، ۷) متباين عددونه جمع شول، موږ (۲ ته په ۳) کې ضرب ورکړو، نو (۶) ترې جوړ شول، بيا حاصل ضرب (۶ ته په (۵) کې ضرب ورکول شو، نو دېرش شو، بيا دېرشو ته په (۷) کې ضرب ورکول شو، نو حاصل (۲۱۰) شول، اوس دې مجموعې ته په اصل مسئله (۲۴) کې ضرب ورکول شو، نو کُل (۵۰۴۰) شو، ددې حساب څخه به ټولو ته حصې ورکول شي، داسې چې حاصل (۲۱۰) ته به د هر فريق په حصه کې ضرب ورکول شي، نو دوه زوجات ته به مجموعه (۶۳۰) ورسيږي او يو يو کس ته به (۳۱۵) ورسيږي، شپږ جدات ته به

مجموعه (۱۸۴۰) او يو يو كس ته به (۴۰۲) ملاويږي، لسو لورګانو ته به مجموعه (۳۳۶۰) او يو يو كس ته به (۳۳۶) او اوه تره ګانو ته به مجموعه (۲۱۰) او يو يو كس ته به (۳۰) ملاويږي، صورت دا دی:

وما فضل يردّ على ذوي الفروض بقدر فروضهم إلّا على الزّوجين فإن كان من يردّ عليه جنسًا واحدًا فالمسألة من رءوسهم كبنتين أو أختين.

ترجمه: كوم چې زياتي شي، هغه به بېرته په ذوي الفروض باندې واپس كولی شي، د هغوی د سهام مطابق، ماسوا د زوجينو، كه مَن يرد عليه وي، نو مسئله به د دوی د شمار موافق وي، لكه: دوه لورګانې يا دوه خورګانې.

د رد د مسائلو تفصيل

تشريح الفقهِ: **قوله وما فضل يردّ الخ** ددې ځای څخه د رد مسائل بيانوي: رد د عول ضد دی، ځكه چې په عول كې سهام د مخرج څخه زياتيږي او په رد كې مخرج د سهام څخه زياتيږي، د رد اصطلاحي تعريف دا دی: (صرفُ الباقي منَ الفروضِ النسبيةِ بقدرِ حقوقهم عندَ عدمِ عصبته) يعنې د لومړي تقسيم څخه وروسته د ذوي الفروض څخه زياتي شوی مال بېرته په هغوی باندې د هغوی د حصو مطابق صرف كولو ته رد ويل كيږي، دلته د نسبيه قيد احترازي دی، كه ذوي الفروض نسبي نه وي، بيا به ورباندې نه رد كيږي، لكه: زوجين چې ذوي الفروض سببي دي او په دوی باندې رد نه كيږي، ځكه چې د دوی سره نسبي رشته نه ده، د اكثرو صحابه كرامو همدا قول دی، همدا قول احنافو اخيستی دی، د زيد بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په نزد ذوي الفروض باندې په هيڅ حالت كې رد نه كيږي، بلكې زياتي مال به بيت المال ته وركول كيږي، د امام مالک، امام شافعي او زهري وغيره ټولو همدا قول دی.

قوله إلّا على الزّوجَينِ الخ: د متقدمينو احنافو قول هغه دی چې د جمهورو صحابه كرامو قول دی، هغه دا چې په زوجينو باندې رد نه كيږي، خو بعضې متاخرين احناف او شوافع وايي چې كله بيت المال منتظم نه وي، نو په زوجين باندې به هم د حقوقو په اندازه رد كيږي، په دې شرط چې نور مستحقين نه وي، په رد المحتار كې د مستصفى څخه نقل دي چې په دې زمانه كې فتوی په جواز باندې حمل ده او په الاشباه كې هم داسې ليكل شوي دي.

قوله فإن كانَ الخ: د رد مسائل په څلور قسمه دي: اول دا چې په مسئله كې يوازې د يو جنس هغه خلک وي چې رد ورباندې كيږي (او من لايرد عليه نه وي) دويم دا چې په مسئله كې د يو جنس خلک نه وي، بلكې دوه يا د دوه څخه د زياتو جنسونو خلک وي او (من لايرد عليه نه وي) دريم دا چې د يو جنس خلک وي او د دوی سره (من لايرد عليه) هم وي، څلورم دا چې د يو جنس خلک نه وي، بلكې د دوه يا د دوه څخه د زياتو جنسونو خلک وي او د دوی سره (مَن لايرد عليه) هم موجود وي.

د لومړي قسم تشريح دا ده : كه په مسئله كې د يو جنس خلک موجود وي او مَن لايرد عليه نه وي، نو په دې صورت كې به مسئله د دوى د عدد رؤوس مطابق وي، مثلاً : د ميت دوه لورګانې پاتې شي، نو اصل مسئله د درې څخه پكار ده، ځكه چې د بنتان حق ثلثان دى، كه د درې څخه شروع شي، نو يوه برخه پاتې كيږي، هغه به هم په دوى باندې رد كولى شي، ددې وجې به مسئله د دوه څخه شروع شي، نيمايي مال به يوه لور واخلي او نيمايي مال به بله لور واخلي.

وإلّا فمن سهامهم فمن اثنين لو سدسان وثلاثةٍ لو ثلثٌ وسدسٌ وأربعةٍ لو نصفٌ وسدسٌ وخمسةٍ لو ثلثان وسدسٌ أو نصفٌ وسدسان أو نصفٌ وثلثٌ ولو مع الأوّل من لا يردّ عليه أعط فرضه من أقلّ مخارجه ثمّ اقسم الباقي على من يردّ عليه كزوجٍ وثلاث بناتٍ وإن لم يستقم فإن وافق رءوسهم كزوجٍ وستّ بناتٍ فاضرب وفق رءوسهم في مخرج فرض من لا يردّ عليه وإلّا فاضرب كلّ رءوسهم في مخرج فرض من لا يردّ عليه كزوجٍ وخمس بناتٍ.

ترجمه: كنه نو د دوى د سهامو موافق به وي، مسئله به د دوه څخه وي، كه سدس وي، د درې څخه به وي، كه ثلث او سدس وي، د څلورو څخه به وي كه نصف او سدس وي، د پنځه څخه به وي، كه چېرته دوه ثلثه، سدس يا نصف او سدسان يا نصف او ثلث وي، كه د اول سره مَن لايرد عليه وي، نو د هغه فرض دې د اقل مخارج څخه وركړي، بيا دې باقي په مَن يرد عليه باندې تقسيم كړي، لكه : خاوند او درې لورګانې، اګر چې پوره ونه رسيږي، بيا كه د دوى په رؤوس كې توافق وي، نو وفق د رؤوس ته به ضرب وركولى د مَن لايرد عليه په مخرج كې، لكه : خاوند او شپږ لورګانې، كنه نو ضرب دې وركړل شي كُل رؤوس ته د مَن لايرد عليه د فرض په مخرج كې، لكه : خاوند او پنځه لورګانې.

تشريح الفقهِ : قوله وإلّا فمن سهامهم الخ: د دويم قسم بيان دى : كه په مسئله كې صرف مَن يرد عليه وي او د يو جنس څخه نه وي يا ددې څخه زيات وي، نو مسئله به د دوى د سهام څخه وي، كه په مسئله كې دوه سدسه جمع شوي وي، نو مسئله به د دوه څخه شروع كيږي، كه ثلث او سدس جمع شوى وي، نو د درې څخه به شروع كيږي، كه نصف او سدس جمع شوى وي، نو د پنځه څخه به شروع كيږي، دا ټولې مسئلې اصل كې د شپږو څخه شروع كېدلې.

قوله ولو معَ الأوّلِ الخ: د دريم قسم بيان دى : كه په مسئله كې د يو جنس خلک وي، د هغوى سره مَن لايرد عليه هم وي، نو مَن لايرد عليه ته به په اقل مخارج كې ضرب وركول شي، نو كتل كيږي به چې په عدد د رؤوس او عدد د سهام كې توافق شته او كه نه؟ كه توافق وي، نو وفق د رؤوس ته به په اصل كې ضرب وركول شي، مثلاً : ميت خاوند او شپږ لورګانې پرېښودلې وي، نو د زوج اقل مخارج يعنې د څلورو څخ يو وركول شو، نو درې پاتې شول چې په شپږو لورګانو باندې برابر نه تقسيميږي، ددې وجې به د شپږو وفق يعنې (۲) ته به په اصل مسئله (۴) كې ضرب وركول شي او حاصل ضرب به اته شي، په هغې كې به (۲) زوج ته وركول شي او (۶) حصې به شپږو لورګانو ته ملاو شي، كه په عدد د رؤوس او

عدد د سهام کې توافق نه وي، بلکې تباين وي، نو کُل رؤوس ته به د مَن لايردّ عليه د فرض په مخرج کې ضرب ورکول شي، مثلاً: ميت زوج او پنځه لورګانې پرېښودلې، نو زوج ته د اقل مخارج (۴) څخه د يو ورکولو وروسته درې پاتې شول چې په پنځه لورګانو باندې صحيح نه تقسيمېږي، د (۳ او ۵) ترمنځ تباين دی، ددې وجې به ټول عدد د رؤوس (۵) ته په (۴) کې ضرب ورکول او حاصل ضرب به (۲۰) شي، نو زوج ته به (۵) او لورګانو ته به مجموعه (۱۵) او يو يو کس ته به (۳ او ۳) ورسيږي، صورت دا دی:

ولومع الثّاني من لا يردّ عليه فاقسم ما بقي من مخرج فرض من لا يردّ عليه على مسألة من يردّ عليه كزوجةٍ وأربع جدّاتٍ وستّ أخواتٍ لأمٍّ وإن لم يستقم فاضرب سهام من يردّ عليه في مخرج فرض من لا يردّ عليه كأربع زوجاتٍ وتسع بناتٍ وستّ جدّاتٍ ثمّ اضرب سهام من لا يردّ عليه في مسألة من يردّ عليه وسهام من يردّ عليه فيما بقي من مخرج فرض من لا يردّ عليه وإن انكسر فصحّح كما مرّ.

ترجمه: که د ثاني سره مَن لايرد عليه موجود وي، نو تقسيم هغه څه چې د مَن لايرد عليه د فرض د مخرج څخه باقي شي د مَن يرد عليه په مسئله باندې، لکه: مېرمن، څلور جدات او شپږ اخيافي خويندې وي، که پوره تقسيم نه شي، نو ضرب به ورکولی شي د مَن يردّ سهام ته د مَن لايردّ عليه د فرض په مخرج کې، لکه: څلور مېرمنې، نهه لورګانې او شپږ جدات وي، بيا ضرب ورکول شي د مَن لايردّ عليه سهام ته د مَن يردّ عليه په مسئله کې او د مَن يردّ عليه سهام ته په هغه څه کې چې باقي وي د مَن لا يردّ عليه د مخرج څخه او که کسر واقع وي، نو تصحيح يې وکړه د مخکينې په شان...

تشريح الفقه: **قوله ولومع الثّاني الخ**: د څلورم قسم بيان دی: که په مسئله کې د يو جنس خلک نه وي او د هغوی سره مَن لايردّ عليه هم نه وي، په دې صورت کې په هغه مال کې چې د مَن لايردّ عليه د فرض د مخرج څخه باقي شي، هغه به د مَن يرد عليه په مسئله باندې تقسيمولی شي، مثلاً ميت يوه زوجه، څلور جدات او شپږ اخوات لأم پرېښودل، نو زوجې ته به د هغې د فرض (ربع اقل مخارج ۴) څخه يو ملاوېدو وروسته درې پاتې کيږي، اوس موږ مَن لايرد عليه معدوم فرض کړل او د نياګانو او مور شريک خورګانو مسئله عليحده کړه چې د دوه جنسو ده، نو جدات به د شپږمې حصې مستحقې وي، لهذا هغوی ته يې يو ورکړو، مور شريکه خويندې د ثلث مستحقې دي، ددې وجې هغوی ته (۲) ورکول شوه، بيا د ټولو په عدد رؤوس او عدد سهام کې نسبت وکتل شو، نو د څلور نياګانو او د دوی د سهام (۱) ترمنځ د تباين نسبت دی، ددې وجې دولسو ته په اصل مسئله يعنې څلورو کې ضرب ورکول شو، نو کُل حاصل ضرب (۴۸) شو، په همدې طريقه به ټول تقسيم کيږي، نو يوې مېرمن ته به دولس، څلورو نياګانو ته به مجموعه دولس او يوې يوې نيا ته به درې درې او شپږو مور شريکه خويندو ته به مجموعه څلرويشت او يوې يوې خور ته به څلور ملاوېږي، صورت دا دی:

قوله وإن لَمْ يَستَقِمْ الخ: که د مَن لايرد د فرض مخرج د مَن يردّ عليه په مسئله باندې صحيح نه تقسيمېږي، نو د مَن لايرد عليه جميع مسئلې ته به د مَن لايرد عليه د فرض په مخرج کې ضرب

ورکول شي، لهذا حاصل ضرب به د فريقين د فروض مخرج وي، بيا د مَن لايردّ سهام ته د مَن لايردّ عليه په مسئله کې ضرب ورکړئ او د مَن لايردّ سهام د مَن لايرد عليه د مخرج څخه زيات شوي عدد ته ضرب ورکړئ!

وإن مات البعض قبل القسمة فصحّح مسألة الميّت الأوّل، وأعط سهام كلّ وارثٍ ثمّ صحّح مسألة الميّت الثّاني، وانظر بين ما في يده من التّصحيح الأوّل وبين التّصحيح الثّاني ثلاثة أحوالٍ: فإن استقام ما في يده من التّصحيح الأوّل على التّصحيح الثّاني فلا ضرب، وصحّتا من تصحيح مسألة الميّت الأوّل وإن لم يستقم فإن كان بينهما موافقةٌ فاضرب وفق التّصحيح الثّاني في كلّ التّصحيح الأوّل وإن كان بينهما مباينةٌ فاضرب كلّ التّصحيح الثّاني في التّصحيح الأوّل فالمبلغ مخرج المسألتين واضرب سهام ورثة الميّت الأوّل في التّصحيح الثّاني أو في وفقه، وسهام ورثة الميّت الثّاني في نصيب الميّت الثّاني أو في وفقه.

ترجمه: که څوک د تقسيم څخه وړاندې مړ شي، نو د لومړي ميت مسئله صحيح کړه، د هر وارث حصه ورکړه، بيا د دويم ميت مسئله صحيح کړه، بيا به د تصحيح اول لحاظ وکړې په ما في اليد کې او په تصحيح ثاني کې د درې حالتونو، که د تصحيح اول مافي اليد مستقيم وي په تصحيح ثاني باندې، نو د ضرب ضرورت به نه وي، بلکې دواړه مسئلې به د لومړي ميت د تصحيح څخه صحيح شي، که مستقيم نه شي، که په دوی دواړو کې موافقت وي، نو د تصحيح ثاني وفق ته به د تصحيح په کُل کې ضرب ورکړئ، که په دوی کې مباينت وي، نو کُل تصحيح ثاني ته به ضرب ورکړې په تصحيح اول کې، لهذا حاصل ضرب به د دواړو مسئلو مخرج وي او ضرب ورکړه د ميت اول د وارثانو سهامو ته په تصحيح ثاني کې يا ددې په وفق کې او د ميت ثاني د وارثانو په سهامو د ميت ثاني په نصيب کې يا د هغه په وفق کې

مناسخه

تشريح الفقه: قوله وإن مات البعض الخ: ددې ځای څخه د مناسخې احکام بيانوي: مناسخه د نسخ څخه اخيستل شوې ده، په معنی د نقل او تحويل، دلته ترې مراد دا دی چې تر اوسه پورې د ميت اول ميراث په وارثانو باندې تقسيم شوی نه وي چې کوم وارث مړ شي او د هغه د حصې مال پخوانيو طرف ته منتقل شي، په داسې صورت کې به لومړی د اول ميت د مسئلې تصحيح کوي او د هر وارث سهام به ورکول شي، بيا به د ميت ثاني د مسئلې تصحيح وشي او د دواړو تصحيحو په ما في اليد کې به غور کولی شي چې په دوی کې استقامت دی، که توافق دی او که تباين دی، که د تصحيح اول ما في اليد په تصحيح ثاني باندې مستقيم وي، يعنې د هغه په وارثانو باندې بلا کسر تقسيميږي، بيا خو ضرب وغيره ته هيڅ ضرورت نشته، که مستقيم نه وي، بلکې د ميت ثاني په سهام او د هغه په مسئله کې توافق نه وي، بلکې تباين وي، نو جميع تصحيح ثاني ته به په جميع تصحيح اول کې ضرب ورکول شي، حاصل ضرب چې هر څو شي، هغه به د دواړو مسئلو مخرج وي، ددې څخه وروسته به د ميت اول سهام ته په مضروب کې ضرب ورکول شي يعنې د مباينت په وخت تصحيح ثاني کې، د توافق په وخت کې د

تصحيح ثاني په وفق کې به ضرب ورکړي، په دې طريقه به د هر وارث حصه د مذکوره مقدار څخه ويستل کيږي، ددې يو جامع مثال چې احوال ثلاثه (استقامت، توافق او تباين) پکې جمع شوی وي، هغه دا دی: يوه ښځه وفات شوه په داسې حال کې چې خاوند، لور او مور يې پرېښودل، بيا خاوند د مېرمنې د ميراث تقسيمولو څخه وړاندې په داسې حال کې مړ شو چې يوه مېرمن او والدين يې پرېښودل، بيا لور يې دوه زمن، يوه لور او هغه نيا پرېښودل مړه شوه چې د لومړي ميت مور وه، بيا دغه جدې خپل خاوند او دوه وروڼه پرېښودل او مړه شوه، نو دلته دويم ميت د استقامت مثال دی، دريم ميت د توافق او څلورم ميت د تباين مثال دی، اوس به موږ اول د ميت اول مسئله صحيح کړو، هر وارث ته به د هغه سهام ورکړو، بيا به د دويمې مسئلې تصحيح وکړو، په ميت ثاني او د هغه په تصحيح کې مو غور وکړو، نو د اولې مسئلې تصحيح د نصف، ربع او سدس د اجتماع له وجې د دولسو څخه شروع شوه او رد فرض شو، داسې چې د خاوند درې سهمونه، د بنت شپږ او د مور دوه سهمونه شول، پاتې شوه د هغه په لور او مور باندې به د هغوی د سهامو مطابق رد کيږي، نو د رد کولو عمل ته ضرورت پېښ شو، ځان پوه کړئ چې په دې مسئله کې د مَن يرد عليه د دوه جنسونو سره مَن لايردّ عليه جمع شول، يعنې د بنت او ام سره زوج، نو د زوج حصه اقل مخارج څخه (۴) ورکول شوه او د مَن لايردّ عليه مسئله هم (۴) ده، زوج ته د حصې ورکولو وروسته (۳) باقي پاتې کيږي، هغه د مَن يردّ عليه په مسئله باندې مستقيم نه راځي، نو د مَن لايردّ عليه د فرض په مخرج د مَن يردّ عليه په مسئله (يعنې ۴) کې ضرب ورکولو ضرورت پېښ شو او د مَن لايردّ عليه د فرض مخرج هم څلور دی، نو څلورو ته په څلورو کې ضرب ورکولو سره (۱۶) حاصل شو، اوس د زوج حصه د څلورو څخه يوه وه، اوس چې کله په مسئله د مَن يردّ عليه يعنې (۴) کې ضرب ورکول شو، نو څلور پاتې شول او د مَن يردّ عليه حصه په مخرج فرض باقي کې ضرب ورکړو، نو د مور حصه د څلورو څخه يوه وه، هر کله چې هغه ته په درې کې ضرب ورکول شو، نو د مخرج څخه چې څه حاصل شو هغه درې دي او د لور حصه درې وه، هر کله چې هغې ته په درې کې ضرب ورکول شو، نو حاصل ضرب (۹) شو، ددې تقسيم څخه به زوج ت څلور برخې ملاويږي، مور ته به درې برخې ملاويږي او لور ته به نهه برخې ملاويږي، بيا موږ د ميت ثاني د مسئلې تصحيح وکړه، (د خاوند د مسئلې) ددې تصحيح مو د څلورو (سهم) څخه وموندل، ځکه چې د زوجې ربع ده، د مور حصه يې د باقي مال دريمه برخه ده او د پلار حصه يې دوه ثلثه دي، ددې څخه وروسته موږ د زوج په مافي اليد سهام کې غور وکړو، نو څلور سهام مو وموندل چې د هغه په وارثانو باندې بلاکسر مستقيم دي، په هغې کې يو سهم د زوجې دی، ثلث باقي (يعنې يو سهم) د مور دی او دوه ثلثه (يعنې دوه سهمه) د پلار دي، په دې تصحيح کې ضرب ته ضرورت نشته، لومړی او دويمه مسئله د (۱۶) څخه صحيح کيږي، د پوره مسئلې صورت داسې دی:

د مناسخې مثالونه:

ويعرف حظّ كلّ فريقٍ من التّصحيح بضرب ما لكلٍّ من أصل المسألة فيما ضربته في أصل المسألة وحظّ كلّ فردٍ بنسبة سهام كلّ فريقٍ من أصل المسألة إلى عدد رءوسهم مفردًا ثمّ يعطى بمثل تلك النّسبة من المضروب لكلّ فردٍ.

ترجمه: د هر فريق حصه د تصحيح څخه معلوميږي چې هغې ته ضرب ورکول شي کوم چې د هر يو لپاره ده د اصل مسئلې څخه، په کوم کې چې تا ضرب ورکړی وي په اصل مسئله کې او د هر کس حصه د نسبت قائمولو څخه د اصل مسئلې څخه د دوی عدد د رؤوس پورې تنها، بيا به د هغې په اندازه د مضروب څخه هر کس ته ورکولی شي.

د تصحيح څخه د هر فريق حصې پېژندلو طريقه

تشريح الفقهِ : قوله ويعرف حظّ الخ: که دا معلومول پکار دي چې د تصحيح څخه د هر فريق څومره حصه ده، د هغې طريقه دا ده : هغه عدد چې هر فريق ته د اصل مسئلې څخه ملاوِ شوی دی، هغه ته به په هغه عدد کې ضرب ورکول شي چې په اصل مسئله کې يې ضرب خوړلی دی، ددې ضرب څخه چې کوم حاصل شي، هغه به ددې فريق حصه وي، لکه:

په دې کې چې زوجات، جدات وغيره څومره حق لري، ټول فريق دي، هغه لوی عدد چې ۲۴ ته د ضرب ورکولو څخه وروسته حاصليږي، يعنې (۵۰۴۰) عدد تصحيح دی او کوم عدد ته يې چې په (۲۴) کې ضرب ورکړی دی، هغه مضروب دی او (۲۴) چې لومړی په څومره حصو باندې تقسيم شوی دی، هغه اصل مسئله ده، اوس که مونږ دا وغواړو چې د تصحيح (۵۰۴۰) څخه د هر فريق، مثلا : زوجات ته څومره حصه ورسېده، نو د زوجې حصې (۳) ته به په دې عدد کې ضرب ورکړو کوم ته چې د اصل مسئلې (۲۴) ضرب ورکول شوی دی، کوم ته چې مضروب وايي، يعنې (۲۱۰) دی.

د ضرب صورت دا دی ۲۱۰/ ۳ = ۶۳۰ حاصل ضرب يعنې (۶۳۰) د کُل زوجات حصه ده.

د تصحيح څخه د هر فريق د هر کس حصې معلومولو طريقه

قوله وحظّ کُلّ فردٍ الخ: که دا معلومول پکار وي چې د تصحيح څخه د هر هر فريق هر هر فرد ته څومره حصه ملاو شوې ده، د هغې طريقه دا ده چې د اصل مسئلې څخه به د هر فريق د حصې نسبت د عدد رؤوس سره ثابت شي، بيا به ددې نسبت د مثل مضروب څخه ددې فريق د هر هر فرد فرد حصه ورکول شي، مثلاً: په مذکوره مسئله کې د زوجات د رؤوس او سهام ترمنځ د تباين نسبت دی، هر کله چې په عدد د رؤوس (۲) او عدد د سهام (۳) کې نسبت وکتل شو، نو معلومه شوه چې په دوی کې ۲/۱ ۱ نسبت دی، دې نسبت ته په مضروب (۲۱۰) کې ضرب ورکولو سره حاصل ضرب (۳۱۵) ته رسيږي، لهذا همدا (۳۱۵) د هرې زوجې حصه شوه.

وإن أردت قسمة التّركة بين الورثة أو الغرماء فاضرب سهام كلّ وارثٍ من التّصحيح في كلّ التّركة ثمّ اقسم المبلغ على التّصحيح ومن صالح من الورثة على شيءٍ فاجعله كأن لم يكن، واقسم ما بقي على سهام من بقي.

ترجمه: که ته د وارثانو یا قرض غوښتونکو ترمنځ د میراث تقسیمول غواړې، نو د تصحیح څخه د هر وارث سهام ته په جمیع ترکه کې ضرب ورکړه، بیا حاصل ضرب تقسیم کړه په تصحیح باندې، کوم وارث چې د میراث څخه سوله کړې وي، هغه به معدوم فرض کړی شي او تقسیم به په باقي وارثانو باندې وشي.

په وارثانو باندې د میراث تقسیمولو طریقه

تشریح الفقه : **قوله وإن أردت الخ**: که د میت ترکه په وارثانو باندې تقسیمول غواړئ، نو د تصحیح څخه چې څومره برخه وارث ته ورسیږي، هغه ته به په کُل میراث کې ضرب ورکړي او حاصل ضرب به په تصحیح باندې تقسیم کړی شي، هغه چې خارج د قسمت وي، هغه به په میراث کې د مذکوره وارث حصه وي، مثلاً: میت مور- پلار او دوه لورګانې یې پرېښودلې او ټول میراث اوه (۷) دیناره پاتې وي، نو د مور کومه یوه حصه چې ده هغه ته به په ټول میراث (۷) کې ضرب ورکول شي، نو حاصل ضرب به اوه شي، بیا به (۷)په اصل مسئله (۶) کې تقسیم شي، نو حاصل د تقسیم (۶/۱ ۱) شوه، همدا (۶/۱ ۱) به د کُل میراث څخه د مور حصه وي.


د تخارج بیان

قوله ومن صالح الخ: که کوم وارث د میراث په کوم مقدار باندې سوله وکړي، نو د هغه سهام به کأن لم یکن شي او پاتې میراث به د باقي وارثانو په سهامو باندې تقسیم کړی شي، مثلاً وارثان: (خاوند، مور او تره) دي، خاوند په یو مقدار باندې سوله وکړه، باقي میراث به د مور او تره ترمنځ په درې برخو باندې تقسیمیږي د دوی دواړو د سهامو د اندازې مطابق، دوه سهمه به مور ته ورکول شي او یو سهم به تره ته ورکول شي.

والله أعلم بالصواب، وإليه المرجع والمآب، والحمد لله الذي بنعمته تتم الصالحات، والصلاة والسلام على سيدنا محمد سيد من مضى ومن هو آت، وعلى آله وأصحابه أولي الفضل والكرامات، تم بحمد الله مختصر: كنز الدقائق للإمام أبي البركات عبد الله بن أحمد النسفي رحمه الله تعالى

ترجمه: الله تعالی په حق باندې ښه عالم دی، هغه ته ځای د رجوع او ګرځېدو دی، ټول تعریفونه هغه ذات لره دي چې د هغه په نعمت سره نېکۍ پوره کیږي، درود او سلام دې وي زموږ په سردار محمد ﷺ باندې چې بهترین د مخلوقاتو دی، د هغه په ټول آل باندې چې پاک او سوتره دي.

تمت بالخیر



مکتبہ رشیدیہ

سردار پلازہ اکوڑہ خٹک 0344-9084693